وقال الامام الشافعیؒ ماجادلت عالما الاوغلبته وما جادلنی جاهل الاوغلبنی

زه رحمٰن لـه هغه علمه پناه غوارم
چه له دین اوله مذهبه وی جدا

# التحقیق المختار لرد المحتار

تصنیف

المجاهد الکبیر والمناظر الشهیر
الحاج ابی بصیر عبد الخالق (فاتح) القادری (حفظه الله)

المکتبة الاحسانیة
چمن روڈ جنگل بازار 0301-6384435

پي ډي ايف ترتيب کوونکی:

حافظ مولوی عبدالرحمن (حافظ اغا الحنفی)

ستاسي د دعا په هیله

اللهم صل عليٰ محمد عدد ماتحبه وترضيٰ وعدد مايحبه ويرضيٰ
وصل عليٰ محمد عدد ماذكره الذاكرون وماغفل عن ذكره الغافلون

## ﴿سريزه﴾

محترمو مسلمانانو اود نبي اخر الزمان ﷺ امتيانو اوخاصكر د حضرت علامه دنيا امام ابوحنيفه" مذهبيانو اود طريقت خادمانو چونكه رب لا يزال دخپل دين د حفاظت وعده كړي ده اوساتي ئي اوپه هره زمانـــه كي د اسې خلګ پيدا كوي چي په دغه شائسته دين كي خپل ژوند اوكوښښ وكړي ـ چونكه ماعاجز هم د دين د خدمت په نيت خپل د علم موافق يوڅه مسائل راجمع كړل چي باري تعاليٰ مي د خپل دين په خادمانو كښې شماركړي اوپه ورځ د جزاء مي د عذاب د څخه د (ساكت عن الحق) خلاص كړي ـ سعدي شيرازي" فرمائي

(بگو انچه داني سخن سودمند　　　گر هيچكس را نيايد پسند
كه پردا پشيمان برآرد خروش　　　كه آيا چرا حق نكردم بگوش (بوستان)

اوتــولو مذهبيانوته مي داوصيت دئ چي په دااخيره زمـــانـــه كي اودفتنو پــه دوركښي چي دلا مذهبو كسانو دسېسې اوفتني اوشرارتونه اوج ته رسيدلي دي اود دين په هره جامه كي ئي ځان تيركړئ دئ او هغه خپل پاك مذهب راڅخه غلا كوي نو په د اسې وخت كي بايد دخپلو نيكانو مشرانولار اوطـــريقه تينګه كړئ اود هري نوي فرقي څخه ځان وژغورئ اودغه وصيت زمونږ د مذهب د امام هم دئ (عقود الجمان ص ۱۴۹) اودغه رنګه دغه وصيت د شيخ عبد القـــادر جيلاني" هـــم دئ (سير اعلام نبلاء) ۱۸۱ جلد ۱۵

هذا مافي فكري السقيم　　　وفوق كل ذي علم عليم)

اللهم تقبل مني بحرمة سيد البرية واغفرلي ولوالدى وارحم علينا وعليٰ اخواننا واخواتنا واجدادنا وجداتنا ومرشدينا واساتذنا وامرائنا ومحبينا ومخلصيناومن اعاننا فى هذا الكتاب باى نوع ولناشريه ولناظريه ولعامليه ولاصولنا المؤمنين ولجميع المسلمين آمين وخصوصا على روح الولى الكامل والمرشد الاعظم صاحب الكرامات الباهرة الشيخ محبوبى وجدى مولانا محمد الياس آغا القادرى وعليٰ روح اميرنا واميرالمومنين مجددالملة ملا محمد عمر مجاهد (حشرناً الله تعاليٰ معهما فى زمرة الذين لاخوف عليهم ولاهم يحزنون (امين)

## فهرست مضامین تحقیق المختار لرد المحتار



| الشمارة | مقاصد الکتاب | الصفحة |
|---|---|---|
| ۱ | محبت د نبی کریم ﷺ او اهل بیتو | ۱ |
| ۲ | حکایت | ۷ |
| ۳ | حکایت | ۸ |
| ۴ | میلاد النبی ﷺ | ۹ |
| ۵ | حیات الانبیاء علیهم السلام | ۱۶ |
| ۶ | دوفات بعد د نبی کریمؐ لیدل | ۲۲ |
| ۷ | انبیاء علیهم السلام د گناه پاک دی | ۲۳ |
| ۸ | عذاب قبر | ۲۹ |
| ۹ | تصوف | ۳۴ |
| ۱۰ | دپیر شرائط | ۴۰ |
| ۱۱ | ذکر بالجهر | ۴۱ |
| ۱۲ | دسلفو او خلفو فرق | ۵۳ |
| ۱۳ | توسل | ۵۳ |
| ۱۴ | دمناظری حکایت | ۵۸ |
| ۱۵ | تبرک | ۶۲ |
| ۱۶ | ایصال ثواب | ۷۲ |
| ۱۷ | داهل السنت والجماعت تحقیق | ۷۴ |
| ۱۸ | دبدعت مسئله | ۷۶ |
| ۱۹ | زیارت القبور | ۹۵ |
| ۲۰ | زیارة النبی ﷺ | ۹۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | حکایت | ۹۹ |
| ۲۲ | حکایت | ۱۰۳ |
| ۲۳ | طریقه دزیارت | ۱۰۴ |
| ۲۴ | حکایت | ۱۰۶ |
| ۲۵ | دزیارت وخت او آگاهی | ۱۰۷ |
| ۲۶ | یادونه | ۱۰۸ |
| ۲۷ | دمرده سرته کلیمه شریفه لیکل | ۱۰۸ |
| ۲۸ | دتقلید مسئله | ۱۰۹ |
| ۲۹ | زیارت ته ددعاء لپاره تلل | ۱۲۴ |
| ۳۰ | اسقاط گرزول | ۱۲۸ |
| ۳۱ | په هدیره کی خیرات کول | ۱۳۰ |
| ۳۲ | فاتحه اخستل | ۱۳۱ |
| ۳۳ | دمرده په کور کی خیرات کول | ۱۳۲ |
| ۳۴ | ختمونه کول | ۱۳۳ |
| ۳۵ | علماء ته په کفن کی لنگوټه تړل | ۱۳۷ |
| ۳۶ | دقبرسرته خط لیکل | ۱۳۷ |
| ۳۷ | عرسونه کول | ۱۳۸ |
| ۳۸ | شنختی درول | ۱۴۱ |
| ۳۹ | گنبدی جوړول | ۱۴۴ |
| ۴۰ | خوردی خوړل | ۱۴۷ |
| ۴۱ | په سفر کی سنت لمونځ کول | ۱۵۱ |
| ۴۲ | یامحمد ﷺ ویل | ۱۵۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۳ | یاشیخ عبد القادر جیلانی شیئا لله ویل | ١٦۴ |
| ۴۴ | دخوارجو علامی | ١٦٦ |
| ۴۵ | خبرتیا | ١٧۴ |
| ۴٦ | دحضرت علی کرم الله وجهه شهادت | ١٧٨ |
| ۴٧ | حج اکبر | ١٨١ |
| ۴٨ | تعویذ کول | ١٨۴ |
| ۴٩ | شکرانه اخسعل | ١٨٩ |
| ۵٠ | وجد اوجذب | ١٩١ |
| ۵١ | مسائل ددعاء | ١٩۵ |
| ۵٢ | تکرار په دعاء کی | ١٩٦ |
| ۵٣ | په دعاء کی لاس پورته کول | ١٩٧ |
| ۵۴ | اجتماعی دعاء کول | ١٩٩ |
| ۵۵ | دلمانځه بعد دعاء کول | ١٩٩ |
| ۵٦ | تنبیه | ٢٠٢ |
| ۵٧ | په لوړاواز سره دعاء کول | ٢٠٣ |
| ۵٨ | داذان اوډوډی په دعاء کی لاس پورته کول | ٢٠۴ |
| ۵٩ | دمړی ترپوټیدووروسته دعاء کول | ٢٠٧ |
| ٦٠ | په اللهم انت السلام کی لاس پورته کول | ٢١٠ |
| ٦١ | دقبرسراوپای ته قرائت کول | ٢١١ |
| ٦٢ | قیام تعظیمی | ٢١٢ |
| ٦٣ | لاسونه مچول | ٢١٣ |
| ٦۴ | روغبړ کول اوطریقه | ٢١٩ |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۵ | داخعر روغبز | ۲۲۱ |
| ۶۶ | سماع الموتیٰ | ۲۲۴ |
| ۶۷ | دجهاد تعریف او اقسام | ۲۲۹ |
| ۶۸ | دجهاد مقاصد | ۲۳۳ |
| ۶۹ | سروری چهارشنبه | ۲۳۴ |
| ۷۰ | کرامات اولیاء | ۲۳۶ |
| ۷۱ | کرامات غوث الثقلینؒ | ۲۴۰ |
| ۷۲ | مختلف سوالات او جوابات | ۲۴۵ |
| ۷۳ | تقاریظ او تصدیقات | ۲۶۲ |



محتاج دعا حافظ اغا الحنفی

استعین باسم اللّٰه(جل جلاله) و اتوسل برسول اللّٰهﷺ
یارب سلم سلم سلم

# التحقیق المختارلردالمحتار

## یعني( مسائل مختلفه اود هغوئ وضاحت سره د دلایلو)

**[الاعتذار لاولي الابصار]** زما طريقه په د اكتاب كي اكثروخت د اسي وي، چه كله زه يوعربي عبارت نقل كړمه ،بيا چه يې ترجمه ليكمه نود هرتوري ترجمه نه كومه بلكه هغه خلاصه دعبارت نقل كومه د ائحكه چه عيني د هغه عبارت خپله ترجمه باندي اكثرعوام خلك نه پو هيږي اومقصودنـــه سي ورځخه حاصلواي،نورانشاء الله د هري حوالې ضمانت اخلواوبل كومي حوالې چه زه ذكركومه د اپه قدرد ضرورت ذكركومه كه څه هم په دغه مسئلوكي حوالې نوري هم ډيري ستـه ،چه د ضرورت په وخت كي به يې پېش كړوانشاء الله تعالي؛

## مسئله دمحبت دنبي كريم ﷺ اوصحابه كرامو رض اواهل بيتومباركانو

د امام الانبياء علم الهدي اقاء نامـــد ار فخـــردوجهان سيد الا نس والجان جناب نبي كريمﷺسره په زړه كي مينه اومحبت ساتل اوترتـول جهان خپل ځان ته رانژدې كول د اد ايمان فريضه ده يعني پر هرمسلمان د افرض دي چه اقاء دوجهان ﷺسره به په زړه كي محبت لري پـه قـران كي اللّـــه [پاك عزوجل]مسلمانانوته فرمائي[ النبي اولي بالمؤمنين من انفسهم الايه۶سوره احزاب ]

(**ترجمه**)نبيﷺډيربهتر اولايق دئ اوقريب د مومنانود پاره ترخپلونفسو]ځكه چه نفس انسان په بدوكاروامركوي[ان النفس لامارة بالسوء] لكن نبي كريمﷺامتيان په هغه كار امركوي چه ددوئ دنجات لاره وي اود اخرت ګټـه وي (روح المعاني) علامه الوسي ليكي[و اذ اكان ﷺبهذه المثابة في حق المومنين يجب عليهم ان يكون احب اليهم من انفسهم وحكمه ﷺعليهم انفذمن حكمهاوشفقتهم عليه اقدم من شفقتهم عليهاروح المعاني جلد۲۱ص۲۰۲]چه كله درسول ﷺپرمومنانودومري حق دئ نوواجب دئ پرتـولومومنانوباندي د اچه رسولﷺبه ترهرچابلكه ترخپلوځانوهم ورته محبوب وي (الوسي)اوعلامه اسماعيل حقي ليكي [فيجب عليهم ان يكون ﷺاحب اليهم من

انفسهم وان يبذلوهادونه ويجعلوهافدائه في الخطوب والحروب (روح البيان جلد۷ص۱۶۶) پرتهـول جهان د او اجب دئ چه جناب رسول ﷺ به تر خپلونفسوهم ورته محبوب وي اوترده مبارك به خپل ځانونه قربانه وي په جنګو اوعاموكاروكي (علامه حقي) اودغه رقم علامه نسفي ليكي [فعليهم ان يبذلوهادونه ويجعلوهافدائه تفسيرنسفي.جلد۲ص۳۳۵]هم دغه رقم امام بخاريؒ په خپل كتاب كي په كتاب الايمان كي باب ايږدي .[باب حب الرسول من الايمان (بخاري)اودغه رقم امام مسلمؒ باب ايږدي[باب وجوب محبة رسول الله ﷺ اكثرمن الاهل والولد والوالد والناس اجمعين واطلاق عدم الايمان علي من لم يحبه هذه المحبة (مسلم)باب دئ په دې كي چه واجب دئ پر هرمسلمان چه درسول ﷺ سره ترتهـولي دنيازيات محبت لري.اوكه په كوم چاكي دغه محبت نه وهغه مسلمان نه دئ)بياد ادواړه مباركان تر دغه بابو لاندي حديث نقل كوي [حدثناابواليمان قال حدثناشعيب قال حدثناابوالزنادعن الاعرج عن ابي هريرةؓ ان رسول الله ﷺ قال والذي نفسي بيده لايؤمن احدكم حتي اكـون احب اليه من والده وولده وفي روايـــة اخـــريٰ مـــن والـــده وولده والناس اجمعين بخاري جلد۱ .ص۶]مسلم جلد .۱ص۴۹]جناب نبي كريم ﷺ فرمائي چه زمادي قسم په هغه ذات وي چه زماروح يې په قبضه كي دئ كه ترهغه وخته پوري تاسي د ايمان والاجوړسي چه ترسوپوري زه تاسوته ترخپل اولاد اومور اوپلار اوترتهـول جهان درته محبوب نه سم (الحديث] ملاعلي القاريؒ ليكي[وليس المراد الحب الطبعي لانه لايدخل تحت الاختياربل المراد الحب العقلي الذي يوجب ايثارمايقتضي العقل رجحانه ويستدعي اختياره وان كان علي خلاف الهوي كحب المريض الدواء فانه يميل اليه باختياره ويتناوله بمقتضي عقله وان نفرعنه طبعه مثلالو امره ﷺ بقتل ابويه واولاده الكافرين اوبان يقاتل الكفارحتي يكون شهيدا لاحب ان يختارذالك اه مرقات جلد۱ص۱۳۹ ]علامه قاريؒ-وايي چه ددغه محبت څخه مراد محبت طبعي نه دئ [لكه د اولادسره محبت]ځكه چه هغه خوغير اختياري دئ .بلكه مراد دلته محبت عقلي دئ چه هغه اختياري دئ يعني يوشي كه څه هم ستاد طبيعت خلاف وي لكن چه درسول ﷺ محبت ورسره وي اويايې امرپه كړي وي ته به هغه خوښه وي.لكه مريض ته

چه دوائي ورکړي که څه هم دده په طبیعت نه وي خوښه لکن خوري به يې او خوښه وي به يې دغه محبت عقلي اختياري دئ مثلاً که جناب رسول الله ﷺ يو مسلمان په دې باندې امر کړي چه خپل پلار او يا اولاد چه هغه کافران وي ته يې مړه کړه او يا يې په دې امر کړي چه د کافر سره تر هغه پوري جهاد وکړه چه تر څو شهيد کېږي مسلمان ته به دا خوښه وي چه د اعمل وکړي ځکه چه دئ پوهيږي چه سلامتيا او خير دده مبارک په امر کي دئ که څه هم طبیعت يې نه خوښه وي (مرقات] او علامه عيني وايي [واعلم ان محـــبة الرسول ارادة فعل طاعته وترك مخالفته وهي من واجبات الاسلام عيني جلد۱ص۲۳۶] وايي محبت د رسول ﷺ سره دا دئ چه هر مسلمان به دا فکر او اراده دځان سره لري چه هغه څه چه نبي ﷺ په امر کړي يم هغه به کوم او چه ورڅخه منعه کړې يې يم هغه به پرېږدم او دا د اسلام د واجباتو څخه دي (عيني]

**خلاصه** د کلام دا ده چه پيغمبر اسلام ﷺ ته به په زړه کي د اسي احترام او عقيده لرې چه هغه رقم عقيده به په مخلوق کي بل چاته نه لرې. او دا سي جامع د صفات كماليه ؤ يقين به دي ورباندي وي چه په مخلوق کي بل د اسي جامع د تـهولو صفاتي كماليه ؤ نسته لکه څنګه چه شيخ عبد الوهاب احمدي ليکي [قال الحافظ غيطي قال العلماء ان من تمام الايمان به ﷺ اعتقاد ان الله تعالي خلق بدنه الشريف علي وجه لم يظهر قبله ولابعده خلق ادمي مثله !ه (عقد الزبرجد من حروف سيد نامحمد) ص۳۸]

علامه غيطي وايي دعلماؤ قول دا دئ چه کمال د ايمان دا دئ چه مسلمان به دا سي عقيده لري چه د نبي كريم ﷺ بدن شريف [الله پاك جل جلاله] په دا سي طريقي سره پيد اکړي دئ چه نه مخکي ترده مبارك اونه وروسته ترده مبارك بل د اسي انسان په د اسي كمال حسن کي پيد اسوې دئ] او لکه څنګه چه په ژوندکي د رسول ﷺ عزت او احترام واجب ؤ هم دغه رقم عزت يې پس له وفاته دعليه السلام واجب دئ [واعلم ان حرمت النبي ﷺ بعد موته وتوقيره وتعظيمه لازم كماكان حال حياته وذ الك عند ذكره وذكر حديثه وسنته وسماع اسمه وسيرته ومعاملة اله وعترته وتعظيم اهل بيته وصحابته (الشفاء بتعريف حقوق المصطفي-جلد۲ص۴۴]قاضي عياض وايي. عزت د رسول پاك ﷺ لکه څنګه چه په ژوند مبارك دده کي لازمي ؤ هم دغه رقم پسله وفات څخه دعليه السلام لازمي او فرض دئ که دده مبارك ذكروسي يا يې نوم واخيستل سي

یایې سنت ذکرسي اودغه رقم اولاد یې او اهل بیت مبارکان یې اوصحابه کرام یې د اتـول به د اسي بولي لکه دي مبارك چه ژوندي وٍ
نولکه څنګه چه دنبي کریم ﷺسره محبت ساتل د ایمان علامه اوفریضه ده هم دغه رقم د اهل بیتود رسول ﷺ[سید انو مبارکانو] سره د نبي کریم ﷺپه خاطرمحبت ساتل اود هغوي قدر اوعزت کول د ایمان فریضه هم ده اود مومن علامه هم ده لکه څنګه چه جناب اقاء نــــامــــد ارد انبیاؤ سرد ار ﷺفرمایي[و الذي نفسي بیده لاید خل قلب رجل الایمان حتي یحبهم لله ولقرابتهم مني رواه ابن ماجه ص۱۳]رسول ﷺفرمایي قسم دي مې په هغه ذات سره وي چه زماروح یې په قدرت کي دیٔکه ستاسوزړوته ایمان د اخل سي ترهغه وخته پوري چي زماد اهل بیتوسره د خد اي عزوجل اوزماد قرابت په خاطرمحبت ونه ساتي (ابن ماجه) اودغه رقم حضرت جابرؓاوحضرت عليؓ روایت نقل کوي[قــــال رسول الله ﷺاثبتکم علي الصراط اشدکم حبا لاهــــل بیتي ولاصحابي (کنزالعمال جلد۱۲ص۴۵باب الخامس في فضل اهل البیت) ایضاالجامع الصغیرجلد۱ص۱۱۴۷حرف الهمزه) جناب رسول پاك ﷺفرمایي۔ چه په ورځ د اخرت به پر[پل صراط]با ندي هغه امتي سم تیریږي چه کوم امتي زماد اصحابواواهل بیتوسره زیات محبت لري (جامع صغیر) اودغه رقم علامه محب الدین طبريؒ روایت نقل کوي [عن ابن عباسؓ قال قال رسول الله ﷺمن احب اصحابي وازواجي واهل بیتي ولم یطعن في احدمنهم وخرج من الدنیاعلي محبتهم کان معي في درجتي یوم القیامة (الــــریاض النضرة جلد۱ص۲۲فضائل اهــــل البدر]ایضاشذرات الذهب لابي الفلاح ج۱ص۱۵۶] رسول ﷺمبارك فرمائي کوم مسلمان امتي چه زمادصحابه وسره. اود ازواجومطهراتوسره[د مومنانومیندي]اوزماد اهــــل بیتوسره محبت ساتي اوعیب نــــه پروایي اوپردغه عقیده مړهم سي د اامتي به زماسره په جنت کي وي (شذرات]اودغه رقم حضرت ابوهریرهؓاوحضرت عليؓ روایت نقل کوي[قال رسول الله ﷺشفاعتي لامتي من احب اهل بیتي (تاریخ بغداد جلد.۲.ص۱۴۴في ترجمة محمدبن جعفر]ایضا تنسیق النظام شرح مسند الامام صفحه ۱۹باب الشفاعة] نبي ﷺفرمایي چه د شفاعت مستحق زماپه امت کي هغه څوك دیٔ چه زماد اهل

بیتوسره محبت ساتي (رواه علامه خطیب]
اودغه رقم حضرت امام احمدؒ روایت نقل کوي[عن عليؓ قال قال رسول اللهﷺ النجوم امان لاهل السماء فاذا ذهبت النجوم ذهب اهل السماء واهل بیتي امان لاهل الارض فاذا ذهب اهل بیتي ذهب اهل الارض (فضائل الصحابة لاحمدبن حنبل جلد٢ص٦٧١باب في فضل علي]ایضاالمستدرك علي الصحیحین جلد٣ص ٥٥ سوره زخرف]ایضا سبل الهدي والرشاد جلد٦ص١١ باب في انهم امان لامة]ایضامرقات المفاتیح (جلد١١ص٣٢٨)ایضاذخائر العقبي في مناقب ذوي القربیٰ للطبري جلد١ص١٧ ]ایضامسند الروياني جلد٢ص٢٥٣]
وفي روايت [فويل لمن خذلهم وعاند هم]ترتیب الامالي الخمیسة للشجري جلد١ص٢٠٣ ]جناب رسول پاكﷺفرمایي د اسمان ستوري د اسمان دمخلوق دپاره امان دي كه ستوري د اسمان څخه ولاړه د اسمان ټول مخلوقات به هلاكیږي اوزمااهل بیت دمځكي دمخلوق دپاره امان دئ كه زمااهل بیت دمځكي له مخ څخه ولاړه نوټول مخلوق دمځكي به هلاك كیږي اوپه بل روایت كي راځي اوهلاك دي وي هغه څوك چه زماداهل بیتوسره تعصب اوعنادساتي(الحدیث ]اوامام احمدؒ روایت نقل كوي[عن ابي سعید قال رسول اللهﷺمن ابغض اهل البیت فهومنافق سبل الهدي جلد١١ص٨) رسولﷺوایي څوك چه زماد اولادسره بغض اوعنادساتي هغه منافق دئ دغه رقم حافظ صالحي روایت نقل كوي[عن جابرؓقال من مات علي بغض ال محمدفقدجاء یوم القیامة مكتوبابین عینه أیس من رحمةالله (سبل الهديٰ صفحه مذكوره]حضرت جابرؓ فرمایي څوك چه د اهل بیتوپه بغض اوعنادكي مړسي په ورځ دقیامت به راسي اوپرتندي به یې لیكلي وي دخدائ درحمت څخه ناامیده انسان]اودغه روایت دترمذي دئ [وعن عبد الله بن مغفلؓ قال قال رسول الله ﷺالله الله في اصحابي لاتتخذوهم غرضامن بعدي فمن احبهم فبحبي احبهم ومن ابغضهم فببغضي ابغضهم ومن اذاهم فقداذاني ومن اذاني فقد اذالله ومن اذالله فیوشك ان یأخذه مشكواة المصابیح جلد٢ص٥٧٦باب مناقب الصحابه]
رسول اللهﷺفرمایي چه تاسي ځان وساتي زماپراصحابودبدویلوڅخه اوتاسي

زما اصحاب هدف دبیکاروخبرومه گرځوئ۔څوك چه زماد اصحابوسره محبت کوي هغه زما په خاطرورسره کوي اوڅوك چه عنادورسره کوي هغه هم زما په خاطرورسره کوي.اوکوم څوك چه زماصحابه کرامؓ ازاره وي هغه ماازاره وي اوڅوك چه ماازاره وي هغه الله پاك ازاره وي اوڅوك چه الله پاك ازاره وي ژردئ چه الله پاك به عذاب ورکي]اودغه رقم بل روايت نقل کوي[عن ابن عمرؓ قال قال رسول اللهﷺاذ ارأيتم الذين يسبون اصحابي فقولو العنت الله علي شركم (صفحه مذكوره]نبي عليه السلام وايي چه کله تاسي د اسي انسانان وليدله چه زما اصحابوته يې بد اوفحش ويله نوتاسي ورته وواياست چه لعنت د الله پاك دي وي ستاسي پرشرباندي]

﴿**خلاصه**﴾ دخبري داده چه دجناب نبي اکرمﷺسره مينه اومحبت ساتل د ايمان فريضه اوعلامه ده ،اودرسولﷺپه شان مبارك کي يوه ذره بې قدري اوبې احترامي کول موجب دکفردئ زمونږفقهاء ليکي که چادرسولﷺورېښته مبارك ته په ورېښتکي سره وويل د امسلمان نه دئ کافردئ اوهم دغه رقم دصحابه کرامو[رضوان الله تعالي عليهم اجمعين]سره په زړه کي محبت ساتل دمومن مسلمان علامه ده اودغه رقم دسيد انومبارکانوسره محبت اواخلاص ساتل د ايمان حصه ده اودکامل مسلمان علامه ده مخکي روایاتوکي داذکرسوله چه دمخکي نظام دسيد انوپه خاطرقائم دئ که سيد ان نه وه د انظام به هم نه وي اودشفاعت مستحق هغه څوك دئ چه څوك دسيد انوسره محبت لري اوڅوك چه بغض اوعنادورسره کوي هغه منافق دئ اود خد اي درحمت څخه به ليري وي نومسلمان بايدد د اسي خلګوسره محبت وساتي اود ښمني څخه يې ځان وساتي نه به د ځان څخه شيعه جوړه وي چي پرصحابه کرامو بدوايي اونه به د ځان څخه خارجي[وهابي]جوړوي چه دسيد انوسره بغض ساتي بلکه ددواړوسره به محبت اواخلاص ساتي]

امام رازيؒ وايي[نحن معاشراهل السنة بحمد الله رکبناسفينة محبت اهل البيت واهتدينا بنجم هدي اصحاب النبيﷺفنرجوا النجات من أهوال القيامة ودركات الجحيم وتوضيحه ان من لم يدخل السفينة كالخوارج هلك مع الهالكين في اول وهلة

ومن دخلهاولم يهتدبنجوم الصحابة كالروافض ضل ووقع في ظلمات ليس بخارج منها[مرقات صفحه مذكوره]

﴿**يادونه**﴾كوم محبت چه مسلمان د اهل بيتوسره ساتي اوكوم عزت اواحترام چه يې كوي د ابه دجناب رسول اكرمﷺپه خاطرورسره كوي نه ددوئ دخپل عمل په خاطرځكه چه په احاديثوكي ذكرسولــه چــه د ايمان علامه داده چه څوك زماپه خاطرستاسوسره محبت ولري[ولقرابتهم مني اوياواحبوا اهل بيتي لحبي ]اودغه رقم زمونږدمذهب مشهوركتاب الطحطاوي كي ليكي [ويجب اكــــرام الاشراف ولوتحقق فسقهم لان فرع الشجرة منهاولومال[ طحطاوي ص۸]واجب دي عزت دسيدانوكه څه هم فاسقان وي ځكه چه دښاخ نسبت درختي ته كيږي كه څه هم كوژسي (طحطاوي) اودغه رقم قاضي ثناء اللهؒليكي چه د صلحاوو اولادوعزت كول لا زم دي ترڅوچه كافران نه سي [تفسيرمظهري جلد۶ص۶۰]اوڅوك چه د اوايي چه دنوح عليه السلام زوئ الله پاك دده د اهل څخه نه دئ شماركړئ ځكه چه بې عمله وو جواب د ادئ چه دنوح عليه السلام زوئ خومسلمان نه وځكه يې دده مبارك د اهل څخه وايستئ ]اللهم اجعلنامن محبيهم وموا ليهم ولاتجعلنامن مبغضيهم ومعانديهم فان محبوب المحبوب محبوب وفي قلب المحب المغلوب مطلوب]

په اخركي يو ۲ حكايات ذكركومه چه د اهل بيتو څه شان دئ

(**حكايت**) علامه ذهبيؒ يوقصه ذكركوي وائي دبلخ په علاقه كيَ يوه زنانه وه چه په قوم سيده وه خاونديې وفات سوكونډه سوله اويتيمان اولادونه هم ورپاته سوله د ازنانه ډيره فقيره سوه نويې هجرت وكړئ دديې ښارڅخه بل ښار ته ولاړه دغه وخت دژمي وو چه ډيريخ وو اولادونه يې د محلې په يومسجدكي پرېښودل د ا دخورك په شي پسي ولاړه چه يوشي د ايتيمانو ته پيد اكړئ په علاقه كي يې ۲دوه مشران پيد اكړه يومسلمان وو اوعالم وو هغه بل مجوسي كافروو ازنانه هغه مسلمان عالم ته ورغله د اخپل حاجت يې ورته بيان كړئ چه زه علويه يمه اود اسي هجرت مي كړي دئ اولادونه راسره دي په مسجدكي دي كه يوڅه دخورك اسباب راكړئ هغه عالم ورته ويل چه شاهد ښكاره كړه چه ته سيده يې هغې ورته ويل چه زه خومسافره يمه دلته مي څوك نه پېژني چه تاته شاهدي اداء

کړي بس هغه عالم څه نه ورکړه هغه زنانه د اغسي په مات زړه ولاړه هغه مجوسي
کافرته ورغله د اخپل حال اومجبوري يې هم ورته بيان کړله اود هغه عالم خبره ئې هم
ورته وکړه هغه مجوسي دستي ولاړ سو هغه يتيمان يې خپل کورته راوستله اوښه ځائ
ئې ورکړئ ښه ډوډئ ئې ورکړه ښه دفخرجامې يې ورکړې يوښه دعزت شپې بې ورکړه
دشپې هغه عالم خوب ويني چه دقيامت ورځ ده اودرسولﷺپر سر مبارك بيرغ ولاړ
دئ دجنت بنګلې ښکاره کيږي دياقوتواوزمردوبنګلې وې اودمرجانوګومبدي
پرجوړي دي هغه عالم په خوب کي رسول ﷺته وايي داد چادي يارسول اللهﷺنبي
کريمﷺورته ويل چه داد هغه سړي دي چه مسلمان وي هغه عالم ورته وايي چه زه
مسلمان يم يارسول اللهﷺ رسولﷺورته ويل چه شاهدراوله چه ته مسلمان يې هغه
عالم حيران سو چه اسلام بياشاهد څه کوي رسولﷺورته ويل چه تازماد اهل بيتوڅخه
شاهد دسيادت غوښتي نوته هم شاهد دمسلماني پېش کړه بس هغه عالم دخوب څخه
بيد اره سوډېرغمجن ؤپه هغه سيدي پسي روان سو خلګوورته ويل چه هغه ستاپه کلي
کې د هغه مجوسي په کوزکي ده هغه عالم دمجوسي کورته ورغلي ويل هغه زنانه
راوباسه مجوسي ورته وايي چه ماته يې برکت را ورسيدئ اوس يې په لاس نه درکومه
هغه عالم ورته وايي چه ۱۰۰۰ ديناره به درکړمه هغه مجوسي وايې چه ته دکوم شي
اراده لرې زه هم د هغه حق لرم هغه قصرچه تاوليدئ هغه زمادئ اياته ماته اسلام
راښيې قسم په الله که مونږ ټولو له بيده سوي يوتر هغوچه مونږ ټولو دغي سيدي
پرلاس ايمان راوړئ او هغه خوب چه تاليدلي دئ هغه ماهم وليدئ رسول اللهﷺراته
ويل چه زمااولادونه ستاسره دي ماورته ويل هويارسول اللهﷺده راته ويل چه د ابنګله
ستااوستاد اهل بيتوده تاسي په ازل کي الله پاك مؤمنان پيد اکړي واست
[الکبائرص۷۱] اللهم اجعلني بحرمتهم معهم امين
(**حکايت۲**) علامه شامي القادريؒ هم يو حکايت نقل کوي چه يوسړي د حج اراده کړې وه
نود ځان سره يې ۱۰۰۰ ديناره دخرڅ له پاره واخيستې پرلاري يوزنانه ورته ودريد له ورته
ويل يې چه زه درسولﷺد اهل بيتوڅخه يم اوډېره مجبوره يمه که څه راکړې هغه
سړي ټولي روپۍ ورکړې د حج څخه پاتې سو کله چه حاجيان بيرته د حج څخه راغله
نو هر يوه به دغه سړي ته مبارکي ورکوله د حج ويل ئې مبارك دي سه د اسړي حيران سو

چه ماخوحج نه دئ کړئ اود اخلک مبارکي راکوي دشپې يې رسول اللهﷺپه خوب کي وليدئ رسول ﷺورته ويل چه ته دېته حيران يې چه تاته خلک مبارکي درکوي ده ورته ويل چه هويارسول اللهِ،ﷺ؛جناب نبي كريمﷺورته وويل چه الله پاك يوه ملايكه ستاپه صورت كي پيدا كړله چه ستاپرځاي يې حج وكړئ اودغه ملكه به ترقيامته پوري هركال ستادپاره يوحج كوي په دا خاطر چه تازماداهل بيتوڅخه ديوې مجبوري زناني عزت وکړئ [رد المحتار جلد .۲.ص۲۷۵]سبحان الله د ايې دعزت بركت دئ .

## ﴿مسئله ميلاد﴾

يوه علامه دمحبت دنبي كريمﷺد اده چه دده مبارك دولادت باسعادت ورځ ولمانځل سي اوددې غټې نعمت درب لايزال شكريه اداكړل سي ميلاد النبي ﷺكول لكه څنګه چه زمونږ په اسلامي ملكوكي عرف اوعادت دئ چه دسرد اردوجهانﷺدولادت باسعادت په ورځوكي هركال محفلونــــه جوړوي اودغه ورځ لمانځي بياپه هغه محفلوكي علماء حق راغواړي چه دنبي اكرمﷺسيرت اوصورت خلګوته بيان كړي اونعت خواني پكښې كوي اوختمونه دقران پاك پكښې كوي اوخيراتونه كوي د اعمل ترټولومستحباتو افــــــضل عــــــمل دئ اود اسي محفلونه جوړول سبب د ډيروغټوبركتودي اوزمونږ د امامانولاراوعمل دئ اود الله پاك

ددې غټې نعمت شكريه ده په قران كي الله پاك فرمائي(واشكروا نعمة الله (سوره نحل۱۱۴)الله پاك وايي تاسي زمادنعمت شكريه اداكړي اورسول ﷺخويقيني د الله پاك نعمت دئ (حديث دبخاري كي راځي[ومحمدﷺنعمة الله (بخاري جلد۲ص۵۶۶باب قتل ابي جهل]ابن عباسؓ وايي محمدﷺنعمت دخداي تعالي دئ اوچاچي دنعمت ناشكري كړې ده پرهغوئ عذاب راغلئ دئ(الم ترالي الذين بدلوانعمة الله كفرا (سوره ابراهيم۲۸)الله پاك جل وعلي فرمائي اياته نه ګوري هغه كسانوته چه بدل ئې كړئ نعمت د الله تعالي په ناشكرئ سره (يعني دنعمت ناشكري يې

وکړه)داخل به سي دوي په اور د جهنم کي[تفسیر]اوس د انعمت کم شئ ؤ چي دوي ېې
ناشکري وکړه حضرت ابن عباسؓ وايي چه د انعمت رسول ﷺ ؤ د مکې قريشوېې
ناشکري وکړه الله پاك به يې د دغه ناشکري په وجه جهنم ته اچوي[بخاري ج ۲ ص ۵۶۶]
اودغه تفسيرونه ليکي چه مراد له نعمت څخه
محمد ﷺ دي[تفسير طبري ج ۶ ص ۱۵۴۸][تفسير قرطبي ج ۹ ص ۳۱۱]
تفسير ابي سعود ج ۳ ص ۴۸۵]تفسير روح المعاني ج ۱۳ ص ۲۷۴]
تفسير نسفي. ج. ۱. ص ۶۵۲]تفسير روح البيان ج ۴ ص ۵۳۶]
تفسير مظهري. ج. ۵ ص ۲۷۰] تفسير ابن
کثير. ج. ۳. ص ۶۸۵]تفسير زاد المسير. ج. ۲. ص ۱۳۵]**تلك عشرة كاملة**)
نونبي کريم ﷺ تر هرڅه لوي نعمت دئ اوشکريه ېې واجب ده ناشکري ېې حرامه ده
اوميلاد کول هم يوقسم شکريه ده علامه اسماعيل حقيؒ ليکي
[ومن تعظيمه عمل المولد اذالم يکن فيه منکرقال الامام سيوطي قدس سره يستحب
لنااظهار الشکر لمولده ﷺ[تفسير روح البيان جلد ۹ ص ۶۸ سوره فتح]وايي يوه طريقه
دتعظيم درسول الله ﷺ د اده چه ورځ دولادت يې ولمانځي اود ميلاد محفل جوړکړي
په د اشرط چه دشرعي خلاف کارنه وي پکښې اوعلامه سيوطيؒ وايي زمونږ له پاره
د امستحب دئ چه دنبي کريم ﷺ په ميلاد جوړولوسره اظهار د شکروکړو[روح البيان]
اوامام ابن الحجر العسقلانيؒ وايي [والشکر لله تعالي يحصل بانواع العبادة
کالسجود والصيام والصدقة والتلاوة واي نعمة اعظم من النعمة ببروز هذ النبي ﷺ نبي
الرحمة في ذالك اليوم[الحاوي للفتاوي ص ۲۰۶]امام عسقلانيؒ وائي چه شکر د الله
تعالي په مختلفوطريقوسره اداکيږي لکه سجدې کول اوروژې نيول اوخيراتونه کول
اوتلاوتونه کول اوتردغه نعمت به نوبل کوم غټ نعمت وي چه په دغه ورځ نبي
کريم ﷺ دنياء ته ظهورکړئ دئ تردابالا لوئ نعمت د الله پاك نشته[الحاوي]
نوپرشرعي طريقه ميلادونه کول داعيني شکريه اداکول دي د الله پاك
دنعمت اوالله پاك مسلمانان په د اامرکوي چه تاسي زماپر حبيب ﷺ خوشحالي ښکاره
کړي[قل بفضل الله وبرحمته فبذالك فليفرحواهوخيرممايجمعون[سوره يونس

۵۸](خلاصه د ايت شريف ) الله پاك وايي ووايه اې محمده ٔ مؤمنانو ته چي خوشحاله اوسئ په فضل د الله اوپه رحمت د الله سره تاسي زماپه رحمت سره خوشحالي ښکاره کړئ حضرت عبد الله ابن عباسؓ وايي مراددرحمت څخه نبي كريم ﷺدي نوتاسي په رسول ﷺسره خوشحالي وكړئ[تفسيرزاد المسير ج ۲ص۳۳۶]تفسيرروح المعاني جلد۱۱ص۱۷۸] نوپه قران ثابته ده چه درسول پاك ﷺ شكراد اينه وكړواوپه دغه ورځ خوشحالي وكړو اودغه ورځ ولمانځوهم دغه رقم ددغي ورځي لمانځل په عباد اتوسره په احاديثوكي هم راغلي دي[عن ابي قتادة ان رسول الله ﷺسئل عن صوم الا ثنين فقال يوم ولدت فيه وفيه انزل علي [مسلم شريف ج ۱ص۳۶۸كتاب الصيام ]حضرت ابوقتادهؓ وايي چه درسول ﷺ څخه پوښتنه وسوه ددوشنبي(سموار)دورځي دروژې رسول ﷺپه جواب كې ورته ووېل چه په دوشنبه خوزه پېدا سوئ يمه اوپه دوشنبه قران نازل سوئ دئ (نوتاسي روژه پكښي نيسي)[مسلم]نونبي كريم ﷺخپله هم خپل دولادت دورځي په عبادت خلګ امركوله اوامام ابن الحجرالعسقلاني وايي[وقد ظهرلي تخريجها علي اصل ثابت وهوماثبت في الصحيحين من ان النبي ﷺقدم المدينة فوجد اليهود يصومون يوم عاشورافسألهم ؟ فقالوا هويوم اغرق الله فيه فرعون ونجي موسي فنحن نصومه شكر الله تعالي فيستفادمنه فعل الشكرلله علي مامن به في يوم معين اه[المورد الروي ص۲۰]دشيخ مشائخ الاسلام خاتمه ائمة الاعلام امام ابن حجرؒ څخه پوښتنه وسوه چه ميلاد جوړول څنګه عمل دئ ؟ده مبارك په جواب كي ورته وويل چه پرښوكارومشتمل عمل دئ اوپه احاديثوكي اصل هم لري بيايي حديث دبخاري ورته ووايه چه كله نبي كريم ﷺمديني منورې تـــه هــجـرت وكــړئ هلته يهودودعاشوراء دورځي روژه نيوله نورسول ﷺپوښتنه ورڅخه وكړه چه تاسو ولي داروژه نيسي هغوئ ورته ويل چه په دغه ورځ فرعون كافرهلاك سواوموسي عليه السلام خلاص سونومونږدشكريه لپاره ددې ورځي روژه نيسورسول ﷺورته وويل چه مونږترتاسودموسي عليه السلام احق يوچه ددې ورځي روژه ونيسوبيارسول ﷺهم په دغه ورځ روژه نيوله ؛الحديث ـ

ابن حجرؒوايي چه ددې حديث څخه ښكاره معلوميږي چه دشكريه په خاطريومعين

ورځ لمانځل ثابت دي [المورد الروي]د غه(المورد الروي في المولد النبوي)د اد الشيخ الكبير مجدد الدين ملاعلي القاري الحنفيؒ كتاب دئ چه ټول كتاب يې دمېلاد په ثبوت كي ليكلي دئ او همد ارنګه علامه جلال الدين سيوطيؒ وايي چه ماته يې هم بل اصل د مېلاد شريف رامعلوم دئ هغه د ادئ[وهوما اخرجه البيهقي ان النبي ﷺ عق عن نفسه بعد النبوة مع انه قد ورد ان جده عبد المطلب عق عنه في سابع ولادته الي ان قال فيحمل ذالك علي ان الذي فعله النبي ﷺ اظهار للشكر علي ايجاد الله تعالي اياه رحمة للعالمين وتشريع لامته،كماكان يصلي علي نفسه لذالك،فيستحب لنا ايضا اظهار الشكر بمولده ﷺ بالاجتماع واطعام الطعام[الحاوي ص۲۰۶]وايي رسول ﷺ وروسته تر نبوت خپله عقيقه حلاله كړله كه څه هم دده عقيقه عبد المطلب په ۷ورځ كړې وه(عقيقه دېته وايې چه يوانسان پيداسي دهغه دشكريه له پاره يوحيوان حلال كړي)نونبي كريم ﷺ چه ۲دوهم ځل عقيقه وكړه،د ايې دشكرپه نيت وكړه،چه دئ الله تعالي دټول عالم دپاره رحمت رالستولئ دئ نوېې دځان شكريه اداكړله نوعلامه سيوطيؒ وايې،چه زمونږ له پاره هم مستحب دي چه اظهار دشكروكړوپه مېلادكولوسره اوپه اجتماع ګانوجوړولوسره،[الحاوي]سبحان الله دادخومره شان والاعلماء دي حافظ ابن حجرالعسقلاني چه په لكهوااحاديث يې درسول ﷺ په ياد كي وه او(۲۵۰)كتابونه يې تصنيف كړي دي،چه يوه شرحه دبخاري شريف يې په ۱۲جلدوكي ده اوڅه كم ۶۰۰كاله مخكي وفات سوي دي،اودلسي شاګرادن يې وه چه دهغوبه هم يولك احاديث په يادوه همدارنګه امام جلال الدين سيوطيؒ،چه (۷۲۵)كتابه يې ليكلي دي اومشهورتفسيردقران پاك(تفسيرجلالين)چه په هره مدرسه كي هم ويل كيږي هغه يې تصنيف كړئ دئ اودعوئ داجتهاديې درلودله اودغه رقم ملاعلي القاري الحنفي چه دازمونږپه مذهب كي دلوي درجې والاعالم دي اوعلماء يې مجدد دالف ثاني بولي،چه (۲۰۰)كتابه يې ليكلي دي،اوډيري غټې تقوي خاوندؤ اوډيروغټوتبووالاخلګ وه دامباركان دادي مېلاد په احاديثوثابت بولي اوكتابونه پرليكي بس داغه خلګ زمونږ له پاره د اقتداء قابل دي اوامام شمس الدين ابن جزريؒ وايې [كماجرب ان من فعل ذالك كان له امان في ذالك العام]وايي:چه څوك مېلاددنبي كريم ﷺ وكړي پرهغه باندي به ټول كال په امن كي

تېرسي د اپه تجربه ثابته ده[النعمة الكبرىٰ على العالم ص۲۲]اود اغه ابن الجزريؒ لیکي[ان مثل هذا الحسن يندب اليه ويشكرفاعله ويثني عليه ولولم يكن في ذالك الارغام الشيطان وسروراهل الايمان]وايي:چه څوك مېلادکوي د لسي ښه عمل والاخلګوته ثواب ورکول کيږي اوشکريې ويل کيږي اوثناء دي ويل کيږي كه څه هم په مېلاد کي هيڅ فائده نه وي ببله دي چه شيطانان په خوابدي کيږي اومومنان په خوشحاله کيږي][المورد الروي ص۱۹]

شيطان په څلوروختوکي دغم اواز کړي دي(۱)په هغه ورځ چه په لعنت ګرفتارسو(۲)په هغه ورځ چه د اسمانوڅخه شوه سو(۳)په هغه ورځ چه رسولﷺپيد اسو(۴)په هغه ورځ چه سوره فاتحه نازله سوه[سبل الهدي والرشادج ۱ص۳۵۰]نو دمېلاد په ورځ دشيطانانواودهغه دملګروخوا بديږي اودغه رقم شيخ الاسلام علامه عبدالحي لکهنويؒ لیکي[ذکرمولدشريف يعني وقائع ولادت ومعجزات بيان کردن خواه ملك هندباشديا سند۔ ايران باشد ،ياتهران،خراسان باشد ،ياملتان،روم باشد،ياشام،جائزاست کسي اهل اسلام رادرين کلام نيست ]وايي مېلادکول واقعې دولادت باسعادت اومعجزې بيانول د اکه په سندکي وي اوکه په هندکي،يعني هرځاي چه وي جائزدي ديومسلمان هم اختلاف نسته پکښې[مجموعة الفتاوي ج۴ص۳۲۵]همدارنګه شيخ محمدکامل الحنفيؒ لیکي[فالجواب ان قراۃ المولد علي الوجه المشروع ممدوحة شرعالاشتمالهاعلي تعظيمه واظهارعلامات نبوته]وايي:په شرعي طريقه مېلادکول دشريعت له نګاه څخه ښه کاردي،ځکه چه دنبي کريمﷺتعظيم اواظهاردنبوت پکښې دي[الفتاوي الكامليه ص۲۶۳]اوعلامه سخاويؒ وايي[ثم لا زال اهل الاسلام في سائرالاقطاروالمدن العظام،يحتفلون في شهرمولدهﷺاه]وايي:چه همېشه مسلمانانوپه هرښارکي اوپه هرکونج کي ددنيا،مېلادونه جوړه وي په دغه مياشت کي دولادت بلسعادت[المورد الروي ص۱۳]اوعلامه قاريؒ دېراقوال ذکرکوي چه ديروعلماو په مكه مكرمه کي اومدينه منوره کي د امحفلونه جوړول،اودېرلوئ لوئ فقهاء مبارکان به ورته حاضرېدله[المورد الروي]اوس هم په حرمينوشريفينوکي مېلادلمانځل کيږي[ الاحتفال ص۴۵]

همد ارنګه حافظ صالحي د مشقيؒ یو مستقل باب پر مېلاد ليکي چه تقریبا ۱۰۰ صفحې بيان پر کوي ېباد ډيروفقهاؤ او محد ثينو اقوالو نقل کوي په ثبوت د مېلاد شريف کې [سبل الهدي و الرشاد في سيرت خير العبادﷺ جلد .۱ .ص ۲۶۳]
او دغه رقم شاه ولي الله د هلويؒ وايي [اخبرني سيدي الوالـــد قـال كنت اصنع طعاماماصلت بالنبيﷺ فلم يفتح لي سنة من السنين شيء اصنع به طعاما،فلم اجد الاحمصامقليافقسمته بين الناس فرايتهﷺ وبين يديه هذاالحمص متبهجابشاشا] وايي زماپلار شاه عبد الرحيم د هلويؒ به ويل چه مابه هرکال د مېلاد په ورځ د رسولﷺ د روح د خوشحاله کېدلو لپاره يوڅه خيرات کوئ، يوکال د اسې راغلئ چه ماهيڅ نه درلودله چه خيرات يې کړمه ،بيامي يوڅه نخود پاخه (نيني) کړه هغه مي خيرات کړه په خوب کي مي رسول ﷺ وليدئ چه هغه زمانخود يې مخ ته پراته وه او خوشحاله ؤ [الدر الثمين ص ۱۶۲]
او دغه رقم خپله مسند الهند امام شاه ولي الله د هلويؒ فرمايي (وكنت قبل ذالك بمكة المعظمة في مولد النبيﷺ في يوم ولادته والناس يصلون علي النبيﷺ ويذكرون ارهاصاته التي ظهرت في ولادته ومشهاده قبل بعثته فرآيت انوارا سطعت دفعة واحدة لااقول اني ادركتهاببصر الجسد ولااقول ادركتهاببصر الروح فقط والله اعلم كيف كان الامرين هذا وذالك فتاملت تلك الانوار فوجدتها من قبل الملائكة الموكلين بامثال هذه المشاهد وبامثال هذه المجالس ورآيت يخالطه انوار الملئكة انوار الرحمة؛فيوض الحرمين ص ۸۰ ) وايي په مکه مکرمه کښې د مېلاد النبيﷺ په ورځ حاضر سوم اومسلمانانو د مېلاد ورځ لمانځل -درودونه يې ويل اودولادت باسعادت ذکريې کوي اومعجزات يې ذکرکولي وايي يودم انوارات راشروع سول اوزه نه سم ويلای چه ماد اانوار دسرپه سترګوولېدل اوکه مي په روح ولېدل (يعني تعبيريې نه شي کېدای) بياچه ښه ورته متوجه سوم نوراته معلوم سول چه د اانوار د هغوملائکودي چه په دغه رنګه مجالسوکښې حاضرېږي اولېدل مي چه انوار درحمت او انوار د ملکوسره ګډوه (فيوض الحرمين) د ادي د حقيقې اهل کشفوڅخه هم د اثابته ده چه په مجلس د مېلاد کې د ملئکه ؤ شمول وي او انوارات اوريږي؛

اودغه رقم دتـول علماء دېوبند وكيل علامه سهارنفوريؒ ليكي[ان ذكرولادته من احب المندوبات واعلي المستحبات عندنا]وايي مېلادكول،افضل دمستحباتو دئ زمونږ د دېوبند يانوپرمذهب[المهند،ص۷۸]

اوپرداغه كتاب دتـول دېوبند اومصراوشام اوحرمينوعلماء تقريظونه كړي دي، متفق دي دمېلادمسئله ډېره درازه ده اود۴ څلورسره مذهبوعلماؤ دمېلاد په مسئله كي كتابونه ليكلي دي اوثابته كړې يې ده

دېنه وضاحت له پاره د اكتابونه وګوري البدايه والنهايه جلد ۱۵ ص۱۹۳]تفسير روح البيان جلد۹ص۶۸]سبل الهدي والرشاد جلد۱ص۳۶۲]النعمت الكبري علي العالم بمولدسيد ولد ادمﷺص۲۴]خيرات البيان في مولد الانس والجان ص۹]البشارت العظمي في اثبات ميلاد المصطفي۳]المورد الروي ص۱۴]الفتاوي الكامليه ص۲۶۳]مجموعة الفتاوي ج۴ص۳۳۵]مولد النبيﷺص۵]حسن المقصد في عمل المولدِ ص۲۰۵]مولد العروس ۱۹۱]مېلاد النبيﷺص۴۵]الاحتفال بمولدنبي المختارﷺ۲۳]اقتضاء الصراط المستقيم ص۱۶۵]مولد الرسول ورضاعهﷺ ص۸]خير الموردفي احتفال المولدص۵]نثرالدررعلي مولد ابن الحجرص۳۵]الدر الثمين ص۱۶۲]جامع الرسائل من كلام الاكابرص۳۷۸]مواهب اللدنيه ج۱ص۸۹]ماثبت بالسنه في ايام السنه ص۲۷۴]كليات امد اديه ص۷۹]المهند علي المفندص۷۸] فتاوي عزيزي ص۱۶۳]حاشيه نسائي ص۳۵۶]الفتاوي الحديثيه ص۲۰۲]د اتـولو كتابود امسئله ثابته كړې ده چه مېلاد چه كله دشريعت سره موافق ولمانځل سي تر د اېنه كارېه مستحباتوكي نسته او اصل دمېلاد په احاديثواو دصحابه كرامو اوتابعينو څخه ثابت دئ[والله اعلم]

[حكايت] روايت دبخاري شريف اوفتح الباري كي راغي امام عروهؒ وايي چه كله نبي كريمﷺپيد اسو ابولهب كافرچه درسولﷺاكاؤ هغه په خوشحالي كي خپله مينځه چه ثوبيه يې نوم ؤ ازاده كړله چه كله ابولهب مړسو حضرت عباسؓ په خوب كي وليدئ بيائي پوښتنه ورڅخه وكړه،چه څه حال دي دئ ابولهب ويل چه ډېرېه بدحال كي يمه لېكن هر د وشنبه تر۲دوو ګـنتواوبه راكول كيږي اوعذاب مي سپكيږي هغه ځكه چه ما درسولﷺپه خوشحالئ كي مينځه ازاده كړې وه[بخاري جلد۲ص۷۶۴]ايضا[فتح

الباري جلد۶ص۲۶۶]اوامام شمس الدين ناصرالدين الدمشقيؒ وايي[اذاكان هذ اكافرا جاء ذمه وتبت يد اه في الجحيم مخلد اتي انه في يوم الاثنين دائمايخفف عنه للسروربا حمد ا۔فما الظن بالعبد الذي طول عمره باحمد مسرور اومات موحد ا]
وايي چه د اكافرواوپه قران كي بد راغلي دي اوهمېشه به جهنم ځاي دئ لكن بيا هم د احمد ﷺد خوشحالئ په وجه عذ اب ورڅخه پورته كيږي،نوڅه ګمان دئ پر هغه بنده چه ټول عمريي په وحد انيت كي د الله پاك تېركړئ وي اوپه رسولﷺ خوشحالي كړي وي د هغه به څه حال وي[الحاوي للفتاوي ص۲۰۶]

<u>(سوال)بعض علماء دديوبند ميلادالنبي لمانغل جائزنه بولي څه وجه ده؟</u>

(جواب)د مولا ناخليل احمدسهارنفوريؒ څخه د اغه سوال سوئ دي۔ دئ په جواب كي وايي چه علماء ديوبند شرعي مېلادونه نه يادوي،بلكه هغه داسي مېلادونه يادوي چه په هغه كي دشريعت خلاف اعمال وي لكه زمونږد هندوستان مېلادونه اوليكي [فعلم من هذ اانالاننكرذكرولادته الشريفه بل ننكرعلي الامورالمنكرة التي انضمت معهاكماشفتموهافي المجالس المولوديه التي في الهند[المهندص۸۱]اود اغه جواب به استاذناواستاذ العلماء مولاناحمد الله جان الداجويؒ هم كوي اوموږپه مسئله دعربي كي ليكلي دي چه مفتي محمدفريدؒ به دداسي مسئلوپه حق كي ويل چه داهنديه مسئله ده زمونږدملك نه ده بلكه كه تاسي دعلماء ديوبند كتابونه وګوري د هغوڅخه هم داغه خبره معلوميږي[والله اعلم]

## (مسئله)حيات الانبياء(عليهم السلام)

دنبي كريم ﷺاودنوروټولو انبياؤپه حق كي زمونږدټول اهل السنت والجماعة دعلماؤاودديوبند د اكابرود امذ هب اومسلك دئ چه تروفات بعدټول انبياء عليهم السلام په خپلوقبرونوكي ژوندي دي اوپه د اسي ژوندسره ژوندي دي لكه د دنيا ژوند چه دئ فرق يې خالص دومره قدر دئ چه په دنياء كي په شرعي احكامو مكلف وه لكن په قبركي په هغه احكامو نه دي مكلف،لكن د طبعي اوفطرتي تقاضي پر بنياد په عبادا تومشغول دي اود غه رقم د روضې مطهري سره نژدې چه درود شريف ووېل سي نبي كريمﷺ يې په خپله اوري اود اټولومحد ثينو اومتكلمينو متفقه عقيده ده اوپه

قران او احادیثو او اجماع د امت باندي ثابته عقیده ده چه په ټول اهل السنت کي د چا اختلاف نسته پکښي!

په قران کي الله پاك د شهید انو په حق کي فرمائي (ولا تقولوا لمن یقتل في سبیل الله اموات بل احیاء ولکن لا تشعرون ) الایه سورة البقره ۱۵۴ ) ترجمه: او مه وایاست تاسي هغه چاته چه ووژل سي په لاره د الله (جهاد) کي چه دوئ مړه دي دوئ مړه نه دي بلکه ژوندي دي لکن تاسي نه پوهیږي ددوئ په ژوند انه باندي (تفسیر کابلي) د دغه ایت څخه دشهید انو مبارکانو ژوند ثابت دئ خو لکن د انبیاو ژوند هم ور څخه معلومیږي تر دغه ایت لاندي قاضي ثناء الله پاني پتي لیکي (والحق عندي عدم اختصاصها بهم بل حیوٰة الا نبیاء اقوي منهم واشد ظهور اثارها في الخارج حتي لایجوز النکاح بازواج النبي ﷺ بعد وفاته بخلاف الشهید والصدیقون ایضا اعلي درجة من الشهداء والصالحون یعني الاولیاء ملحقون بهم تفسیر مظهري جلد ۱ ص ۱۵۲ )

خلاصه قاضي صاحب وایي: چه زما په نیز حقه خبره داده چه د اژوند پر شهید انو باندي نه دئ خاص بلکه د انبیاو ژوند دشهید انو در ژوند ډېر قوي دئ ځکه چه په انبیاو کي پسله مرګه هم دژوند انو اثار ښکاره دي حتي چه دنبي کریم ﷺ دبي بي ګانو مبارکانو نکاح د هیڅ چاسره نه ده روا او دشهید انو دزنانو نکاح روا ده بلکه صدیقین اولیاء هم په درجه دژوند کي تر شهید انو قوي دي او عام اولیاء دشهید انو سره برابر دي نو معلومه سوه چه انبیاو ته به هم په مړه سره نه وایاست ځکه چه ژوندي دي او دغه رنګ داغه خبره مفتي اعظم پاکستان مفتي محمد شفیع هم داغه خبره لیکي چه د انبیاو ژوند تر شهید انو تر ژوند قوي دي (تفسیر معارف القران جلد ۲ ص ۵۲ )

همدارنګه دغه خبره علامه سمهودي هم لیکلې ده (وفاء الوفاء جلد ۳ ص ۱۴۵ ) نو په قران سره د اثابته ده چه شهداء او انبیاء علیهم السلام په خپلو قبروکي ژوندي دي مړه نه دي او دغه رقم بې شماره احادیث هم په دا موضوع کي موجود دي

حضرت انس ابن مالك رض روایت کوي چــه مونږته نبي کریم ﷺ وویله چه (الانبیاء احیاء في قبورهم یصلون ) الحدیث ـ انبیاء په قبروکي ژوندي دي او لمونځونه کوي ) مجمع الزوایدجلد ۸ ص ۲۱۴ کتاب فیه ذکر الا نبیاء ) او دغه رقم [ مسند ابي یعلي الموصلي

جلد۶ص۱۴۷ثابت البناني عن انس] الحاوي للفتاويٰ جلد۲ص۵۵۴ انباء الاذکياء)فتح الباري جلد۴ص۶۱۹کتاب احاديث الا نبياء)مرقات المفاتيح جلد۳ص۴۱۵باب الجمعه]شفاء السقام ص۱۳۴)فتاوي حقانيه جلد۱ص۱۵۸)نشر الطيب ص۲۴۸)فيض الباري جلد۲ص۶۴)وفاء الوفاء جلد۴ص۱۷۹باب في زيارت النبيﷺ)

د اتـول کتابونه د احديث نقل کوي چه انبياء عليهم السلام په قبروکي ژوندي دي اودغه رقم په يوبل صحيح حديث شريف کي راغي[عن ابي دردا ءؓ قال قال رسول اللهﷺاکثروا الصلاة عليّ يوم الجمعة فانه مشهود تشهده الملائکةوان احد الن يصلي عليّ الاعرضت علي صلاته حتي يفرغ منهاقال قلت وبعد الموت قال ان الله حرم علي الارض ان تأکل اجساد الا نبياء فنبي الله حي يرزق[مشکوات المصابيح جلد۱ص۱۳۲باب الجمعه]ابن ماجه ص۱۱۹ذکروفاته]القول البديع ص۱۶۴سلام من يسلم عليه]مرقات المفاتيح جلد۳ص۴۱۵باب الجمعه]سبل الهدي والرشاد جلد۱۲ص۴۴۴ابواب الصلات عليه]تفسيرمظهري جلد۹ص۲۹۶سورت الجمعه]حضرت ابودرداءؓ وايي چه نبي کريمﷺويله تاسي دجمعي په ورځ پرماډېر ډېر درود شريف واياست ځکه چه په د اورځ ملائکه حاضرېږي اوپه تاسوکي چه څوك هم درودووايي ماته يې تـول درود شريف رارسيږي ياپه کشف سره ياد ملکوپه واسطه ابودرداؓ وايي ماورته وويل چه پسله مرګه هم درته ښکاره کيږي،؟رسول پاكﷺ،راته وويل چه خد اي تعالي پرمځکه د انبياؤدبدنوخوړل حرام کړي دي اونبي دخد ایٔ پاك ژوندیٔ دیٔ خپل رزق خوري[مشکوات]

او همد ارنګه بل روايت کي راغي[عن اوس السقفيؓعن النبيﷺقال ان من افضل ايامکم يوم الجمعه فيه خلق ادم عليه السلام وفيه قبض وفـــيـــه النفخة وفيه الصعقة فاکثرواعليّ من الصلات فان صلاتکم معروضة علي قالوايارسول الله کيف تعرض صلاتناعليك وقد ارمت؟ قال ان الله عزوجل قد حرم علي الارض ان تاکل اجساد الانبياء عليهم السلام]حضرت اوسؓفرمايي چه نبي کريم ﷺويله چه په تـولوورځوکي افضله ورځ دجمعي ده چه په د اورځ حضرت ادم عليه السلام پيد اسوي دیٔ اوپه دغه ورځ وفات سویٔ دیٔ اوپه د اغه ورځ به شپيلي دقيامت پوه کړل سي اوپه د اغه ورځ به

ببرته راژوندي کيږونوتاسي دجمعې په ورځ باندي پرماډېردرودونه وايئاست ځکه چه ستاسودرودماته رارسيږي صحابه کرامو سوال وکړئ چه يارسول الله تاته به څنګه زمونږدرود ورسيږي اوحال دادئ چه ته خوبه خاوري سوئ يې نبي کريم ﷺ په جواب کي ورته وويله (ان الله قدحرم علي الارض ان تاکل اجساد الانبياء) په تحقيق سره الله پاك پرمځکه باندي دپيغمبرانو بدنونو خوړل حرام کړي دي

ابوداود جلد۱ ص۲۱۴ ۱۵۰ ابواب الجمعه)

اودغه رقم نسائي جلد۱ ص۲۰۳) مستدرك للحاكم جلد۱ ص۳۸۷ کتاب الجمعه)شرح الصدورص۳۱۶)سنن الکبرئ جلد۳ص۲۴۹فضل الصلات في الجمعه)مسند احمد جلد۱۲ص۴۷۵اوس بن اوس)مصنف بن ابي شيبه جلد۲ص۳۹۹] ابن ماجه ص۷۷] الترغيب والترهيب جلد۱ص۲۸۱) سيرت المصطفي جلدص۲۵۲)

ددغه ۲ احاديثو څخه ښکاره معلوميږي چه انبياء عليهم السلام په قبروکي ژوندي دي اوجوړاوسالم پراته دي اودخدائ تعالي په عباداتو باندي خوند حاصلوي اودغه رقم دامت امامان محدثين مفسرين اوعام فقهاء ټـول پردغه اتفاق لري چه انبياء په قبروکي ژوندي دي علامه عبد الحق محدث دهلويؒ ليکي (حيات الانبياء متفق عليه است هيچ کس رادروئ خلافي نيست،حيات جسماني دنياوي،حقيقي،نه حيات معنوي روحاني)وايي مسئله دحيات الانبياء اتفاقي ده د هيڅ چا هم اختلاف نسته پکښې چه انبياء په دنياوي اوحقيقي ژوندسره ژوندي دي(اشعت اللمعات جلد۱ص۶۱۳باب الجمعه)اودغه رقم علامه سخاويؒ وائي (نحن نؤمن ونصدق بانه حي يرزق في قبره وان جسده الشريف لا تاکله الارض والاجماع علي هذا) وايي مونږايمان اوتصديق لروپردې خبره چه نبي کريم ﷺ په قبرکي ژوندئ دئ اودخداي تعالي له جانبه رزق خوري اوبدن مبارك يې خاوري نه خوري اوپردغه عقيده باندي اجماع ده (القول البديع ص۱۷۲)

همدارنګه علامه قطب الدينؒ هم وايي: چه دامسئله دټـول اهل سنت اتفاقي ده چه انبياء عليهم السلام په قبروکي ژوندي دي(مظاهر الحق جلد۱ص۴۴۵)نواجماع دټـول امت پردغه ده چه انبياء عليهم السلام په خپلوقبروکي ژوندي دي اوررزق خوري

اوبدنونه يې هم سالم اوروغ دي اودغه رقم علامه علي القاريؒ وائي (فمحصل الجواب ان الانبياء احياء في قبورهم فيمكن لهم سماع صلوة من صلي عليهم)و ايي:حاصل دكلام دادي چه بې شکه انبياء ژوندي دي په قبروکي او څوك چه درود پروائي د هغه خبري اوري(مرقات جلد ۳ص ۴۱۰)

اودغه رقم امام بدرالدين عينيؒ وائي (فانهم لايموتون في قبورهم بل احياء)و ايي:په تحقيق سره انبياء په خپلوقبروکي مړه نه دي بلکه ژوندي دي(عمدة القاري علي صحيح البخاري جلد ۱۶ص ۲۵۷ کتاب المناقب) اودغه رقم علامه سيد محمود الوسيؒ فرمائي (والمراد بتلك الحيوة نوع من الحيات غيرمعقول لناوهي فوق حيوة الشهداء بكثيروحيوة اكمل واتم من حيوة سائرهم)و ايي: اوله دي ژوند څخه د لسي ژوند مراد دي چه مونږ نه په پوهيږو اود اژوند دشهيد انود ژوند څخه ډيرزيات دئ اودنبي كريمﷺ ژوند ترټولوپيغبرانوترژوند كامل اوقوي دئ(روح المعاني جلد ۲۲ص ۲۹۵سوره احزاب ۴۰)

اودغــه رقم علامه صاوي مالكيؒ فرمائي(اي حياة اخروية بالجسم والروح ليست كحياة اهل الدنياء لايشاهدها الااهل الاخرة ومن خصه الله تعالي بالاطلاع عليهاوهذاهو التحقيق خلاف لمن قال انهم احياء بالروح فقط لانه يرد بان كل انسان حيا بحياة الروح مسلماكان اوكافر العدم فناء الروح اه)و ايي: اوتحقيق په دامسئله كي دادئ چه مراددغه ژوند څخه ژوند اخروي دي په بدن اوروح دواړوسره ژنددئ دلسي نه دئ لکه ددنياژوند چه هرڅوك په پوه سي بلکه په دا ژوند هغه څوك پوهيږي چه هغه اهل داخرت يعني مړوي اويابعض خاص خلك چه خداۍ تعالي يې په دغه ژوند خبره وي اوهغه څوك چه بياد اوائي چه داپه روح ژوندي دي په بدنونه دي ژوندي داخبره نه ده صحيح ځکه چه روح خود هرچاژوندئ وي حتي كافران لاهم په روح سره ژوندي دي ځکه چه روح خونه فناء کيږي:(تفسيرصاوي .جلد .۱ ص ۱۲۴)

اودغه رقم زمونږپه مذهب كي ترټولومعتمد مفسرقاضي ابي السعود العمادي الحنفيؒ وائي(رايت في المنام سنة تسع وثلاثين وتسع مائة اني ازورقبورشهداء احدٍ وانااتلوهذه الاية ومافي سورة ال عمران واردد هامتفكرافي امرهم وفي نفسي ان حياتهم روحانية لاجسمانية فبينمااناعلي ذالك اذرايت شابامنهم قاعدافي قبره تام

الجسد كامل الخلقة في احسن مايكون من الهيئة والمنظرليس عليه شيء من اللباس
قد بدا منه مافوق السرة والباقي في القبرخلاأني اعلم يقيناان ذالك ايضاكماظهر
وانمالايظهرلكونه عورة فنظرت الي وجهه فرايته ينظرالي متبسماكانه ينبهني علي ان
الامربخلاف رايي فسبحان من علت كلمته وجلت حكمته )ابوسعودوايي: چه ماپه
۹۳۹ كي خوب ليدئ چه زه د احد شريف دشهيدانوزيارت ته ورغلم اوپه خوب كي
مي دسورة البقره شريفي د ايت تلاوت كوي :(ولا تقولوالمن يقتل في سبيل الله
اموات): اودځان سره مي فكر وهي اوپه خپل زړه كي مي د اوه چه د اشهيدان په روح
ژوندي دي اوپه بدنونياندي مړه دي زه په د اغه فكركي ومه چه يوځوان شهيد مي
وليدئ په قبركي ناست واوښه ښايسته صورت يې وااوترنامه لوړښكاره ونور په قبر كي
ديريدن يې جامي نه وي ماچه يې ومخ ته وكتله د اشهيد زماطرف ته كتله اوماته يې
خندله گواكي زه يې اگاه كړمه چه داسي كار نه دئ لكه ستاچه كومه عقيده ده يعني
مونږپه بدنونياندي ژوندي يو(تفسيرابي السعودجلد۱ص ۴۲۰)نومعلومه سوله چي
اتبياء اوشهيدان په روح اوبدن دولړوسره ژوندي دي
اودغسي رقم دعلماء ديوبند هم دغه اجماعي فيصله ده چه انبياء عليهم السلام په
قبروكي ژوندي دي دټول ديوبند امام اوباني قاسم العلوم والخيرات مولانامحمدقاسم
نانوتوي يومستقل كتاب دحيات الانبياء په ثبوت كي ليكلئ دئ چه نوم يې (آب حيات
)دئ اودغه رقم خليل احمدسهارنپوري وائي (ان النبي ﷺ حي في قبره كماان الانبياء
احياء في قبورهم )نبي ﷺ په قبركي ژوندئ دئ لكه څنگه چه ټول انبياء ژوندي
دي(بذل المجهود جلد۲ص۱۱۷)اودغه رقم شبيراحمد عثماني وائي (ودلت النصوص
الصحيحة علي حيات الانبياء)صحيح دلايل پرد ادلالت كوي چه انبياء ژوندي دي(فتح
الملهم جلد۱ص۳۲۵)اودغه رقم شاه انورشاه كشميري وائي (ان كثيرامن الاعمال
قدثبت في القبوركالاذان والاقامة عند الدارمي وقرائة القران عند الترمذي )داسي ډير
كارونه ثابت دي په قبروكي لكه اذان اواقامت اوقرائت دقران په روايت د دارمي
اوترمذي كي (فيض الباري جلد۱ص۱۱۳)اوداغه عقيده داشرف علي تهانوي هم ده
(نشرالطيب ص۲۱۱)اوداغه عقيده دمفتي عزيزالرحمن ديوبندي هم ده(فتاوي

د ارالعلوم دیوبند جلد۵ص۳۹۷)او همدغه عقیده دمفتي محمودديوبندي هم ده (فتاوي مفتي محمود جلد۳ص۱۵۹
اودغه عقیده دفقیه العصر مفتي اعظم مولانامحمدفرید صاحب هم ده (فتاوي فریدیه جلد۱ص۴۳۹)اودغه عقیده دمولا ناعبد الحق حقاني هم ده (فتاويٰ حقانیه جلد۱ص۱۵۸)ددغه ټولو اقوالو څخه معلومه سوله چه د امت ټول علماء که مفسرین دي اوکه محدثین دي اوکه فقهاء دي اوکه اکابردديوبند دي دد اټولودغه عقیده ده چي انبیاء په قبروکي ژوندي دي او اجماع د امت پردغه ده اودغه رقم شهیدان هم ژوندي دي بلکه اولیاء هم ژوندي دي لکه څنګه چه قاضي صاحب ذکرکړله نومنکریې د اهل سنت څخه خارج دي (والله اعلم وعلمه اتم واحکم)

[**سوال**: ایانبي کریمﷺپسله مرګه په ویښه باندي لیدل کېدای سي که یاکه بالفرض اوس یوڅوك د اوائي چه مانبي کریم ﷺبغیرله خوبه په ویښه باندي ولیدئ د اخبره صحیح ده,که غلطه؟ المستفتي محترم مولوي اسد الله خالد

**جواب**: هغه څوك چه دنبي کریمﷺد حیات اود اولیاؤد کرامت قایل دئ هغه د اهم جائزبولي چه نبي کریمﷺدي په حالت دويښه باندي وليدل سي ځکه چه د اخوکرامت ممکنه ده

علامه جلال الدین سیوطيؒ چه د۵۲۵کاله مخکي تېرسوې دي او۸۹۰کتابونه يې لېکلي دي او۷۰واره يې نبي کریمﷺپه ویښه باندي لېدلي دئ دغه عالم یوکتاب لېکلي دئ پردا غه موضوع باندي اوبیاوايي چه په سلفواوخلفوکي د اثابته ده چه نبي کریمﷺيې لیدلي دئ اوبیاد ډیروعلماؤ اقوال رانقل کوي اوبیاډېرکافي اوشافي بیان لیکي اوبیادطبقات الاولیاء څخه دشیخ عبد القادرجیلانيؒ قول نقل کوي:چه شیخ عبد القادرجیلانيؒ وايي چه ماته دماپښین ترلمانځه مخکي نبي کریمﷺراغلي اوبیایې راته وویله چه ولي خبري نه کوې,ماورته وویله چه یارسول الله زه خوښه فصیح عالم نه یمه اود ابغد ادفصیح علماء راته ناست دي نوڅنګه خبري وکړمه وائي نبي کریمﷺراته وویله چه خوله خلاصه که دئ وائي بیایې په خوله کي ۷وه واره دخولې ناړي مبارکي راتوئ کړلې اوبیایې راته وویله چه ښه په حکمت سره نصیحت وکړه اوخلګ دخداي دین ته راوبوله ,شیخ عبد القادرجیلاني وایي بیاماد ماپښین لمونځ

وکړي اوپرمنبرباندي کښېنستمه اوډېرانسانان هم راحاضرسوله پرماباندي سهم پرېوتئ په دغه وخت کي حضرت علي کرم الله وجهه راحاضرسوبیاېې راته وویله چه ولي خبري نه کوې دئ وائي ماورته وویله چه سهم راباندي راغلئ خبري نه سمه کولائ بیاعلي په خوله کي ۶واره خپلي ناړي راتوئ کړلي دئ وایي ماورته وویله چه ولي دي ۷واره نه کړله پوره ؟وائي علي راته وویله چه (ادبامع رسول الله ﷺ)دنبي ﷺ د ادب په خاطرمي ځان راکم کړئ بیامي دستر کوڅخه پټ سو(الحاوي:تنویر الحلك في روئة النبي والملك جلد۲ص۶۶۳) اودغه رقم امام ابن الحجر هیتمي په خپله فتاوي کي یوعنوان لیکي (مطلب یمکن الاجتماع بالنبي ﷺ الان یقظة) د اباب په د امسئله کي دي چه اوس دنبي کریم ﷺ سره په ویښه سره د ملاقات کیدلو امکان سته اوبیاترد ابحث لا ندي د الیکي چه دنبي ﷺ سره لیدل په ویښه کیدلائ سي اویوحکایت هم ذکرکوي (فتاوي حدیثیه ص۳۹۱)

اودغه رقم مشهور مفسر علامه الوسي یوډېرزیات تحقیق په دغه مسئله کي کوي اوپه اخرکي وایي چه(وغایة ما اقول ان تلك الروية من خوارق العادة کسایرکرامات الاولیاء ومعجزات الا نبیاء علیهم السلام اه)زمادټولوخبرومقصدد ادئ چه دغه لیدل دنبي ﷺ د اخارق العادة کاردئ لکه عام کرامات اومعجزې (تفسیرروح المعاني جلد۲۲ص۲۹۶)خلص دکلام د اسو چه دنبي کریم ﷺ لیدل په ویښه سره جائز اوروادئ په طریقې دکرامت سره دزیات تفصیل دپاره الحاوي للفتاوي دسیوطي اوتفسیرروح المعاني د الوسي وګورئ۔

## ﴿مسئله انبیاء(علیهم السلام)دګناه پاك دي﴾

مخکي ترمسئلي دبیان زه د او ایم چه په د اسي مسئلوکي باید ډیراحتیاط وسي ځکه چه د انبیاوپه شان کي لږګستاخي مسلمان د اسلام څخه باسي زمونږفقهاء لیکي[من شتم النبي ﷺ او اهانه اواعابه في اموردینه اوفي شخصه اوفي وصف من اوصاف ذاته الشریفه سواء کان الشاتم مثلامن امته اوغیرهاوسواء کان من اهل الکتاب اوغیره ذمیاکان اوحربیاسواء کان الشتم اوالاهانة اوالعیب صادرعنه عمدا اوسهوا اوغفلة اوجدا او هزلافقد کفرخلود ابحیث ان تاب لایقبل تو بته لاعند الله

ولاعند الناس وحكمه في الشريعة المطهرة عند المتاخرين المجتهدين اجماعاوعند المتقدمين القتل قطعاولايد اهن السلطان اونائبه في حكم قتله[خلاصة الفتاوي جلد۴ص۳۸۶]وايي كه چانبي كريمﷺته ښكنځل وكړه اويايې اهانت وكړئ اويايې عيب پرووايه يادډين په كاروكي يادده مبارك په شخصي كاروكي اويايه يوصفت د اوصافوشريفه وكي دعليه السلام اودغه انسان كه امتي دعليه السلام وي اوكه يوبل كافراويهودي ياذمي وي اوكه يې دغه بدپرعليه السلام مبارك په قصد سره ويلي وي اوكه يې سهواويلي وي اوكه يې په مسخروكي ويلي وي په هرحال كي چه يې ويلې وې دغه انسان د اسې وچ كلك كافردئ چه توبه يې هم نه قبليږي نه دخداي تعالي په نيزاونه دبندګانوپه نيزداوپه اجماع دمتاخرينواواكثرومتقدمينويې حكم په شريعت كي د ادئ چه وژل كيږي به دوخت باچااووزيربه يې په قتل كي سستي هم نه كوي [خلاصة الفتاوي]

اوقاضي پاني پتيؒوايي[من اذي رسول الله ﷺبطعن في دينه اوشخصه اونسبه اوصفة من صفاته اوبوجه من وجوه الشين فيه صراحتااوكنايتا او اشارتاكفرولعنه الله تعالي في الدنياوالاخرة واعدلـــه عذاب جهنم[مظهري جلد۷ص۳۸۱]وايي كه چانبي كريمﷺزهيركړئ په هررقم چه وي يادذاته شريف په خاطريادنسب په خاطريايې شكاره عيب پرووايي ياپټـ د اسې كافردئ اود خدائ لعنت به ترقيامت پوري پراوري اوجهنم يې ځاي دئ[مظهري]اوامام مالكؒ وايي كه چاويل چه دمديني منوري خاوري بېكاره ده هغه سړي دي بندي سي او۳۰دوري دي ووهل سي[السيف المسلول ص۵۲۵]نوبايد مسلمان دداسي خبروڅخه ځان وساتي اوخاص بياعوام خلك چه په هيڅ علم نه لري بايد په د اسي مسئلوكارنه ولري

**مسئله** داده چه دمحقيقينود اهل سنت والجماعت اتفاق دئ پـــردا خـــبره چي انبياء(عليهم السلام)د هري ګناه څخه پاك دي(كه كوچنئ ګناه ده كه لويه ګناه ده نه يې قصد اګناه كړې ده۔اونه يې سهوانه مخكي ترنبوت اونه وروسته ترنبوت)په هر حال كي انبياء (عليهم السلام )دګناهوڅخه پاك وه اودي اودغه سي عقيده ساتل ورته پكارده اوس يوڅوعبارات دكتابوذكركوم حـــضرت امامنا الـهمام الامـــام ابوحنيفه النعمانؒ

د اعقیده ده[والا نبیاء (علیهم الصلات والسلام)کلهم منزهون عن الصغائر،و الکبائرو الکفرو القبائح[فقه الاکبر]تر د اعبارت لاندي علامه قاري لیکي[ثم هذه العصمة ثابتة للانبیاء قبل النبوة وبعد هاعلي الاصح[شرح فقه الاکبر،ص۷۵]او امام بدرالدین عینيؒ.لیکي[قلت مذ هبي ان الا نبیاء معصومون من الکبائرو الصغائرقبل النبوت وبعد هاوالذي وقع من بعضهم شيء یشبه الصغیرة لایقال فیه الاانه ترک الا فضل وذ هب الي الفاضل[عمدة القاري ج۱۸.ص۱۲کتاب المغازي]اوامام قرطبي وایي[وقال جمهورمن الفقهاء.من اصحاب مالك وابي حنیفه والشافعي.انهم معصومون من الصغائرکلها.کعصمتهم من الکبائرأجمعها[تفسیرقرطبي ج ۱ص۳۴۹سورة بقرةایه۳۵]اوامام نوويؒوایي[وذهب جماعة من اهل التحقیق.والنظرمن الفقهاء والمتکلمین من ائمتناالي عصمتهم من الصغائرکعصمتهم من الکبائر[شرح مسلم ج۱،ص.۱۰۸باب اثبات الشفاعة]اوقاضي عیاضؒوایي[والجمهورقائلون بانهم معصومون من ذالك من قبل الله معتصمون باختیارهم وکسبهم[شفاء ج۲ص۱۴۹باب عصمة الا نبیاء من الفواحش]اوعلامه جبونؒوائي[وان الا نبیاء یجب ان یکونوامعصومین عن الذنوب والکذب بکمال مرتبتهم وجلال شانهم[التفسیرات الاحمدیةص۳۲سورة بقره ایه۱۲۴]اوعلامه مهديؒ لیکي چه امام ابن العربيؒ وائي ان الا نبیاء معصومون عن الکبائراجماعاوفي الصغائراختلافاوانااقول انهم معصومون عن الصغائروالکبائر[زاد المسیرجلد.۳ص۵۶۴]وائي په اجماع دامت انبیاء دغتـوګناهوڅخه پاك دي اوزه وایم چه دغتـواوکوچني دواړوڅخه پاك دئ[زاد المسیر]اوعبد الرزاق المهديؒلیکي[ولایقولن احدکم قدعصي الانبیاء فکیف نحن فان ذکرذالك کفر[زاد المسیرص۵۶۵]وایي:چه څوك وایي انبیاء ګنهګاردي داکفردئ اوعلامه علي القاريؒ وایي[اذ الا نبیاء معصومون قبل النبوة وبعد هاعن کبائرالذنوب وصغائرهاولوسهواعلي ماهوالحق عند المحققین[مرقاة المفاتیح ج۱ص۲۱۳باب الکبائر]اومیا ںفقیرالله علويؒ.وایي[واصح الاقوال انهم معصومون

عن المعاصي كلهامن الكبائرو الصغائرعمد اوسهو اقبل النبوة وبعد هافي حال الصحة
والمرض وفي حال الغضب والرضاء[قطب الارشاد ص۸۳]دغه ټولوعباراتوخلاصه
داده چه انبياء مباركان(عليهم السلام) مخكي ترنبوت اوبعدله نبوت څخه په
قصد اوسهو سره په حالت دروغتيا اومريضۍ كي اوپه حال دغضب اوخوشحالي كي په
هرحال كي د هررقم ګناهو څخه پاك دي دزيات تفصيل دپاره داكتابونه هم وګوري
[روح البيان ج ۸ص۴۷ سورت ص ايت۳۴]تفسيرصاوي ج ۱ص۲۳سوره بقره
ايه۳۵]تفسيرمظهري ج۱ص۹۵سوره بقره ايه۳۹]
روح المعاني ج۱ص۳۱۸سورت بقره ايه۳۵]بد ائع الصنائع ج۳ص۲۰فصل في حكم
اليمين]تفسيرزاد المسيرج۳ص۵۶۵سوره (ص) ايت ۲۱] الكنز المدفون
ص۱۰۰]تفسيرقرطبي ج۳ص۲۸۴سوره بقره ايت۲۶۰]فتاوي حقانيه.جلد.۱ص۱۴۹]
اوزيات تفصيل امام رازيؒ كړۍ دۍ[التفسير الكبيرج.۱ص۴۵۵سورت بقره ايه ۳۶]
اوعلامه قاضي عياضؒ.په شفاء كي مستقل بابونه پرليكلي دي اودښه تسلي لپاره
دعلامة الدهررازي وقت الصاعقة الالٰهيه علي الوهابيه محترم علامه ايوبيؒ كتاب
(كشف الغطاء عن عصمت الانبياء)وګورئ چه ټول سوالونه يې حل كړي دي
اودغه رقم دجناب نبي كريمﷺد والدينوشريفينو(مور اوپلار)په شان كي ښه عقيده
ساتل پكاردي اولا خوزمونږ فقهاء ليكي چه په داسي مسئلوكي توقف پكاردۍيعني
خبري نه پكښي كول اوزمونږ امام صاحبؒ هم په دغه مسئله كي توقف كړۍ دۍ.څكه
چه په قبراوأخرت كي داپوښتنه نه كيږي. چه تادنبي كريمﷺدو الدينوپه حق كي څه
عقيده درلودله اوپه حديث شريف كي راځي چه الله تعالىٰ بعض اشياء نه دي
ذكركړي ستاسودرحم په خاطراوهيريې هم نه دي نوتاسي دهغوشيانوپوښتني مه
كوئ چه الله پاك نه وي ذكركړي[الحديث]اوسره ددې چه دخد ائ (جل جلاله)رحمت
ډيرزيات دۍ چه پايۍ نه لري اودرسولﷺشفاعت هم حق دۍ عامو امتيانونود خپل
والدينوپه حق كي به څنګه وي اوبل مخكي مود فقهاؤعبارات ذكركړله چه كه چارسول
ﷺپه نسب كي زهيركړۍ هغه كافردۍ مرګ يې واجب دۍ نود اهم يقيني ده چه
درسولﷺپه خپلوو الدينوخوابديږي اوزهيريږي څكه چه دهرچاپه خپلومشرانوكه
څه هم بې لاري وي دبل په خبروخوابديږي نورسولﷺته چه دامت اعمال هم

پرعارضيږي هغه به څنګه نه زهيريږي د امام ابوبکربن العربيؒ څخه چاپوښتنه وکړه چه يوسړي وايي چه دنبي کريمﷺو الدين په جهنم کي دي ده مبارك په جواب کي ورته وويله چه داسړئ ملعون دئ دخدائ لعنت پراوري ځکه چه داسړي نبي کريمﷺزهيروي اوالله پاك فرمايي(ان الذين يؤذون الله ورسوله لعنهم الله في الدنياوالاخرة) الاحزاب]څوك چه خدائ اودخدائ رسول زهيره وي.پرهغوئ باندي په دنيااواخرت کي دخدائ جل جلاله.له طرفه لعنت اوري] روح البيان.جلد۱ص۲۷۵]امام طحطاويؒ ليکي[وايي چه يوعالم يوه شپه دنبي کريمﷺدو الدينوپه شان کي فکروهئ چه تطبيق د اقوالو وکړي چه ايا دوئ مسلمانان وه او که يا،په داغه فکرکي ؤ چه پرخپل څراغ باندي راغوځارسواوڅراغ اور باندي واخيستي دده بدن يې وروسوځئ سهارچه داغه عالم دکور څخه راووتي يوځائ ميله وپه لارکي ديوسبزي والاددکان مخته يوسړئ ناست ؤ هغه ترازو اونور شيان هم پراته دي،چه کله دئ ور ورسيدئ ،هغه سړئ مخ ته راغلي،اوداس واکي(قبضي)يې تينګي کړې ،بيايې دا اشعار ووېل(امنت ان اباء النبي وامه؛احياهماالحي القديرالباري؛حتي لقدشهد اله برسالت؛صدق فتلك كرامت المختار؛وبه الحديث ومن يقول بضعفه؛فهوالضعيف عن الحقيقه عاري)ترجمه:زماايمان دي چه درسول ﷺمورا وپلار هغه قادر اوژوندي خداي پاك،راژوندي کړله؛حتي چه پر نبيﷺيي ايمان راوړئ اي سړيه د اخبره ومنه،د ادرسولﷺدکرامت وجه ده اوپه دغه مسئله کي حديث هم سته څوك چه وايي دا ضعيف دئ هغه خپله ضعيف دئ اود حقيقت څخه خالي دئ د ااشعار چه يې ووېل بيايې دغه عالم ته ويل چه مه شپه رونـه وه اومه ځان په فکرکي اچوه چه څراغ دي وسوځي،اوهغه ځائ ته مه ځه چه ستاقصد دئ،چه حرامه ګوله وخوري هغه سړئ نورورك سوچه هغه عالم يې پوښتنه وکړه هيڅ چاهم نه پېژندي يودغيبوهدايت کونکي ؤ ،بس هغه عالم بيرته خپل کورته راوګرځېدي[طحطاوي علي الدرالمختار .جلد۲.ص۸۰باب نکاح الکافر ] سبحان الله همدارنګه ملاعلي القاري.الحنفيؒ،چه علماء يې مجددبولي،هغه مبارك په اول کي دعمرد اويل چه دنبي کريمﷺو الدين.پر اسلام نه وه. اوپه داغه مسئله کي کتاب هم وليکي،چه کله وفات سو. هغه کوم عالم چه غسل ورکوي. هغه وايي چه ژبه يې نه

وه.هغه عالم حيران سو،چه دادومره لوئ شان والاعالم.اود اعذاب.دشپې يې خوب ليدئ.په خوب كي ملاعلي القاريؒ.ورته وايي چه ته مه خپه كېږه.ماپه ژوندكي دنبي كريمﷺدموراوپلارپه شان كې داخبره كړې وه.چه دوئ نه دي مسلمانان.نوالله پاك جل وعلي.داجزاء راكړه چه دځنكدن په وخت كي يې ژبه راپرې كړه.اود اخرت دعذاب څخه يې خلاص كړمه[ابتغاء الوصول.ص۴۵بحواله طوالع الانوارللسنديؒ]كه څه هم علامه مصطفي،الحمانيؒ.وايي.چه ملاعلي القاريؒ.دخپل قول څخه په اخركي دعمررجوع وكړه.په شرح دشفاء دقاضي عياض كي وايي چه اصح مذهب دادي چه مسلمانان وه.[مقدمة المرفات،ص۲۲ ]نوافسوس پرهغه بې دينه او بې مذهبه.ملاچه هروخت يې په خوله كي دامسئله وي.اوهمېشه پرمنبرد امسئلې ياده وي،كه دابې دينه ملاپه خپل ګرېوان كي اوګوري،اوداسوچ وكړي.چه كه چيري زماپلاريوڅوك په داسي الفاظوهميشه يادوي نوزه به څه وكړم اوڅونه به زهيريږم،بيابه داخبره بل وخت نه وكړي؛[بيابه په محشركي دشافع الامت،امام الانبياء.محبوب كردګار،اقاء نامدار،نبي مختارﷺپه مخكي فيصله كيږي اياڅه به كوي بيانه هلته هم دابې مذهبه دشفاعت اميدلري،كلاوحاشا،الف الف مره]

اوس عبارات دعلماؤذكركوم،بيابه يې خلاصه ذكركړم؛مشهورمحقق علامه شامي ليكي[ولايقال ان فيه اسائة أدب لا قتضائه كفرالابوين الشريفين،مع ان الله تعالي احياهماله وامنابه[رد المحتارجلد۲.ص۴۱۸باب نكاح الكافر]

اودغه رقم.جلد.۳.ص۳۱۷.باب المرتد]اودغه رقم رازي وقت،قاضي ثناء الله پاني پتي ليكي[فلايجوزالقول بكون ابوي النبيﷺمشركين،وقد صنف الشيخ الاجل جلال الدين السيوطيؒرسائل في اثبات ايمان ابوي رسول اللهﷺوجميع ابائه وامهاته الي ادم عليه السلام وخلصت منهارسالة سميتها.بتقديس اباء النبيﷺلمن شاء فليراجع اليه[تفسيرمظهري.جلد.۴.ص۳۰۸سوره توبه ايت ۱۱۳]

اودغه رقم امام قرطبيؒ.ليكي[وقدذكرنا.في كتاب التذكره.ان الله تعالي احياله اباه وامه وأمنابه.[تفسيرقرطبي.جلد.۲.ص۹۰سوره بقره.۱۱۹]

اوامام اسماعيل حقيؒ.ليكي[بقي ههنا ان الجم الغفيرمن العلماء ذهبواالي ان

النبي ﷺ مرعلي عقبة الحجون.في حجة الوداع فسأل الله ان يحي امه فاحياهاؤامنت به [روح البيان.جلد.۳.ص۶۶۵سوره توبه.ايه.۱۱۳]ايضا[جلد.۷.ص۲۸۱سورت احزاب.ايت۵۷]ايضا[جلد.۱.ص۲۷۴سوره بقره ايت۱۱۹][وتوجد مولفات عدة لكثيرمن علماء المتقدمين والمتأخرين.في نجات الابوين[تفسيركبير؛جلد۲ص۲۹] اودغه رقم ملاعلي القاري الحنفي.وايي[واما اسلام ابويه ففيه اقوال والاصح اسلامهما.علي مااتفق عليه الاجلـــه مـــن الامة.كمابينه السيوطي في رسائلة[شرح شفاء.جلد.۱.ص۶۰۵باب ومن معجزاته تكثير الطعام]اودغـــه رقـــم شهاب الدين السيد محمود الوسيؒ ليكي[قال السخاوي:الذي ندين الله تعالي.به الكف عنهماوعن الخوض في احوالهما.والذي أدين الله تعالي به أناانهماماتاموحدين في زمن الكفر،وعليه يحمل كلام الامام ابي حنيفةؒ،ان صح بل أكاد اقول.:انهماافضل من علي القاري.وأضرابه.[تفسيرروح المعاني.جلد۲ص۵۰۵سوره بقره ايه ۱۱۹]اوامام جلال الدين سيوطيؒ.مستقلي ۳رسالې ليكلي دي.پرداغه موضوع.چه والدين شريفين.جنتيان دي[الحاوي.مسالك الحنفاء في والدي المصطفي].ددغه عباراتوخلاصه داده. چه محققين دجمهوروعلماؤ.پرداعقيده دي.چه والدين شريفين درسول ﷺ مومنان جنتيان دي اوكوم چه علامه قاريؒ.كوم قول كړي دي دوالدينوپه حق.نوهغه مونږذكركړله،چه هغه مبارك په اخركي دعمردخپل قول څخه رجوع

وكړه.لکه څنګه چه دشرح شفاء څخه هم معلوميږي[مقدمة المرقات،ص۲۲][والله اعلم]

## ﴿مسئله؛عذاب قبر﴾

### تـول اهل سنت والجماعة پرداعقيده متفق دي

چه په قبراوبرزخ کي صالحانومومنانوته خوشحالئ اونعمتونه ورنصيب كيږي اوكافرانواومنافقانواوګناهګارانوته په قبركي عذاب اوتكليف ورسيږي په داكښي هيڅ شك اوشبه نسته په قران اواحاديثودنبي كريم ﷺ اوپه اجماع دامت ثابته اومضبوطه عقيده ده حتي چه فقهاء حضرات وايي: چه څوك دعذاب قبرڅخه

منکروي هغه کافردئ.لمونځ نه پسي صحيح کيږي که څه هم زمونږفقهاء دتکفيرپه مسئله کي ډيراحتياط کوي .لکن دايوداسي خبره ده چه ازروئ شريعت دانکارکولوګنجائش نسته پکښي نوځکه فقهاء مبارکان يې پرمنکردکفرحکم کوي؛

حضرت اميرالمومنين عمرفاروقؓفرمايي: چه جناب نبي کريمﷺخطبه ويله او وې فرمايل,(انه سيکون في هذه الامة قوم يکذبون بالرجم ويکذبون بطلوع الشمس من مغربهاويکذبون بعذاب القبرويکذبون بالشفاعة،ويکذبون بقوم يخرجون من النار،بعد ماامتحشوا) سردار دوجهانﷺوايي چه ژربه په داامت کي داسي خلګ هم پيداسي چه رجم دشيطانانوبه نه مني ,اومغرب څخه دلمرراپورته کېدل به نه مني,اودعذاب دقبرڅخه به انکارکوي اوشفاعت د ورځي دقيامت به نه مني او وروسته له عذاب ددوزخ څخه دانسانانوراوتل اوجنت ته داخليدل به نه مني (البدور السافرة في امورالاخرة للسيوطي؛ص۲۳۹).نودنبي کريمﷺدقول موافق به داسي خلګ وي چه هغوئ به دقبرعذاب نه مني اود ادقيامت علامه ده

زمونږدمذهب مشهورفقيه علامه طاهربن احمد الحنفيؒ ليکي چه داعالم ۸۹۴کاله مخکښي تېرسوئ دئ ,هغه وايي (ولايجوزالصلاة خلف من ينکرشفاعة النبيﷺ وينکرکرام الکاتبين وعذاب القبرکذامن ينکرالروية لا نه کافر)وايي کوم سړي چه دنبيﷺدشفاعت اوکرام الکاتبين ملائکو,اوعذاب دقبراو په جنت کي دخداي تعالي دليدلوڅخه منکروي په هغه پسي لمونځ نه دئ صحيح ځکه چه داکافردئ (خلاصه الفتاوي جلد۱ص۱۴۹)

همدارنګه حافظ ابن الهمام الحنفيؒ چه داعالم ۵۷۵کاله مخکي وفات سوي دي هغه ليکي (ولاتجوزالصلاة خلف منکرالشفاعة والروية وعذاب القبر وکرام الکاتبين لانه کافرلتوارث هذه الامور عن الشارع ﷺ)وايي دشفاعت اودالله تعالي ددیداراوعذاب قبراوکرام کاتبين منکرکافردي اولمونځ نه دئ پسي صحيح ځکه چه داشيان دنبي کريمﷺڅخه په تواترثابت سوي دي (فتح القديرجلد۱ص۲۴۷)؛

اودغه رقم مشهورمحقق علامـــه ابـــن العابدين شامي ليکيؒ(وان کان ماذهب اليه عند التحقيق في حدذاته کفراکمنکرالروية وعذاب القبر)وايي د الله تعالي درويه

اودعذاب دقبره څخه انکارکول کفردي په نزد دمحققینو[منحة الخالق علي البحر الرائق جلد۱ص۳۵۰) اودغه رقم علامه عبد الشکورسالمي وایي چه دعذاب قبرمنکرکافردي (تمهید بحواله تسکین الصدورص۸۴)
اوعذاب دقبرپه قران سره ثابت دئ الله پاك فرمائي(وحاق بآل فرعون سوء العذاب النار یعرضون علیها غدواوعشیاویوم تقوم الساعة الایه ـسورت المومن ۴۶ )روښانه معني اودفرعون پرخاندان اوملګروباندي هغه بدعذاب نازل سو الله تعالي فرمائي کفاربه سهاراوماښام ددوزخ پراورباندي راپېښېږي اوپه هغه ورځ چه قیامت راسي داسي به ورته ویل کیږي اې دفرعون خاندانه تاسي و هغه سخت عذاب ته وردا خل سي (نقیب التفاسیر)ددغه ایت څخه معلومه سوله چه کافران به مخکي ترقیامت هم په اور باندي سوځي چه هغه نودقبرعذاب دئ اوپــــه داغه ایت سره اهل سنت والجماعة پرعذاب دقبرباندي دلیل نیسي علامـــه ابـــن کثیردمشقيؒ وائي(وهذه الایة اصل کبېرفي استدلا ل اهل السنة علي عــذاب البرزخ فــي القبور(تفسیرابن کثیرجلد.۵ص۴۵۱)
اودغه رقم امام فخرالدین رازيؒ لیکي (احتج اصحابنابهذه الآیةعلي اثبات عذاب القبر (تفسیرکبیرجلد.۹.ص۵۲۱)اودغه رقم قاضي ثناء الله پاني پتيؒ وائي (وفیه دلیل علي بــقاء النفس وعــذاب القبروقددلــت الاحــادیث علیه وانعقدعلیه الاجماع[تفسیرمظهري جلد.۸.ص۲۶۱؛۲۶۲)
اودغه رقم علامـــه عــلـــي القاريؒلیکي(وفیه دلیل علي بقاء النفس وعذاب القبرانوارالقران واسرارالفرقان جلد.۴.ص۳۸۹)اودغه رقم امام الوسي الحنفي لیکي(وایاماکان ففي الایت دلیل ظاهــرعــلي بقاء النفس وعذاب البرزخ؛تفسیرروح المعاني جلد.۲۴.ص۴۴۷)اودغه رقم علامه اسماعیل حقيؒ واي (ثم في الایة دلیل علي بقاء النفس وعذاب القبر؛تفسیرروح البیان جلد؛۸.ص۲۵۷)....اودغه رقم امام عبدالله ابن احمد النسفيؒ واي (وهذه الایة دلیل علي عذاب القبر؛مدارك التنزیل وحقایق التاویل جلد.۲.ص۴۸۱). اودغه رقم الغوث الصمداني والقطب الرباني محیي الدین عبد القادر الجیلاني وایي(یعرضون علیهااي

فرعون واله علي النار حال كونهم في برزخ القبر[تفسير الجيلاني جلد.۴.ص۳۲۲)
اودغه رقم حافظ ابي الفرج عبد الرحمن ابن الجوزيؒ ليكي(وهذه الاية تدل علي عذاب القبرتفسيرزاد المسير جلد.۴.ص۴۰.)اودغه رقم امام مجاهد,اوامام مقاتل ,اوامام عكرمه,اوامام محمد ابن كعب,تهول داوايي(هذه الاية تدل علي عذاب القبر في الدنيا,؛تفسيرقرطبي جلد.۱۵.ص۲۷۹) تلك عشرة كاملة
اودغه رقم زيات احاديث په داباب كي موجوددي بلكه محدثين مستقل بابونه پرعذاب قبرباندي ليكي:امام بخاري په خپل كتاب كي باب ليكي(باب ماجاء في عذاب القبر)اوبياترداباب لاتدي زيات احاديث نقل كوي (بخاري جلد.۱.ص۱۸۳)اود اغه رقم امام ترمذي باب ليكي (باب ماجاء في عذاب القبر)ترمذي جلد.۱.ص۲۰۵)اودارقم امام نسايي باب ليكي (باب التعوذمن عذاب القبر)نسائي جلد.۱.ص۲۹۱)اودغه رقم په مشكوات شريف كي باب دي (باب في اثبات عذاب القبر)مشكوت جلد.۱ص۲۵.)
مقصد دادئ چه كتب الحديث دعذاب القبرد احاديثوډك دي؛
امام بخاري روايت نقل كوي چه حضرت عبد الله ابن عباسؓ وائي (مر النبي ﷺبقبرين فقال انهماليعذبان ومايعذبان في كبيراما احد همافكان لايستترمن البول وفي رواية لمسلم لايستنزه من البول واماالاخر فكان يمشي بالنميمة ثم اخذجريدة رطبة فشقهابنصفين ثم غرزفي كل قبرواحدة قالويارسول الله لم صنعت هذافقال لعله ان يخفف عنهمامالم ييبسا-متفق عليه) ابن عباسؓ فرمايي: چه نبي كريمﷺپه هديره كي تيرېدي او۲قبره يې وليدله بيانبيﷺووېله چه دغه قبرو والاته عذاب وركول كيږي لكن په ډېره غټه ګناه باندي عذاب نه وركول كيږي :د ايوه ته د دې سببه عذاب وركول كيږي چه ده به دبولو دڅاڅكوڅخه ځان نه ساتي ,اود ابل بياچغلي(شيطانت)كوي دخلګوپه ميان كي .بيانبيﷺيوه لنده لښته دخرماراواخيستله اوپرمابين يې كاټ كړله بيايې نيمايي حصه ديوه قبرسرته جګه كړه اونيمايي يې دبل قبرسرته ,بيايې ووېله چه شاهد چه ددوئ عذاب به سپك سي ترهغوچه دابوتي وچيږي؛مشكوات جلد۱ص۴۲)اودغه رقم حضرت زيد ابن ثابتؓ روايت نقل كوي (بينارسولﷺفي

حايط لبني نجارعلي بغلت له ونحن معه اذ حادت به فكادت تلقيه و اذ اقبرستة اوخمسة فقال من يعرف اصحاب هذ القبر فقال رجل اناقال فمتي ماتوا قال في الشرك فقال ان هذه الامة تبتلي في قبورهافلولا ان لا تد افنوا لدعوت الله ان يسمعكم من عذاب القبر الذي اسمعه منه ؛الحديث ؛مشكوت جلد ۱. ص۲۵) حضرت زيد ابن ثابتؓ روايت نقل كوي چه يوه ورځ نبي كريم ﷺ په خپله قچره باندي سپور ؤ اود بني نجاريوباغ ته راغلي اومونږ هم ورسره ؤ, چه نابيره قچره وبيرېدله قريب ؤ چه نبي ﷺ يي غورځه ولي واىٔ ,او هلته ۵ او يا ۶ قبرونه وه نبي كريم ﷺ وويله چه د اقبرو والا څوك پېژني يوه سړي ورته وويله چه زه يي پېژنمه يارسول الله نبي ﷺ ورته وويله چه د اكله مړه سوي دي, هغه ورته وويله چه د شرك په زمانه كي رسول ﷺ وويله چه دوي ته په خپلوقبروكي عذاب وركول كيږي, اوبيايې وويل چه كه ماته د افكر اوو هم نه واىٔ چه تاسو به مړي نه پټوي نومابه د الله تعالي څخه غوښتي واىٔ چه په تاسو هم د غه عذاب وويني كوم چه زه يې وينم ::مشكوات؛؛ اودغه رقم امام بخاري د ابو ايوبؓ روايت نقل كوي, [قال خرج النبي ﷺ وقد وجبت الشمس،فسمع صوتافقال يهودتعذب في قبورها] وايي: چه يوه ورځ نبي كريم ﷺ د اسي وخت له كوره راووتئ چه لمر پټېدئ اوبيايې اوازوا وريدئ ,اووې ويله چه يهودوته په قبروكي عذاب وركول كيږي اوحضرت ابو هريرةؓ وائي چه نبي كريم ﷺ به د ادعاء كوله (اللهم اني اعوذبك من عذاب القبر ومن عذاب النارومن فتنة المحياء والممات ومن فتنة مسيح الدجال ) بخاري جلد ۱. ص۱۸۴) دد غه احاديثو څخه د اخبره ښكاره اوثابته سوه چه د مړه روح اوبدن دواړوته په د اغه قبركي عذاب وركول كيږي. اونبي كريم ﷺ به خپله هم دقبردعذاب څخه پناه غوښتله اواحاديث دعذاب قبرد ډيروصحابه كرامو څخه روايت سوئ دئ لكـــه عـمرابن الخطابؓ,اوعثمان ابن عفانؓ,اوانس ابن مالكؓ,اوحضرت براءؓ,اوتميم د اريؓ,اوحضرت ثوبانؓ,اوجابر ابن عبد اللهؓ,اوحذيفه ابن يمانؓ,اوعباده ابن الصامتؓ,اوعبد الله ابن رواحهؓ,اوعبد الله ابن عباسؓ,اوعبد الله ابن عمرؓ,اوعبد الله ابن مسعودؓ,اوعمربن العاصؓ,اومعاذبن جبلؓ,او ابو امامهؓ,او ابودرد اءؓ,او ابو هريرةؓ,اوعايشه صديقةؓ رضي الله تعالي عنهم وعنا،بحرمتهم:(نبراس علي شرح العقايد..ص۳۲۰) مجدد ملت. ملاعلي القاري الحنفيؒ وايي [مذهب اهل السنة اثبات عـــذاب الـــقبروقدتظاهرت،عليه

الادلة،من الكتاب والسنة واما الاحاديث فلاتحصي كثرة،ولامانع في العقل،من ان يعيد الله الحيات في جزء من الجسد،اوفي الجميع علي خلاف بين الاصحاب،فيثيبه اويعذبه،ولايمنع من ذالك كون الميت قد تفرقت اجزائه كمايشاهد في العادة اوأكلته السباع،والطيوروحيطان البحرلشمول علم الله تعالي وقدرته،فان قيل:نحن نشاهد الميت علي حاله،فكيف يسأل ويقعد،ويضرب ولايظهر اثر؟فالجواب:انه ممكن وله نظيرفي الشاهد وهو النائم،فانه يجدلذة،والمايحسه ولا نحسه،وكذ ايجد اليقضان لذة،والما يسمعه ويتفكرفيه،ولايشاهد ذالك جليسه،وكذالك كان جبرئل عليه السلام ،يأتي النبي ﷺفيوحي بالقران المجيد،ولايراه اصحابه ]وايي: چه مذهب دتهولواهل السنت والجماعت دعلماو دادي چه عذاب دقبرحق اوثابت دئ، اوډېر بېشماره دلائل دقران اواحاديثوباندي راغلي دي اوښكاره دي,اوعقل هم دد اخبري منعه نه كوي چه الله تعالي دي په خپل قدرت سره دمړي په بدن كي ژوند واچوي اوعذاب دي وركړي, اوعقل داهم نه منعه كوي چه الله تعالي دي دمرده هغه بدن اوغوښي سره راجمعه كړي ,چه جلاجلاسوي وي اوياخاوروخوړلي وي ,اويامرغانواوحيوانانوخوړلي وي,اوياداوبومايانوخوړلي وي ,اوبيادي عذاب وركړي ځكه چه د الله تعالي قدرت هرشي ته شامل اوعام دئ كــــه يوڅوك داسوال وكي چه مونږخودامرده وينوچه كراراوارام پروت دئ اوهيڅ فريادنه كوي نــوڅنگه سوال اوجواب ورڅخــه كيږي اوعذاب وركول كيږي او هيڅ علامه يې هم نسته؟نومونږپه جواب كي ورته وايوچه دامكنه ده اوددې داسي مثال دئ لكه دبيده سړي چه يوسړئ بيده وي اوخوبويني په خوب كي په سخت تكليف باندي اخته وي اويادډېرپه عشق اوخوشحالئ كي وي اودئ يې درداوخوند محسوسه وائ سي,ليكــن مــونــږيې نه سومحسوسه وائ اه(خلاصه.مرقات المفاتيح جلد.١.ص.٣١٠)

خلاصه دكلام داده چه عذاب دقبرپه قران اوحديث اواجماع دامت باندي ثابت دئ اوڅوك چه انكارورڅخه كوي لكه كيپټنيان نوهغوته به هلته معلوم سي چه قبرته ورسي!!!والله اعلم بالصواب!اللهم قبنامن عذاب القبربحرمت من وقاك منه!امين)

## (مسئله)تصوف كول يعني مريدي كول

علم التصوف( يعني مريدي اوپيري كول)چه مختلف نومان لرئ،علم التصوف،علم الاخلاص،علم الباطن،علم اللدني،علم التزكية،علم القلب،علم المكاشفة،علم السر،علم الطريقة،علم المجاهدة،علم الاحسان،بانورنومان،دغه علم فرض دي اوپر هرمسلمان نراوښځه د افرض دئ چه تصوف وكړي،امام غزاليؒ وايي
[وهوفرض عين في فتوي علماء الاخرة[احياء العلوم،جلد.١.ص٢٨]اوشاه فقيراللهؒ وايي[والتصوف فرض عين فيكون اهم[قطب الارشاد؛ص٢١٧]
اوعلامه شامي ليكي[لاشك في فرضية علم الفرائض الخمس،وعلم الاخلاص،لان صحة العمل موقوف عليه[رد المحتار،جلد.١.ص٣٢]
اوقاضي ثناء الله پاني پتيؒ ليكي[واماالعلم اللدني الذي يسمون اهلهابالصوفية الكرام فهوفرض عين،[تفسيرمظهري.جلد.۴.ص٣٢۴سورت توبه ايه١٢١]اوامام طحطاويؒ،ليكي
[وكذالك يفترض عليه علم احوال القلوب[طحطاوي.جلد.١.ص٣١]ايضا[شرح.عين العلم،جلد١ص٢٩]ايضا[تعليم. المتعلم،ص۵]ايضا[الطريقة.المحمدية ص٩٠]
ايضا[الحديقة الندية.جلد.١.ص٣٢٣]ايضا[البريقه.جلد.١.ص٢۵٢]ايضا[اتحاف سادت المتقين جلد ١ ص١۴۵]ايضا[تفسيرروح البيان.جلد ٣ص ۶٨٠ سوره توبه ايه١٢٢]ايضا[تفسيرمعارف القران جلد١١.ص٧٠سوره توبه ايه١٢٢] د اټول كتابونه ليكي چه تصوف (مريدي)كول فرض عين ده؛اود اتصوف كول په قران هم ثابت دي اوپه احاديثوهم ثابت دي اود۴ څلوروامامانوپه قول اوعمل هم ثابت دي په قران كي الله تعالي فرمايي(كماارسلنا فيكم رسولامنكم يتلوعليكم اياتناويزكيكم ويعلمكم الكتاب والحكمة ويعلمكم مالم تكونوا تعلمون الاية (سورة البقرة ايت ١۵١)قاضي ثناء الله پاني پتيؒ تردغه ايت لاندي وايي[تكرار الفعل يدل علي ان هذ التعليم من جنس اخرولعل المرادبه العلم اللدني المأخوذمن بطون القران] وايي:چه دديْ دويم وار(ويعلمكم) څخه علم التصوف مراددئ ،چه مأخذيي باطن دقران دئ،څكه تكراردفعل دلالت كوي پرتكراردعلم [مظهري.جلد.١.ص١۴٩] ؛؛اوهم دغه قاضي ثناء الله پاني پتيؒ،تردغه ايت لاندي وايي[الذين ينفقون في السراء والضراء والكاظمين

الغیض والعافین عن الناس والله یحب المحسنین[سوره ال عمران؛ ایه۱۳۴] الله پاك جل وعلې فرمایې:چه جنت د هغه چادپاره جوړسوې دې،چه څوك ډېرخیراتونه کوې،اوخښم اودرد،برد اشت کوې،اوعفوه،اوبخښنه کوې.،اوخداې تعالې دمحسنینوسره محبت لرې قاضې صاحب وایې(قلت فالمحسنون هم الصوفیه اه)تفسیرمظهرې.جلد۲ص۱۳۹]وایې:چه مرادله محسنون څخه په دغه ایت کې صوفیه کرام دې[مظهرې]اوهم دغه رقم شاه انورشاه کشمیرې دیوبندې، هم وایې: چه داحسان څخه مرادطریقه دصوفیه ده[فیض الباری.جلد۱ص۲۲۷)اوشیخ ابوالنصر الطوسې،هم وایې چه مرادله احسان اومحسنین،څخه په قران اوحدیث،کښې تصوف اواهل تصوف دې[اللمع في تاریخ التصوف الاسلامي،ص۱۰او۱۹] اومولا ناخلیل احمدسهارنفورې "دټولوعلماء دیوبند"اوعلماء مصر اوعلماء حرمین اوعلماء شام، په ګډه دغه قول نقل کوې چې دمحسنین څخه اهل التصوف مراد دې (المهند علي المفند،ص۵۵) اومولا ناعبد الحق حقانې هم دغه لیکې[فتاوې حقانیه.جلد۲ص۲۴۴]نومعلومه سول چې علم التصوف ماخذقران دئ اوهم دغه رقم په احادیثوثابت علم دې روایت دجابرؓ کې راځې [وعن جابر،قال قال رسول اللهﷺ:العلم علمان علم في القلب فذاك العلم النافع،وعلم علي اللسان فذاك حجت الله علي ابن ادم[الترغیب والترهیب.جلد۱ص۵۸]رسولﷺ وایې چه علمونه دوه دې یوعلم پرژبه دئ داخداې دطرفه څخه پرخپل بنده دلیل دئ(دعذاب ورکولو) اوبل علم په زړه کې دئ چې دغه علم نافع(فایده رسونکې)دئ بنده ته په ورځ دقیامت کې[الترغیب )ملا علي القاري الحنفي" تردغه حدیث لاندې لیکې[وقد یحمل الاول علي علم الباطن،والثاني علي علم الظاهر]وایې چه مراد دزړه دعلمه څخه علم دتصوفود ئ‌چه دغه علم په اخرت کې بنده ته فایده رسوې؛نورتفصیل هم په داغه مسئله کې کوې[مرقات المفاتیح.جلد۱ص۴۷۸)اودغه رقم حضرت ابوهریرةؓ وایې[قال حفظت من رسول اللهﷺوعائین فاما احد همافبثثته فیکم واماالاخرفلوبثثته لقطع هذاالبلعوم] وایې:چه مادرسولﷺ څخه ۲دوه رقمه علم یادکړې دې یومې تاسوته دربښکاره کړې اوکه چېرې هغه بل علم هم دربښکاره کم تاسې به زماغاړه راکاټ(پرې) کړې الحدیث بخاري ) امام مظهرې وایې:[بل المرادمنه العلم

اللدني[تفسیرمظهري.جلد۱ص۱۴۹] وايي:د ابي هريرةؓ ددي دوېم علمه څخه علم دتصوفو مقصد دي[مظهري) اوعلامه قاريؒ، هم وايي[و اما الاخر فهو العلم الباطن]مرقات المفاتيح،جلد.۱.ص۴۷۹)د اسي نورهم ډېر احاديث سته په تصديق دعلم التصوف کي.چه دټولو ذکرکول دلته مناسب نه دي؛ اودي رواياتو څخه د اښکاره سول چي تصوف د احاديثو څخه ثابت دي بلکه دعلم التصوف مأخذ عيني چينه دنبوت محمدي ده،دځانه علم نه دئ لکه بعضي کم علمه کسان چي وائي اوکله چي جبرائيل(ع)درسول ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي احسان څه ته وايي؟ يارسول الله نونبي کريم ﷺ په جواب کي ورته ووېل چي احسان د ادي چي ته دخداي د اسي عبادت کوه لکه ته چي الله پاك ته ګوري اووېني يې(چي ته الله پاك ووېني نوڅنګه عبادت به کوي) که څه هم ته خوخدائ تـــعالي جلّ شانه نـــــه وېني الله پاك خوتاوېني [الحديث.بخاري]تردغه حديث لاندي شاه انورشاه کشميريؒ وايي چي مراد له احسان څخه اعمال دتصوفو دي؛ فيض الباري جلد۱ص۲۲۷)نوتصوف وايي اخلاص ته په اعمالوکي هم دغه دتصوفو مقصد دي؛

اوامام جعفرصادقؒ وايي [من عاش في ظاهر الرسول فهوسني،ومن عاش في باطن الرسول فهو صوفي]و ايي:څوك چه په ظاهر ي افعالو درسول ﷺ عمل وکړي هغه سني دي، اوڅوك چي په باطن اعمالو درسول ﷺ عمل وکړي هغه صوفي دي؛[حلية الاولياء.جلد۱ص۵۳؛] اوامام غزاليؒ چه امام دتصوفودئ (اوقريبا-۱۰۰۰کاله مخکي تيرسوي دئ)هغه وايي [من لم يکن له نصيب من هذا العلم اخاف عليه سوء الخاتمة وادني نصيبامنه التصديق به وتسليمه لاهله]وايي:عارفين اولياء د او ايي چه چاتصوف نه وي کړي پر هغه بيره ددي سته چي اخيره خاتمه به يي بده(خرابه)سي

لازمابه يو څه حصه دتصوفو لري اوکمه حصه دتصوفود اده چه تصوف ومني، اواولياو ته تسليم سي او[علماء الظاهرزينة الارض والملك،وعلماء الباطن زينت السماء والملكوت]وايي چه په علماو د ظاهر مځکه اوملك ښائسته دئ لکن په علماو دباطن اسمانونه اوعرش ِدخداي تعالي ښائيسته دي(احياء العلوم جلد۱ص۲۷)اوغوث الاغواث قطب الا قطابؒ فرمايي[من لم يکن له شيخ فابليس شيخه][الفتح الرباني،ص۱۵۱ مجلس۳۹]وايي:اولياء کرام وايي چه څوك پيرنه لري د هغه پيرشيطان

دئ [شيخ جيلانيؒ]نوعلم التصوف يواهم علم دئ اوخادم دسريعت دئ،شريعت اوطريقت يود بل څخه نه جلاکيږي،چه هرځاي شريعت وي هلته به طريقت هم وي،وبالعکس،زمونږ دعقائدوکتاب ليکي[الشريعت متبوعة،و الطريقةتابع ولايکون التابع بلامتبوع،کالد هن بلالبن[نورظلم،ص۳۱]د حضرت امام ابوحنيفهؒ،زوي مبارك حضرت حمادؒ،وايي:چه شريعت اوطريقت د اسي دي لکه ،شيدي،اوغوړي،چه دواړه سره لازم دي،چه هرځاي دغو اشيدي وي،هلته به غوړي هم وي،دغه رقم چه هرځاي شريعت وي هلته به طريقت هم وي[نورظلم]اوعلامه قاري حنفي ليکي[قال ابوطالب المکيؒ:هماعلمان اصليان لايستغني احد هماعن الاخر،بمنزلت الاسلام و الايمان مرتبط کل منهمابالاخر،کالجسم و القلب لاينفك احدعن صاحبه]و ايي:طريقت اوشريعت دواړه اصلي علوم دي،هريو هغه بل ته محتاج علم دي،لکه ايمان او اسلام،يود بل څخه نه دي جلاء،که ايمان و،اسلام به وي،که شريعت و،طريقت به وي،اوپالکه زړه ،اوجسم،چه سره لازم دي،چه جسم وي زړه به هم وي[مرقات المفاتيح.جلد.۱.ص۴۷۸کتاب العلم]،اودغه رقم امام مالكؒ،وايي[من تفقه ولم يتصوف فقدتفسق،ومن تصوف ولم يتفقه فقدتزندق،ومن جمع بينهمافقدتحقق[مرقات المفاتيح،ص۴۷۸]ترجمه يي ښکاره ده نولکه څنګه چه شريعت يو اصل علم دي،هم دغه رقم طريقت هم يو اصل علم دي،دواړوته ضرورت دي په اسلام کي اود۴څلورومذهبو امامان ،لکه،حضرت امام ابوحنيفهؒ،اوامام مالكؒ،اوامام شافعيؒ،اوامام احمدبن حنبلؒ، داتـولوتصوف کړي وه اومريد ان وه [مکتوبات.ص۳۴۲) ايضا[احياء العلوم.جلد۱ص۳۳) ايضا[شرح رسالة المسترشدين.ص۴۳) ايضا[نزهة الناظرين.ص۴۵) اوشاه عبد العزيزد هلويؒ وايي چه حضرت امام اعظم صاحبؒ په اخيرکي دعمر مريدسو اوبيايي د اسي وويل (لولاالسنتان لهلك النعمان)يعني که مي تصوف نه واي کړي هلاك سوي به وائي [تحفة الا ثنا عشريه.ص۷) اوهم دغه قول صاحب دعقــود الجـمان حافظ صالحي دمشقيؒ هم ذکرکړيدي چه د اديولك۱۰۰۰۰۰ احاديثو حافظ دي[حاشيه نبراس .ص۵۱۹)
اوعلامه شکري الوسيؒ،ذکرکړي دي[صب العذاب علي من سب الاصحاب جلد۱ص۳۰۹]اوعلامه محمدصديق حسيني البخاريؒ ذکرکړي دي[الحطه في

ذکر الصحاح السته، جلد.۱.ص۲۶۴]
اوهم دغه رقم[ قطب الارشاد .ص۵۳۶)او[مکتوبات ص۱۶۵)اوالرساله الحقانیه.ص۳۵)اودغه رقم د۲دویم مذهب مشرامام مالك ؒ هم تصوف کړې دې،اوپر هغه عالم چه تصوف یې نه وې کړې بدلاهم وایې،لکه څنګه چه مومخکې ذکرکړله؛من تفقه ولم یتصوف فقد تفسق؛مرقات المفاتیح جلد۱ص۴۷۸)اودغه رقم قطب الارشاد.ص۶) .ایضا[فتاوې حقانیه.جلد.۲.ص۲۶۲]. اودغه رقم د۳دریم مذهب مشرامام شافعيؒ هم تصوف کړئ وواود حضرت شیبان راعيؒ مرید ؤ اود هغه په مجلس کې به داسې ناست ؤ لکه شاګردد استاذ په مخ کې احیاء العلوم.ص۳۰)اودغه رقم د.۴مذهب مشرامام احمد ابن حنبلؒ به دخپل پیرودربار ته ورتلې اوکله کله به حالت دوجد اوجذب هم پر راغلې نزهة الناظرین.ص۴۴)بلکه داتـول اصحاب دتصانیفو تصوف کړیوه اوامام غزاليؒ وایې چه په ورځ دقیامت به اول جنګ دمذهبود امامانو دخپل مذهب دعلماو سره وې اود ابه ورته وایې چې تاسوزمادمذهب په نامه ځان تېر کړې ؤ اوزماپرلاره نه واست روان ځکه چې ماکوم علم در ښولې ؤ چه تصوف دې هغه تاسو نه وکړې ؛(احیاء علوم الدین.جلد۱ص۳۰) اوعلماء دظاهراتفاقادا وایې چې علم التصوف افضل دې ترعلم الظاهر احیاء لعلوم،جلد۱ص۲۷)اواجماع دعلماء پرد اخبره راغلې ده چې ترتـولوښه لاردخداې دد ین هغه تصوف دې ؛مکتوبات ص۳۴۲) اودغه رقم علماء دیوبندؒ تـوله مرید ان وه اواکثروپه طریقه چستیه کې دحاجي امد اد الله مکيؒ سره بیعت کړې وو

**سوال** علماء دیوبندوایې چې تصوف کول سنت دې (**جواب**) علماء دیوبندؒ دغه طریقه یادوې چې اوس مروجه ده چې پیرته لاس په لاس کې ورکې اودغه طریقه یقیناسنت ده اوکوم چې اصل مقصد دتصوفودې چې تزکیه دباطن ده هغه فرض ده

نومعلومه سول چې تصوف کول دتـولو امامانو دمذهب اودتـول علماء دیوبند طریقه ده نواوس تاسې دهغه علماو کتابونه وګورې چې ځانونه دیوبند ته منسوبه وې اوداوائې چه دمذهبوامامانوتصوف نه ووکړئ اویانه دې ثابت اوقول د(لولاالسنتان)افتراءبولې په امام صاحب پسې اوبیادغه علماو اقوال وګورې په نظر دانصاف بیافیصله وکړې چې ایادغه کتابوو الا افتراکوې په امام صاحب پسې اوکه

دغه نام نهاده دیوبندي چې دعلماء دیوبند نوم یې وربدکړی اودبدهې شي څخه انکارکوي لوعدم دعلم دلیل پرعدم ګرځوي ؛فالشمس شمس وان لم یر ها الضریر اوبیاد او ائي چه کچهري د اقول ثابت وا ي نوکتابودفقه به راوړئ وائ لکه هد ایه اوکنز اوقدوري اوپانور. اود انور کتابونه دي کتابچې بولې نوجواب دادي چې په دغه کتابو کې خود امام صاحب دتقوي اوسخاء بیان هم نسته اودشجاعت بیان یې هم نسته اودعلم اوفقاهت بیان یې هم نسته نوددغه ټولو شیانو څخه به انکارکوې اوسره ددې چې د اټول شیان په نوروکتابوکې سته اوثابت دي اوپه کوموکتابوکې چې د امام صاحب دتقوي اوعلم بیان سته په هغوکې یې دتصوفو بیان هم سته؛او دفقه شریفي کتابونه فقهي مسائلي راوړي ټول شیان نه نقل کوي.دزیات تفصیل دپاره د اکتابونه وګوري؛[رسالة المسترشدین]د اد امام حارث المحاسبيؒ،کتاب دي،چه په ۲۴۳ سنه کي وفات سوي دي؛اودغه رقم[اللمع في تاریخ التصوف الاسلامي]د ادعلامه ابي النصرعبد الله ابن علي السراج الطوسيؒ،کتاب دي،چه په ۳۷۸ سنه کي وفات سوي دي؛اودغه رقم [احیاء العلوم الدین ]چه د امام الصوفیه، امام غزاليؒ کتاب دي،چه په ۵۰۵ سنه کي تیرسوي دي؛اودغه رقم [الرسالة القشیریه]چه د اد ابن هوازن القشیريؒ،کتاب دي،چه په ۴۶۵ سنه کي تیرسوئ دئ اودغه رقم،[الا نوار القدسیه]چه د اد امام شعرانيؒ کتاب دي چه په ۹۷۳ سنه کي وفات سوئ دئ[والله اعلم]

(**دپیرشرائط**)بعض کسانود پیردپاره د اسي شرائط ذکرکړي دي،چه په اوس عصر کي یي وجودغیرممکن دئ اوبیاهغه دتصوفو،او اولیاو،دښمنانو په خپلوکتابوکي لیکلي دي،اودپیرڅخه یي عنقاء مرغه جوړکړئ دئ؛عنقاء هغه مرغه دي چه نوم یې سته،لکن مرغه نسته،دغه دمذهب دښمنانو هم پیردغه رقم کړي دي،چه نوم یې اخلي،لکن وجودیي نه مني،دمسلمانانود هوکي له پاره ظاهراځانونه تصوفونه منسوبه وي،لکن کوم شرائط چه یي ذکرکړي دي،هغه نه په ده کي وي،اونه به یي په پیرکي وي شاه عبد العزیزد هلويؒ د هغه پیرله پاره چه لا ئق دبیعت وي د ا۵شرائط ذکرکړي دي[(۱)په قدرد ضرورت به علم د شریعت لري،که یي خپله ویلي وي،اوکه یي دبل عالم څخه ایزده کړي وي](۲)متقي به وي.دغټو ګناهوڅخه به ځان

ساتي، اوپر کچنې گناهوبه همېشه توب نه کوي](۳)د اخرت شوق به لري، د دنياشوق به نه کوي، اوپر ذکربه همېشه توب کوي](۴)په ښه کاربه امرکوي، اوبدکار څخه به منع کوي](۵)د مشائخوسره به تعلق ساتي، اود مشائخو څخه به يې د اخلاقت حاصل کړي وي[فتاوي عزيزي.جلد.۲.ص۱۰۳]

اوشاه غلام علي شاه د هلويؒ وايي، چه د پريوشرط دادي، چه د حضرت غوث الثقلين ؓ پرعقيده به برابروي[فتاوي حقانيه.جلد.۲.ص۲۴۵]که په چاکې د اشرائط موجودوه هغه لائق ده بيعت اخيستلودئ۔

## (مسئله)ذکر بالجهر يعني په لوړ اوازسره ذکر کول﴾

ذکرپه اصطلاح د شريعت کې د الله پاك ياد ته ويل کيږي په هر رقم چه وي ؛اوذکرپه ټولوعباداتوکې مهم عبادت دې نور د ټولوعباداتو دپاره وخت اوپاځاي معلوم وي لکن ذکر د اسې عبادت دې چه نه يې وخت معلوم دې اونه يې ځاي بلکه هروخت په هر ځاي کې کيد اې سې لکه څنګه چه الله پاك فرمائي (فاذکروا الله قياماوقعود اوعلي جنوبکم الايه)حضرت عبد الله ابن عباسؓ وايي:[لايفرض الله علي عباده فريضة الاجعل لهاحد امعلوما،ثم عذر اهلهافي حال عذرغير الذکر،فان الله لم يجعل له حد اينتهي اليه،ولم يعذر احد افي ترکه، الامغلوباعلي عقله؛[تفسير طبري،جلد.۳.ص۲۵۱۶]

وايي:چه خد اي تعالي چه هرعبادت فرض کړي دي،يو اند ازه يې ورته معلومه کړې ده،اوعذرپه وخت کې يې معافي کړې ده،غير د ذکر څخه ذکريود اسې عبادت دئ چه حد او،اند ازه نه لري،بلکه هروخت به وي، اود چاعذرهم نه قبليږي،غير د ليوني څخه[ابن عباسؓ]اوالله پاك مومنانوته امرکوي چه ډيرډير ذکر کوئ(ياايهاالذين امنوا اذکروا الله ذکر اکثيرا؛سورت احزاب۴۲)اود مو من صفت په قران کې د اسې ذکر سوي دئ چه مومنان به ډيرډير ذکر کوي(والذ اکرين الله کثيرا،والذ اکرات؛سورت احزاب۳۵)اود منافقانوصفت په قران کې د اسې راځي چه دوي به لږذکر کوي(ولايذکرون الله الا قليلا سورت النساء۱۴۲)نومؤمنان به ډيرذکرکوي،چه د منافقانو څخه يې فرق وسي؛

اوالله پاك فرمايي(فاذکروني اذکرکم [سوره بقره۱۵۲)وايي:تاسي مايادکړئ زه به تاسي

یاد کړم یعني زه به رحم درباندې وکړمه
او حضرت ابو هریرۃ وایې[قال رسول الله ﷺ سبق المفردون قالوا:ومالمفردون یارسول الله؟ قال الذاکرون الله کثیرا،والذاکرات[مسلم جلد۲ص۳۴۲]رسول پاک ﷺ صحابه کراموته وویله:چه د خدای رحمت ته ترتاسو مفردون مخکې سوله،صحابه کراموورته وویله چه مفردون څوك دي یارسول الله؟رسول ﷺ ورته وویله چه هغه څوك چه ډیرذکرکوي هغه ترتاسو مخکې سوله؛مسلم]او دغه رقم حضرت ابوسعید الخدري وایې:[ان رسول الله ﷺ سئل اي العباد افضل درجتا عند الله یوم القیامه،قال الذاکرین الله کثیرا،قال قلت یارسول الله ومن الغازي،في سبیل الله،قال لوضرب بسیفه الکفاروالمشرکین حتي ینکسر،ویختضب دما لکان الذاکرین الله کثیرا افضل منه درجتا]وایې:چه د نبي کریم ﷺ څخه چاپوښتنه وکړله چه د خدای په نیزبه د قیامت په ورځ د لوړو درجوو الاڅوك وي؛نبي کریم ﷺ په جواب کې ورته وویله (الذاکرون الله کثیرا)کوم مسلمان چه ډیر ذکرکوي د هغه درجې به تر هرچاپورته وي صحابي پوښتنه وکړه چه تر مجاهد به هم دذاکر درجې پورته وي؛رسول ﷺ ورته وویله چه هوکه څه هم مجاهد خپله توره پرکافرانوماته کړې اودې هم په وینورنګ سې بیاهم ذاکران په درجه کې پرپورته دي؛رواه الترمذي في سننه جلد .۲ص۱۷۵؛ابواب الدعوات)

**تشریح** دا هغه وخت چې جهاد فرض کفایې وې او چه کله بیاجهاد فرض عین سي لکه اوس عصر کې چه د دنیاء کافرانو دغتـه جابریش په مشرئ زمونږپر ګران افغنستان اود مسلمانانوپرکوروباندې حمله أورسوله اود مسلمانانودین اوعزت اومذهب اوقانون یې تریښولا ندې کړئ اوهرمسلمان یې په خپل کورکې په وینوسورکړې بلکه د دنیاټـول اسلامي ممالك یې یایرغل کړله اویایې د ځانو غلامان کړله په دغه وخت کې بیاد مجاهدرتبه ترذاکر بالاده ځکه چه جهاد فرض دئ اوذکرنفل کاردي نوفرض خوپرنفل ډیرثواب لري؛

اوکه چیرې بیاجهاد فرض کفایې و،لکه په عامو اوقاتو کې بیاپر عامو خلکو جهاد نفل وي په دغه وخت کې بیاد ذاکر درجه پر مجاهد بالاده که بیاهم انسان سوچ وکې چه مجاهد څومره تکلیفونه اوخوارې پر ځان تیره وي بیاهم د ذاکر ثواب پرډیردي نود ذکر دومره

فضایل دي چه په بل شي کې نسته تـول قران او احادیث په ډك دي؛
همدارنګه، مالك بن یخامرؒ، روایت نقل کوي، [ان معاذبن جبلؓ، قال لهم ان اخرکلام فارقت علیه رسول اللهﷺان قلت: اي الاعمال احب الي الله؟ قال ان تموت ولسانك رطب من ذکرالله[الترغیب والترهیب جلد۲.ص۲۵۳کتاب الذکر]. حضرت معاذ ابن جبلؓ وایي: چه کله زه یمن ته تلمه هغه اخیرې خبره چه درسول اللهﷺڅخه پرجلاسومه هغه داده چه مارسول اللهﷺته وویله، چه ترټـولو اعمالوکوم عمل افضل دي؟ رسول پاكﷺراته وویل چه تر مرګ دروختـه ذکرکول، چه څه وخت تاته مرګ راځي اوستاژبه دخداي تعالي په ذکراخته وي؛ یعني همیشه ژبه دخداي په ذکر لنده ساته.)[الترغیب]
امام قرطبي نقل کوي: [لورخص لاحد،في ترك الذکرلرخص لزکریاعلیه السلام، بقول الله عزوجل(الاتکلم الناس ثلاثة ایام الارمزاواذکرربك کثیرا)ولرخص للرجل یکون في الحرب بقول الله عزوجل(اذالقیتم فیئة فاثبتواواذکروالله کثیرالعلکم تفلحون)تفسیرقرطبي، جلد۴، ص۸۳سورت ال عمران]وایي: چه دذکر څخه خلاصون نسته که چیرې دذکر څخه څوك خلاصیدلای نوبه حضرت زکریاعلیه السلام خلاص سوی واي چه کله یې ژبه بنده سوله الله پاك ورته وویله (واذکر ربك کثیرا)اویابه مجاهد په سنګرکې خلاص واي ځکه چه دجنګ حالت وي مشکل کاروي خومجاهد ته هم الله پاك امرکوي چه(اذالقیتم فیئة فاثبتواواذکروالله کثیرالعلکم تفلحون)یعني چه کله تاسي ددښمن سره مخامخ سي نوذکر ډیرکوي نوچه کله مجاهد په وخت دجنګ کې هم په ذکرامرسوي دئ اوزکریاعلیه السلام په وخت کې دژبې دبندیدلوهم په ذکر امرسونومعلومه ده چه دذکر څخه خلاصون نسته بلکه هروخت چه مسلمان خلاص سي ذکر دي کوي؛تفسیرقرطبي)
اودغه رقم په زوره اوپه لوړ اوازسره ذکر کول جایزاومستحب عمل دي اوډیر زیات احادیث یې په ثبوت کې موجود دي ؛زموږدمذهب مشهورعالم اوفقیه مولاناعبدالحي لکنهويؒ یومستقل کتاب لیکلي دي په نامه د(سباحة الفکر في الجهربالذکر)په دغه کتاب کې یې ۴۹صحیح اومرفوع احادیث رانقل کړي دي په اثبات دذکر

بالجهر کې(یعنې په زوره ذکرکې)اودغه رقم امام جلال الدین عبد الرحمن السیوطیؒ
چې د(٥٢٠)کاله مخکې تېرسوې دې هغه هم یومستقل کتاب لیکلې دې چه نوم یې
دې (نتیجة الفکرفي الجهربالذکر) اوپه دغه کتاب کې یې (٢٥)مرفوع احادیث راوړیدې
دپه زوره ذکر په اثبات کې اوځوك چه رد پرکوې د هغوې جوابونه یې هم کړې دې
اودغه رقم زیات کتابونه په دغه احاد یثوډك دې
حضرت عبد الله ابن عباسؓ وایې:[ان رفع الصوت بالذکرحین ینصرف الناس من المکتوبة کان علي عهد النبيﷺ]
وایې: چه دلمانځه وروسته په لوړ اواز ذکرکول د ادنبي کریمﷺ په وخت کې هم ؤ(رواه البخاري.جلد١ص١١٦باب الذکربعد الصلات)اوروایت دسائبؓ کې راځې چه نبي کریمﷺوېله [جاء ني جبرئیل فقال:مراصحابك یرفعوا اصواتهم بالتکبیروفي روایت بالتهلیل]وایې: چه ماته جبریل(علیه السلام)راغلې اوراته وې وېله چې الله پاك فرمایې: چه ته ستاصحابه امرکه چه په زوره تکبیرونه وائې یعنې(الله اکبر وائې)اوبل روایت کې راځې چه په زوره دې ذکر د(لااله الا الله)کوې؛الحدیث(الحاوي للفتاوي ص٤٠٣)

اوروایت دبیهقي کې راځې ابن الادرعؓ صحابي وایې: [انطلقت مع النبيﷺلیلة فمربرجل،في المسجد یرفع صوته،قلت یارسول الله عسي ان یکون هذ امرائیا؟قال لاولکنه،اواه]وایې: چه یوه شپه زه دنبي کریمﷺسره روان وم په مسجد کې یوصحابي په زوره ذکر کوئ نومانبيﷺته ووېله چه دابه ریاکاره وې چې په لوړ اواز ذکر کوې نبي کریمﷺ راته ووېله چه (لالکنه اواه)نه ریاء کار نه دئ بلکه دا ډیرعاجزاوخداې ته رجوع کونکې انسان دئ(جلد.١ص٤١٧) اوپه بل روایت کې دحضرت جابر ابن عبد اللهؓکې راځي[ان رجلاکان یرفع صوته بالذکرفقال رجل:لوان هذ اخفض من صوته؟فقال رسول الله دعه فانه اواه]وایې چه یوصحابي په لوړاواز سره ذکر کوئ یوسړي نبيﷺته ووېله چه کاشکې داصحابي داذکرکرار کولاې نبي کریمﷺپه جواب کې ورته ووېله چه(دعه فانه اواه)پریږده داخداې ته فریاد کونکئ دې(بیهقي صفحه جلد١ص٤١٧)ددغه روایاتو څخه داخبره معلومه سوله چه دصحابه ؤ په زمانه کې هم

په زوره ذکرونه کېدله او نبي کریم ﷺ بنه پروېله
اودغه رقم حضرت ابوسعید خدري ؓ وايي [قال رسول الله ﷺ: اكثروا ذكر الله حتي يقول مجنون] وايي: چه نبي کریم ﷺ وېله چه تاسي دومره ډېر ذکر د خدای وکړي چې خلګ لېونیان درته ووايي؛ مجموع الرسايل للكنهوي ؒ جلد. ۳ سباحت الفكر) او دغه رقم ابن عباس ؓ نقل کوي [قال رسول الله ﷺ: اذكروا الله ذكرا حتي يقول المنافقون انكم مراؤون] وايي: چه نبي کریم ﷺ به وېله چه تاسي ډېر ډېر ذکر کوي .. تر هغه وخته چه منافقان په رياء کاره در ته ووايي؛ (صفحه مذكوره) او علامه لكنهوي ؒ ،نقل کوي: [انمايقال ذالك عند الجهر لاعند السر] وايي: چه په رياء کاره هغه وخت خلګ ورته وايي: چه په لوړ اواز سره ذکر کېږي چه پټ ـ ذکر کوي هغه ته خلګ رياء کاره نه وائي [سباحة الفكرص ۳۰]؛ بس دغه يو حديث هم كفايت کوي د جهان مفتي اعظم حضرت رسول ﷺ فتوي وکړله چه څوك په زوره ذکر کولو والاته بدوايي او وايي رياء کاره بولي هغه منافقان دي د بل چافتوي ته ضرورت هم نسته؛
اودغه رقم په اجتماعي طور (جمعه واري سره) ذکر کول ډېر ثواب لري .روايت د مسلم کي راځي حضرت معاويه ؓ مبارك فرمائي: [ان رسول الله ﷺ خرج علي حلقة من اصحابه فقال ما اجلسكم؟، قالوا اجلسنا نذكر الله، ونحمده علي ما هدانا، للاسلام ومن به علينا، قال الله ما اجلسكم الاذالك؟ قال اما اني لم استحلفكم تهمت لكم ولكنه اتاني جبرئيل، فاخبرني ان الله عزوجل يباهي بكم الملئكه] وايي: چه يوه ورځ صحابه په مسجد نبوي کي سره راجمعه سوي وه نبي ﷺ د کوره راووتي بيايي پوښتنه وکړله چه تاسي دلته د څش د پاره سره راجمعه سوي ياست صحابه کراموورته ووېله چه د خدای ذکر کوو نبي کریم ﷺ ورته ووېله چه اوس ماته جبریل علیه السلام راغلی او راته وي وېله چه الله تعالي په اسمانو کي په تاسو باندي فخر کوي؛ (رواه مسلم. جلد. ۲. ص ۳۴۶ باب فضل الاجتماع علي الذكر)
او حضرت انس ؓ وايي [ان رسول الله ﷺ قال اذا مررتم برياض الجنة فارتعوا قالوا وما رياض الجنة؟ قال حلق الذكر] وايي: چه نبي کریم ﷺ مونږ ته وېله چه کله تاسي د جنت د باغو سره تېرېږي نو پکښي ګرځي مونږ ورته ووېله چه د جنت باغونه څه شئ دي

یارسول الله ده راته ووېله چه (حلق الذکر)دجنت باغونه دذکرحلقې دي (رواه ترمذي.جلد۲ص۱۹۱ابواب الدعوات)حضرت عبد الله بن مغفلؓ روایت نقل کوي [قال رسول اللهﷺمامن قوم اجتمعوایذکرون الله،الا ناداهم منادمن السماء قوموامغفورالکم] چه رسول ﷺوېله چه کچېرې په تاسو کې څه خلګ راجمعه سې اوخداې ذکر کوې نو مخکې تر دې چه دوې ولاړېږې د اسمان له خوابه ږغ پر وسې چه(قوموامغفورالکم)ولاړسې په داسې حال کې چې تاسوته بخښه سوې ده اوستاسوبدې په نېکې بدلې سولې؛ الحاوي للفتاوي.ص۴۰۱)

نورتـول عبادات بغېر له نېته نه دي قبول لکن ذکر د اسې عبادت دې چه بغېر له نېت هم ثواب باندې ستـه په یوطوېل حدېث کې راځې حضرت ابوهرېرهؓ نقل کوي چه رسولﷺوېله چه د الله پاك ملائکې مځکې ته راسې اوذکر په مجلس پسې ګرځي چه کله دذاکرېنوپرمجلس برابرې سې نوتـولې یودبل پروزروباندې ودرېږې تر اسمانه پورې ؟بیاالله پاك پوښتنه ځېنې وکړې چه له کوم ځاې څخه راغلاست(الله پاك خوعلم پر لرې پوښتنه ددې دپاره ورڅخه کوي چې دوې شاهدانې کړې پرخپلوبندګانوباندې)دوې به په جواب کې ورته وواېې چه ستاله بندګانوڅخه راغلوچې ستاذکرېې کوې اوستاڅخه یې دجنت غوښتنه کوله اوستادعذ ابوڅخه یې پناه اوخلاصون غوښتې رب لاېزال به دغه ملائکوته وواېې چه تاسې شاهدانې یاست چه مادغه تـول مجلس ته بخښه کړې ده اوتـول ته به جنت ورکومه اوتـول به داور دعذاب څخه ساتمه ملائکه علېهم السلام به ورته وواېې چه یاالله په داکې خوهغه فلانکې سړې ګنهګار و اوذکر په نېت نه و راغلې الله پاك به جواب کې ورته وواېې[وله غفرت هم قوم لاېشقي جلېسهم]واېې چه هغه ته مې هم دذاکرېنوپه برکت بخښه کړېده ځکه چې ذاکرین داسې قوم دئ چې ناستې والائې هم نه بدبخته کېږي الحدېث.مع الاختصار(رواه مسلم.جلد.۲.ص۳۴۴)

ددغه احادېثوڅخه دذکرحلقې جوړول اودهغه ثوابونه ثابت سوله اوداراغله چه دذاکرېنوپه مجلس الله پاك په اسمانوکې فخر کوي اوداراغله چه دذکر حلقې دجنت باغچې دي اوداراغله چه دذاکرېنوپه مجلس کې ناست سړئ هم نه بدبخته کېږي اوثوابونه ورسېږې که څه هم په نېت دذکرنه وي ناست

که په نظرد انصاف وکتل سي نود ابه معلومه سي چې د امېد ان اود اثوابونه اهل التصوف (پیرانو اومریدانو) گټملي دي ځکه چه دذکر حلقې او اجتماع ګاني دپیرانو په دربارو کې سته اوجوړیږي غیر له دربارو څخه په بل ځومرکزددین کې هم دذکر له پاره حلقي نه دي جوړې سوي؛

اودغه رقم زمونږ فقهاء (کثرهم الله) اجماع رانقل کوي چې ذکربالجهر چه کله پرشرائطوبرابر وي تر ذکر خفي افضل دي زمونږد مذهب محقق اومدقق عالم علامه ابن العابدین الشامي القادريؒ په خپل کتاب شامي کې اجماع رانقل کوي

(اجمع العلماء سلفاوخلفاعلي استحباب ذکرالله جماعة في المساجد وغیرهاالاان یشوش جهرهم علي نائم اومصل اوقارئ قـــرآن ردالـــمحتارعلي الدر المختار.جلد.۱.ص۴۸۸) ایضا[الطحطاوي علي المراقي ص۱۷۴] ترجمه زمونږ دمخکې اووروسته علماؤ اجماع پرداخبره راغلي ده چه په مسجد کې په زوره ذکر کول مستحب عمل دي که چیرې ځومسلمان دلمانځه څخه اوپادخوبه څخه اوپاقرائت څخه نه وتي [شامي]

که چیرې بیاد اسي ځاي ؤ چه هغه دذکر دپاره جوړسوي ؤ لکه خانقاه نوبیاخو اتفاقاپه لوړاوازذکر کول ښه کار دي ځکه چه هلته خونه څوك دلمانځه څخه وزي اونه دخوبه څخه

اودغه رقم په بل ځاي کې علامه شامي وايي:[ان هناك احادیث اقتضت طلب الجهرواحادیث طلب الاسرار،والجمع بینهما بان ذالك یختلف باختلاف الاشخاص والاحوال،فالاسرار افضل حیث خیف الریاء،اوتأذي المسلمین اوالنیام،والجهر افضل حیث خلامماذکرلا نه اکثرعملا،ولتعدي فائدته الي السامعین،ویوقظ قلب الذاکرفیجمع همه الي الفکرویصرف سمعه الیه،ویطرد النوم ویزید النشاط اه]وايي چه بعض احادیث تقاضي ددې کوي چې ذکرپټه، ښه دي،اوبعض نوراحادیث بیاددې تقاضي کوي چې ذکر په زوره بهتر دئ نوتطبیق یې داسي دي چې داتروخت اوخلګوپوري تعلق لري که چیرې سرې دریاء څخه بیریدي اوپاخلګ دلمانځه اوخوب څخه وتله په دغه وخت کې پټه، ذکرکول افضل دي تر په زوره ذکر؛اوکه بیاچیرې داشیان نه وه دلمانځه اوپادخوبه خلګ نه وتله بیاپه زوره ذکر افضل اوبهتردي ترپټه،

ذکرڅکه چه په زوره ذکرزړه راوېښه وي اوخوشحالي لري اوخوب لېري کوي اونوروانسانانوته يې هم فايده رسېږي اوهرڅه شيان چه يې اوري هغه به په قيامت شاهدي اداکوي؛شامي جلد.۵.ص۲۸۲،کتاب الحضر والاباحة)اوعلامه نوويؒ هم داغه تطبيق ذکرکوي[الاذکارللنووي ۱۰۰ص]اوامام طحطاويؒ هم ذکرکړې دي[طحطاوي علي المراقي ص۱۷۴]اودغه رقم علامه طيبي هم دغه تطبيق نقل کوي ؛حاشيه ابوداود.جلد.۱.ص۱۸۸)همدارنګه ابوالمواهب الامـــــام الشعرانيؒ ليکي[فانقيل فايهماانفع الذکرمنفردااوجماعة؟فالجواب:الذکرمنفردا انفع لاصحاب الخلوة،والذکرجماعة انفع لمن لاخلوة له فانقلت،فايما انفع الذکرجهرا اوسرا؟فالجواب:الذکرجهرانفع لمن غلبت عليه القسوة لاصحاب البدايه ،والذکرسرا انفع لمن غلبت عليه الجمعية (فانقلت) فهل الاجتماع علي الذکرافضل ام هوبدعة کمازعمه بعضهم؟فالجواب ؛هومستحب يحبه الله ورسوله واي عبادة افضل من عبادة قوم يجتمعون علي ذکرالله اه]امام الهدي امام شعرانيؒ وايي

**سوال** ذکرپواځي کول ښه دي اوکه په جمعوارئ سره؟ (جواب) چه څوك خلوت کاتيه وي هغه ته پواځي ذکرښه دي،اوچه څوك خلوت والا نه وي هغوته بياپه جمع سره ذکرکول ښه دي**سوال** کوم ذکرډېره فائده کوي کراراوکه په جهري(زوره)سره؟ جواب:کوم چه مريدان دي د هغوي دپاره په جهر سره ذکرکول ډېره فائده کوي اوکوم چه اولياء دي هغوي ته کرار ښه دي (**سوال**) اياپه اجتماعي ډول حلقوکي ذکرکول ښه اوکه بدعت دئ لکه بعض کسان چه ګمان کوي؟ (**جواب** ) نه بلکه ذکرپه حلقوسره کول مستحب دي ،الله پاك اود الله درسولﷺخوښ ذکردغه دي چه مسلمانان د الله پاك پرذکرسره جمعه سي تر دي به نوبل ښه عبادت چيري وي بياامام شعراني پردغه دلائل ذکرکوي[الانوارالقدسيه في قواعدالصوفيه ص۴۵]امام شعراني په خپل وقت کي امام دتصوفو ؤاود هرفن عالم ؤترمشرقه اومغربه يې علم رسېدلي دي د هغه دغه فتوي ده،اوزمونږله پاره ترچاقبوله ده اورياء دزړه کار دئ پرظاهر نه معلومېږي،بلکه دخلکوپه وجه عبادت پرېښودل هم رياء ده[قال الفضيل بن العياضؒ:ترك العمل لاجل

الناس رياء[كتاب التعريفات للجرجاني،ص۱۵]
ګوره زمونږ دسلفو اوخلفو اجماع پردا خبره سته چه ذکربالجهرمستحب عمل دئ نودا اجماع په مقابل کې بیادبل چاقول ته اعتبارنسته اوزمونږ فقهاء مبارکانوځومره دا نصافه ډکه خبره کړې ده اوځومره ښه تحقیق اوتطبیق یې کړې دې
(ومن قال ان هذا التطبیق مردود فهومردودوقوله مردودوترجیحه مردودوتطبیقه مردود کما هوظاهرعلي اولوا العلـــم ومعنادلایل دافعة وشافیة وكافیة نــدخرها الوقت الضرورة ان شاء الله تعالي)
اوکوم چه زمونږفقهاء لیکي چه لان الجهر بالتکبیر بدعت د هغه ځخه مرادتکبیرات دتشریق دې نه عام ذکر لکه ځنګه چه د(الف ولام )ځخه معلومیږې اوکوم قول چه حضرت ابن مسعودؓ ته منسوب سوي دئ د هغه جوابونه علامه سیوطيؒ کړیدي په الحاوي للفتاوي کې اود اېي ویلي دې چې دا افتراده په ابن مسعودؓ باندي؛
اوامام کرخيؒ نقل کوي[سئل عن ابي حنیفة،عن الذین یمنعون الكلمة الطیبة بعد الصلوٰة متصلا؟یقال هم الرافضون[مکتوبات،علوي،ص۳۴۸]
واېي چه د حضرت امام اعظم صاحبؒ ځخه یوچاپوښتنه وکړله؟ چه زمونږ په علاقه کې داسې خلګ سته چه دلمانځه وروسته په زوره دکلمه طیبه (لااله الاالله) ذکر کوي اونورخلګ بیاسته چه بدپرواتې اوورته وائې چه دا بدعت اوناروا عمل دې اوس کوم یوپر حق دي دپه زوره ذکر کولوو الا اوکه د منع کولوو الا۔
دتـول امت ځراغ حضرت امام ابوحنیفهؒ په جواب کې ورته ووېله چې ځوك چه دلمانځه وروسته په لوړاواز سره ذکر منع کوي د اروافض(شیعه ګان)د ائکه چه دلمانځه وروسته خوپه لوړاوازسره ذکر په خپله نبي کریم ﷺ هم کوي (مکتوبات )د اد حضرت امام صاحبؒ خپل قول اومذهب سو اود اېي فتوي سوله چه دذکرمنعه کونکي شیعه ګان دي
(**حکایت**)کله چه ماد امسئله لیکله د مدرسه حنیفیه یوباکماله طالب العلم قاري عبد الله مستسعد(حفظه الله)راته ووېله چه زمونږ د زماني یوملا په خپل کتاب کې لیکلي دې چه حنفیت اوپه زوره ذکر نسې سره یوځاي کېد لاې نوماپه جواب کې ورته ووېله چه نه

خبره برعکس ده وهابیت اوحنفیت نه سې سره یوکیدلای ځکه چه دحضرت امام صاحب خپله فتوې دپه زوره ذکر کولو په حق کې خود اده چه ذکرموکړله چې امام صاحب دذکر بالجهرقائل دې اومانعین یې روافض بولي اوعلامه صفدراوکاروي وای وهابیان هم دشیعه ګانو ورونه دي نوځوك چه داخبره کوي دادمذهب په جامه کي وهابي دي اومولاناعبد الحق حقاني وایي ډیر انسانان دحنفیت اودیوبندیت په جامه کې وهابیت اونجدیت ته خدمتونه کوي[فتاوې حقانیه]

**سوال؟**زمونږ په علاقه کې خوپه بعض درباروکې د اسې طریقه دذکرکیږي چه مریدان سره راجمعه سي اوبیاپه لوړاوازسره په ستونې (حلق)کې ذکر کوي اوپوسرې نعتونه ورته وایي اوسرونه پورته اوکښته کوي ایادغه سې ذکر کول هم ثابت دي دمذهب په کتابوکي اوکه یااوبیاځه نورد اسې ملایان سته چه هغه وائي چه داذکرپه یوه مذهب کې هم نه دې روا اود اواي چې ددغه ذکر والاوناړې مرد ارې دي اوچه پر جامه توئ سي هغه نه پاکیږي یانورې د اسې خبرې پسې کوي؛

**جواب** ؛هودغه سې ذکرکول جایز اوروا عمل دي اود اسې رقم ذکر ته علماؤ معالجه ویلې ده اوښه یې بللې دئ اوهغه ځوك چه بدپروایې اویاپسخندپه وهې پرهغوئ دکفرخطره سته.ځکه چه زمونږفقهاء مبارکان مسئله لیکي چه که چاپه عالمانواو یاذ اکرانوباندې پسخندوهي هغه کافردئ(وفي الفتاوي لوجلس مجلس الشرب علي مکان مرتفع وذکریستهزء بالمذکرفضحکوا,کفروکفروا(الفتاوی الغیاثیه.صفحه۱۰۴)

د ازمونږپه مذهب کې مشهوره فتاوې ده دحجة الاسلام الامام الکبیرمولانادادو ابن یوسف اووائي چه که چاپه ناصحینواوذاکرینوپسخندوهي اونوروخلګوپرخندله د اپسخندوالاهم کافردئ اودخندا والاهم کافران دي

نوبایدمسلمان دد اسې عمل ځخه ځان وساتي اود اطریقه دذکرزمونږکتابولیکلې ده اوصحیح یې بللې ده؛امام شاه ولي الله دهلوي وائي چه یوه طریقه دذکر داده چه په زوره په حلق کې ذکر کوي اوسرپورته اوکښته کوي (اوبضربه,بان یقول الله بالشد والمدوالجهریقوت القلب والحلق جمیعا)دزړه اوحلق په زورسره به ذکرکوي ؛القول الجمیل ۵۴ )اودغه طریقه میافقیرالله شاه هم په خپل کتاب کې نقل

کوي؛اوو ايي[وينبغي ان يكون الضرب لاسيماعلي القلب بقوة وشدة ليتأثر القلب ويجتمع الخواطر]و ايي:ښايي،چه د اضرب دي زړه ته ورکوي،په ډېرقوت اوسکتي سره،چه پټ زړه ښه تاثېروکړي (قطب الارشادص۵۴۹) اودغه رقم مولا نا عبد الحق حقانيؒ هم دغه طريقه ذکرکوي اوو ايي:چي د امعالجه ده
(فتاوي حقانيه جلد؛۲ص۲۵۰)ايضا[التكشف ص۴۶۳]يعني د ايوعلاج دزړه دي اودباطن دتصفيه يوعمل دي چه اهل التصوف يي کوي؛د اسي مثال يي دي لکه په علم الظاهر کي دعلم المنطق اوعلم الحکمت اوباقو علوم اليه چه دي زمونږ ائمه اومتقد مينو علماؤبد پرويلي دي اومستقل کتابونه يي دمنطق اوحکمت په رد کي جوړ کړيدي خوبياهم په هره مدرسه کي ويل کېږي او هرملااوطالب يي وائي د ائځکه چه د ايوطريقه ده دعلم الظاهر دحاصلولو د پاره اوحسن لغيره دئ دغه رقم دغه کومه طريقه دذکر چه کېږي د اهم حسن لغيره ده اويوه طريقه دحصول کمالا توده و الله اعلم۔ اودغه رقم زمونږ دمذ هب معتمده فتاوي خيريه کي يومفصل سوال اوجواب رانقل کوي ؛چه ددمشق دشيخ ابراهيم صماديؒ څخه چاپوښتنه وکړله؟چه زمونږ په علاقه کي پيران دي چه د طريقه عاليه قادريه سره اوياد نوروطريقوسره تعلق لري په مسجدکي په زوره ذکرونه کوي اوحلقي جوړه وي اودصوفيانوشعرونه ورته ويل کېږي اوداعمل يي دمشرانو څخه ورپاته دي اوپه ميان دذکر کي جذب هم ورته پېښېږي اودلته څه نورخلګ سته چه هغه اعتراضونه پرکوي اووائي چي د اعمل په يومذ هب کي هم نه دي رو اکه چېري دصحيح علماؤ په قول جواب راکي :۔
شيخ ابراهيم صماديؒ په جواب کي ورته وويله چه(وحقيقة ماعليه الصوفية لاينکرها الاکل نفس جاهلة غبية )يعني د صوفيانود طريقو څخه انکارکول د جاهل اوناپوه کارد هوښيار سړي کار نه دي اوبياورته وويله چه په زوره ذکرونه کول اوحلقي جوړ ول اوشعرونه ورته ويل د اټول شيان په احاديثودرسولﷺثابت شيان دي بيايي د هريوه دپاره ښه دلايل ذکرکړي دي فتاوي خيريه جلد ۲ص ۲۸۰)ګوره عيناد غه طريقه يي ياده کړې ده چه په سوال کي ذکرسوله اوښه ډېر تفصيل يي کړي دي؛
نواوس هغه ملاچي د اوائي چه د ادمذ هب په کتابوکي نسته تاسي پوښتنه ورڅخه

وکړې چه اپادغه دمذهب کتابونه دي اوکه پااوکوم چې په سوال کې د اخبره ذکرسول
چه دذکر کولوو الاناړې مرد اري دي (العیاذ بالله)نود د اسې چاخبره ده چه هغه دمذهب
په یوکتاب هم علم نه لري یاد جهالت په خاطر اویاد تعصب په وجه ؛ځکه چه زمونږتهول
کتابونه د اخبره ذکر کوي (وسور الادمي طاهرولوکان کافرا)یعني د انسان ناړې پاکې دي
که څه کافر وي حتې زمونږد غه کتابونه چه کچنیان یې وائي چه نور الایضاح اوقدوري
ده هغه لاهم د امسئله راوړې ؛نوچه د کافرناړه لاهم نه ده مرد اره نود ذکرکولوو الاناړه
بیاڅنګه مرد اریږي
اوبیالاد اخبره چه که پرجامه توې سي بیاپاکیږي هم نه نود ادسامیریانودین اومذهب دئ
زمونږ د اسلام دین نه دئ ځکه چه د اخود موسي علیه السلام په دین کې د احکم ؤ چه
کله به بوشې مرد ارسو کاته وي به یې د اغسې نه پاکیدئ کله چه دیني محمدي
راغلي هغه احکام منسوخه سوله کمافي [نورالا نوارص۱۷۱]نود اخبره
زمونږاسلام ته دسامري کافر په واسطه راغلي دي اوسامري هغه یهودي ؤچې اول یې
اسلام ته دیهودودین راوړي په اخرکي هغه کتابونه ذکرکومه چه
دذکربالجهرد استحباب قائل دي
[طحطاوي علي المراقي ص۱۷۴]مرقات المفاتیح جلد۳ص۳۱۴]معارف السنن
جلد۲ص۳۰۵]تفسیرروح المعاني جلد ۱۶ص۶۳۶سورت طه] تفسیرمظهري جلد۷
ص۳۵۱سورت احزاب]ایضا[جلد۱ص۱۳۹]قطب الارشادص۵۴۹]الفتاوي الکاملیه
ص۸]الفتاوي الحدیثیه ص۱۰۲ص۱۰۷ص۱۰۹]
مکتوبات علوي ص۳۴۸]الانوار القدسیه ص۴۵]الفتاوي العالمګیریه
جلد۵ص۳۲۱ص۳۱۷]مرقات المفاتیح جلد۴ص۱۲۸]الفتاوي الخیریه
جلد۲ص۲۷۹]شامي جلد ۵ ص۲۸۱]رد المحتارجلد۱ص۴۸۸]و الله اعلم بالصواب
په اخرکي د ایوحدیث دذ اکرینودزړه دخوشحالي دپاره تشریح کومه(حضرت
ابو الدردا؇وایي: چه نبي کریم ﷺ ویله، چه دقیامت په ورځ به الله پاك یوقوم راپورته
کړي، چه په مخانوکي به یې نوروي، اودملغلروپرمنبرویه ناست وي نورخلګ به غبطه
په کوي اود اخلګ به انبیاء هم نه وي اوشهداء به هم نه وي،یوصحرائي
صحابي؇پرڅنګنور اپورته سو اونبي کریم ﷺ ته یې وویل چه مونږته یې راوښیه چه

مونږې وپېژنود اځوك دي؟رسول پاكﷺورته ووېله،چه دا به هغه خلګ وي چه دخداې تعالې دپاره محبت سره کوي،اود جلاجلاقوموو ي،اود مختلفو ښاروو ي،لکن دخداې جل جلاله،پرذكرسره راجمعه سوې وي اود الله پاك ذكركوي [الترغیب والترهیب،جلد۲ص۲۶۲]سبحان الله د امقام اوعزت،خالص ددرباروﻣرېد انو ته ثابت دي،ځکه چه د اصفت په دوې کې سته:

(**تحقیق**)ملاعلي القاري الحنفيؒ دسلفو اوخلفوفرق د اسې بیانه وي چه سلف هغه څوك دي چه په خیرالقرون کې تېرسوي دي چه هغه زمانه دصحابه واوتابعینواوتبع تابعینوده چه هغه ته نبي کریمﷺپه د االفاظوسره اشاره کړې ده(خیرالقرون قرني ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم )اوخلف بیاهغه چاته وایې چه ترداغه ۳زمانوبعدراغلي وي چه هغه شرالقرون ده (مرقات المفاتیح جلد.۱ص۸۴)اوعلامه عبد الحي لکهنويؒ،وایې[فیریدون بالسلف من ابي حنیفةؒالي محمدؒوبالخلف من محمد الي شمس الائمه الحلواني[مجوع الرسائل،ج.۳.النافع الکبیرص۶۰](والله اعلم)

## ﴿مسئله) توسل﴾

توسل په شرعي معني دې ته وایې چې یومسلمان په وخت دحاجت اوضرورت کې خپل یونیك عمل الله تعالي ته پېش کړې اوواسطه یې جوړه کړې اویاد الله تعالي نېکان بندګان لکه انبیاء او اولیاء اوشهداء وخداې ته پېش کړې اووسیله ترې جوړه کې مثلایومسلمان په وخت دحاجت کې داسې ووایې.چې یاالله ته په برکت اوعزت دسیدنارسول اللهﷺزماداحاجت راپوره کړې اویاالله ته په برکت دشیخ عبدالقادر الجیلانيؒ ماته اولادراکړې اویاالله ته په برکت دامام ابوحنیفةؒ پرمونږباران نه وکړې اویابل دخداې دوست والله پاك ته واسطه جوړه کې په یومشکل کې نودغه ته توسل وایې اودغه توسل کول رواومستحب عمل دئ اودانبیاوعلیهم السلام اوصحابةؓ وعمل دئ ددنیاء په انسانانو کې اول وارتوسل دالله پاك پیغمبرحضرت ادم علیه السلام،کړې دي اودتوسل څخه اول انکارشیطان علیه لعنه کړې دئ،دتول اهل سنت والجماعه یې پرجواز اتفاق دئ په قران هم ثابت دئ اوپه

احادیثو او اجماع د امت هم ثابت دي بلکه د نبي کریم ﷺ خپله هم توسل په نورو انبیاؤ سره کړي دئ چه تفصیل به یې راسي په قران کې الله پاك امر کوي
[یا ایها الذین امنوا اتقوا الله وابتغوا الیه الوسیله (الایه سورت مائده) ایت ۳۵] الله پاك جل جلاله، فرمائي :اې ایمان والاؤ، تاسې د خد اي تعالی څخه ویریږئ او داغه الله پاك ته واسطه طلب کړئ، په ښو عملو اوپه ښو خلګو سره.[نقیب التفاسیر] په دا ایت کې الله تعالی مومنان په توسل سره امر کوي، که توسل بالاعمال وي، که بالذوات وي.
اودغه رقم په سورت بقره کې الله پاك خپل حبیب ﷺ ته د مخکې امتوحال بیانوي[وکانوا من قبل یستفتحون علی الذین کفروا. الایه [سورت بقره، ایه۸۹] الله پاك فرمائي :حال داوؤ، چه مخکې امتوبه د مخه ترمبعث طلب د نصرت کوئ پر اوس. اوخزرج (چه د اکافران وه) په توسل د رسول الله ﷺ سره[روح المعاني] صحابي جلیل حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه قصه د اسې بیانوي[انهم کانوا اذا اشتد الحرب بینهم وبین المشرکین اخرجوا التورات ووضعوا ایدیهم علی موضع ذکر النبي ﷺ وقالوا اللهم انانسئلك بحق نبیك الذي وعدتنا ان تبعثه في اخر الزمان ان تنصرنا الیوم علی عدونا فینصرون[روح المعاني]
رئیس المفسرین حضرت عبد الله بن عباس ﷛ وایي: چه د رسول ﷺ تر پیدا ایښت مخکې چې به کله د مسلمانانو او کافرانو ترمینځ جنګ جوړسونو دهغه زماني مسلمانانو به تورات راوړي د جنګ مابین ته اوبیابه یې په تورات کې د نبي کریم ﷺ پرنامه لاس کیښیښنو دئ او د اسې به یې وویل یا الله په حق د نبي اخرزمان سره چې تاپې وعده کړې ده اوته یې په اخرزمان کې رالستوې زمونږ نصرت وکې اوپر کافرانو موغالبه کې نوددوئ به نصرت اوکومك وسو د الله له جانبه ودغه واقعه ته په دغه ایاتو د قران کې اشاره سوې ده أودغه قول د ابن عباس ﷛ دغه کتابو ذکر کړیدي

تفسیرروح المعاني جلد۱ ص۴۳۵) تفسیر حقاني جلد۲ ص۲۰۴) تفسیرعثماني ص۲۲) تفسیرقرطبي جلد۲ ص۳۰) [تفسیر ابي سعود جلد۱ ص. ۱۶۳] [تفسیر مظهري جلد۱ ص۹۴] [تفسیر نسفي جلد۱ ص۶۷] [تفسیر ملاعلي القاري. جلد. ۱. ص۹۱]
[تفسیر صاوي جلد. ۱. ص۹۰] [تفسیر کبیر. جلد. ۱. ص۵۹۸]
[تفسیر روح البیان. جلد. ۱. ص۲۲۸] [صفوة التفاسیر جلد۱ ص۶۸]

د اتهولوکتابود اقول د ابـــن عباسؓ ذکــرکړي دئ چه د نبي کريمﷺ جسد مبارك نه وړيد اسوې په د نړاکې بڼاهم دد نړامسلمانانوپه ده مبارك سره توسل کوئ او الله پاك به هم قبلوي.عمل بې نه وُبلکه ذات مبارك بې مشرف وُاود غه رقم احاديثوکې توسل ډيرزيات سته، امام حاکمؒ روايت نقل کوې چــه حــضرت عمرؓ وايي [قال قال رسول اللهﷺ:لمااقترف ادم الخطيئة قال:يارب اسألك بحق محمد لماغفرت لي،فقال الله ياادم وکيف عرفت محمد ولم اخلقه،قال يارب،لانك لماخلقتني بيدك ونفخت في من روحك رفعت رأسي فرأيت علي قوائم العرش مکتوبـالااله الاالله محمــدرسول الله،فعلمت انك لم تضف الي اسمك الااحب الخلق اليك فقال الله:صدقت ياادم،انه لاحب الخلق الي۔ ادعني بحقه فقد غفرت لك ،ولولامحمد ماخلقتك]

حضرت عمرؓ وايي: چه رسولﷺ به ويله کله چې د ادم عليه السلام څخه خطاء وسوه په جنت کې(چې د هغه درختې څخه يې خورك وکې چې د هغې په وجه د جنت څخه راووتې)بياېې سرد اسمان پرخواپورته کې اود اسې دعايې وکړله چه ،ياالله د محمدﷺ په حق(وسيله)زه ستاڅخه بخښنه غواړم ته بخښنه وکې. الله پاك وحي ورته وکړې چې محمدﷺ څوك دئ تې پيژني چه ماته دې پيش کړې حضرت ادم(ع)ورته ووېل چې ياالله کله چې تازه پيد اکړم نوماسرپورته کړې د عرش پرخواچه ومې کتل پرعرش ليکلي وه لااله الا الله محمدرسول لله نوزه پوه سوم چې تاته ترمحمدﷺ بل زيات عزت مند اوقدرور نسته ځکه چې تاېې نوم دځان سره يوځاي ليکلي دي ، الله پاك وحي ورته وکړې وېل ياادم ته صادقه يې محمدﷺ ماته ترټـول مخلوق محبوب دي،اوکچيرې دې مبارك نه وايې مابه ته هم نه واې پيداکړې.[مستدرك علي الصحيحين.جلد .۳.ص۲۱۶قبيل دلائل النبوه]اود غه واقعې ته په دغه اياتوکې اشاره سوېده [فتلقي ادم من ربه کلمٰت فتاب عليه الايه .سوره البقره ايت۳۷)الله پاك فرمائي:پس زده کړې ادم عليه السلام درب خپل څخه څوکلمې،پس رجوع وکړه الله تعالي پرهغه باندې په رحمت سره[کابلي]نودرسولﷺ خپل قول دادې چه ادم علي نبيناوعليه السلام د غه کلمات ووېلې اود غه حديث د غه کتابولیکلي دئ (المستدرك للحاکم جلد۳ص۲۱۶)تفسيرروح المعاني جلد۱ص۳۲۱) تفسيرقرطبي جلد۱ص۳۶۵)طبراني مــعــجم الصغيرص۲۰۷)خــصائص الکبري للسيوطي

جلد۱ ص۶)تاریخ ابن عساکر جلد.۲..ص۳۵۷)الوفاء لابن الجوزي .ص۲۳)تفسیرروح البیان،جلد.۱.ص.۱۵۱]دادي اول پیغبر حضرت ادم علیه السلام هم توسل په ذات مقدسِ دنبي کریمﷺسره کړې دې؛
اودغه رقم امام طبرانيؒ،یوطویل روایت ذکرکوي،چه یو حصه یې داسې ده[عن انس بن مالكؓ،قال لمامات فاطمة بنت اسد،قال رسول اللهﷺالله الذي یحي ویمیت وهوحي لایموت اغفر لامي فاطمة بنت اسد ولـــقنهاحجتها،ووسع علیها مدخلها،بحق نبیك والا نبیاء الذي من قبلي-فانك ارحم الراحمین الحدیث
[طبراني کبیرجلد۲۴ص۳۵۱]ایضا[سبل الهدي والرشاد.جلد۱۱ص۲۸۷].
حضرت انسؓ،فرمایي:چه کله دحضرت علي کرم الله وجهه مورمبارکه فاطمه بنت اسدؓوفات سوه اونبي کریمﷺوقبرته داخله کړه بیایې داسې دعاء وکړه،یاالله ته دابې بې ته بخښنه وکړې اوقبرورته پراخه کړې ستادنبيﷺپه حق سره،اودهغه انبیاؤپه حق سره چه ترمامخکې تیرسوي دي[طبراني]دادي نبي کریمﷺخپله هم په ځان مبارك اونوروانبیاوسره توسل کوي-اودغه رقم امام بخاريؒ حدیث نقل کوي
[عن انس بن مالك ان عمربن الخطابؓ كان،اذ اقحطوا استسقيٰ بالعباس بن عبد المطلبؓ فقال اللهم اناكنانتوسل الیك بنبیناﷺفتسقیناوانـــانتوسل الـــیك بـــعـــم نبینافاسقیناقال:فیسقون[بخاري.جلد.۱.ص۱۳۷،کتاب الاستسقاء]
حضرت انسؓ،مبارك،وایي:چه دحضرت عمرؓ دخلافت په دوره کې چه به کله هم باران نه کیدئ نوعمرؓ به درسولﷺأکاحضرت عباسؓ،استسقاء ته راوستې، اوبیابه یې داسې خواست وکړې،چه یاالله مونږبه تاته وسیله گرځوله په خپل پیغمرﷺسره تابه باران وکـــړئ نـــو(اوس)مـــونږتاتـــه وسیله گرځوو په أکامبارك،دپیغمرﷺسره ته پرمونږباران وکې حضرت أنسؓ وایي بیابه باران هم وسو(بخاري)امام بدر الدین عینيؒ أوامام ابن حجرعسقلانيؒ وایي[وفیه استحباب الاستشفاع بأهل الخیروالصلاح واهل بیت النبوة-وایي:چه ددې حدیث څخه داثابته سول چې په دعاء کې بنه دخیر انسانان اواولیاء اوسید ان مبارکان الله تعالي ته شفیع کول مستحب کاردي.(فتح الباري علي صحیح البخاري جلد۲ص۵۳۷)ایضا عمدة القاري جلد.۷.ص۴۸)
دادئ امیرالمومنین عمرفاروقؓ توسل کوي اوجمع غفیردصحابهؤ وهم وجودلري،لکن

ناجائزې نه بولي، بلکه ښه يې بولي، اوشرکتِ پکښې کوي، دا اجماع سکوتي د صحابه وده پر توسل باندې

**سوال** عمرؓ ولې په نبيﷺ باندې وسيله نه نيوله چې په عباسؓ باندې يې ونيوله

**جواب** په حقيقت دغه هم په نبيﷺ باندې وسيله وه ځکه چه په دغه وخت کې نور صحابهؓ هم موجود وه سره د دې بياهم عمرؓ هغه نه کړل وسيله اوعباسؓ يې وسيله وګرځوې د اخالص د رسولﷺ د قرابت وجه وه اوبله د اوجه يې هم کيداې سې چه د رسولﷺ څخه بغير په بل چاسره هم توسل جائزدئ

اودغه رقم ابوبکر الصديقؓ به هم په دعاء کې توسل کوې اود االفاظ به يې ويل [اللهم انې اسئلك بمحمد نبيك] [الجواهر المضيه ص۹]

اودغه رقم پسله له مرګه توسل جايزدئ د اځکه چې د يو چاذات مشرف سواوخداې تعالي ته مقبول سونو بيا په ژوند اومرګ دواړوکې يورقم وې او صحابه وهم پسله وفات څخه دعليه السلام مبارك، په دهﷺ سره توسل کوې؛ روايت کې راځي [ان رجلاكان يختلف الي عثمان بن عفانؓ في حاجة له، وكان عثمان لايلتفت اليه، ولاينظرفي حاجته، فلقي عثمان بن حنيف فشكاذالك اليه، فقال له عثمان بن حنيف، اِئت المبضأة فتوضأ، ثم اِئت المسجدفصل فيه ركعتين، ثم قل: اللهم اني اسئلك واتوجه اليك بنبينامحمدﷺ نبي الرحمة، يامحمد اني اتوجه بك الي ربي لتقضي حاجتي؛ الحديث [الترغيب والترهيب. جلد .١ .ص ٢٧٣]

حضرت سهل بن حنيفؓ وايي: چه دعثمان بن عفانؓ د خلافت په دور کې يوسړي عثمانؓ ته راغلي ديو كار دپاره، خوعثمانؓ وخت نه ورکړي، بياهغه سړي وعثمان بن حنيفؓ ته داشکايت وکړي هغه ورته وويل چې اودس وکه او۲ رکعاته لمونځ وکړه اوبيادادعاوکه مشکل به دې حل سي (اللهم اني اسئلك واتوجه بنبيك محمدﷺ نبي الرحمه يامحمد اني اتوجه بك) يا الله زه تاته ستا پيغبرﷺ وسيله كوم اواي رسولﷺ زه ستاپه خاطرخپل رب ته مخ کوم چې زماد احاجت راپوره كړه اوبيا خپل حاجت يادكړه هغه چې دادعاء وکړه سبا چې راغلوعثمانؓ وروغوښتي اوکاريې ورو کړئ الحديث (الترغيب والترهيب) ايضا [المعجم الصغيرللطبراني ص۱۰۳) اوخصايص كبري للسيوطي

جلد ۲. ص۲۰۱) نوګوره صحابه کرامو به هم ډارك دعاء نه غوښتله بلکه وسیله به یې نیوله او الله پاك هم وایي چه وسیله نیسي؛لکن ددې زماني بې مذهبه خلګ وایې چې ډائرك یې غواړه اوامام شاه ولي اللهٔ وایي چې په دعاکې ادب دادې چې دیوچاوسیله ونیسي اوخداې ته یې شفیع کې (حجت الله البالغه جلد ۲ ص۶)په مسئله دتوسل کې حوالي بیشماره دي،ځکه چه دنیاء ټول پرواسطه باندې بناء ده،او،ډادم علیه السلام څخه بیاتـــررسول اللهﷺپورې دټولـــوانبیاؤ سنت طریقه ده،نواکثرکتابونه د اسلام په توسل باندې ډك دي،لکن دانصاف والاډپاره داغه قدر کفایت کوې. اوبعض اقوال دفقهاؤ، موږه اد ابوددعاء کې ذکرکړې دې،

(**حکایت**) د معتزله یې عصروهابیانوممانیانوسره یوه مناظره د ا هل السنت والجماعت په ۲۰۱۲ دنومبرپر۱۶؛چې د محرم الحرام ۲ د ۱۴۳۴ کې دجمعې مبارکې په ورځ په پښین بازارکې دغرشینانو په کلې کې دډاکټـرنجیب الله په کورکې دپنجپیرې حضراتوسره دتوسل پرموضوع زموږیوه عظیمه مناظره وسوه چـــه په هغه کې دپنجپیریانودیرلوې شکست په برخه سود هغې مناظرې مختصر حال بیانوم -ددوې له خوازمونږدیودوست صوفي عبد المالك صاحب په واسطه دمناظرې دعوت راغلې اومونږدیرپه خوشحالي لبیك ورته ووایه بیامونږ۲دوه استازې وراستول چې یوحافظ مولوې تاج محمدقانت واوبل حافظ مولوې عبد الــرحمن حنفي وا وددوې هم ۲دوه ملګرې راغله دډاکټـرنجیب پرځاې سره یوځاې سولـــه اوبیایې دمناظرې ټاکنه وکړله په دغه شرائطودمناظرې موضوع درې مسئلې وې

۱توسل بالذوات الفاضله ۲.تبرك باثار الصالحین؛۳.زیارت قبوراومناظرین حضرات زمونږ دخواابوبصیرعبد الخالق فاتح؛معاون؛ثاقب ذهن دافع اهل السنت ابوالفرید مولوې دین محمدصاحب اودجانب مقابل دخوامفتي عبد الله عرف مولوې بخت محمداومعاون یې محمد اشرف ثالث بالخیرشیخ الحدیث والتفسیرالناطق بالحق مولوې فضل محمدصاحب صدرمدرسین مدرسه امام ابوحنیفه اومولوې محمدفاضل مرحوم خطیب نالي مسجد پښین اوپردغه درې شرایطو مواتفاق وسو

-۱ -دلایل به دقران اوحدیث اواجماع اوقیاس څخه وې؛۲.حواله به صرف دعربي کتاب وې داردو اوفارسي اوپښتوکتاب به نه وې- ۳.د اوس عصرنوې کتابوحواله به نه

قبلېږي بلکه تر ۲۰۰ دوه سوه کاله مخکې د کتاب حواله به قبوله وي-زمونږ دعوه داوه چې توسل کول مستحب کاردې اود انبیاؤ اوصحابه ؤ عمل دې اود جانب مقابل دعوه داوه چې توسل شرك اكبردې (العياذ بالله) تردې شرطو وروسته سباد جمعې ورځې ته مونږ پرتهاکلې وخت حاضرسو او څه وخت بعد دوی هم راغله اوډېرپه تکبر راغله دائکه چې دغه مفتي صاحب د مماتیانو ډېرغټ ملاؤ اود کالج دلیکچرانو سره يې نورې مناظرې هم کړې وې اود ځان سره يې په شمارېو ۱۰ کتابه راوړې وه هغه هم داردو او مونږ الحمدلله تر ۱۵۰ ؛زیات کتابونه وروړله چې دمناظرې دبېتهك ېو طرف تهول کتابونېولې ؤ چې تاسې يې خپله هم دوېډېوپه واسطه کتلائ سې بالاخرمناظره شروع سوه تقریباتر ۳ساعته زیات وخت يې واخیستې چې د هغه خبروخلاصه داسې وه اولاپوښتنه زمونږ دخواڅخه وسوله هغه داوه مونږ ورته ووېل چې توسل کول يعني دخداې تعالې دوستان خداې ته په وسېله کې پېشول اودغه رقم تبرك دخداې په دوستانو اوددوې په اثاروحاصلول اوهم دغه رقم زېارتوته د مردگانوتلل داتهول داسې کارونه دې چې دزمانو اوپېرېو څخه داز مونږسپېنږې اومشران بلکه عام مسلمانان په اخته دې اوکوې يې ترنن ورځې پورې ېوعالم دېن دانه دې ورته وېلې چې تاسې په ناروا عمل اخته ياست اوياد امه کوې بلکه دغه عمل يې ښه بولې .اوس تاسې ېونوې خلگ پېدا سو است چې دغه کاروته بد اوناروا او اياست ترتاسو مخکې چاد اخبره نه وه اورېدلې اوکه دغه سې نه وې نوتاسې په دامجلس کې ېومشر(سپېنږې) راولاړ کې اوپوښتنه ځېنې وکړې چې اياستاسوپه وخت کې ېوچاد اخبره کوله چې زيارت ته مه ځې اوياوسېله مه نېسې الله تعالې ته، اوياتاسې ځېنې اورېدلېده که يا نوچې ترتاسو مخکې چاد اخبره نه ده کړې اونه يې کوله اوس تلسې پېدا کړله نوتاسې دلېل ښکاره کې پرد اخبره کچېرې ستاسو دلېل دقبول وړ اوزموږ اوستاسوپرشرائطوبرابر ؤ نومونږ به يې ومنو اوکه صحيح دلېل نه لرې نوببا ولې خلگ گمراه کوې ددوې دخواجواب داؤچه دمسلمانانو عرف اواصطلاح ته اعتبارنسته دامسلمانان تهول په گمراهي اخته دې(العياذبالله) اوزمونږ اصول دادې چې دعوام عرف ته اعتبارنسته اوداسې به يې نودېرې خرافاتې دځان څخه وېلې وې لکن شرعي دلېل يې دکتاب څخه نه کې ښکاره اونه يې درلودې اوپه اخېر کې يې داووېل چې روح المعاني کې راغلې دې چې

صحابه ؤ توسل نه دي کړي؛ په جواب کې مونږ ورته ووېل چې د احواله دروح المعاني
ښکاره که؛ نوده چې کتاب راواخېستې دبحث دمیان څخه شروع سو او نیمايي خبره
یې پټـه کړه زمونږ دخواڅخه ورته ووېل سوله چې ترد امخکې عبارت(توري) وواېه
هغه دي ولې پټـه کړې نوده په دې حال کې ډېرځان مخ اوشاته کې خواخېرچې
مجبورسونوېې دااقرار وکې چې د اکتاب کې لېکلې دي چې توسل ثابت دي اوهغه
مخ ته عبارت یې وواېه نوچونکه په درواغو اوددېن په غلاؤ خوددوي تـهول عمرګزاره
ده اوکاراوبارېې دي نوځکه یې ډېره بده نه کړه محسوسه لکن عام مجلس ته
ډېروشرمېدله؛ بیامونږ هغه ددوي کتاب چې دوي درواغ پروترله هغه موراواخېستې
اوتـهوله مجلس ته موورښکاره کړې، اوورته وموویل چې دغه یې دکتاب سره حال
اوبیاموهم په تکرار ځېنې وغوښتله چې یوه حواله دکتاب په رشتیا ښکاره کې بس
خلاص یاست؛ نوچونکه دوي په اول دمناظره کې بیا تـهوله مجمعې ته وشرمېدل
اودخلاصون لاره هم نه وه نوپرکتابو اوفقهاؤ یې بدشروع کړه اوپه هغه کې یې هم
پرطحطاوي درواغ ووېل؛ بیازمونږ له خواژغ باندې وسوچې د اښکاره که نوچونکې
هغه غلطه وه اودده دعوه نه په ثابېتېدله نوېې ځان پرواچوې پربله ولاړئ بیایې فتاوي
قاضي خان راواخېستې دخپلومشرانوپر طریقه یې پرقاضي خان بدورد ووېل اوبیایې
پرشامي بدووېل خوچې څونه بې عزتې یې ده فقهاؤ کولې سوائ هغه یې وکړه اوبیایې
دا ووېل چې توسل کول شرك دي مونږ دلېل ځېنې وغوښتې اوددوي سره دلېل بیانه
سوپېدا بس دځان څخه به یې خپل دراې برابر دقران پاك ترجمه کوله کتاب به یې نه ؤ
اوبیایې دقران پاك څخه دسورت فاطر هغه اياتونه ووېل چې د مشرکانوپه رد کې دي
اوپرتوسل یې راااړول دخپل عادت موافق اودترجمې حواله نه وه بیامونږ په جواب کې
دتفسېرصاوي څخه چې د ادقران معتمد تفسېردي ورښکاره کړه چې علامه صاوي
وايې: چې دقران په اياتو کې دعبادت ترجمه په نفې دتوسل کول د ادخوارجو کاردي
اوخوارج یوبې دېنه فرقه ده چې د هغې په حق کې رسول ﷺ وایې چې خوارج ددوزخ
سپې دي الحدیث اوتلسي دعبادت تـهوله ترجمه په توسل سره کوې اودځانه یې
کوي؛؛ نوچونکه د اخوپردوي د اېتـم واري ؤ اوجواب یې هم نه ؤنوبیایې دخپل عادت
برابر پرصاوي بد شروع کړل اود اسې ووېل چې علامه صاوي هم مشرك ؤ(العیاذ بالله)

کله ده داخبره وکړله نوڅالثانوتښنګ رد پروکړې ځکه چې دادکفرخبره وه چې خوبیامونږورته ووېل چې دا بې ادبې دپنجپیرېانودګمراهې سبب جوړه سوې ده اوداوې دمشرانو مېراث دې تاسوډېره خوامه بدوې؛ اوبیاوروسته تردې پې دشفاعت کبرې هغه حدیث پېش کړې چې دقیامت په ورځ به اول وار رسولﷺ شفاعت کوې اوبیابه پې نور انبیاء کوې لکن رسولﷺ بې هم د الله پاك بې اجـــازې نـــه سې کولای نوچونکه داحدیث هم زمادپاره دلیل ؤ ځکه شفاعت هم وسیله ده وه الله پاك ته نوچونکه ددوې حوالې د اطمنان ورنه وې نوماورته ووېل چې د اکتاب ښکاره که داده چاکتاب دې چې تاحواله ورته وکړه ؛خومتاسفانه هغه دد اسې چاکتاب ؤ چې دوې پې په ښکاره کېدوهم شرمېدله نوپې انکاروکړې کتاب پې نه ښکاره کوې بیاچې ثالثانواصراروکړې چې کتاب ورښکاره کړه؛ بیاپې دځان دخلاصون دپاره د اوویل چې دادبخارې شریف حدیث دئ نوماورته ووېل چې په بخارې شریف کې پې ښکاره کړه دوې راته ووېل چې زمونږسره بخارې نسته راسره نوزمونږسره خوالحمدلله کتابونه ډېرموجود وه نومونږ بخارې شریف ورکړې چې دادې پېدا پې کړې ؛دوې چې کله بخارې شریف واخیستې نوټـول پرراټـول سوله اوددوې سره پو مفتې ملګرې ؤمولوې عبدالهادې دګلستان چې دوې پې ډېرصفت هم کوې هغه ته پې کتاب ورکړې چې داحواله پېدا که هغه غرېب بخارې کتلې هم نه ؤ او (الف )ته پې تـکې ورکوې نوم پې دمفتې ؤخوحقېقت کې مخطې ؤدمناظرې تر پایه پورې ټـول په کتاب اخته وه خوحواله پې نه کړله پېدا خوبالاخرحـــوالې پې نـــــه درلـــــودلې اوبیاچې وې دهغوټـولوحوالوپې دغه حال ؤ دقران پاك پوخاصه ترجمه به پې دځانه ځخه کوله(داځکه چې دټـول وهابېت مشرشیخ طاهرپنجرې به خپلوشاګرد انوته داوصیت کوې چې کله دعواموترمخه خبرې کوې نومخ ته قران نېسې اوخبرې دځان ځخه کوې چې دعوامود اسې فکرسې چې دادقرانه راته ګایېږې) اوبې کتابه اوبې حوالې خبرې پې ډېرې کولې په هر٥منتـــه کې به پې اوبه غوښتلې اخېردکتابو اوعلماؤ ازار ؤ دپېرواوبودچښلوپه خاطرداودس ځخه په عذاب سواومخکې دثالثانوترفېصلې دمجلس دمابېن ځخه ووتې اوولاړئ ؛زمونږ له طرفه ځخه الحمدلله پرهره خبره دلېل موجود ؤ اوپرهردلیل مودکتاب حواله ښکاره کوله خبرې مولږ کولې خودکتاب ځخه

موکولي او بيا ېې خپله موضوع موکولې او په اخېر کې مود قران پاك څخه او د احاديثو څخه د ښو معتمد و کتابو په حوالې خپل دلائل پېش کړل چې ټول دلته نه سي ذکر کېدلای خو دغه دلائل چې مخکې مود توسل په موضوع کې ذکر کړل دغه موورته پېش کړل او د دوې له جانبه هېڅ يو علمي اعتراض هم نه پروسولو خو په اخېر کې د ثالث د خوا څخه زمونږ په حق کې دګټلو او د جانب مقابل د شکست اعلان وسو او مونږ ته تحرېري او تقرېري دواړه اعتماده راکول سوله؛ چې د دغه مناظرې ټوله حالات سره د ثالث د فېصلې په وېډيو او اډيو کې سته او د پښېن په بازار کې پېد اکېږي تاسو يې کتلای سي۔

## ﴿مسئله؛ تبرك﴾

د تبرك او توسل دواړې سره نژدې مسئلې دي.لکه څنګه چه د الله تعالي په نېکانو بند ګانو سره توسل کول مستحب عمل دي. هم د غه رقم تبرك نېول هم مستحب کار دي؛ د الله تعالي د نېکانو بند ګانو.لکه انبياء او اولياء. او شهداء. او علماء. يانو رصالحان مومنان.د هغوې په اثارو سره برکت حاصلول مثلاً د يو نبي ﷺ او يا د ولي د خداي په جامو سره ځان مشرفه کول او پر ځان پورې مبنلول، او يا ځان سره په کور کې اېښودل، او يا د مرده سره په قبر کې اېښول ,د برکت د پاره, او يا د انبياؤ او اولياؤ د ناستې پر ځاى ناسته کول او د لمانځه پر ځاى لمونځ کول.د برکت په نېت او يانو راثار هر شي چه وي .د برکت په نېت باندې د ځان سره ساتل د اروا او مستحب عمل دي او په قران او احاد يثو او فقهاؤ په اقو الو باندې ثابت دي؛ او د مذهب د امامانو معمول او طريقه وه,او انکار ور څخه کول حماقت او د بد هېاتو څخه انکار دي د ټولو دلائلو ذکر کول په د ا رسالـه کې ممکن نه دي بيا هم يو څه دلائلو راوړلو ته ضرورت سته چه د تسلې د زړه په راسي۔

په قران کې الله پاك د طالوت د بادشاهي واقعه بيانه وي چه مختصر حالت يې د اسې دي د موسي عليه السلام تر وفات وروسته بني اسرايل ډېر ذليله سوله او عمالقه و چه د هغې زماني جابران وه ډېر ظلمونه پر کوله بيا الله پاك يو نبي چه شمويل عليه السلام يې نوم و راولېږې .هغه نبي شمويل عليه السلام بيا بني اسرايل د عمالقه سره په جهاد امر کړله.او طالوت چه په بني اسرايلو کې يو غريب سړې و هغه يې د جنګ

قومند ان ورمقرر کړې. بیابني اسرایلوته په زړه کې شبه وریېد اسوله د طالوت په امارت کي الله پاك وخپل نبي ته وحي وکړلي چه زه یوصندوق درلیږمه چه په هغه صندوق کي به دمخکي انبیاوعلیهم السلام اثاراوتبرکات موجودوي هغه صندوق چه د هرچاکورته ورغلي هغه به ستاسو پادشاه او امیر وي. په دغه ایت کې ود غي واقعي ته اشاره سوې ده (وقال لهم نبیهم ان ایت ملکه ان یاتیکم التابوت فیه سکینة من ربکم وبقیة من ماترك أل موسي وأل هارون تحمله الملائکـــة ان في ذ الك لاية لکم ان کنتم مومنین؛سورت البقره ایت. ۲۴۰)روښانه معني؛ حضرت شمویل علیه السلام ودوي ته وویل چه د حضرت طالوت علیه الرحمه دباچاهي علامه د اده چه تاسي ته به د اسمان دخواڅخه یوصندوق راسي اوپه هغه صندوق کي به ستاسودزړه ارام وي ځکه حضرت موسي علیه السلام به هم هغه صندوق د ځان سره وړې په غزاګانوکي اوعلاوه پردغه په هغه صندوق کي به نوراثار قدیمه هم وي چه هغه اثارقدیمه نود حضرت موسي اوحضرت هارون علیهماالسلام خاند ان پري ایښي دي .اودغه صندوق به ملائکــه علیهم السلام رااخیستي وي یقیني په دغه صندوق کي ضرورستاسي دزړود ارام علامه سته که چیرې تاسي باور کوي؛نقیب التفاسیر؛)

اوس نوپه دغه صندوق کي څه شي وه؟ تـول مفسرین مبارکان نقل کوي [قال ابن عباسؓ،عصاء موسي.وعصاء هارون.ورصاص الالواح،وقال ابوصالح،عصاء موسي وثیابه وثیاب هارون،وقال مقاتل،عصاء موسي وعمامته.،وقال الثوري،عصاء موسي والنعلان.قال ابوصالح،لوحان من التورات،والمن؛وغیرذ الك] وایي: چه په صندوق کي دموسي علیه السلام اوهارون علیه السلام لکړه ,اوجامي ,اوچوتـي,اود هارون علیه السلام لنګوتـه,اودتورات تختي,اومن اوسلوي,اونورتبرکات موجود وه دغه تفسیرونه د الیکي(تفسیرز اد المسیر جلد۱ص۲۲۴)

اود اغه رقم تفسیر طبري جلد .۲ .ص۱۴۵۹)اوتفسیرقرطبي جلد ۳ص۲۳۸) تفسیر ابي سعودجلد.۱ .ص۲۸۸)تفسیر کبیر جلد.۲ص۵۰۸)

اوتفسیرابن کثیرجلد۱ص۵۹۹)اوتفسیرروح البیان جـــلـــد.۱ص۴۷۵)اوصفوة التفاسیرجلد۱ص۱۴۲)اوتفسیر مظهري جلد۱ص۳۴۹)

اوتفسیرروح المعاني جلد.۲ .ص۷۶۴)؛؛؛؛؛تلك عشرة کامله

اوپه دغه صندوق سره به بني اسرائیلو تبرك حاصلوي اوپه جهادکې به یې دځان سره وړې اوددغه صندوق په برکت به یې پرکافرانوغلبه پیدا کړله.تفسیرقرطبي؛اوعلامه الوسيؒ،وايي[وکان عندبني اسرائیل یتبرکون به الي ان فسدوافجعلوایستخفون به فرفعه الله الي ان کان ماکان] (روح المعاني)

اوامام وهب ابن منبهؒ وايي:[انه کان موسي علیه السلام،اذ اقاتل قدمه فتسکن نفوس بني اسرائیل،ولایفرون]وايي چه د اصندوق ته سکینه ځکه وايي چه سکینه ارام ته دزړه وايي .کله چه به موسي علیه السلام جهادته وتې، نود اصندوق به یې دځان سره واخیستي بیابه یې دفوجیانوزړونه په اطمنان سوله ،اودجنګ ځخه به نه تښتیدله؛[مظهري]اوامام مظهريؒ وائي (قلت ولاشك ان بذکــرالله تعالي وروية اثار الصالحین من الانبیاء واتباعهم تطمئن القــلوب وتذ هب عنهاوساوس الشیطان)په داکې شك نسته چه د انبیاؤ اواولیاؤ په تبرکاتوسره زړه ارام پیداکوي اودشیطان وسوسي ختمیږي(تفسیرمظهري .صفحه مذکوره)اودغه رقم امام قرطبي لیکي (ان التابوت کان فیه اشیاء فاضلة من بقایاء الانبیاء واثارهم فکانت النفوس تسکن الي ذالك وتانس به وتقوي)په تابوت کې د انبیاؤ تبرکات وه چه زړونه اونفسونه به په ارامیدله اوقوي کیدله(قرطبي صفحه ۲۳۷)

د ادخدائ تعالي نبیان وه اودنوروانبیاؤ په اشیاؤ باندي دځانو دپاره تبرك حاصله وي؛اوپه قران کې یې حکایت هم کیږي؛

(**تحذیر**) **هغه** صندوق چه د انبیاؤ علیهم السلام تبرکات پکښې وه هغه بیاعمالقه و مشرکانوپه مرد ارځاې (بیت الخلاء)کې اوغورځه وې، اوبیابه یې اودس مات پرکوي .بیارب لایزال تعالي عذاب پرمسلط کې هرچاچه دد اصندوق توهین کړې ووهغه الله پاك په لعنت ګرفتاره کړي.(تفسیرروح المعاني صفحه .۷۶۴).تفسیرقرطبي صفحه ۲۳۸).تفسیرابن کثیرصفحه ۵۹۹)

(**امتیاز**) په دغه واقعه کـــې داخبره معلومه سوله چه دتبرکاتوتعظیم کول دانبیاؤ اودهغوي داتباعوکاراوسنت دي اوسبب دکامیابي دي اودتبرکاتوتوهین اوبې عزتيائي کول دمشرکانواوظالمانوکاراوعمل دي اوسبب دنزول دعذاب دئ۔

اودغه رقم الله پاك په خپل كتاب كې د حضرت يوسف عليه السلام واقعه بيانه وې؛ چه كله يوسف عليه السلام ورك سواوپلار حضرت يعقوب عليه السلام يې په سترګوړيسي ړوندسو بياچه كله ډيره زمانه بعد حضرت يوسف عليه السلام اوخپلو وړونو د مصرپه باچاهي كې سره پيدا كړله نويوسف عليه السلام خپل قميص وخپلو وړونوته وركې اوورته وې ويله چه د اقميص زما د پلارپرسترګو واچوې په بركت دداقميص به زما پلارپه سترګوبيناسي اوجوړ به سي، بياچه كله يې هغه قميص ديعقوب عليه السلام پرسترګوتيركړې هغه سمدستي جوړسوود غه واقعه ته په دغه ايت كې اشاره ده(اذ هبوا بقميصي هذ افالقوه علي وجه ابي يات بصيرا!سوره يوسف ايت ٩٣)ترجمه يوسي قميص زما دغه اود اقميص واچوئ زما د پلارپرمخ چې په بركت دقميص به په سترګوبيناسي(تفسير ايوبي)

**اوس داقميص دچاؤ؟** حضرت عبد الله ابن عباسؓ وايې؛[انه القميص الذي كساه الله تعالي ابراهيم عليه السلام حين القي في النار،وكان من قمص الجنة،جعله يعقوب حين وصل اليه في قصبة فضة وعلقه في عنق يوسف]وايې: چه د اقميص د ابراهيم عليه السلام وبيا يعقوب عليه السلام ته پاته سو. اويعقوب عليه السلام ديوسف عليه السلام ورپه غاړه كړې (وكان لايقع علي عاهة من عاهات الدنياء الاابرأ هاباذن الله تعالي)چه يوسف عليه السلام ته به يومشكل د دنيا وررپيښ سو الله پاك به د دغه قميص په بركت ورڅخه ليرې كړې؛تفسيرروح المعاني جلد.١٣.ص٦٧).اودغه رقم علامه الوسي په بل ځاې كې وائې[وكان يعقوب عليه السلام.قدعلقهافي عنق يوسف عليه السلام اذكان صغيراكمايعلق الناس اليوم فـي اعناق اطفالهم التمائم.]وايې؛د اقميص يعقوب عليه السلام وخپل زوې يوسف عليه السلام ته ورپه غاړه كړې چه دې كچنې ؤ.لكه اوس چه خلګ كچنيانوته تعويذونه ورپه غاړه كوې

تفسيرروح المعاني؛جلد.١٦ص٧٥١.سوره طه].اوامام مجاهدؒ وايې: چه تابعي دې هغه وايې د اقميص يې په امرد جبرايل عليه السلام ويوسف عليه السلام ته په غاړه كې ور تعويذ كړې ؤد پاره د دفع د نظر اونوروم‍شكلاتو[تفسيرمظهري جلد.٥.ص١٩٩) وايضا؛تفسيرابي سعود هوالقميص المتوارث الذي كان في التعويذ امره جبريل

بارساله البه؛جلد.٣.ص٤٢٧)؛وايضا؛تفسيرنسفي؛ هوالقميص الذي كان في تعويذيوسف؛جلد.١.ص٦٢٣)؛وايضا؛تفسيرقرطبي؛وعلقه في عنق يوسف لماكان يخاف عليه من العين؛ جلد.٩.ص٢٢٠)وايضا.تفسيرصاوي.وعلقهافي عنق يوسف حفظامن العين جلد.٢.ص١٩٤).وايضا؛زاد المسير.جلد٢ص٤٧٠)وايضاتفسيرروح البيان؛اي للحفظ من العين وغيرها؛جلد.۴.ص٤٠٤)..

داغه تهول كتابونه د اوائي چه دغه قميص د ابراهيم عليه السلام ؤ اود يوسف عليه السلام په غاړه كي تعويذوددفع د امراضودپاره ببايي دیعقوب عليه السلام پرسترګوومړي هغه هم په جوړسو]د اګوره د اد خد اي تعالي رسولان دي خپل په مابينځ كي يود بل جامي دتبرك دپاره استعماله وي اوپه غاړه كي يي تعويذ كوي شرك اوبدعت يي نه بولي اونه انبياؤ شرك اوبدعت كوي ؛ځكه چه انبياء(عليهم السلام) خود هرقسم ګناه څخه پاك دي؛اوس خوكه چاد الله پاك كتاب په غاړه كړي اوتعويذيي جوړكړي نود ابي مذهبه ملايان يي سمدستي كافركي.؛

اوعلامه اسماعيل حقيؒ ترداغه ايت لاندي ليكي(يقول الفقير هذامن سنة المشايخ قدس الله اسرارهم ,فانهم لبسوالخرقة والبسوهاتبركاوتيمناوهم قدفعلوذالك بالهام من الله تعالي واشارة فليس لاحد ان يدعي انه من الزيادات والبدع القبيحة؛روح البيان ؛صفحه ٤٠٤)وايي؛دامشائخ اوپيران چه دتبرك دپاره خپلومـــريد انوتــه چينه وراغوندي د اسنت دي اود اكارته بدعت ويل ناروادي؛روح البيان؛

(**طائل دصـــحيثوپه رڼاكښي**) په احاديثوكي ډيرزيات دلائل دتبرك موجوددي .صحابه كرامو(رضوان الله تعالي عليهم اجمعين)به درسول ﷺ داسي تعظيم كوي چه دنبي كريمﷺ اوداسه اوبه يي په ځانوپـــوري مښلي اودرسول ﷺورېښتان مباركان ,اوچينه شريفه. اودتندي خوله به يي په اوبوكي اچول دشفاء د امراضودپاره .اوچه پركوم ځاي به نبي كريمﷺناسته كړي وه اوپابه يي لمونځ وكړي پر هغه ځاي به دوي هم .دبركت په نيت ناسته اولمونځ كوي,حتي چه روايت كي راځي .چه دنبي كريم ﷺدپوزي مباركي اوبه به لاهم مځكي ته نه رسيدلي بلكه دصحابه ؤ په لاسوكي به لويدلي اوصحابه كرامو به په ځانو پوري مږلي.

امام بخاري دحضرت عوف ابن ابي جحيفهؓ دپلار څخه .روايت نقل کوي.[قال:رأيت رسول اللهﷺفي قبة حمراء من ادم ورأيت بلالا اخذ وضوء رسول اللهﷺورايت الناس يبتدرون ذالك الوضوء]وايي:چه مانبي کريمﷺولېدې سره چپنه يې اغوستې وه اوحضرت بلالؓ ,دنبي کريمﷺ د اوداسه اوبه راخيستي وې .اوصحابه کرامؓ, به تلوار کوي چه دنبيﷺد اودس اوبه را واخلي اوپه ځان پورې يې تېرې کړي.راوي وايي(فمن اصاب منه شيئاتمسح به ومن لم يصب منه شيئا اخذ من بلل يد صاحبه)که به چاته يو څه حصه اوبه ورسېدلې هغه به په ځان پورې مسحه کولې .اوکوم چاته چه به نه ورسېدلې هغه به بياپه هغه بل صحابي پورې ځان مسحه کوئ الحديث(بخاري جلد.١ص٥۴باب الصلات في الثوب الاحمر)امام بدرالدين عيني ليکي :[وفيه التبرك باثار الصالحين ]:وايي:ددغه حديث څخه اثبات دبرکت حاصلولو په اشياؤ دنيکانوسره ثابتيږي)عيني:جلد.۴ص١۴٩). ايضا:في مسلم جلد.١ص١٩٦)وقال النوويؒ تحته:(تبرکاباثارهﷺ.وفيه التبرك باثار الصالحين)د اودس اوبه به صحابه ؤ دتبرك دپاره پرځانومسحه کولې اويه دغه حديث سره ثابت سوتبرك حاصلول په نيکانوانسانانوسره.(شرح مسلم للنووي).د ادې صحابهؓ دنبيﷺد اودس اوبه هم مځکې ته نه پرېږدې بلکه دتبرك دپاره يې پرځانوپورې مږې؛

اودغه رقم امام بخاريؒ.دعثمان ابن عبد اللهؓ التيمي څخه روايت نقل کوي,چه دبي بي ام سلمهؓ په کور کې دنبي کريمﷺورېښته مبارك پروت ؤ,(وکان اذا اصاب الانسان عين اوشيء بعث اليهامخضبه)چه کله به په صحابه ؤکې څوك مريض سو.نود ام سلمهؓ کورته به يې د اوبولوښې ورورې هغې به بيا هغه دورېښته مبارك اوبه ورکړې (دبرکت اودشفاء دپاره)؛بخاري جلد٢ص٨٧٥؛کتاب الباس)وقال ابن حجرؒ؛فيشربه صاحب الاناء اويغتسل به استشفاء بهافتحصل لـــه بـــرکتها فتح الباري؛جلد٧ص٨٥) امام ابن حجرؒوايي: چه بيابه هغه اوبه هغه ناجوړې وچښلې اوبابه يې غسل په وکې دپاره دشفاء اوبرکت؛]

اوروايت دمشکوت شريف کې راځي[عن اسماءؓ بنت ابي بکرؓ،انهااخرجت جبة طيالسيه کسروانيه لهالبنة ديباج وفرجيهامکفوفين بالديباج،وقالت هذه جبة رسول اللهﷺکانت عندعائشه فلماقبضت قبضتها،]وايي:چـــه اسماءؓ بنت ابي بکرؓ؛د خپله

کوره څخه چپنه راواېستله،چه لستونې دچپنې په ورېښموجوړ سوې وه،اوېبايې ووېله چه دادنبي کریمﷺ چپنه مبارکه ده. اودعائشې صدیقې څخه ماته راپاته سوې ده .(وکان النبيﷺ یلبسها.ونحن نغسلهاللمرضې ونستشفي بها) اونبي کریمﷺ به اغوستله .مونږ يې ومرېضانوته په اوبوکې پرې مینځو اوبېايې اوبه دشفاء په نیت په مرېض باندې څښو(مشکوة جلد.۲.ص۳۹۶؛کتاب اللباس)؛وقال علي القاريؒ:اي بمائهااوبالجبه نفسها بوضعهاعلي الراس والعین والتبرك بلمس الیدین وتقبیل الشفتین (مرقات شرح مشکوة جلد۸ص۲۰۳)وايي:صحابه کراموبه يې یادشفاء دپاره په مرېض د چپنې مبارکې اوبه چښلې اوياېه يې دبرکت په نیت پرسراوسترګوايښودل اومچول به يې ؛مرقات.

دادې صحابه کرامؓ چه به ناجوړه سوله نودنبيﷺورېښتان. اوياجامې .به يې په اوبوکې وهلې بیابه يې هغه اوبه دشفاء اوتبرك په نیت چښلې؛ترصحابه ؤ به نوښه مسلمان چېرې وي.

اودغه رقم بل روایت دمشکوٰة دې[عن ام سلیمؓ،ان النبيﷺکان یأتیها.فیقیل عند ها.فتبسط نطعا.فیقیل علیه.وکان کثیرالعرق فکانت تجمع عرقه فتجعله في الطیب،]دحضرت انسؓ موربې بي ام سلیمؓ.وائي چه نبي کریمﷺ به زمونږ په کورکې دغرمې خوب کوئ اوتریدن مبارك به يې دګرمې له وجهې ډېرې خولې راوتلې .ام سلیمؓ وايي: چه مابه دده مبارك دتندې څخه خولې جمع کولې اوبیابه مې په چېښه کې اچولې.(فقال النبيﷺياام سلیم ماهذ افي روایة قالت یارسول الله نرجوبرکته لصبیاننا .قال اصبت)نبي کریمﷺپوښتنه ورڅخه وکړله چه اي ام سلیم دا څه په کوې دې مبارکې ورته ووېله,چه داخومونږيې ماشومانوته دبرکت دپاره ورکوونبيﷺورته ووېله چه ته پرحق يې (مشکوت شریف.جلد.۲ص۵۳۹؛کتاب الفضائل

ملاعلي القاري الحنفيؒ تردغه روایت لاندې لیکي(وفیه استحباب التبرك والتقرب باثار الصالحین )وايي:په داحدیث کې دلیل ددې خبرې دې چه د اولیاؤاوصالحینوپه اثاروسره برکت حاصلول مستحب کاردئ(مــرقات شرح مشکوٰت جلد۱۰ص۴۶۸)

داصحابه دې دشفاء اوتبرك په نیت باندې دنبي کریمﷺخوله مبارکه په اوبه کې اچوې بیايې څښې ؛اوشفاء په حاصلوې

اودغه رقم بل روايت دبخاري شريف كې راغلې ,چه حضرت سالمؒ به دمدينې شريفې اومكې شريفې پرلاره باندې لمونځ كوې اوويل به يې(ويحدث ان اباه كان يصلي فيهاوانه رأي النبيﷺيصلي في تلك الامكنة )حضرت سالمؒ وائي چه ماپلارحضرت عبد الله ابن عمرؓ به په دغه ځايوكې لمونځ كوې ځكه چه نبي كريمﷺبه هم په دغه مقام كې لمونځ كوې الحديث(بخاري جلد.١.ص٧٠باب المساجد التي علي طرق المدينه).امام عيني ليكي :وكان يتبرك بتلك الاماكن :حضرت ابن عمرؓ به په دغه ځايونو باندې تبرك حاصلوې )عيني :جلد١ـص٣٩٥)

داجليل الشانه صحابه دې يود حضرت عمرؓ زوئ دئ اود ابل يې لمسي دې،دبركت په نيت باندې پرهغه مكان باندې لمونځ كوې چه نبي كريمﷺلمونځ باندې كړې دې اوحضرت سالمؒ هم پرهغه ځاې لمونځ كوې چه دده پلارابن عمرؓباندې كوې

(**فائده مهمه**)هغه مساجد چه دمكې مكرمې اومدينې منورې په درميان كې دې يوپه هغوكې مسجد بني ظفر دې علامه سمهودې ليكي چه داعالم (٥٢۴)كاله مخكې وفات سوې دې هغه وايې چه په دغه مسجدكې يوه ډبره(كاڼى)پروت دئ چه دغه ډبرې ته نبي كريمﷺناسته كړيده اوعبد الله ابن مسعودؓ به قرات دقران ورته كوې(ولم يزل الناس يصفون الجلوس علي ذالك الحجرللمرأة التي لا تلدويقصدون ذالك المسجدلاجله) وايي هميشه به خلكوهغه زناني چه اولاد به يې نه درلودې ودغه مسجدته وروستلي اوپردغه ډبره به كينينستلې د اولاد دپيد اكيدلودپاره (وفاء الوفاء جلد٣ص٣٧)اوداغه روايت علامه ابن الهمام هم راوړې دې چه داعالم (٧٦٣)كاله مخكې تيرسويدې اوزمونږپه حنفي مذهب كې يومقتداء دې (فتح القديرجلد ٣ص٩٧)اودغه رنگه امام قطب الدين الحنفي چه ۴٥٠كاله مخكښې تيرسوې دې هغه هم دغه حكايت نقل كوې پـــه خپل كتاب (تاريخ المدينة المنورة كې ص١٥٠)سبحان الله دادې دنبي كريمﷺ دناستې پرځاې خلك ناسته كوې اود اولاددپاره وهغه ځاې ته ورځي اوزمونږدمذهب علماء يې (٧٠٠)كاله مخكې په كتابوكې هم نقل كوې لكن شرك اوبدعت يې نه بولې لكن زمونږدزمانې نام نهاده اوبي مذهبه ملايان چه څوك ديوولي الله زيارت ته ورسي اوخداې ته يې واسطه كې سمدستي دشرك تماپې پرلگوې اوبدعتيان يې بولي -

اودغه رقم امام بخاري او امام مسلم په ګډه بل روايت د محمود بن الربيع انصاريؓ څخه نقل کوي چه عتبان بن مالكؓ چه د بدر يونو صحابه وڅخه و، نبي كريم ﷺ ته راغلي اوورته وي ويله چه ستر ګي مي كمزوري دي او مسجد ته نسم ورتلاي (وددت يارسول الله انك تاتيني فتصلي في بيتي فاتخذه مصلیٰ قال فقال رسول الله ﷺ سافعل ان شاء الله) نوزړه مي داغواړي يارسول الله چه ته راسي زمونږ كورته اولمونځ وكړي بيابه زه هغه مكان چه ته لمونځ باندي وكړي د خپل لمانځه ځاي وګرځومه ,نبي ﷺ ورته وويله چه دربه سمه انشاء الله :سباورځ نبي كريم ﷺ او ابوبكرؓ ورغله بيايي مامكان (ځاي )ورته وښودي بيانبي كـــريم ﷺ پـــر هـــغه مكان باندي ۲ ركعاته لمونځ وكړي ؛الحديث؛(بخاري جلد ۱ ص ۶۰ باب المساجد في البيوت) امام بدر الدين عينيؒ تر دغه حديث لاندي ليكي چه:(وفيه التبرك بمصلي الصالحين و مساجد الفاضلين) وايي له دي حديث څخه د اثابته سوله چه د اولياو د لمانځه پر ځاي ـ اود اولياو په مساجدوكي به دتبرك په نيت لمونځ كول كيږي (عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۴ ص ۲۵۱) وايضا[مسلم شريف جلد ۱ ص ۴۷) وقال النووي (تحته ففيه التبرك باثار الصالحين (شرح مسلم)

(حكايت) يوورځ مونږ يوڅه ملګري په مكه مكرمه كي جبل نورولاړو چه د وحي نزول اول مقام دي هلته په لاكښي يوڅووهابيان جلسوسان دعلماو په جامه كښي ولاړ وه اومسلمانان به يي وهابيت ته دعوتول اود ابه يي ورته ويل چه د اځاي ته په نيت د بركت مه راځي اودلته لمونځ مه كوي ـنوزمونږ يوڅه مباحثه ورسره راغله بيادوي راته ويل چه حضرت عمرؓ مبارك وايي چه مخكي امتونه چه هلاك سول سبب يي د اووچه هغوي د انبياو دلمنځو پر ځاي لمنځونه كول ـنوماورته ويل چه د اقول د عمرؓ چيري دي ته يي ښكاره كړه ،نوچونكه دروا غ ويل خودوهابيانو عادت او ابائي ميراث دي نوځكه نه په شرميږي نوده ته نه وه معلومه بيايي د هغه خپل ملګري څخه پوښتنه وكړه هغه ويل ماته نه ده معلومه (داځكه چه نسته )بيامونږ دغه مخكي روايت د بخاري شريف اويوبل دحضرت عبد الله بن عمرؓ روايت ورپيش كړل بيايي بخاري شريف راوړي ورښكاره موكړي ـنوچه ښه وشرميدل بيايي ويل چه صحابه زمونږ دپاره دليل نه دي ـنوماورته ويل چه دصحابه كرامو عمل د مسلمان دپاره دليل دي لكن وهابيان

زمونږ دلیل نه دي(وهابي ضرب وهابي ؛حاصل بې ادبي)
او.قاضي عیاض ؒ لیکي [ورئي ابن عمرؓ واضعایده علي مقعد النبيﷺمن المنبرثم وضعهاعلي وجهه]واېي چه حضرت عبد الله ابن عمرؓ به دمسجد نبوي دمنبرشریف پرهغه ځاي باندي لاس کښېښودي چه پرکوم ځاي به نبي کریمﷺپښې مبارکې اېښودلي بیابه یې هغه لاس پرمخ باندي ومږي دتبرك په نیت باندي(الشفاء بتعریف حقوق المصطفي جلد۲ص۸۹) دادي صحابه دنبي کریمﷺدلمانځه پرځاي لمونځ کوي اونبي کریمﷺپې خپله هم په امرکوي اودنبيﷺدپښو ځاي مچوي
خلاصه دکلام داده :چه ددغه احادیثو اودمحدثینو داقوالو څخه داخبره ثابته سوله چه دانبیاؤ اواولیاؤ په اشیاؤ باندي برکت حاصلول اوپرځانوپوري مسحه کول اوپه وخت دمریضي کي دشفاپه نیت استعمالول اوپه اوبوکي اچول اوداولیاؤ دلمانځه پرځایولمنځونه کول دامستحب عمل دي اوثواب لري
که اوس یوڅوك دا سوال وکي چه داعمل ترنبيﷺپوري خاص دي غیردنبيﷺ څخه دبل چاسره داسي عمل کول اوتبرك نیول نه دي جائز خالص په انبیاؤ سره تبرك جائزدي:
نوهغه ته مونږ داوایو چه دادلیل بیاته دیوصحابي یاتابعي په قول ښکاره کړه چه دادنبيﷺخصوصیت دي اوغیر دنبيﷺ څخه دبل چاسره تبرك حاصلول نه دي جائزځکه چه مونږاهل السنت والجماعة خوداعقیده لرو چه کوم عمل چه صحابه ؤ کړي وي هغه زمونږدپاره هم دلیل دي ځکه چه صحابه کرامؓ معیاردحق دي الله پاك جل وعلي فرمایي (**فان امنوابمثل ماامنتم به فقد اهتدوا**)ترجمه که چیري داانسانان داسي عقیده اوایمان جوړکړي لکه دصحابه ؤ نودوي پر هدایت باندي دي :نوچونکه صحابه ؤ په اثارودنبيﷺتبرك حاصلوي نومونږته هم ددوي پرلارباندي تلل اوعمل کول مستحب دي.
اوبل تاسوته مخکي حوالي دکتابوذکرسولي چه امام بدرالدین عینيؒ اوامام ابن حجرعسقلانيؒ اوامام نوويؒ اوعلامه علي القاريؒ اویانور ائمه دحدیثو ټولوپه ګډه داویل چه ددغه روایاتوڅخه داثابته سوله چه دعامو مومنانوصالحانو په اشیاؤباندي

تبرك نيول اود اولياؤ دلمانځه پرځاي لمونځ كول په نيت دتبرك باندې جائزاومستحب
عمل دې نوكچيرې د اده رسولﷺ دتبركاتو خصوصيت وائي نوبياولې د اجليل الشأن
امامانوپه د اسره دليل دتبرك وايه ابا هغه چه حافظان د احاد يثو دنبي كريمﷺوه هغه ته
پوهيد له د اوس عصرو هابيان ښه پوهيږي
اودغه رقم د مذهب امامانوؒ اوفقهاؤؒ اومحدثينوؒ (كثرهم الله) هم خپل په مابين كې
يوپه بل باندې تبركات نيول اوجايزېي بلل دخوردې خوړلوپه مسئله كې بې په تفصيل
سره حوالې ذكرسولې (والله اعلم)

## مسئله ﴿مړوته ثواب بخښل﴾

تـول اهل السنة والجماعة پرد امسئله متفق دي چه دژوندو ښه اعمال مړوته فايده
رسوي مثلا يومسلمان حج وكي ياروژه ونيسي يالمونځ وكي ياجهاد وكي ياصدقه
(خيرات)وكي ياذكراواذكاروكي يانورد خيركارونه وكړي أوثوابونه يې مړو ته وبخښي
دامړوته رسيږي اوفايده ورته كوي امام الهدي امام مرغينانيؒ وايي[الاصل في
هذ الباب ان الانسان له ان يجعل ثواب عمله لغيره صلوة اوصوما اوصدقة اوغيرها
عند اهل السنة والجماعة[الهدايه جلد۱ص۲۷۶باب الحج عن الغير]
اوعلامه كاسانيؒ وايي[فان من صام اوصلي اوتصدق وجعل ثوابه لغيره من الاموات
اوالاحياء جازويصل ثوابـهاالبهم عـنداهل السنة والجماعة[بدائع الصنائع
ج۲ص۲۱۲فصل في نبات الحرم]
اوشيخ امام عالم بن العلاء الهنديؒ وايي[من صلي اوصام اوتصدق فجعل ثواب صلا
ته اوصومه اوصدقته لغيره جازعنداهل السنة والجماعة[الفتاوي التاتارخانيه
ج۲ص۶۴۸فصل الحج عن الغير]اوعلامه ابن نجيمؒوايي[فان من صام اوصلي
اوتصدق وجعل ثوابه لغيره.من الاموات والاحياء جازويصل ثوابهاالبهم عنداهل
السنة والجماعة[البحرالرائق ج۳ص۵۹باب الحج عن الغير]امام بدرالدين عينيؒ
وايي[وهذادليل صريح علي جوازان يجعل الرجل من ثوابه لغيره وينتفع به الغير

سواء كان حياأومیتا[ البنايه في شرح الهدايه ج۴ص۴۲۶باب الحج عن الغیر]اوعلامه شامي ؒ وايي[تنبیه :صرح علمائنا في باب الحج عن الغیربأن للانسان ان يجعل ثواب عمله لغیره صلاة اوصوما اوصدقة اوغیرهاكذافي الهداية بل في زكاة التاتارخانية عن المحیط الافضل لمن يتصدق نفلاان ينوي لجمیع المومنین والمومنات لانهاتصل الیهم ولاينقص من اجره شئ اه هومذهب اهل السنة والجماعة[شامي جلد۱ص۶۶۶فصل في زيارت القبور]په داغه موضوع كي دغه كتابونه مطالعه كړي[طحطاوي علي المراقي ص۳۴۱]ايضا[رد المحتارجلد.۲.ص۲۵۶باب الحج عن الغیر)وايضا[مرقاة المفاتیح جلد۴ص۴۶۴قبیل باب الصیام التطوع]ايضا[مجمع الانهرجلد۱ص۴۵۸باب الحج عن الغیر]فتح القديرجلد۳ص۶۵باب الحج عن الغیر]التذكرة في احوال الموتي وامورالاخرة جلد۱ص۷۳قرات القران عند القبر] بلكه زمونږدمذهب مشهوره فتاوي تاتارخانیه كي وايي چي افضل داده چي هركله يومسلمان نفلي صدقه كوي ثوابونه دي يي ټولو مومنانوته وروبخښي ځكه ثواب يي ټولومسلمانانوته رسیږي اوستاسوثوابونه هم نه په كمیږي(شامي صفحه مذكوره)دامسئله زمونږفقهاء په باب الحج عن الغیركي راوړي:

اوجناب نبي كريمﷺفرمايي چه صدقه(خیرات كول)دقبرگرمي(اور)سړه وي[شرح الصدور۱۲۸]

حضرت انسؓ فرمايي چي درسولﷺځخه يوچا پوښتنه وكړه ويل يارسول اللهﷺمونږدخپلو مړود پاره صدقي(خیراتونه)كؤاو ددوي دپاره حجونه كؤاودوي ته دعاوي كؤ ايادغه اعمالو ثوابونه دوي ته رسیږي كه نه رسیږي رسولﷺپه جواب كي ورته وويل هو دوي ته رسیږي اوددوي روحان داسي په خوشحال كیږي لكه ځنگه چي تاسي دخورك په شیانو(لكه ډوډي وغیره) خوشحاله كیږي[طحطاوي ص۳۴۱]اودغه انسؓ نقل كوي چي رسولﷺويل چي كه مسلمان هديري ته ورسي اوسورة يس شريف ووايي (يعني ثواب يي مړوته وبخښي) الله پاك (جل جلاله)به ددي مړو ځخه عذاب سپك كړي اودغه قاري ته به هم خدائ تعالي د هديري دمړو په اندازه اجرونه وركي[التذكره.ص۷۷] نورتفصیل به أينده كي راسي(انشاء الله تعالي)

## (پوښتنه) اهل السنت والجماعت څوک دي

جواب) په اوس زمانه کښې چه څوک په څلورومذ هبوکښې په یوه کې داخل وي دااهل سنت دي اوڅوک چه د څلورومذ هبوخلاف وي د اهل بدعت اوضلالت دي ؛دعلامه شامي استاذ امام طحطاوي وايي [وهذه الطائفة الناجية قد اجتمعت اليوم في مذاهب اربعة وهم الحنفيون والمالكيون والشافعيون والحنبليون (رحمهم الله)ومن كان خارجا عن هذه الاربعة في هذه الزمان فهومن اهل البدعت والنار]وايي چې داهل السنت دعوه خوهرڅوك كوي لكن په أوس زمانه كې چې څوك په څلورومذ هبو كې په يوه كې داخل وي(چې هغه حنفي مالكي شافعي حنبلي دي) دغه اهل السنة والجماعة دي اوكه څوك ددغه مذ هبو څخه وتلي وي هغه اهل السنت والجماعت نه دي بلكه اهل البدعت والنار دي(طحطاوي علي الدر المختارجلد۴ص۱۵۳؛كتاب الذبائح]

اودغه رقم قاضي ثناء الله پاني پتي وايي[فان اهل السنة قد افترق بعد القرون الثلاثة اوالاربعة علي اربعة مذاهب ولم يبق مذهب في فروع المسائل سوي هذه الاربعة فقد انعقد الاجماع المركب علي بطلان قول يخالف كلهم]وايي چې اهل السنت د۳دريم اوياّ۴ څلورم قرن وروسته په څلورومذ هبوكې حصرسو او اجماع د امت پردې ده چې د څلورو مذهبو اتباع اهل السنة دي اومخالفين يې ناحق او باطل دي[تفسيري مظهري جلد۲ص۶۴ ] ايضا [جامع الرسائل ج۱۴ ص۱۸۹]

د اهل السنة والجماعة معني هغه څوك چې د رسول ﷺ اوصحابه ؤپرعقيده برابردي لكه څنګه چې حضرت ابوهريرةؓ نقل كوي چې رسول ﷺ ويل زماامت به ۷۳درواويا فريقه(پارټۍ) جوړيږي(هره يوه به د اسلام دعوه كوي )داټول به جهنم(دوږخ)ته ځي مګريوه به ځي جنت ته صحابهؓ كراموپوښتنه وكړه ويل هغه به

کومه یوه جنت ته ځي یارسول الله ؟رسول ﷺورته وویل چې دا هغه څوك دي چې زما اوزما دصحابه وپرلاره ځي (رواه أبوداود.]اوبل روایت کې راځي چې کله درسول ﷺڅخه پوښتنه وسوله دجنتي فرقې(ډلې)نبي پاك ﷺورته وویل چې[من علي السنة والجماعة] ویل دعـذاب څخه خـلاصـه فرقه(تولی)داهل السنة والجماعة ده[الملل والنحل للشهرستاني ص۵]ایضا[التفسیرات الاحمدیه ص۴۰۸]

څومره غتـه دخوشحالي خبره ده درسول ﷺپه زبان مبارك دغه نوم داهل السنة والجماعت انتخاب سویدي(اللهـم احیینافیها وامتنافیها واحشرنافیها بحرمت من سماهابها امین)

اوعلامه عبد القاهر البغدادي ؒ یې هم ددغه حدیث ترجمه په اهل السنة والجماعت سره کوي (الفرق بین الفرق ص۱۹۱] اود امام مالكؒ څخه چاپوښتنه وکړه چې اهل سنت څوك دي ده ورته وویل [قال اهل السنة الذین لیس لهم لقب یعرفون به لاجهمي ولا قدري ولارافضي ]وایي چې هرڅوك ځان ته جلا نوم نه لري هغه اهل سنت دي .اوڅوك چې جلانومان لري لکه جبریه جهمیه معتزله(اوپه دي عصرکي وهابیه سلفیه پنچفیریه بریلویه فکریه کیپټـنیه عثمانیه پرویزیه)اوپانورد اسې نومان دا اهل سنت نه دي(الا نتقاء لابن عبد البرص۷۲]اوشاه عبد العزیزمحدث دهلويؒ لیکلي دي[امامذاهب مختلفه اهل السنت والجماعة مثل اشعریه وماتریدیه درعقائد ومثل حنفي وشافعي ومالکي وحنبلي درفقه ومثل قادري وچشتي ونقشبندي وسهروردي درسلوك پس اینهمه اندبرحق میدانند؛اه]وایي اصحاب د۴ څلورو مذهبولکه حنفي مالکي شافعي حنبلي اومریدان دڅلورو۴طریقو لکه قادري چشتي نقشبندي سهروردي داتـول اهل سنت والجماعت دي او تـول پرحق دي (فتاوي عزیزي جلد۲ص۷۵)
اوحافظ صالحي دمشقي شافعيؒ لیکي[روي ابن کاس عن الحافظ عبد العزیزابن

رواد،قال من احب اباحنيفه فهوسني ومن ابغضه فهوبدعي ورواه ابومحمد الحارثيؒ بلفظ بينناوبين الناس أبوحنيفه فمن احبه وتولاه علمنااانه من اهل السنةومن ابغضه علمنااانه من اهل البدعة[عقود الجمان،ص١٦٧]ابن ابي رواۮوايي مونږچه خلك پيژنوپه حضرت امام ابوحنيفةؒ يې سره پيژنو څوك چه د امام ابوحنيفةؒ سره محبت لري هغه اهل سنت دي اوڅوك چه بغض اوعنادورسره كوي هغه اهل سنت نه بلكه اهل بدعت دي[عقود الجمان] سبحان الله د اوس عصر دپاره څومره ښه معيار اوترازودي بس د امام صاحب په محبت به اهل سنت و الجماعت پيژني

اوپه قرأن كي الله پاك جل وعلي فرمايي (يوم تبيض وجوه وتسودوجوه[الايه سورةال عمران]وقال ابن عباسؓ حين تبيض وجوه اهل السنة والجماعة وتسودوجوه اهل البدعة والفرقة]وايي په ورځ كي دقيامت به دبعضي انسانانومخان سپين وي اودبعضي نوروده به بيا توروي )حضرت عبد الله ابن عباسؓ وايي چي سپينو مخانووالا به اهل السنة والجماعة يي اوتورومخانووالابه د انوري فرقي(دلي )وي[تفسيرابن كثير جلد٢ص٨٢](**فاسئلك باالله ان تجعل عملي في هذاالكتاب من الجهادفي سبيلك وتقبله مني وبيض به وجهي يوم تبيض وجوه اهل السنة والائتلاف وتسودوجوه اهل الفرقة والاختلاف بحرمت اشرف الاشرافﷺ امين**) اوپه اخيردكتاب كي به سره ددېوبند دعلماو دحوالود اخبره ثابته كړوچي دغه نوي فرقي د اهل السنة څخه خارجي او وتلي دي[انشاء الله تعالي]

## ﴿مسئله بدعت﴾

چونكه بي مذ هبه دلي تـولـه دبدعت لفظ ډيراستعماله وي اودمذ هب مقلدين خلك بدعتيان بولي اوپرهرشي دبدعت تـاپي لګوي اودمذ هب اثارواوافعالوته لكه حيلة الاسقاط اوميلاد النبيﷺ اوختمونه اوفاتحه اوتصوف اوخيراتونه كول بانوردمذ هب

مسئلوته دبدعت نسبتونه کوي که څه هم دوي په خپله دبدعتوڅخه ډك دي اوکلك بدعتیان دي خوقاعده داده (برعکس نام زنجي کافور مي دهندي)علامه عبدالحي لکهنويؒ دبدعت په مسئله کي یوه رساله لیکلي ده دهغي رسالي په اول کي وایي چه سبب دلیکلو ددارسالي داؤ(والمحققون من الماتریدیه والا شعریه لاینسب احدهماالاخرالي البدعة والضلالة خلافاللمبطلین المتعصبین حتي ربماجعلوالاختلاف في الفروع ایضابدعة ضلالة ولایعرفون ان البدعة المذمومة هوالمحدث في الدین من غیران یکون في عهد الصحابه والتابعین ولادل علیه دلیل شرعي ومن الجهلة من یجعل کل امرلم یکن في زمن الصحابة بدعةمذمومة وان لم یکن دلیل علي قبحه تمسکابقوله ﷺ ایاکم ومحدثات الامور:اه[اقامة الحجة ص۹)وایي محققینوعلماؤ به یووبل ته داسي دبدعت اوضلالت نسبتونه نه کوله لکه زمونږدزماني متعصبین اومبطلین چه په فروعي مسائلوکي هم دبدعت حکمونه لګوي........اودوي بدعت نه پیژني اوداسي جاهلان هم سته چه هغه وایي چه هرکارچه دصحابه کرامؓ په زمانه کي نه یي سوي هغه بدعت دي په ظاهرد حدیث دلایل وائي اودحدیث مقصد نه ورمعلومیږي)اقامة الحجه)یاعلامه لکهنوي دبدعت تعریف اواقسام ذکرکوي نوځکه دبدعت تعریف اواقسام ذکرکولوته هم ډیرضرورت سته چه داواضحه سي چه مذهبیان خلګ بدعتیان دي اوکه دوي؟

دبدعت دمسئلي دښه وضاحت دپاره ددغه شپانوویان ته ضرورت سته: دبدعت کولوجزاء اوسزاء اودبدعت لغوي اوشرعي معني دبدعت اقسام اولیه یعني بدعت اعتقادي اوبدعت فروعي او اقسام ثانویه یعني بدعت سیئه اوحسنه اوس به دهریوه تفصیل ذکرکړو

## (۱)دبدعت عذاب اوسزاء

حضرت عائشه صدیقهؓ فرمایي چه نبي کریم ﷺ وییل (من احدث في امرناهذا مالیس منه فهورد(متفق علیه)وائي څوك چه زمونږ په دین کي داسي بدعت پیداکوي چه

هغه د دین څخه نه وي د اعمل يې مردود دي:
او انس بن مالكؓ روایت نقل کوي چه رسول پاك ﷺ وايي[ حجب التوبة عن كل صاحب بدعة حتي يدع بدعته[ المعجم الاوسط جلد ۴ ص۲۸۱ ] وايي چه الله پاك بدعتي سړي ته توفيق د توبې نه ورکوي ترڅوچه بدعت پرې نږدي[ طبراني] او حضرت عبد الله ابن عباسؓ فرمائي چه نبي كريم ﷺ فرمايل [ ابي الله ان يقبل عمل صاحب بدعة حتي يدع بدعته] وايي چه الله پاك د بدعتي سړي عمل نه قبلوي چه ترڅوبدعت پرې نږدي(ابن ماجه).
همد ارنګه روايت د حذيفه بن يمانؓ كي راځي نبي كريم ﷺ فرمائي [لايقبل الله لصاحب بدعة صوما ولاصلاة ولاصدقة ولاحجا ولاعمرة ولاجهادا ولاصرفا ولاعدلا يخرج من الاسلام كماتخرج الشعرمن العجين[ ابن ماجه ص۶ ] وايي چه الله پاك د بدعتي عبادات نه قبلوي نه يې روژه قبليږي اونه يې لمونځ قبليږي اونه يې حج اوعمره اوجهاد قبليږي اونه يې نفل نه يې فرض قبليږي بدعتي سړي د اسې د اسلام څخه وزي لكه وريښته دوړوڅخه (ابن ماجه)
يعني بدعت د اسې بد دي چه د هغه په وجه مسلمان د اسلام څخه ليرې كيږي اوبدعتي انسان ته توفيق د توبې نه وركول كيږي اوعبادات يې نه قبليږي. خودلته بدعت دعقيدې مراد دي ځكه چه د اهل سنت و الجماعت متفقه فيصله د اده چه په عمل سره مسلمان نه كافر كيږي په عقيده سړي كافر كيږي چه اينده به يې تفصيل راسي

## (۲) دبدعت لغوي اوشرعي معني

بدعت په لغت كي هر هغه شي ته وايي چه مخكي يې مثال نه وي(البدعة في اللغة ماكان مخترعاعلي غيرمثال سابق ومنه بديع السموات والارض اي موجدهاعلي غيرمثال سابق؛اه(كشاف في اصطلاحات الفنون جلد.۱.ص۱۷۹ باب الباء الموحده) يعني هر هغه شي چه مخكي يې مثال نه وي اوس موجودسي هغه بدعت دي كه اموردين وي اوكه د دنياء اموروي ؛ لكه محراب مدرسه تصنيف ,نحو صرف

منطق حکمت اونور علوم الیه؛ اویالکه جهاز تـلیفون ریل ګاډه ,توپ ټـوپک ټـانک موټـر ریډیو بجلي اسپیکر وغیره داټـولوته په لغت دعربوکي بدعة وایي لکن په شریعت کي یي بدعت نه بولي

اوپه اصطلاح دشریعت کي بدعة هغه عمل ته وایي چه په اصول اربعه (قران حدیث اجماع قیاس)کي یي اصل نه وي اودین یي هم وبولي اوپه نیت دثواب یي کوي

شاه انورشاه کشمیريؒ یي تعریف داسي کړي دي (واعلم ان البدعة مالایکون اصله في الاصول الاربعة ویزعم الناظرفیه انه من امور الدین[عرف الشذي جلد۱ص۱۰۲:قبیل باب الوتر)وایي بدعة هغه شي ته وائي چه په اصولواربعه وکي اصل نه لري اوددین په نیت کول کیږي.دغه تعریف دبدعت ډیروعلماؤ کړي دي چه مأل دټـولویودي

دمذهب مقتد اامام شافعيؒ یي داسي تعریف کوي(ماأحدث وخالف کتاب أوسنة أواجماعا أواثرا فهوالبدعة الضالة وماأحدث من الخیرولم یخالف شي من ذالك فهوالبدعة المحمودة(کشاف صفحه ۱۷۹ )وایي هرهغه جدیدشي که عقیده وي که عمل چه دقران اوحدیث اواجماع دامت اواثر څخه خلاف وي هغه ګمراه کونکي بدعت دي اوکوم شي چه ددغه اصول موافق وي اودخیرپه نیت پیداسي هغه بیاښه بدعت دي (کشاف)

اوعلامه سلیمان غــاوجي لیکي(وقال العلماء ان البدعـــة التي ذکرهارسول اللهﷺونفرمنهاامته هي الامرالمستحدث في الدین ممایخالف اصول الدین أولاارتباط له باصول الدین ولایدخل في دائرة حدوده؛ اه(کلمه علمیه هادیة في البدعة واحکامهاص۲۱۵)وایي هغه نوي کارچه په دین کي کیږي اودصول ددین(قران سنت اجماع قیاس) څخه خلاف وي اوتردغه اصولوپوري هیڅ تعلق هم نه لري اونه ددغه

اصولو په دائره کې داخل وې هغه بدعة دې (کلمه علميه)

اوعلامه نابلسيؒ ليکي (البدعة هو الزيادة في الدين اونقصان منه الحادثان بعد الصحابة وكذا زمن التابعين وتابعيهم بغيراذن من الشارع لا قولا ولافعلا ولاصريحا ولااشارةفلاتتناول العادات اصلا (حديقه الندية جلد۱ ص۱۳۶) وايي وروسته ترخير القرون چه کوم زيادة اونقصان په دين کې پيدا سي اود شارع اجازه هم نه وي نه قولي اونه فعلي اونه صريحي اونه اشاري هغه ته بدعة واي اوعادات بدعة نه دي (حديقه) ددغه عباراتو څخه معلومه سوله چه بدعة هغه دې چه دكتاب اوسنت څخه خلاف وي دكتاب الله بياتول اقسام مراددي ,عام اوخاص دلالت اوعبارت اواشارت اواقتضاء وغيره اودغه رقم دسنت ټول اقسام متواتر اومشهور اواحد اوقولي اوفعلي اوتقريري وغيره که ددغه ټولو څخه خلاف و بيابدعة ورته ويل کيږي اوپه ټولو تعريفو دبدعة کې داقيدسته چه په دين کې به وي اود اوصولو اربعه و څخه به خلاف وي نو هغه شيان چه عادات وي عبادات نه وي .لکه دخورك اوسفر اوكاربار اشياء اوپانور وسائل هغه ته په اصطلاح کې بدعة نه ويل کيږي او هغه افعال چه په دين کې وي لکن د اصولو د شريعت څخه خلاف نه وي هغه ته هم په شرعي معنې بدعة ويل ناجائز دي (خلص من كلمه وحديقه)

## (بدعت حسنه اوسيئه)

بيابدعت په اعتبار د وصف سره پر۲ قسمه دي يوبدعت حسنه دي اوبل بدعة سيئه دي کچيري يوكار د شريعت د اصولو (كتاب سنت اجماع قياس) سره برابر و که څه هم بدعة

وي لكن بدعة حسنه بې بولي اودسنت يوجزء بې بولي لايق دثواب دي اوكچېرې دېوه اصل سره بې تعلق نه درلودې بلكه دټولو اصولو مخالف و هغه بېابدعة سيئه دي اوگمراه كونكي بدعة دي اوپرد اتقسيم دعلماؤ اتفاق دي

امام ابونعيم اصفهاني د حضرت امام شافعيؒ څخه قول نقل كوي چه(البدعة بدعتان بدعة محمودة وبدعة مذمومه فماوافق السنة فهومحمود وماخالف السنة فهومذموم واحتج بقول عمرؓ في قيام رمضان نعمت البدعة هي)حلية الاولياء جلد۹ص۱۲۱)امام شافعيؒ وايي چه بدعة ۲قسمه دي يوښه بدعة دي اويوبدبدعة دي بدعة كچېرې دحديث موافق و هغه ښه دي اوكه دحديثومخالف و هغه بدبدعة دي اواخذيې دعمرؓ دقوله څخه كړي دي(حليه).

اودغه قول دامام شافعيؒ مولاناعلي القاريؒ هم نقل كړي دي سره دزيادته دقيددد اجماع اوقياس (مرقات شرح مشكوات جلد.۱ ص۳۳۸،) اودغه رقم مولاناعبد الحي لكهنويؒ هم نقل كړي دي په خپل كتاب (التحقيق العجيب في التثويب ص۱۷) اودغه رقم شيخ علامه محمدعلي تهانويؒ هم نقل كړي دي (كشاف في اصطلاحات الفنون جلد.۱.ص۱۷۹)اودغه ټولوخپله هم بدعةودغه اقساموته تقسيم كړي دي اوددغه تقسيم قائله دي:

اودغه تقسيم دبدعة حسنه اوسيئه امام ابن حجرعسقلانيؒ هم كړي دي په شرح دكتاب البخاري كي (فتح الباري جلد۳ص۵۰۴كتاب الصلات التراويح)اودغه تقسيم بې امام بدرالدين عينيؒ هم كړي دي اوليكي(وشرعااحداث مالم يكن في عهدرسول الله ﷺ وهي علي قسمين بدعة ضلالة وهي التي ذكرنا وبدعة حسنه وهي ماراه المومنون حسنا ولايكون مخالفاللكتاب اوالسنة أو الاثر أو الاجماع[عمدة القاري علي

صحیح البخاري جلد۵ص۳۳۶باب امامة المفتون والمبتدع) امام عیني وایي چه
هربدعة سیئه دې هغه دادې چه په اصولو اربعه ؤکې اصل نه لرې اوبل بدعة حسنه
دې هغه بیا هرهغه عمل بولي چه مسلمانان یې ښه وبولي اوکتاب اوسنت اواجماع
او اثر،څخه خلاف نه وي (عیني)ګوره امام عیني زمونږ په مذهب کې دڅومره غټې
رتبې والاانسان دې چه علماؤ دشیخ الاسلام لقب ورکړې دې اوټول فقهاء په دیانت
اتفاق لرې لکن هربدعة بد نه بولي لکه زمونږدزماني وهابیان بلکه هرهغه کارچه
مسلمانان یې ښه بولي اود اصولو اربعه ؤڅخه خلاف نه وي هغه ته ښه وایي اولایق
دثواب یې بولي

اودغه تقسیم دبدعة حسنه اوسیئه علامه عبدالحق محدث دهلوي هم ذکرکړې
دې(اشعت اللمعات شرح مشکوات جلد۱ ص۱۳۵) اودغه تقسیم دبدعة علامه وهبي
سلیمان غاوجي هم ذکرکړې دې [کلمه علمیه هادیه في البدعة واحکامهاص ۲۸۱)
اودغه تقسیم دبدعة زمونږدمذهب مشهورمحقق علامه شامي هم کړې
دې[ردالمحتارعلي الدرجلد۱ص۴۱۴)اودغه تقسیم دبدعة حسنه اوسیئه امام
برکلي هم کړې دې [طریقه محمدیه ص۲۵) اودغه تقسیم علامه عبدالغني نابلسي هم
لیکلې دې په خپل کتاب کې[حدیقة الندیه شرح طریقة المحمدیه جلد۱ ص۱۳۵)
اوبیادغه ۲دواړه امامان لیکي[فان قیل کیف التطبیق بین قوله علیه الصلاة والسلام
کل بدعة ضلالة وبین قول الفقهاء ان البدعة قدیکون واجبا...الي ان
قال.قلناللبدعةمعنیان معني لغوي عام هوالمحدث مطلقا،عادة کان اوعبادة
وهذا هي المقسم في عبارت الفقهاء والثاني معني شرعي خاص و هو الزیادت في الدین
اونقصان منه الحادثان بعد الصحابة بغیراذن من الشارع لا قولا ولا فعلاولاصریحا

ولااشارت ؛اه ]واېي كه يو څوك د اسوال وكړي چه څنګه تطبيق كېږي په مابين د حديث دنبي كريمﷺاودقول دفقهاؤ ځكه چه حديث شريف كي راځي(كل بدعة ضلاله)هربدعة ګمراه كونكي دي اوفقهاء مباركان واېي چه په بدعاتوكي حسنه هم سته بلكه بدعة واجبه لاهم سته ؟ بياپه جواب كي ليكي چه بدعة په ۲معني ؤ سره راځي يودبدعة لغوي معني ده چه هرجديد كار كه دنياېي وي كه ديني وي اوبله يې شرعي معني ده چه بدعة هغه كارته واېي چه په دين كي وي اوپه نيت دثواب كول كيږي او دشارع دخوا څخه نه قولي اجازه وي اونه فعلي اونه صريحي اونه اشاري نوكوم چه په حديثوكي ردسوي دي هغه دغه سيئه بدعة دي اوكوم چه فقهاء كرام يې يادوي اوتقسيم يې كوي هغه بيابدعة لغوي دي(طريقة محمودیه)حديقة الندیه) اوامام نابلسيؒ بل ځاي كي هم دا ليكي[فالبدعة الموافقة لمقصود الشرع تسمي سنة

علي هذا تسمية وردت علي لسان الشارع ﷺ:[كشف النور ص۱۵]واېي بدعة حسنه چه موافق دشريعت وي هغه ته سنت ويل كيږي اودانوم خپله شارع ﷺور كړي دي؛

**(دفاع)**د امام بركليؒ اوعلامه نابلسيؒ په دغه قول كي ديوبل سوال جواب هم كيږي هغه دا چه يو څوك سوال وكړي چه شاه انورشاه كشميريؒ اوامام ربانيؒ واېي چه په بدعة كي حسنه نسته بلكه ټول سيئه دي

نوجواب يې دا سوچه هغه مباركان بدعت حسنه په سنتوكي ګډ بولي جلانوم نه وركوي ځكه چه حديث مبارك كي راځي امام مسلم اونسائي اوابن ماجه نقل كوي چه نبي

کریم ﷺ فرمایي (من سن سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها ؛الحدیث) مسلم جلد ۲ ص ۳٤۱ باب من سن ) نسائي جلد ۱ ص ۳۵٦ باب تحریض في الصدقه) ابن ماجه ص ۱۸ باب من سن في الاسلام) رسول ﷺ وایي که هرچاپه امت کې ښه طریقه ایجاد کړه دغه سړي ته به ددغه طریقه دایجاد اجراوثواب ورکول سي اوهرڅوك چه په دغه طریقه عمل وکړي دهغوسره هم په ثواب شریك دي؛ دلته رسول ﷺ بدعة حسنه ته د سنتونوم ورکړي نوځکه شاه صاحب دبدعة حسنه دنوم څخه انکارکړي دي ځکه چه دمطلق بدعة حسنه څخه انکارخودبدهیاتوڅخه انکاردي عقل یې نه مني دداسي شان والاسره یې مطلق انکارنامناسب دي؛

بلکه دامخکي چه حوالي ذکرسوي دغه ټول علماء په داغه صفحوکي په مختلفوالفاظوسره دبدعة ۵پنځه اقسام ذکرکوي اولیکي [ان البدعة قدتکون واجبة کنصب الادلة للردعلي اهل الفرق الضاله وتعلم النحوالمفهم للکتاب والسنة ومندوبة کاحداث نحورباط ومدرسة وکل احسان لم یکن في الصدرالاول ومکروهة کزخرفة المساجد ومباحة کالتوسع بلذیذ المأکل والمشارب والثیاب[شامي]وایي بدعت کله واجب هم وي لکه تعلم(زده کول)دعلم نحوي دپاره دزده کړي دقران اوحدیث اویاعلم الاصول اویاعلم الجرح والتعدیل اویادبي مذهبوسره دمناظري دپاره دلایل لیکل اوزده کول ددغه علوموليکل اوزده کړه واجب دي ـ اودثواب اعمال دي سره ددي چه داعلوم ټوله بدعت دي :اوکله بیابدعت مستحب وي لکه مدرسي جوړول اوپه جماعت سره تراویح کول اویادتصوفوچله کاټه ول دااعمال مستحب دي اوسبب دثوابودي اوبدعت هم دي اوکله بیابدعت مباح وي یعني نه ثواب لري اونه ګناه لري لکه .ماکولات اومشروبات یعني دخورك اوڅښنګ په اشیاوکي زیادت کول اویالباس اومسکن کي .فراخي کول داجائزدي که څه هم بدعت دي ځکه چه داالبلسونه اوخوراکونه خوپه خیرالقرون کي نه وه اوبل قسم بدعت بیاحرام دي لکه دجبریه

واومعتزله ؤ اوپاد نوروبې مذهبوعقيده ساتل د ابدعت هم دي حرام هم دي اورد باندې كول يې بدعت واجبه دي اوبل قسم بدعت بيامكروه دي لكه دشوافعوپرمذهب مساجد ښائسته كول د ابدعت هم دي اومكروه هم دي(مرقات شرح مشكوات صفحه ۳۳۸) اودغه رقم شامي صفحه ۴۱۴) اوطريقه محمديه صفحه ۲۵) اوحديقة الندية صفحه ۱۳۶)اوكشاف في إصطلاحات الفنون صفحه ۱۷۹)اوفتح الباري صفحه۵۰۴)اوتحقيق العجيب صفحه ۱۷ ) او اشعت اللمعات صفحه مذكوره)اوكلمه علميه صفحه ۲۸۱) او انجاح الحاجه شرح ابن ماجه؛ص۶)د اتهول علماء د اوايي چه په بدعت كي د اسي بدعت لاهم سته چه كول يې واجب اويامستحب وي كه څه هم په لغوي معنى بدعت ورته ويل كيږي

كچيرې دعام اومطلق بدعت څخه انكارصحيح سي بيابه دغه اشياء څه بولوېعنې مدرسي جوړول درسونه كول نحواوصرف درسه ول منطق اوحكمت ويل تصوف اوترجمې كول د اجديدلباسونه اوخوركونه جوړول د اخوبياتهوله بدعت سيئه اوحرام سوله اوسره ددي چه امام رباني صاحبؒ مبارك دتصوف په مشرانوكې يوڅوك دي اوشاه انورشاه كشميريؒ بياپه شيخانوكې يوسړې دي چه كمالات يې پر اهل حق باندې پټ نه دي؛اودمذكورې كليه دحديث څخه دويم۲ جواب د ادي چه د احديث مبارك عام مخصوص البعض دي اومخصص يې هغه مخكې حديث دي چه (من سن سنة حسنه)كلمه علميه)

علامه غاوجيؒ وايي كه يوڅوك د اسوال وكي چه د ابدعت دنيوي دي د اجايزدي دي بدعت في الدين ناجايزدي دي په جواب كي وايي(ياسبحان الله لقد اجاز هذ المخترع المتلاعب لنفسه ان يخترع هذ التقسيم لكن هــذه التسمية دينية ودنيوية لم تكن موجودة قطعافي عهد التشريع النبوي. فمن اين جاء هذ اا التقسيم ومن اين جائت هذه التسمية المبتدعة)وايي سبحان الله د ابدعتي اوشريعت بازي كونكي دخپل ځان دپاره دابدعت كوي اونوي تقسيم پيد اكوي ځكه چه دغه نوم دبدعت ديني اودنيوي په زمانه درسول ﷺ كي نه ونود اتقسيم اود ابدعتي تسميه بيادكومه پيد اسوله(كلمه

هادیه في البدعة)هم دغه رقم بدعة للدین اوفي الدین تقسیم به هم بدعة سي دابوجامع کتاب دي تهول دبدعة په احکاموکي لیکل سوي دي چه دعلماوو پاره هي ډیر اهم اوضروري دي

بلکه دبدعت حسنه قائلین په خپله صحابه کرام (رضوان الله تعالی علیهم اجمعین )هم دي صحابه وهم بدعت ته حسن ویلي دي لکه څنګه چي روایت دبخاري شریف کي راځي حضرت عبد الرحمن بن القاريؓ وایي[خرجت مع عمربن الخطاب لیلة في رمضان الي المسجد فاذ الناس اوزاع متفرقون الي ان قال ثم خرجت معه لیلة اخري والناس یصلون بصلاة قارئهم،قال عمر نعم البدعة هذه ؛اه]وایي چه کله حضرت عمرؓ دتراویحو دجماعت دپاره حضرت ابي ابن کعب ؓ مقررکړي بیایوه شپه زه اودي دکورڅخه راووتلو په مسجد نبوي شریف کي دتراویحو دپاره جماعت ولاړ ؤنو په دغه وخت کي حضرت عمرؓ وویله (نعمت البدعة هذه)ښه بدعة دغه تراویح دي په جماعة سره ؛الحدیث (رواه البخاري جلد۱ص۲۶۹باب فضل من قام رمضان)د ادي حضرت عمرؓ یوعمل ایجاد کړي بیا هغه ته ښه بدعت وایي

اودغه رقم حضرت عبد الله ابن عمرؓ هم دبدعة حسنه قائل دي بیاامام بخاري دامام مجاهد ؓاوعروه ابن زبیرؓ څخه روایت نقل کوي چه دوي واي [دخلنا المسجدفاذاعبد الله ابن عمرجالس الي حجرت عائشةؓ واذا اناس یصلون في المسجد صلوة الضحیٰ قال فسالناه عن صلا تهم فقال بدعة؛اه]وایي چه مونږ مسجد نبوي شریف ته داخل سوو هلته عبد الله ابن عمرؓ ناست ؤ اودبي بي عائشي صدیقيؓ دحجري ودیوال تـــه یي تکیه وهـــلي وه اونوروخلګوبیاپه مسجدکي دضحي(څاښت)لمونځ کوي مونږ دعبد الله ابن عمرؓ څخه ددغه لمانځه پوښتنه وکړه چه داڅنګه دي ده مبارك په جواب کي راته وویله چه(بدعة)د المونځ بدعة دي(بخاري جلد۱ص۲۳۸ ابواب العمره)اودغه روایت امام ابن حجرعسقلانيؒ نقل

کوي اوپه اخرکې وايي چه ابن عمرؓ ورته وويله (بدعة ونعمت البدعة)د الموڼځ بدعت دي لکن ښه بدعت دي (فتح الباري جلد۲.ص۶۵۳: ابواب العمره)اوبل روايت دعبد الرزاق کې راځي چه عبد الله ابن عمرؓ وايي [ما احدث الناس شيأ،احب الي منها]وايي چه په ټولو هغه کاروکې چه خلګودبدعة په طريقه ايجادکړي دي ماته دغه لمونځ محبوب دي اوښه خوندراکوي[مصنف عبد الرزاق جلد۳ص۷۸باب صلات الضحي)د ادي صحابي جليل حضرت عبد الله ابن عمرؓ د المونځ بدعة هم بولي اوښه يې هم بولي اوخلګ هم نه ورڅخه منع کوي

اودغه رقم محمدبن ابي بکرؓ هم دبدعة حسنه قايل دي امام ابن ابي شيبةچه د امام بخاري استاذدي هغه دحکم ابن الاعرج څخه روايت نقل کوي چه مادمحمدبن ابي بکرؓ څخه پوښتنه وکړله چه د اضحي لمونځ څه حکم لري هغه په جواب کې راته وويله چه(فقال بدعة ونعم البدعة)بدعت دي لکن ښه بدعت دي(مصنف ابن ابي شيبه جلد.۲ص۲۹۶).

مقصد دادي چه د اټول صحابه کرام دي اوهغه صحابه دي چه په اتباع دسنتوکې ډيرشهرت هم لري لکن بيا هم دبدعت حسنه قايل دي اوخپله يې هم کوي يې اوامام شافعيؒ اوډيرنورعلماء چه دبدعت حسنه قايل دي هغه هم دغه دليل ګرځه وي اوس به داسې جرات والاڅوك وي چه صحابه وته بدعتيان ووايي [الا شرزمة قليله معهوده بسوء الادب]

## (بدعة اعتقادي اوعملي)

بيابدعت په اعتبارد اصل سره په خپل ځان کې پر۲قسمه دي يوبدعت عقيدوي دي يعني نوي عقيده جوړول اوپه عقيده کې بدعات کول لکه د اټولي ۷۲فرقي چه دي اوياپه د اعصر کې چه کومې فرقې دي د اټولي بدعتي فرقي دي لکن بدعت يې عقيدوي دي اوبل بيابدعت عملي دي يعني په اعمالو کې د اسې نوي عمل کول چه

بدعت ورسره ګډوي اوپاتــول بدعت وي کوم چه بدعة اعتقادي دي هغه ټــول حرام اوسيئه دي جايز اوحسنه پکښې نسته ځکه چه نوي عقيده ساتل اوجوړول سرترپايه حرامه ده خالص د اقدرفرق يې سته چه بعض بدعات عقيدوي کفروي اوبعض کفر نه وي لکن اشد حرام وي اينده به يې تفصيل راسي انشاء الله تعالي اوکوم چه بدعت عملي دي په هغه کي حسنه اوسيئه دواړه سته لکه څنګه چه مخکي تفصيلي بيان سو ځکه چه د اسي اعمال سته چه بدعت وي لکن واجب اومستحب وي اوثواب لري لکن ترټـولوبدبدعت هغه دعقيدي دي اوس کوم بدعت اوبدعتي چه زمونږفقهاپې ذکرکوي د هغه څخه مراد بدعة عقيدوي دي نه بدعة عملي

لکه څنګه چه امام برکليّ وايي(والبدعة في الاعتقاد هوالمتبادرة من اطلاق البدعة والمبتدع والهوي واهل الهوي فبعضهاکفروبعضهاليست به لکنهااکبرمن کل کبيرة في العمل حتي القتل والزناء ولبس فوقهاالاالکفر؛اه)طريقه محمد يه .ص۲۶) د امبارک وايي کوم چه کتابونه بدعت اومبتدع اوهوي اواهل هوي ذکرکوي مرادد هغه څخه بدعت دعقيدي دي چه بعض ددغه بدعت کفردي اوبعض نوريې بيادا سي ګناه چه ترهري ګناه بدوي حتي دمسلمان ترقتل اوزني لاهم بدوي ترهغه بيکاره ګناه ترکفرکښته نسته[طريقه محمديه ]اود اعالم (۴۵۵)کاله مخکي تيرسوي دي داوس وخت ملانه دي

اوس تاسي فيصله وکړي چه هغه جديدو فرقواوعقيدووالا هرڅوک اوپه هرنامه چه دي چه هروخت هغه زړوعقيدووالاؤته اودمذهب وخلګوته بدعتيان وايي اپااوس په غټه بدعت دوي اخته دي که مونږاودوي به بدعتيان وي که مونږ

اودغه رقم علامه محمدعلي ابن علي. التهانويّ ليکي(والمبتدع شريعة من خالف اهل السنة اعتقادا[کشاف اصطلاحات الفنون جلد۱ص۱۸۱)د اعالم وايي چه بدعتي په اصطلاح دشريعت کي هغه چاته وايي چه د اهل سنت دعقيدي څخه خلاف وي[کشاف]اودغه رقم د۴مذهبوشريک کتاب الفقه الاسلامي وادلته کي علامه زحيليّ ليکي(المبتدع وهوکل من قال قولاخالف فيه اعتقادأهل السنةوالجماعة[ الفقه الاسلامي وادلته جلد۷ص۵۵۶۱)د اعالم ليکي څوک چه د۴مذهبوخلاف عقيده لري

هغه بدعتي دي[الفقه الاسلامي]
د اهل سنت تحقیق مونږ وکړې چه اهل سنت د ۴ مذهبو والاته واي دمذهب څخه وتلي
سړي اهل سنت نه دي تفصیل بې په خپل ځاې کي بې وګورئ
اودغه رقم دشامي استاذ علامه عبد الغني نابلسيؒ لیکي(فیقال اهل البدع والمبتدعة
واهل الهوي واهل الاهواء والمراد بذالك البدعة الشرعية في الاعتقاد لاغیر؛اه[حدیقة
الندیه جلد۱ص۱۳۹)وایې چه په هرکتاب کي چه دبدعتي اومبتدعه اواهل هوي نوم
راسي مقصد د هغه څخه دعقیدې بدعتي دي چه هغه شرعي بدعتي دي نه دعمل
بدعتي[حدیقه]
اودغه رقم مولانارشید احمد ګنګوهيؒ دیوسوال په جواب کي لیکي په کوم بدعت کي
چه سخت وعید راغلي دي هغه بدعت في العقاید دي[کوکب الدري ص۲۴۷)
اودغه رقم علامه حصفکيؒ لیکي (ومبتدع اي صاحب بدعة وهي اعتقادخلاف
المعروف عن الرسول ﷺ لابمعاندة

[الدرالمختارعلي هامش رد المحتارجلد۱ص۴۱۴)
وایې چه بدعتي هغه چاته واي چه درسول ﷺ دعقیدې خلاف عقیده
لري)درمختار؛.بلکه چه ټول کتابونه دفقهي شریفي وګورې په باب الامامة کي هغه
به داخبره لیکي چه په بدعتي پسې لمونځ په جماعت باندې کول مکروه دي اوبیابې
تفسیرپه بدعت دعقیدې سره کوي لکه [فتاوي عالمګیري جلد۱ص۱۸۳) اوفتح
القدیرجلد ۱ ص۳۰۴) اوالبحرالرائق جلد ۱ص۳۵۰) دغه رقم هرکتاب دبدعت
ترمسئلي لاندې وګوره هغه به دالیکي داټول کتابونه دالیکي چه کوم عذاب
دبدعت اوبدعتي چه په حدیثوکي راغلي اوبیا بې فقهاء لیکي مراد اومقصد د هغه
بدعت اوبدعتي څخه اولاوبالذات بدعت دعقیدې دي یعني نوي عقیدو والامراددي
دعمل بدعتي نه دي مقصد
بیاداټول کتابونه د الیکي چه بدعت دعقیدې پر۲قسمه دي یود اسې بدعت دي چه
سړي په کافرکیږي هغه هلته که سړي دشریعت د هغه احکامو څخه انکاروکړي چه هغه

ښکاره اوپه تواترسره ثابت شيان وه لکه مجسمه اومشبه چه الله پاك ته جسم ثابته وي اوياد خداې پاك تشبيه ترخپلو ځانوورکوي اوواېي چه د الله پاك د اسي لاسونه دي اود اسي ېي پښې لکه زمونږد اسي عقيدې والابدعتې کافردې لکه امام زحيلي لیکي[فاذ اکان بيدعته منکر الماعلم بالتواترو الضرورة. من الشريعة فهذ اکافربدعته کالمجسمه والمشبه؛اه]

اوبل قسم بياد اسي بدعت دعقيدې دې چه سړې په کافرکيږي نه لکن فاسق اومضل جوړيږي هغه لکه د اعام بدعتيان او اهل هواچه د اهل سنت والجماعة دعقيدې څخه خلاف وي اوزمونږد مشرانوپرعقيده نوي لکه خوارج(وهابيان) يانورعقيدوي بدعتيان ]لکه څنګه چه علامه زحيلي ليکي[واماان کان المبتدع لايکفربدعته فهوضال فاسق کاهل البدع والاهواء المخالفين لاهل السنة اوسيرة السلف الصلاح في بعض مسايل الاعتقادية. اه[الفقه الاسلاميه. جلد ۷ ص ۵۵۶۲]...

**بدعت عملي:** بدعت دعمل بياپر۲قسمت دي يوبدعت حسنه دي چه هغه ښه بدعت دي اوپه سنت کي داخل دي اوثواب باندې سته لکه مخکې چه موبيان کړې چه مدرسي جوړول کتابونه جوړول دوره ېي تفسير اوحديث کول تراويح په جماعت سره کول دجمعې په ورځ۲دوه اذ انه کول مسجدته محراب ورکول پردغه ترتيب باندې قران جوړول اومجلس ميلاد مصطفيﷺمنعقده ول. اوپه معروفه طريقه بيعت کول اوشرعې عرسونه کول اوشرعې سياست کول په يوه ښارکې متعدد ځايونه عيدګاه وي اوجمعې کول مساجدوته منارې ورکول د طالبانو (څيرې)کول اويانورد اسي اعمال چه دنبي کريمﷺپه زمانه کي نه وه بيابعد کې ترنبيﷺتروفات پيد اسوله لکن دشريعت د اصولومخالف نه وي ديته په لغت کي بدعت واېي لکن په اصل کې سنت دي؛

اوبل قسم بيابدعت سيئه دي هغه بياهرهغه عمل بولې چه په دين کي وي اوپه نيت دثواب کول کيږې او دنبي کريمﷺپه زمانه کي نه وي پيد اسوې اودشريعت پراصولوهم برابر نه وي بلکه د اصولوسره ټکرلاهم وي.

(۱)لکه په اوس عصر کي دزنانوتبليغ کول چه دمستوراتوجماعت ېي بولې دابدعت سيئه دي ځکه چه زنانې د جهاد اومسجد څخه لاهم منعه دي تبليغ ته خوبيخي نه سي

وتلاې ځکه چه الله پاك د اغه رقم تقسيم کړې دې (الرجال قوامون علي النساء) الايه؛
ددغه ايت په تفسيرکې حضرت عبد الله ابن عباسؓ فرمائي چه د نارينه يوفضيلت
پرزنانويانديې د ادې چه نارينه به جهاد او امربالمعروف تبليغ کوې اوزنانه يې نه سې
کولاې اوزمونږتـول فقهاد افتوې کوې چه زنانه د جماعت دپاره مسجد ته نه سې وتلاې
زمونږدمذهب مشهور کتاب البحرالرائق کې ليکې چه په ټولوزختوکې ټولې
زنانې دلمانځه دپاره دمسجد څخه منع دې بياوايي(ومتي کره حضورهن
المسجد للصلاة فلان يکره حضورمجالس الوعظ خصوصاعند هئولاء الجهال الذين
تحلوبحلية العلماء اولي
؛اه(جلد۱ ص۳۵۸)وايې هرکله چه مسجد ته دلمانځه دپاره نه سې تللاې نومجلس
دوعظ اوتبليغ ته خوپه طريقه اولې سره وتل حرام دې خاص بيازمونږدزمانې
دجاهلانوسره چه ځانونه يې د علماؤ په جامه کې کړې دې[بحر]د اعالم ۴۶۵کاله
مخکې تېرسوې دې اود اوايې چه زمونږدزمانې جاهلانو دعلماؤپه شکل ځان کړې دې
اودزنانووتل تبليغ ته حرام دې نوزمونږد۱۵ صدې دزنانواوتبليغيانوبه څه حکم وې
چه کوڅه په کوڅه ګښتونه کوې
په دغه موضوع کې دد ارالعلوم حقانيه مشهورمفتې مولا ناسيف الله حقانې
يومستقل کتاب ليکلې دې په نامه د(کشف الغطاء عن تبليغ النساء)په دغه کتاب کې
يې ليکلې دې چه دزنانووتل تبليغ ته سخت منع دې . اود ډيروعلماؤ دکتابوحوالې يې
ليکلې دې اودعلماء ديوبندفتوې يې هم راوړې ده چه د اکارناجائزدئ
خاصکــــرد مولا نامـــحـمد يوسف کاند هلوې اومولا نامفتې محمدکفايت اللہ
اومولاناسيدعبد الشکورترمذې اومولا ناعبد القدوس رومې اونوروجيدوعلماؤ فتوې
وې يې رانقل کړې دې چه دزنانودپاره په تبليغ پسې دکورڅخه وتل حرام کاردې
اودغه رقم شيخ الحديث مولوې حبيب الله هلمندې هم يوکتاب دښځودتبليغ په
ردکې ليکلې دې چه نوم يې دې[تحقيق المحظورات في تبليغ المستورات]اوډيرښه
تحقيق يې په داغه مسئله کې کړې دې اود پاکستان او هندوستان دغټومدرسوفتوې
وې يې هم رانقل کړې دې د مروجه تبليغ په حرمت کې]اودغه رقم دپاکستان جيدعالم
مفتې رشيد احمدصاحب کراچې والا هغه ليکي چه دښځووتل تبليغ ته حرام دې

اوزیات تفصیل په دغه مسئله کې لیکې[احسن الفتاې جلد۸.ص۵۵]اوس داعمل نوې کار دې په خیرالقرون کې یې مثال نسته بلکه قران اوحدیث اوټول فقهاء یې ردکوې اوتبلیغي حضرات یې دثواب په نیت باندې کوې اوددین کاریې بولې دغه بدعت سیئه عملیه دې بلکه ډیرداسې انسانان سته چه دغه عمل ترحج اوجهادلاهم افضل بولې اودجهاد ایاتونه پرتبلیغ حمله وې اود اوایې چه په تبلیغ کې یولمونځ کول د۴۹۰۰۰۰۰۰کروړ ثواب لرې اوهغه احادیث چه امام ابود اود یې په کتاب الجهاد کې نقل کوې اوبایې امام نسائې نقل کوې بلکه په روایت دنسائې کې صریح لفظ دغزاء راغلې دې هغه یې پردانام نهاده تبلیغ باندې حمل کړې دې لکه څنګه چه دپاکستان مشهورمفتي اعظم مولانارشید احمد صاحب داحسن الفتاوې مصنف په اردوزبان یوکتاب لیکلې دې په نامه د(تبلیغي جماعت اورانچاس کروړ کاثواب)بیاد اخبره سخته ردکړې ده اودغه رقم یوبل کتاب یې لیکلې دې په نامه د(دیني جماعتې)په هغه کې څلورم۴جماعت داهل تبلیغ په نامه لیکې بیاوایې چه تبلیغیانودخپل پارټې دمفاداوغتولودپاره دالله پاك حقوق تر پښولا ندې کړې دې.اوکوم دقران ایاتونه اویااحادیث چه دمسلح جهاد په حق کې نازل سوې دې هغه پرخپل تبلیغي جماعت باندې چسپان کوې اوتبلیغ ورڅخه مراده وې چه داعیني تحریف دقران دې اوصریح کفردې[دیني جماعتې ص۵۳) اوداغه رقم خبره مفتي اعظم پاکستان حضرت مولاناتقي عثمانيؒ هم په خپل کتاب تقریرترمذي کې لیکې ده.اووایې چه دتبلیغي جماعت یوسرکرده مشراوعالم ماته خط راغلې چه په هغه خط کې یې لیکلې وه .چه په اوس عصرکې جهادکول اویادجهادطرف ته توجه کول.یادجهادخبره کول یادجهادسوچ کول یادجهادپه حق کې څه اقدام کول یولاهم جایزنه دې بلکه جهاددتبلیغ دپاره دې که تبلیغ ازادۍ بیاجهاد کول ضرردې (العیاذبالله) تقریرترمذي جلد۵.ص۱۸۳)اودغه رقم مولوې قلم الدین تبلیغي چمني یوکتاب لیکلې دې په نامه (حجة المبلغین)بیایې په هغه کې دجهاد باب لیکلې دې اوبیاوایي چه حقیقي مجاهدین اومرابطین تبلیغیان دې کوم ثوابونه چه په قران اواحادیثوکې دجهادپه حق کې راغلې هغه عیني تبلیغیان یادوې اوپه اوس عصر کې

جهاد بالسیف نسته(معاذ الله) حجة المبلغین ص۱۱۸) بلکه دعیسوي سنه په ۲۰۰۹ سنه
کې د اسلام اباد د اجتماع څخه عام د دې جماعت د مشرانو څخه علي الاعلان د ابیان
راغلې چه کوم څوك چه داوايي په جهاد بالسیف یعنې په اسلحه سره جهاد کول
او اسلام راوستل کیږي د اجهالت او ناپوهي ده(نعوذ بالله)(روزنامه مشرق
کویټه.۲۹؛۱ اپریل؛۹ ۲۰۰.بده).(او حدیث مبارك کې راځي چه اسلام د توري ترسایې لا
ندې دې) د ارقم ډیرې خبرې د دغه جماعت څخه ظاهریږي تبلیغ خو په حقیقت کې
دعلماو طریقه ده او دعلماء دیوبند مسلك دې او د حضرت مولانا زکریاؒ په کوشش روان
سوې عمل دې مولا نازکریاؒ زما په ۲ دویمه درجه کې استاذ دې ځکه چه هغه دقاطع
البدعة والپنچپیریه دافع السنة.مولا نا حمد الله جان داجویؒ استاذ دې اوزه
دداجوي مولا ناصاحب بالذات او بالواسطه شاګرد یم او مولانازکریاؒ په خپل عصر کې
مذهب او تصوف ته داسې خدمت کړې دې چه دده په مثل نور خلك ډیرکم دي
او تبلیغي جماعت د پاره یې یوډیرښه کتاب لیکلې دې فضایل اعمال لکن اوس په
هغه عمل نه کیږي او د اسې خلګ په د اجماعت کې داخل سوله چه هغه په حقیقت کې
دعلماء دیوبند مخالف دې او د مذهب او طریقت دښمنان دې او د دیوبند په جامه کې
کارکوي.مولا ناعبد الحق حقاني په خپله فتوې کې لیکي چه همیشه د دیوبند په جامه
کې خلګ وهابیت او نجدیت ته خدمت کوي او د انوم بدنامه وي(فتاوي حقانیه) (اللهم
انجیناوطهرهم من العقاید الکاسدة بحرمة سید البریهﷺ)

(۲) اوبل غټ بدعت سیئه هغه تر قبضې بالا یعنې تریوه موټ زیاته ږیره غټول دي
داهم بدعت دي او د دین او ثواب په نیت دي د احرام کاردي ځکه چه نبي کریمﷺ خپله
ږیره قبضه کوله او صحابه مبارکانو قبضه کوله بلکه علامه ابن الهمامؒ وایي چه دږیرې
قبضه کول واجب دي لکه څنګه چه یې پریښول واجب دي(فتح
القدیر جلد ۲ ص۲۷۰) یعنې دږیرې خره ول هم حرام دي او ترقبضه بالاغټول یې هم
حرام دي دغه رقم زمونږ د مذهب مشهوره فتاوي شامي کې وایي چه .ترقبضې زیاته
ږیره پریښودل او غټول د بیعقلي علامه ده(شامي جلد .۵ص۲۸۸.)..........

**لطیفه**]په تفسیر ایوبي کې یې لیکلي دي چه یو ملاژیره تر قبضه زیاته اوږده کړې وه
یوه شپه یې کتاب مطالعه کاوې په کتاب کې د امسئله راغله چه اوږده ژیره د بېعقلي
علامه ده نو دملاددې مسئلي څخه بدراغله اودځان سره یې د اخیال وکې چه دابه
درواغ وي ځکه چه زماژیره اوږده ده اوبېعقله نه یمه ځکه چه ملایمه وروسته یې
فکروواهه چه کچیرې د امسئله بل څوك ووینې نوپرمایې د احمق خیال راسي یانوراسه
چه تر قبضې بالاغچي کرمه.په د اغه شپه کې په غچې پسې وګرځېدې پید ایې نه کړه
بس څراغ ته کښېنستي او هغه تر قبضې زائدورېښتان یې دڅراغ لمبې ته ونیوله
هغو چه اور و اخېستي اولمبي دده لاس وروسوځې ده لاس ورڅخه ایسته کړې ژیره یې
پاکه وسوځله نـوبې دکـتاب خبـره زړه تـه ولـویـدلـه اووېي
منله[تفسیر ایوبي.جلد.۲.ص۲۶۶)
(۳)اوعلامه غاوجي" لیکي چه بـــل غتـه بدعت سېئه د ادئ چـــه دکفاروایاتونه
پرمسلمانانو حمل کیږي.لکه زمونږدزماني وهابیان چه هغه ایاتـــونه چه دبت
پرستانواوکافرانوپه رد کې نازل سوې دي هغه پرمسلمانانو اودمذهب پرخلګوباندې
رااړه وي اوپرمومنانویې حمل کوي د ادیرغتـه بدعت سئیه دي اود خوارجوعلامه هم
ده چه انشاء الله دخوارجوپه بیان کې به راسي

(**خلاصه** )دټـول بیان خلاصه د اده چه دکوم بدعت په حق کې چه ډیرعذابونه راغلي
دي هغه بدعت دعقیدې دي چه د اسې نوې عقیده جوړه کـــې چـــه دشریعت
د اصولو اودسلفودعقیدوسره تـکره عقیده وي لکه وهابیان پنچپیریان بریلویان
کیفتـنیان سلفیان فکریان نیچیریان ذکریان پرویزیان عثمانیان یانوري د اسې فرقې
د اټـولوفرقو والاعقیدوې بدعتیان دي اود ادسې فرقې دي چه په خیرالقرون کې
د انومان موجودهم نه وه بلکه ۱۰۰سل کاله مخکې لاهم چانه پیژندله اوچه
ترسود ابدعت دځان څخه لیرې نه کړې ترهغوپورې به ترډغه عذاب لاندې وي
اوکوم چه بدعت عملي دي نویه هغه کې حسنه اوسېئه دواړه سته چه تفصیل یې
تیرسوییاهم سیئه بدعات ټـول په دوې کې موجود دي مذهبي خلګ الحمدلله
تریوحد ه یورې پاك دي ؛الاماشذ؛

## مسئله زیارت القبور

هدیري ته تلل اوزیارت کول د اپه اجماع د امت سنت طریقه ده جناب نبي کریم ﷺ خپله زیارتونه تلي اونورخلک یې هم په زیارت کولو امرکوله زیارت د انسان زړه نرمه وي اواخرت اومرګ ور یادوي اوتردي ټولو مهمه بیاداده چې دعاوې وکړې اومړوته بخښنه وغواړي اوپردي خبره احادیث هم سته حدیث شریف کې راځي

[قال رسول الله ﷺ نهیتکم عن زیارة القبور فزروها فان في زیارتهاتذکرة[ابود اود جلد۱ ۴۶۱]رسول ﷺ وایي چه ماخوتلسي دزیارت څخه منع کړې واست لکن اوس زیارت کوې ځکه چه په زیارت سره مرګ په یادیږي[الحدیث]اوپه روایت د مسلم کې راځي۔

[عن عائشه قالت کان رسول الله ﷺ کلماکان لیلتهامن رسول الله ﷺ یخرج من اخر اللیل الی البقیع؛ الحدیث[مشکوٰت. جلد.۱. ص۱۶۹ ]د مومنانو مور فرمایي هروخت چه به رسول ﷺ زما په حجره کې شپه وه نود شپې به ووتي دشپې په اخرکې به دجنت البقیع و هدیرې ته تلي او هلته به یې مړوته دعاوې کولې[مشکوٰت]اوحدیث شریف کې راځي محبوب ﷺ فرمایي خد اې جل جلاله به په جنت کې ویوصالح بنده ته لوړې در جي ورکي هغه بنده به سوال وکي یاالله (ج) د ادې دکوم عمل په خاطرراکړې الله به ورته وواې چې ستا اولاد تاته پسله مرګه دعاوې کولي د هغه په بدل کې مې د امقام درکړې[اخرجه طبراني في الاوسط(شرح الصدور۱۲۷)

رسول ﷺ وایي زماامتیان په رحمت کې دي. ځکه چه دګناهوسره به قبرته ولاړسي اودګناهوپاك به دقبروڅخه راپورته سي نبي پاك ﷺ وویل چې دژوندو د دعاء وپه سبب به دمړو ګناهونه رژیږي[رواه طبراني في الاوسط(شرح الصدور۱۲۸)اوعلامه واقديؒ روایت نقل کوي[کان النبي ﷺ یزور الشهد اء باحدفي کل حول و اذ ابلغ الشعب رفع صوته فیقول سلام علیکم بماصبرتم فنعم عقبی الد ارثم ابوبکرؓ کل حول یفعل ذالك ثم عمربن الخطاب ثم عثمانؓ[شرح الصدورص۸۷]ایضا [عیني علی البخاري جلد۸ص۱۰۱]وایي نبي کریم ﷺ به هرکال د احد دشهید انووقبروته ورتلي اوبیاتر

رسولﷺبعد ابوبکرؓ به ورتلي بیاترهغه بعد حضرت عمرؓ ورتلي اوبیاعثمانؓ ورتلي داتهول به هرکال دشهید انوزیارتوته تلل[سیوطي]دزیارت کولوپه باب کي احادیث دیرزیات دي امام سیوطیؒ وایي[وقدنقل غیرواحد الاجماع علي ان الدعاء ینفع للمیت[شرح الصدور،ص۱۲۷]وایي په اجماع د امت د اثابته ده چه دژوندودعاء مړوته فائده رسوي]........

په اول کي د اسلام خلک دزیارت څخه منع وه.لکن بیاعامه اجازه وسوه اکثرعلماء داوایي چي زیارت لکه څنګه چي نارینه وته مستحب دي هم دغه رقم زنانو(ښځینه و)ته هم مستحب دي لکن په ستراوپرده کي( طحطاوي علي المراقي(۳۴۱)څکه چه اجازه عامه وه نارینه اوښځینه دواړوته

روایت دحاکم دي[عن عبد الله ابن ابي ملیکه ان عائشةؓ اقبلت ذات یوم من المقابر فقلت لها یاام المومنین من این اقبلت؟ قالت من قبر اخي عبد الرحمٰن ابن ابي بکرفقلت لها الیس کان رسول اللهﷺنهيٰ عن زیارت القبور؟ قالت نعم کان نهيٰ ثم امربزیارتها[مستدرك للحاکم ج۱ص۴۸۵] حضرت ابي ملیکةؓ وایي چه یوه ورځ دمومنانومور عائشه صدیقةؓ دمقبرې له طرفه راروانه وه ماپوښتنه ورځخه وکړه چه اې دمومنانومور چیرې تللي وې؟ دې مبارکي ویل دخپل ورورعبد الرحمٰنؓ قبرته تللې ومه ماورته وویل چه ایارسولﷺ دزیارت څخه منع نه وکړې؟ دې په جواب کي راته ویل چه هوپه اول داسلام کي یي منع کړې وه لکن بیایي وروسته اجازه وکړله اوامر یي وکړې چه زیارتونه کوي[مستدرك] اودغه رقم بل روایت نقل کوي[عن علي ابن الحسین عن ابیه ان فاطمة بنت النبيﷺکانت تزورقبرعمهاحمزةؓ کل جمعة فتصلي وتبکي عنده[مستدرك ج۱ ص۴۸٦]حضرت حسینؓ وایي چه دنبي پاكﷺلوربي بي فاطمةؓ هره جمعه دخپل أکاحضرت حمزةؓ وزیارت ته ورتلل هلته به یي لمونځ هم کوي اوژړل به یي هم[مستدرك]اودغه روایات امام بدرالدین عینيؒ هم ذکرکړي دي(عیني شرح بخاري جلد.۸.ص۱۰۱)بیاوایي: لکن کم چي د اوس زماني زناني دي چي په نیت دزیارت ورځي اوبیانورګناهونه اوحرام کارونه کوي اویا په لځ مخ رواني وي په دغه طریقه زیارت کول حرام دي اوخاص بیادښاروښځي څکه ددوي وتل دفتني دپاره وي (عیني)

زمونږ فقهاء وايي چه اصح قول دا دې چه نراوښځې دواړو ته زيارت کول جائز دي دغه کتابونه مطالعه کړې [والاصح ان الرخصة ثابتة لهن[رد المحتار ج۱ ص۶۶۵ فصل في زيارت القبور]ايضا جلد۲ ص۲۷۹ کتاب الحج][والاصح ان الرخصة ثابتة لهما[البحر الرائق ج۲ ص۱۹۵ باب الصلات علي الميت]لاباس بالزيارة للنساء علي الاصح[مجمع الا نهر ج۴.ص۲۲۰ کتاب الکراهية] ايضا طحطاوي علي المراقي ص۳۴۱ فصل في زيارت القبور]نور الايضاح ۸۹ فصل في زيارت القبور] عمدة القاري ج۸ ص۹۹] مرقات المفاتيح ج۴ ص۲۱۵]

خلاصه داده که چيرې زنانه دخپل قريب نارينه سره په ستراوحجاب کې دخپلو قريبانو اوپا اولياوزيارت ته ولاړې سې د اجائز(روا) کاردې اوپوازې دکوره وتل اوپا بې ستره وتل لکه د اوس زمانې اکثرزنانې د انارو ادې(والله اعلم)

## مسئله زيارت النبي ﷺ

دجناب نبينا وسيدنا وسيد المرسلين نبي کريم ﷺ زيارت کول اوپه نيت دزيارت باندې سفرکول اوپاپرځان نذرکول دا افضل د مندوباتو دې يعني په ټولوکاروخيرکې تردې ښه کارنسته بلکه پرمذهب دبعضوفقهاؤ زيارت ته د عليه الصلاة والسلام ورتلل واجب اولا زمي دي ځکه چه دعامو قبرو زيارتو ته ورتلل مستحب عمل دي نوقبردرسول پاك ﷺ خو سيد القبوردې اوپه اجماع د امت باندې ترټوله دنياء بلکه ترعرش اوکرسي لاهم هغه خاوره چه جسد مبارك دسرد ار۲ دوجهان ﷺ ورسره يوځاي دي،هغه خاوره پر افضله اوبهتره ده(وماضم اعضائه ﷺ فانه افضل مطلقاحتي من الکعبة والعرش والکرسي[ الدر المختار ج۲ ص۲۷۸)نولهذ ازيارت ته دعليه الصلات والسلام سفرکول اعظم دقرباتودې اوډير احاديث په فضيلت کې دزيارت شريف دمدينې منورې راغلي دي

مجدد الوقت علامه علي القاريؒ يومستقل کتاب پرداغه موضوع ليکې په نامه د[الدرة المضيئة في زيارت المصطفويه ﷺ]بباپه ډيرزيات تعدادسره احاديث نقل کوي اوامام سمهوديؒ يوباب ليکي (باب زيارت النبي ﷺ)بباډير احاديث سره دتوثيق

په دا باب کې ذکرکوې چه بعض يې دادي[عن عبد الله ابن عمرؓ قال قال رسول الله ﷺ من زار قبري وجبت له شفاعتي]حضرت عبد الله ابن عمرؓ نقل کوي چه رسول پاك ﷺ وايي څوك چه زما دقبر زيارت وکړي هغه ته په ورځ دقيامت زماشفاعت واجب دي[وفاء الوفاء باخبارد ار المصطفي ج۴ص۱۶۸][کنز العمال .جلد ۵ص۵۲]ايضا [مجموعة الرسائل جلد۴ص۱۷] ايضا[اعلاء السنن جلد۷ص۳۶۰۳وقال فالحديث حسن صحيح]سبحان الله څومره غټه زيرې اوخوشبختي ده چه دسرد ار المرسلين ﷺ شفاعة د مسلمان له پاره په يو وار زيارت کولو سره واجب سي نورلاامتيان څه غواړې(اللهم ارزقنازيارت حبيبك في الدنيا وارزقنا شفاعته في الاخرة(امين ولمن قال به؛امين)

اوپه بل حديث شريف کې راځي[عن ابن عمرؓ قال قال رسول الله ﷺ من حج فزارقبري بعدوفاتي کان کمن زارني في حياتي]جناب رسول پاك ﷺ فرمايي چه څوك حج وکړي اوبيازمازيارت وکړي ورسته تر وفات زما داداسې دي لکه په ژوندکې چه څوك زمازيارت وکړي[وفاء الوفاء ص۱۷۱ ]ايضا[کنز العمال جلد ۵ ص۵۲]ايضا[مجموعة الرسائل جلد۴ص۱۹][ايضا[اعلاء السنن جلد۷ص۳۶۱۰وقال فالحديث حسن جيد الاسناد ]ياداسې مسلمان به هم وي چه هغه د ځان له پاره د سيد الانبياء ﷺ ملا قات نه خوښه وي سبحان الله زمونږ اوس هم دا ايمان دي چه مونږ دنبي کريم ﷺ ملا قات ته ورځو نه وقبرته تر داغه حديث لاندې علامه ظفر احمدعثمانيؒ ليکي[ورحم الله طائفة قد اغمضت عيونهاعن کل ذالك وانکرت مشروعية زيارت قبرهذا النبي الکريم ﷺ وحرمه عن مثل هذا الفضل العظيم وزعمت ان لاينوي الزائر الامسجد النبي ﷺ ولم تدران افضليت المسجد انماهي لاجل برکت النبي ﷺ فجواز نيت المسجد يستدعي نيت الزيارته ﷺ بالاولي؛اه]وايې خد اې دې رحم وکړي هغه ډلې چه سترگې پټې کړې دي ددغه احاد يثوڅخه او د داسې معظم نبي دزيارت کولو څخه انکارکوي اوله دې لوې فضل څخه محروم سوي دې اودا وايې چه دزيارت په نيت مه ځې بلکه دمسجدنبوي نيت وکړې په دې نه پوهيږې چه مسجدنبوي چه کوم

فضلیت لري هغه هم دزیارت په برکت لري نو چه دمسجد نبت جائزدي دزیارت نبت خوپه طریقه بې اولي سره جائزدي[اعلاء السنن ص۳۶۱۱] دالکه زمونږ دزماني بعض تبلیغیان چه ځانوته دسنت عاشقان وايي لکن خدمت وهابیانوته کوي اودرسول ﷺ سره دښمني کوي چه کله حاجیان مبارکان مدینې منورې ته ځي هلته دوي ولاړوي او ورته وايي چه دزیارت نبت مه کوي بلکه دمسجدنبوي نبت وکړي(اللهم اهدیهم).

اود اغه ابن عمرؓ بل روایت نقل کوي[عن ابن عمرؓ قال قال رسول الله ﷺ من حج البیت ولم یزرني فقد جفاني]رسول پاك ﷺ وايي که چاحج دبیت الله شریفې وکړي اوزیارت یې نه وکړي دا امتي زماسره جفاء وکړله[وفاء الوفاء ص۱۷۲]ایضا[کنز العمال جلد۵ص۵۳]ایضا[اعلاء السنن جلد۷ص۳۶۰۷]

دغه ټول احادیث صحیح دي اوپه کثرت دطرقوذکردي نوروهم ډېروکتابوذکرکړي دي اواستدلال یې په کړي دي ملاعلي القاريؒ اوعلامه سمهوديؒ اوعلامه عثمانيؒ یې دراویانوښه توثیق هم کړي دي[فطالع کتبهم]اوس زمونږپه علاقوکې د اسې خلګ هم سته چه حج ته ولاړسي اوزیارت ته نسي ولاړ اوبیا افتخاراً لاهم داوايي چه مازیارت نه دي کړي ایاددغه به څه حکم وي ؟ ایاهغه امتي چه درسول ﷺ سره جفاء کوي هغه څوك به هم دشفاعت امیدلري؟کلاوحاشا الف مرة:

نوله دي احادیثوڅخه ښکاره سوه چه دسید الرسول ﷺ زیارت کول امتي مستحق دشفاعت جوړوي اوعینا داسې دي لکه په ژوندکې چه درسول الله ﷺ سره ملاقات وکړي اودزیارت نه کونکې جفاکاره امتي دي په داباب کې زیات احادیث کتابونه راوړي لکن داغه پوره کفایت کوي؛

[**حکایت**]دادود بن ابي صالحؒ وايي: چه مروان باچاپوه ورځ روضې مطهرې ته راغلې که ګورې چه یوسړي پر قبر مبارك دعلیه السلام خپل مخ ایښې دي اوژاړي(دغه سړي نودرسول ﷺ صحابي مبارك حضرت ابوایوب انصاريؓ و)مروان باچاترغاړې ونیوې وېل ته خبر یې داته څه چم کوي چه پرقبرمخ مږې ؟ صحابي مبارك مخ پر راوګرځوي اومروان ته یې وېل[نعم اني لم ات الحجر انماجئت رسول الله ﷺ]وېل هو زه دقبرډبروته نه یم راغلې بلکه زه نبي کریم ﷺ ته راغلې یمه اومادرسول ﷺ څخه

اوریدلي دي چه تاسي پردبن مه ژاړي چه ترڅودبن دخپلوخلګوپه لاس کي وي لکن هغه وخت بیاپردبن ژاړي چه دبن دنااهلانوپه لاس ورسي[اعلاء السنن ج۷ص۳۶۱۶]نوصحابه کرام به روضي ته په دانیت ورتلله چه مونږ عبنا درسول ﷺسره ملاقات کوؤ؛

اواجماع دامت پرداخبره ده چه زیارت دمدبني منورې سنت دي[واماالاجماع فقال قاضي عیاضؒ زیارة قبره ﷺسنة بین المسلمین مجمع علیها وفضیلة مرغب فیها[وفاء الوفاء.ج ۴ص۱۸۶] اوداغه اجماع علامه عثماني هم نقل کړي ده[اعلاء السنن ج۷ص۳۶۲۰]اوملاعلي القاريؒ هم ذکرکړي ده[مجموعة الرسائل جلد۴ص۲۳]اودغه اجماع موسوعة الفقهیه هم نقل کړي ده[الموسوعة ج۲۴ص۸۴]اوموسوعة کي بیالیکي[اجمعت الامة الاسلامیه سلفاوخلفا علي مشروعیة زیارة النبي ﷺ[الموسوعة جلد۲۴ص۸۳]...

اوزمونږداحنافوفقهاؤ(کثرهم الله)پرمـذهب زیارت دنبي کریم ﷺتر تهولودخیرتر کارو افضل بلـکـه دواجبو درجي ته قریب دي اوبعضي فقهاء یي عیني واجب بولي[والحنفیه قالوا ان زیارت قبرالنبي ﷺمن افضل المندوبات بل تقرب من درجة الواجبات[وفاء الوفاء ص۱۸۹] ایضافي الفتح[زیارت قبرالنبي ﷺقال مشائخناً من افضل المندوبات وفي مناسك الفارسي وشرح المختار انهاقریبة من الوجوب لمن له سعة[فتح القدیرج۲ص۹۴]وزیارت قبره ﷺمندوبةبل قیل واجبة لمن له سعة[الدر المختارج۲ص۲۷۹] ایضاتحته في الرد[کذاذکره في شرح اللباب وقال کمابینته في الدرة المضیة وذکره الخیرالرملي والفتح وشرح المختار[ص۲۷۹]ایضا في الموسوعة[وقالت طائفة من المحققین هي سنت مؤکدة تقرب من درجت الواجبات وهوالمفتي به عند طائفة من الحنفیة[الموسوعة ج۲۴ص۸۳]نو اکثرمحققین فقهاء داوایي که چاوس اوطاقت درلودي زیارت شریف کول ورباندي واجب دي[ایضا؛مجمع

الانهر، جلد ۱، ص۴۶۲] ایضا[الدرر المنتقی ص۴۶۳]
اومسلمان به دسفر کولوپه وخت کې اولانیت دزیارت شریف کوي[ونقل شیخ الحنفیة الکمال ابن الهمام عن مشائخهم ان ینوي مع زیارت القبرزیارت المسجد الشریف ثم قال الاولي عنده تجرید النیة لزیارت قبره ﷺ]وایې چه ابن الهمام ؒ له خپلو احنافو مشائخوقول نقل کوي چه دزیارت سره دې دمسجدنبوي نیت هم وکړې لکن ابن الهمام الحنفي وایې چه اولي اوبهتره داده چه خالص نیت دروضې شریفې وکړې دمسجد نیت نه وکړې[وفاء الوفاء ج۴ص۲۰۶]اوعلامه شامي ؒ هم دغه قول د ابن الهمام نقل کوې بیالیکي[ونقل الرحمتي عن العارف ملاجامي انه افرز الزیارت عن الحج حتي لایکون له مقصد غیرها في سفره]وایې علامه جامي ؒ وایې چه افضل داده چه زیارت دحج څخه جلاوسي ځکه چه زیارت په خالص نیت وسي بل مقصد نه وي په سفرباندې له زیارته څخه[رد المحتارج۲ص۲۷۹]اوخپله علامه سمهودي ؒ وایې[ومنها اخلاص النیة وخلوص الطویة فانما الاعمال بالنیات فینوي التقرب الي الله تعالي بزیارت رسول الله ﷺ[وفاء الوفاء ص۲۰۵]وایې دزیارت شریف یو ادب دادې چه خالص دروضې شریفې په نیت سفروکړه[سمهودي]
اوصحابه کرامو هم دزیارت په نیت سفرونه کول[عن عمربن الخطاب ؓ :انه لماصالح اهل بیت المقدس وقدم علیه کعب الاحبارو اسلم وفرح باسلامه قال له هل لك ان تسیر معي الي المدینه وتزورقبر النبي ﷺ وتمتع بزیارته فقال نعم یاامیر المومنین انا افعل ذالك ولماقدم عمر ؓ کان اول مابدأ بالمسجد وسلم علي رسول الله ﷺ]وایې:کله چه حضرت عمر ؓ دبیت المقدس صلح وکړله هلته حضرت کعب الاحبار ؓ هم اسلام راوړې بیاحضرت عمر ؓ وکعب ؓ ته وویل چه زماسره مدینه منورې ته ولاړسه درسول الله ﷺ زیارت به وکړې اوپه زیارت باندې به ځان ته فائده حاصله کړې حضرت کعب ؓ ورته وایې صحیح ده چه کله مدینې شریفې ته راغله نو اول قبر اطهرته درسول ﷺ ورغله اوسلام یې وکړې[اعلاء السنن ج۷ص۱۶۳۶] اودغه رقم[عن عمربن عبد العزیزانه کان یبرد البرید من الشام یقول سلم لي علي رسول الله ﷺ] د اسلام سترخلیفه عمربن عبد العزیزبه هرکال دشام څخه یوډاکې استوې مدینې منورې ته ددې له پاره چه

زماسلام دنبي كريمﷺروضې ته ورسوه[اعلاء السنن ص۳۶۱۵]علامه عثمانيؒ واېي[فثبت بفعله جواز شد الرحال لذالك]واېي دعمر ابن عبد العزيزؒ په فعل سره په نيت دزيارت سفركول ثابت سوله[اعلاء السنن]داغه علامه عثمانيؒ زيات دلائل پرجواز د شد الرحال ذكركوي او اجماع هم پرنقل كوي چه مطالعه يې ضروري ده[اعلاء السنن ج۷]اوعلامه سبكي الشافعيؒ يوباب ليكي[الباب الثالث في ماوردفي السفر الي زيارتهﷺصريحاوبيان ان ذالك لم يزل قديماوحديثا[شفاء السقام في زيارت خير الانامﷺص۱۸۴]واېي باب دي په دامسئله كې چه په هره زمانه كې مسلمانانو زيارت ته سفركړي دي بياتر ۱۰۰ زياتي صفحې په داغه موضوع كې بحث كوي

اوعلامه سمهوديؒ يوعنوان ليكي[الفصل الثاني........ومشروعية شد الرحال اليه وصحت نذر زيارته والاستئجارللسلام عليه]واېي دافصل په دې كې دي چه شد الرحال شرعي عمل دي اودزيارت نذركول صحيح دي اوزيارت ته دسلام له پاره خلګ استول صحيح دي[وفاء الوفاء ص۱۷۷]همدارنګه په شفاء كې قاض عياضؒ هم يوباب باندي ليكي[الشفاء بتعريف حقوق المصطفي جلد۲ص۸۷]اوشاه انور شاه كشميريؒ واېي[فان الا ف الاوف من السلف كانوا يشدون رحالهم لزيارت النبيﷺويزعمونهامن اعظم القربات وتجريد نياتهم انهاكانت للمسجد دون الروضة المباركه باطل بل كانوينوون زيارت قبر النبيﷺقطعا[فيض الباري جلد۲ص۵۸۸]شاه صاحب واېي زمونږ په سلفوكې په لكهاو مسلمانان دزيارت دنبي كريمﷺدپاره سفرونه كړي دي اوډيرغټ ثواب يې ګڼي اوڅوك چه داواېي چه دادمسجد په نيت تلل داخبره باطله ده بلكه خالص دزيارت په نيت به تلله[فيض الباري]همدارنګه وكيل علماء ديوبند مولاناخليل احمدسهارنپوريؒ ليكي[عندناوعندمشائخنازيارت قبرسيد المرسلينﷺ(روحي فداه)من اعظم القربات واهم المثوبات وانجح لنيل الدرجات بل قريبة من الواجبات وان كان حصوله بشد الرحال وبذل المهج والاموال؛اه ]واېي زمونږ اوزمونږدمشائخوپه نيز زيارت دنبي كريمﷺدغټودرجونږديكت اوډيرزيات ثواب اودرجوترلاسه كولو سبب دي بلكه قريب وواجبوته دي بياليكي چه خالص په نيت دزيارت به ځي بياپروهابيه ؤ رد هم كوي[المهندعلي المفندص۲۸]

دادتـول علماء دیوبند دعقائدو اجماعي کتاب چه د(عقائد علماء دیوبند)په نامه مشهوره دې د هردیوبندي له پاره یې پېد اکول لازمي دي

اودغه رقم امام بدر الدین عیني اومام ابن الحجر العسقلاني دامسئله ښه تفصلي ذکرکوي[عمدة القاري جلد٧ص٣٦٩][فتح الباري جلد٢ص٦٦۴]بیاد اتـول کتابونه دامسئله په دلا ثلوثابتوي مسئله دشد الرحال دلته وګوري معارف السنن للبنوري جلد٣ص٣٣٠تفصیلا][مرقات المفاتیح جلد٢ص٣٧١[المهند علي المفند ص٢٨[طحطاوي علي المراقي ص٣٩٩]

ایضا[حاشیه بخاري جلد١ص١٥٨]ایضا[عرف الشذي جلد١ص٨٢] ][اعلاء السنن جلد٦ص٢٦٦٣]الموسوعة الفقهیه جلد٢۴ص٨٣]الشفاء بتعریف حقوق المصطفي جلد٢ص٨٧[رد المحتار جلد٢ص٢٧٩]فتاوي حقانیه، جلد۴.ص٢٨٦]دزیات تفصیل له پاره[،شفاء السقام دعلامه سبکي ]چه تـول په داغه موضوع کې لیکل سوې دې او[العقیدة وعلم الکلام ص٣٥٠]دعلامه الدنیا وکیل الاسلام محمدزاهد الکوثري مطالعه کړې

درسول پاکﷺدزیارت څخه په دنیاء کې دابن تیمیه حراني اودهغه دعقیدوي بچیانوڅخه غیر هیڅ چا هم انکار نه دي کړي،حتې چه دسعودي نجدیانو انسانان تـول چه څوك به زیارت ته تللي وه اوزنانه به یې راګرځولي اوچه څوك به زیارت ته تلل هغه یې مشرکان بلل [خذلهم الله بحرمته ﷺکماخذل][الدرة السنیه للشیخ الدحلان ٦٥]اوابن تیمیه هغه څوك وچه کله مړسو بیاهوعالم یې قبرلخ کړې چه څه حال یې دي چه ویې کتل یولوې غټه بدرنګه ماریې پریدن راګرځیدلي ؤ اوخوړې یې بیابه هغه عالم همیشه خلګ دده دعقیدې څخه کتل[العقیده للکوثریص٣٦٦]اللهم قبنامن عقیدته

[حکایت]مشهوربزرګ ملاحسن دتلوکان یووخت حج ته په پښوباندې ولاړې بیایې زیارت شریف هم وکړې چه کله بیرته خپل وطن قند هار ته راستون سو دڅان سره یې فکرسو چه کچېرې په ورځ دقیامت رسول پاك ﷺاته وویل چه ته خود حج دپاره

راغلي بيادي زمازيارت وكړي شخصي زمادزيارت په نيت ولي نه راتلي نوبه څه جواب وركوم بيرته يې اراده سوه چه خالص دروضي مطهري په نيت به سعودي ته ځم ترڅپل درباريوري راغلي ملاقات يې وكړي واپس سعودي ته په پښوباندې ولاړي اوزيارت يې وكړي د اسې عاشقان هم سته[شرح نور الايضاح للايوبيؒ جلد ۳]

**[عشق بازي جان ځدازي هركسي راكار نيست ☆انكه او رادردنيست لا ئق ديدار نيست]**

اللهم ارزقنازيارته ﷺ مرة بعدمرة وكرة بعدكرة؛ اللهم ارزقنا من زيارة نبيك الكريم ﷺ مارزقت اوليائك واهل طاعتك۔ وحرمناعلي النار۔ ووقانامن العذاب وسوء الحساب۔ واجعلنامن محبيه ﷺ ومحبي محبيه ﷺ ببركته ﷺ؛ امين

## مسئله طريقه دزيارت كولو

طريقه دزيارت كولو د اسې ده چه كله زيارت ته ورسي اول به سلام ووايي حضرت بريدة وايي رسول ﷺ چه به كله هديري ته ورغلي د اسې سلام به يې وايي(السلام علي اهل الديارمن المسلمين وانا ان شاء الله بكم لاحقون نسأل الله لناولكم العافية(رواه الامام ابوحنيفةؒ في مسنده ۱۰۶)نو أول به د ادعاوكړي بيابه قبرته مخامخ ودريږي يعني قبلي ته به شاوګرځوي اوقبر ته به مخ كي لكه په ژوندكي چي به يې ملا قات سره كوي روايت د مشكوٰة كي راځي[عن ابن عباسؓ قال مر النبي ﷺ بقبور المدينة فاقبل عليهم بوجهه فقال السلام عليكم يااهل القبور يغفرالله لناولكم انتم سلفناونحن بالاثر[مشكواةجلد۱ص۱۶۸باب زيارة القبور]حضرت ابن عباسؓ وايي چه نبي كريم ﷺ د مديني منوري د هديري سره روان ؤو مخ مبارك يې قبروته وګرځوي بيايې دعاء وكړله[ابن عباسؓ]علامه قاريؒ تردغه حديث لا ندې ليكي[وفيه دلالة علي ان المستحب في حال السلام علي الميت ان يكون وجهه لوجه الميت وان يستمركذالك في الدعاء ايضا وعليه عمل عامة المسلمين[مرقاةج۴ص۲۱۸] علامه قاريؒ وايي چه د احديث دليل ددي خبري دي چه مستحب په حال دسلام اودعاء كي د ادي چه مخ دي دقبروطرف ته وي اودغه رقم معمول د مسلمانانو هم دي[علي القاريؒ]

اوزمونږ امام صاحبؒ روايت نقل كوي[قال من السنة ان تأتي قبر النبي ﷺ من قبل القبلة

وبجعل ظهرك الي القبلة وتستقبل القبربوجهك ـ ثم تقول السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته [مسند الامامؒ ص ۱۲۶ ] امام صاحب مبارك وايي: چه د حضرت عمرؓ ځوي حضرت عبدالله ؓ ويل چې دزيارت سنت طريقه داده چې دقبلې دطرفه درسول ﷺ وقبرته ورسي اوخپله شاه قبلې ته وګرځوي اومخ وقبرشريف ته کړي بيادعاء اوسلام وکړي [مسند الامام ۱۲۶ ) نوزمونږ مذهب دادي چې هرقبرته ورسي دابه دي طريقه وي لکه څنګه چې زمونږ د مذهب جيد فقيه ابن الهمامؒ هم دغه طريقه دزيارت ذکرکوي اوښه تفصيل کوي بياوايي [وماعن ابي الليث انه يستقبل القبله مردود بماروي ابوحنيفه في مسنده عن ابن عمر من السنة ان تأتي قبرالنبي ﷺ من قبل القبلة وتجعل ظهرك الي القبلة ؛اه[فتح القديرج ۳ص ۹۵ کتاب الحج] ابن الهمامؒ وايي اوکومه طريقه چې ابو الليثؒ ذکرکړيده چه مخ به قبلې ته کوي هغه قول يې مردود ـ دي ځکه چه امام صاحب مبارکؒ خپله د ابن عمرؓ اثرذکرکړي دي چه مخ قبرته کوه اوشاه قبلې ته کوه [فتح القدير] ايضا [وفاء الوفاء جلد ۴ص ۱۸۵ ] ايضا [الطحطاوي علي المراقي ص ۳۴۱ ] ايضا [مرقات المفاتيح جلد ۴ص ۲۱۹ ] ايضا [رد المحتارج ۱ ص ۶۶۵ ] ايضا [فتاوي عزيزي جلد ۱ ص ۱۷۶ ]

اوزنانه (ښځينه) چې کله زيارت ته ورسي که چېرې په هديره کې نورقبرونه هم وه ددې دقربيانوڅخه غير بيابه په پټـه مخ زيارت کوي اوکه يواځې خپل قربيان يې وه بياپه ښکاره مخ هم جواز لري حديث شريف کې راځي [وعن عائشةؓ قالت کنت ادخل بيتي الذي فيه رسول الله ﷺ واني واضع ثوبي واقول انماهوزوجي وابي فلمادفن عمرؓ معهم فوالله مادخلته الاوانامشدودة علي ثيابي حياء من عمر [مشکواة المصابيح ج ۱ص ۱۶۹ باب زيارت القبور]

دمومنانومور عائشه صديقةؓ وايي چې کله رسول ﷺ اوزما پلار ابوبکرؓ يواځې په حجره شريفه کې پراته وه اوقبرونه يې وه نوزه به په ښکاره مخ زيارت ته ورتللمه أوچې کله بيا عمرؓ يې ورسره پټـه کړي بيابه په پټـه مخ ورتللم د حضرت عمرؓ، څخه به حياء راتلل [رواه احمد ]؛؛ بياورسته ترسلام که د چا سورت يس شريف ايزده وو هغه دي ووايي اوکه نه وو بيادي ۱۱ واره سورت اخلاص شريف ووايي اوتـولي هديرې ته دي ثواب وربخښي

حضرت عليؓ روايت نقل کوي [چې رسول ﷺ وايي که چاپه هديره کې ۱۱ ځلې سورت الاخلاص(قل هو الله شريفه)ووايي او ثواب يې وټولې هديرې ته ورو بخښي الله پاك به ده ته د دغه مړو په اندازه ثواب ورکې [شرح الصدور) او حضرت انسؓ روايت نقل کوي چه جناب نبي کريم ﷺ فرمايي که څوك په هديره کې (سورت يٰسين شريف) ووايي الله تعالى به د دغه هديرې څخه عذاب پورته کړي او ورځ ټولو ته به هم دقبرو په اندازه ثوابونه ورکړي[شرح الصدور ص۱۳۰]بيا دې خپله دعاګاني وکړي که ملګرې په جمعوارې سره دې دعاء وکړي أومستحب طريقه داده چه دعاء به په ولاړې کوي[طحطاوي ص۳۴۱]ايضا[شامي جلد۱ص۶۶۵]

حکايت]زما په سعودي کښي دلامذ هبوو هابيانو جاسوسانو سره پردغـــه مسئله خبره راغله چه دوي هلته په جنت البقيع کښي مسلمانان دقرات څخه منعه کول اود هندوستان يو حاجي يې دسورت اخلاص دتلاوت څخه منعه کړې وېل د ابدعت دې ځکه چې رسول ﷺ په هديره کې سورت اخلاص نه دې ويلې ؛ نوما دخپل ايماني جذبې په خاطر اود مذهب د حقانيت په خاطر مې ورته وويل چه نه بلکه سورت اخلاص ويل په هديره کې سنت دې په قولي حديث ثابت دې ،هغه بې مذهبه راته ويل ايا رسول ﷺ په هديره کې سورت اخلاص ويلي دې ؟ماورته ويل چه ايا رسول ﷺ په خپله اذان کړي دې ؟ده په جواب کې ويل چه ياذان يې نه دې کړي لکن امريې په کړي دې ؛نوماورته ويل چه په سورت اخلاص خويي هم امرکړي دې ؛هغه ويل چه داروايت چېرې دې ،چونکه مونږ خو همېشه د اسلحي سره ګرځونو زماسره کتاب راسره و هغه کتاب مې ورښکاره کړي .؛عامو خلکو چه کله د احالت وليدې نو ټـول نعرې شروع کړې پردوې باندې د اخبره ډېره درنه سوه ځکه چې خلګوته وشرمېد له نويې زه روان کړمه وېل زمونږ سره به د امربالمنکر دفترته ځې ،هلته بياد پربحث وسو

اوهلته يې بياپر امارت اسلامي افغانستان نيوکې شروع کړې؛ بالاخره هلته يې ماته يوکتاب راکړې چه اوس زماسره موجود دې په هغه کتاب کې يې ليکلي دې چه صحابي جليل حضرت عبد الله ابن عمرؓ دټـولو احاديثو اوصحابه کرامو مخالفت کړې دې چه په هديره کې به يې قرات دقران کوي(العياذ بالله)د ابه يې اخري جواب و چه کله به پر روايت جرحه نه اوددوي د طبيعت به خلاف و بيابه يې د اوېل چې د اصحابي

دلیل نه دي ؛لکه څنګه چه مودجبل نورپه واقعه کښې تېرکړل۔نوماورته وېل چه صحابه دلیل نه دې ته اوالباني بباچادلیل کړاست ؛ په دغه واقعوکې زمونږګران دوست حاجي حبیب خان هم راسره ؤ؛ دغه دوهابیانوحال دي چه نعرې وهي چه دبخاري حدیث منو لکن چه حدیث ورښکاره ېې کړې بیاوائي دادلیل نه دي(مشت نمونه یې خروار است)تعصب ضرب تعصب؛حاصل ضلالت)

**دزیارت وخت؛** زیارت کول هروخت صحیح دي لکن علامه شاميؒ وایي چه دجمعې مبارکې په ورځ اوشپه بیاډیرثواب لري[شامي جلد۱ص۶۶۵]اوحدیث شریف کې راغلي[من زارقبرابویه اواحدهما في کل جمعة غفرله وکتب برا [مشکواة.۱۶۹ ]رسولﷺ وایي که چادموراوپلارزیارت دجمعې په ورځ وکړې الله تعالی به بخښنه۔ورته وکړې اوپه نیکانوکې به یې نویشته کړې

**مکروهات؛** پرقبر به نه خیږې اونه به پرکښېني اونه به اودس پرکوې اونه به پرقبرطوافونه کوې اونه به قبرونه مچوې اونه به قبرته مخامخ لمونځ کوې داټول کارونه ناروادي[طحطاوي.۳۴۲)

اوکه چیرې دلمانځه په وخت کې قبرمخ ته نه راتلي اویا په هدیره کې دلمانځه دپاره جلاځایې ؤبیالمونځ کول پرواه نه لري صحیح دي بلکه داولیاؤ کراموپه زیارتوکې بیاافضل دي په نیت دبرکت حاصلولو[طحطاوي صفحه۱۹۶)عمدة القاري جلد۸ص۱۹۶] ایضا[شامي جلد۱ص۴۸۴مطلب في احکام المسجد]

**(اګاهي)**[قال ابن حجرفي فتاویه ولا تترك لمایحصل عندهامن منکرات ومفاسد کاختلاط الرجال بالنساء وغیرذ الك لان القربات لاتترك لمثل ذ الك بل علي الا نسان فعلهاوانکارالبدع بل وازالتها ان امکن[شامي جلد۱ص ۶۶۵ ]مشهورمحقق علامه شاميؒ وایي چه که بالفرض په زیارتوکې دشریعت خلاف کارونه کیدله لکه مثلا نراوښځې ګډوډ وه۔یانورمنکرات وه ددغه منکرپه خاطربه انسان زیارت نه پریږدي بلکه خپل زیارت دي وکړې که یې داکاربند وایې سولایې بنددې کړې که نه یې سواې بندولایې په زړه کې دې یې بدبولې ځکه چه دعوارضوپه خاطراصل نه ردیږي[شامي]

(**پادونه**) د اخو دعام زيارت طريقه وه لكن د اولياؤ كرامو زيارت بيا پوځه زيادت لري ځكه چه د اولياو.دزيارتوځخه فيوضات.اوبركات حاصيليږي.شاه عبد العزيزد هلويؔ يې د اسې طريقه ښايي[واگرقبربزرگے از اولياء وصلحاء باشدروي- روئ بسوئ سينه ان بزرگ كرده بنشيد،وبست ويك بار،۲۱ ـبچهارضرب(سبوح قدوس ربنا ورب الملئكة، والروح)گويدوسورة انا انزلناه سه باربخواندودل راازخطرات خلاص كرده مقابل سينه ان بزرگ اردوبركات روح دردل اين زيارت كننده خواهندرسيد[فتاوي عزيزي ج۱ص۱۷۶]شاه صاحب مبارك وايي كه چيري ديوصالح اوبزرگ ولي زيارت ته ورغلي د هغه ولي الله دسيني(ځيگر)پربرابر به كيني اوزړه به د نوروطرفوځخه راوگرځوي دقبرطرفته به متوجه سي بيابه ـ۲۱ـواره داكلمي ووايي په ځلورضربه سره يعني يوواربه د ـسبوح ـكلمه ووايه پرزړه به ضرب وركړي بيابه دـقدوس ـكلمه په داغه رقم ووايي بيابه دربناكلمه ووايي بيابه درب الملئكة والروح ـكلمه ووايي بيابه داغه سي په اخلاص باندي۳واري انــــا انزلناه ووايي ښايي چه دقبردخاوندفيوضات دي تاته درورسيږي[شاه صاحب]

## (مسئله) دمړه وسرته كلمه شريفه ليكل

دمړه سره په قبركي تبركات ايښودل مثلادتصوفوشجره يا د اولياء الله جامي يادكعبي شريفي پوښونه يانوردبركت شيان ايښول جائزاومستحب عمل دي حديث شريف كي راغلي[عن ام عطيةؓ قالت دخل علينارسول اللهﷺونحن نغسل ابنته فقال اغسلنها...الي ان قال .. فاذافرغتن فأذنني ـفلمافرغنا أذناه فالقي الينا حقوه فقال اشعرنها اياه؛ الحديث[مشكواة جلد۱ص۱۵۷باب غسل الميت ]أم عطيه صحابيةؓ وايي .چي كله درسولﷺلوربي بي وفات سوله أومونږ غسل وركوي رسولﷺدغسل طريقه راوښودل اوبيايي راته وويل چي كله تاسي دغسل ځخه فارغه سي ماته خبرراكړي .نوچي كله مونږفارغه سولو ده مباركﷺته موخبرورکړي نوده مباركﷺ خپل

لنګ(تهبند) را واستوې وېل د اپه کفن کې ورکښېږدې(مشکواة)ترد غه حدېث لاندې علي القاري الحنفيؒ لېکي چې د ادبرکت د پاره وُ(مرقاة المفاتېح جلد۴ص۱۰۳)اود غه رقم شېخ عبد الحق محدث د هلويؒ ترد غه حدېث لا ندې وايي [ودر اېنجا استحباب تبرك است بلباس صالحېن و اثار اېشان بعد ازموت درقبر؛اه]شېخ وايي:د دې حدېث څخه د اثابته سوه چې په قبر کې دمړه سره دصالحېنو انسانانوجامې او اثار اېښودل مستحب دي (اشعة اللمعاة شرح مشکواة جلد۱ص۷۱۶)اوشاه عبد العزېزمحدث دهلويؒ وايي [شجره درقبرنهادن معمول بزرګان است لېکن اېن رادوطرېق است حتي که مېګوېد طرېق دوم اېنست که جانب سر مرده اندرون قبر طاقچه بګزارندودر ان کاغذشجره رانهند[فتاوي عزېزي ج۱ص۱۷۴]وايي په قبر کې دمرده سره د اولېاء شجره اېښول د ادبزرګانوددېن ېوښه طرېقه ده خولکن په کفن کې دې نه اېږدي څکه چې خرابېږي په قبر کې دې دمرده سرته جلاځای ورجوړکي هلته دې کښېږدي(فتاوي عزېزي)اودغه رقم پرډبره یاکاغذکلمه شرېفه لېکل اودمرده سرته اېښودل ښه کار دی زمونږدمذهب فتاوي الدرالمختارکي لېکي چې دېومرده سرته په قبرکې (بسم الله الرحمن الرحېم ) لېکل سوي وه بیاېوولي الله دغه مړي په خوب ولېدي پوښتنه يې څېنې وکړه چه څه حال دئ-ده ورته و يل چې کله ملائکه(علېهم السلام) راغلي اودابسم الله يې ولېدله نـــوېې راته ووېل چې دعذابه څخه خلاص سوې (ردالمحتارجلد۱ص۶۶۸قبېل بـــاب الشهـــېد)اېــضا [الفتاوي التاتارخانېه جلد۳ص۷۱]اېضا[الفتاوي البزازېه علي هامش العالمګېرېه جلد۶ص۳۷۹]اوتردې لا ندې بیاعلامه شاميؒ ښه تحقېق لېکي اوکلمه طېبه هم راوړي اودا خبره په نورو کتابوهم ثابتوي لکن د او ايي چې پر کفن دې نه لېکې څکه چې امکان د خرابېدلوسته[شامي] نودغه طرېقه يې ښه ده چې سرته يې کښېږدي اودمړه دبخښې يوسبب دې نوربخښونکې خو الله تعالي جل جلاله دی(و الله اعلم)

## (تحقیق مسئله تقلید)

چونکه د تقلید مسئله ډېره ښکاره مسئله ده چه انکارور څخه کول د غیـر مجتهدلپاره دبد هیـاتو څخه انکاردئ اود حماقت ښکاره دلیـل دئ اوپه دغه مسئله کي د اوس عصر ممتازوعلماؤ په هره ژبه کښي ښه تصنیـفونه هم کړي دي نولهذ ازه په د امسئله کښي ډېر بحث نه کومه اوپه اخیر کي دعلماؤ له پاره خاص په عربي زبان کي یو څه عبارات جمعه کومه؛

**سوال** ؛په دین اسلام کښي دتقلید څه حیثیت دئ اوپه څلورومذ هبوکښي دیوه مذ هب څخه بل ته نقل کېدل جائزدي که یا؟

الجواب؛رب سلم ؛یا د غیر مجتهد له پاره دمذ هب څخه وتل نه دي جائز بلکه دیومعین مذ هب تقلید کول لازم دي

اوعلامه شامي وائي چه(۸۰۰کاله مخکښي د اجتهاد دروازه بنده سوې ده یعني که څه هم د مجتهد امکان سته لکن پید اسوي نه دئ؛

اوس پرد اموضوع باندي مختصردلائل سره دحوالوپېش کومه

فقد قال الله تبارك وتعاليٰ (واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقوا) ایت نمر 103 ال عمران ترجمه(اوتاسي لاسونه تـهینګ ونیسي په رسې دخد اې پاك تـوله اومه سره جلاکېږۍ)

حضرت عبد الله ابن مسعودؓ وایي چه مراد درسې څخه د مسلمانان جماعت دئ یعني دلوې جماعت تابع اوسې(قرطبي)

وعن ابن عمرؓ قال قال رسول الله ﷺ ان الله لا یجتمع امتي علي ضلالة وید الله علي الجماعة ومن شذ شذ في النار (رواه الترمذي)

رسول پاكﷺ فرمائي چه الله پاك زماامت پرګمراهي نه سره جمعه کوي اود الله پاك نظر اورحمت پرجماعت باندي دئ اوکوم بنده چه یوائې سي یعني د مسلمانانود جماعت څخه لیري سي هغه به یوائې جهنم ته د اخلیږي]

وعنه قال قال رسول الله ﷺ اتبعوا السواد الاعظم فانه من شذ شذ في النار رواه ابن ماجه]اود اغه رقم درسولﷺ فرمان دئ چه دسواد اعظم تابعد اري وکړي ځکه چه څوك یوائې سي هغه به یوائې جهنم ته د اخیلیږي؛

قال الملا علي القاري (یعبر به عن الجماعة الکثیرة والمراد ما علیه اکثرالمسلمین

(مرقات)ملاعلي القاري وائي چه مراددجماعة څخه هغه مذهب دئ چه ډېر مسلمانان باندي جمعه سوي وي]
اود اکثرومسلمانانو اتفاق پرتقليد باندي دئ اوتقليد دمسلمانانويو اجماعي اولازمي امر دئ
لکه څنګه چه علامه صفدر اوکاړوي ليکي چه په ۱۹۱۱ سـ عيسوي کښي دمسلمانانوسرکاري مردم شماري وسوله په هغه کي دڅلورومذهبودمقليدين تعداد۴۸کروړه او۳۰لاکه څخه زائد ؤ اود څلورومذهبوڅخه زائد خلګ يعني شيعه ګان وغيره ؤ تعداد۳۷لاکه ؤ اوغير مقلدين پـه دغـه وخت کي نوم لاهم نه ؤ موجود؛انسائکلوفيډيا اف اسلام (تجليات صفدر جلد ۳ ص۳۸۶)
له دې څخه دامعلومه سوله چه په دنياکښي مقلدين تر غير مقلدينوزياده دي نولهذا دغير مقلدينو څخه ځان ساتل واجب دي؛
تقليد په لغت کښي پيروۍ ته وائي؛اوپه لغت کښي تقليد، اواتباع، اطاعت،اواقتداء نوروله په يوه معنی دي؛
اودتقليد معنی ده قلاده يعنی رسۍ ،رسۍ چه کله د انسان وغاړۍ ته واچوۍ هار اواميل ورته وايي؛ اوچه کله يې بيادحيوان وغاړۍ ته واچوۍ بيا پړۍ ورته وايي نوموني چونکه انسانان يونوځکه د هار او اميل معنی ورڅخه اخلو اوحيوان طبيعته دي درسۍ اوپړۍ معنی ورڅخه اخلي؛
اودغه رقم د امـــام شافعيؒ دقبر سرته دده تاريخ ليکل سوي و(الا نتقاء لابن عبد البرّص۱۶۱) دقبرسرته خط ليکل ياجنډې درول ددې دپاره وې چي قبر نښاني سي خلګوته او معلوم سي ورك نه سي نوپه دې کې څه بدي نسته ځکه حديث کې راغلي دي چي رسول ﷺ خپله ده حضرت عثمان بن مظعونؓ دقبروسرته ډبره ودره وله اوبيايې ووېل چي زه په دې ډبره دده قبرمعلومه وم اوپېژنم يې(ابود اود. جلد.۲.ص۴۵۷)لکن دقران پاك اياتونه او احاديث اونورې مبارکې کلماتې ليکل دد اسې قبروسرته چي حفاظت يې نه کيږي د اناجائزاوناروا دي اوکه بيا چيرې قبرپه محفوظ ځاي کې وي بياجائز دي لکن بلاضرورته ښه کارنه دي ؛والله اعلم؛

## مسئله ﴿عرس اوليا ء﴾

عرسونه کول يعني هرکال د اولياء اللّٰه ؤدمرګ ورځ لمانځل اوخيراتونه کول جلسې اومحفلونه جوړول نعت خواني اوتقريرونه کول يادقران پاك ختمونه کول اودصاحب قبرروح ته وريخښل يانورشرعي کارونه کول د متاخرينوفقهاؤپه نزد جائزاومستحب دي اوکوم چي دشريعت څخه خلاف اعمال دي لکه ډولونه وهل زنانه حاضرول يانورحرام افعال لکه دپنجاب دبريلويانوبعض کارونه هــروخت پـــه هـــرځـــاځ کـــې ناجائزاوبد دي که په عرس کې موجودوي هـــغه عرس بيانا جائزدي اودميلو اوعرسو ترمنيان فرق نه کول هم جهالت دئ

لکه څنګه چه سید الطائفه حضرت حاجي امداد الله مهاجرمکيؒ چه دعلماء دیوبندؒ شیخ اومرشد دئ هغه په خپل کتاب کې یوباب دعرس په مسئله کې لیکې بیافرمائي (تیسرامسئله عرس وسماع کالفظ عرس ماخوذاس حدیث سے ہے نم کنومت العروس[یعنی بنده صالح سے کهاجاتاہے که عروس کیطرح ارام کرکیونکه موت مقبولان الهی کے حق میں وصال محبوب حقیقی ہے اس سے بڑھ کرکون عروسی ہوگی چونکه ایصال ثواب بروح اموات مستحسن ہے خصوصاجن بزرگوں سے فیوضات وبرکات حاصل ہوئے ہیں ان کازیاده حق ہے ادهر اپنے پیربهایوں سے ملناموجب ازدیادمحبت وتزاید برکات ہے.اورنیزطالب علموں کایه فایده ہے که پیرکی تلاش میں مشقت نهیں هوتی ..مقصودایجادرسم عرس یه تهاکه سب سلسله کے لوگ ایک تاریخ میں جمع ہوجا ئیں باهم ملاقات بهی ہوجائیں اورصاحب قبر کی روح کوقران وطعام کاثواب بهی پهنچاجاویں یه مصلحت ہے تعین یوم میں رهاخاص یوم وفات کومقررکرنااسمیں اسرارمخفیه ہے انکااظهارضرورنهیں]الخ؛کلیات امدادیه صفحه ۸۲]

مفهوم سید الطایفةؒ وايې چه عرس د احادیثو څخه اخیستل سوې نوم دې اوپه عرس کې داولیاو روحانوته ثوابونه بخښل کیږي اوفیوضات اوبرکات ورڅخه حاصلیږي اودنوروسالکانو اومرید انوسره ملاقات کیږي چه هغه سبب دزیاتوالي دمحبت دې اودخپل مرشدسره بلا تکلیفه ملاقات کیږي داټول ښه کارونه دي اودعرس مقصد هم دغه دي چه ټول مریدان په یووخت کې جمع سي ملا قات يې هم وسي اوذکراواذکار هم وسي صدقه هم وسي بیایې صاحب دقبرته ثوابونه وبخښل سي اوتعین دورزې هم په دغه وجه کیږي [کلیات]

اودغه رقم شاه عبد العزیزمحدث دهلويؒ .په خپله فتاوې کې دیوسوال په جواب کې لیکې[لوروزعرس برائے بیادهانیدن وقت دعابرائے میت اگرباشدمضایقه ندارد؛الخ]خپلو مړوته ددعاکولو او ایصال ثواب دپاره عرس جوړول جایز دي[فتاوې عزیزي جلد .۱.ص۸۹]

اودغه رقم مولانا عبد الحي لکهنويؒ په خپل کتاب مجموعة الفتاوي کې دیوسوال په جواب کې لیکې[سوال مقررکردن روزعرس بعدسال درست است یانه؟ جواب درتفسیرمظهري غیرجایزنوشته وشیخ عبدالحق محدث دهلوي ازشیخ خودنقل مي سازندکه فرمودایں عرس درزمان سلف

نبودانرمستحسنات متاخرین است کمافي ماثبت بالسنت وشاه عبدالعزیزمحدث دهلوي دربعض مکاتب خودتحریرمیفرمایند وتعیین روزعرس برای انست که ان روز مذکر انتقال ایشان میباشدازدارالعمل بدارالثواب والاهرروزکه این عمل واقع شودموجب فلاح ونجات است؛الخ]مفهوم؛.علامه لکهنويؒ فرماي چه قاضي ثناء اللهؒ عرس غیرجایز بولي .لکن شیخ عبد الحق محدث د هلويؒ وایي چه متاخرینوفقهاوعرس ایجادکړي دي اوښه یې بللي دي اوشاه عبدالعزیزد هلويؒ وایي چه په یومعلومه ورزعرس کول د دي دپاره وي چه د اورځ دد غه ولي الله دمرګ ورځ وي اونورعرس کول خوهروخت سبب دکامیابي اونجات دي بیاداعرس لره په احادیثوکي اصل نقل کوي[مجموعة الفتاوي جلد(١ )صفحه ١٩٦ ) اودغه قول دشیخ عبد الحق محدث د هلويؒ دده په خپل کتاب [ماثبت با السنة في ایام السنةصفحه،٦٨_ ]اودغه قـــول بقیة العلماء الراسخین حافظ الحدیث علامه غازي محمدکمال القادري هم نقل کړي دي؛جامع الکمالات العلمیه_ص٣٥٣] اودغه رقم وکیل احناف شیخ ابوالعدل المیوندي هـــم نـــقل کـــري دي (جـــامع الرسائل ص٢٢٥]

له دي عباراتوڅخه د اثابته سوله چه عرسونه کول اوپه معلوم وخت کي کول چه پرشرعي افعالومشتمل وي جائز اومستحب کاردي اوسبب دکامیابي دي

اوکه څوک د اسوال وکړي چه بعض دیو بندیانوعرسونه ناجایزبللي دي؟

نوجواب یې د ادي چه هغه مبارکان خپل د هندوستان عرسونه یادوي چه په هغه کي به دشریعت خلاف اعمال کیدله. زمونږ استاذ زینة الخلف قامع الوهابیة مولاناحمد الله جان الد اجويږ[بارك الله في عمره ونفعنا الله من علمه]هغه مبارك څخه چه به چاد اسي پوښتنه وکړله نوده مبارك به په جواب کي ورته ویله چه د اهندیه مسئله ده.یعني دامسئله د هندوستان علماؤدخپل وطن موافق کړي دي چونکه په هندوستان کي به په میلادواوعرسوکي دشریعت خلاف کارونه کیده له نوڅکه هغوعلماؤدخپل علاقي مطابق دنه جوازفتوي ورکوله. اوزمونږپه علاقوکي عرسونه اومیلادونه دشریعت په حدودوکي داخل وي نوڅکه مونږدجوازفتوي ورکؤ اوخپله یې هم داغه عمل کوي اوپه کوموعلاقوکي چه دشرعي خلاف عرسونه لمانځل کیږي هغه مونږ هم ناجایزبولو

او یقینت العلماء الراسخین حضرت مولانا مفتي محمد فرید" به هم د بعضو مسایلو په جواب کې د اوېله چه د اهندیه مسئله ده[والله اعلم بالصواب]

## مسئله ﴿پرقبروباندې شنختې [لبنتې] درول﴾

د مړوپرقبروشناختې درول سنت کاردې اود صحابه کرامو" معمول دې امام بخارې" باب لیکې [باب الجرید علې القبر]بیاتردغه باب لاندې اثراوحدیث نقل کوي[واوصي بریدة الاسلمي ان یجعل فـي قبره جـریدتان قال حدثنایحیٰ قال حدثناابومعاویه عن الاعمش عن مجاهدعن طاؤس عن ابن عباس" قـال مرالنبي ﷺ بقبرین یعذبان فقال انهمالیعذبان ومایعذبان في کبیر اماا حدهمافکان لا یستترمن البول واماالاٰخرفکان یمشي بالنمیمة ثم اخذجـریدة رطبة شقهابنصفین ثم غرزفي کل قبرواحدة فقالوایارسول الله لم صنعت هذا ؟ فـقـال لعـلــه ان یخـفـف عنهمامالم ییسا(بخارې.جلد.١ص١٨١کتاب الجنائز]امام بخارې لیکې چه صحابي جلیل حضرت بریـده اسـلمي" پـه خپل ژوندکې وصیت وکـړیٔ چـه زمـاپرقبرباندې شنختې[لوندبوټـې]ودروې بیاحدیث نقل کوي حضرت عبد الله بن عباس" فرمایي چه رسول ﷺ د داسي قبروسره تیرې دې چه عذاب پکښې شروع ؤ اورسول ﷺ ته یې حالت کشف سو بیارسول ﷺ ووېله چه د دغوقبروخاوند انوته عذاب ورکول کیږې .ځکه چه د یوقبرو الاد کښني بولو څخه ځان نه ساتي او هغه بل بیاد مسلمانانو په میان کې چغلگرې[شیطانت]کـوله بیارسول ﷺ یـوه لنده لښته د خـرماء راواخیستله .اوپرمایین یې کاټـه [پرې]کړله بیایې نیمه حصه پریوه قبرودروله اونیمې یې دبل قبرسرته جگه کړه له صحابه کرامو" پوښتنه ورڅخه وکړله چه د ادې څه وکړله یارسول الله رسول ﷺ په جواب کې ورته ووېله چه امید سته چه ترڅوپورې د ابوټـې شین وې ددغه قبروو الاڅخه عذاب پورته کوې(بخارې]

او دغه رقم په بل روایت د ابن حبان کې راځي حضرت ابوهریره" فرمایي[فقال ائتوني بجریدتین فجعل احداهماعندرأسه والا خـري عندرجلیه (صحیح ابـن حبان جلد٣ص١٠٧]ابوهریرة وایي چـه رسول ﷺ امروکړیٔ چـه ماته دوې٢لبنتې

دخرمااوړې بيايې يوه لښته دقبرسرته جګه کړه له اوبله يې دمړي دپښوطرف ته جګه کړه له[ابن حبان]او امام بدرالدين عينيؒ ليکي[فيه دليل علي استحباب تلاوت الکتاب العزيزعلي القبور لا نه اذ اکان يرجي عن الميت التخفيف بتسبيح الشجر فتلاوة القران العظيم أعظم رجاء وبركة[عمدة القاري جلد۳ص۱۷٦کتاب الوضوء]وايي.په داحديث کي دليل ددي خبرې دي چه قبروته دقران پاك ويل مستحب عمل دي ځکه چه کله ددرختي په ثناء سره دقبرعذاب پورته کيږي نوپه تلاوت دقران سره خوبطريق الاولي پورته کيږي[عيني]اوبياليکي[منهاهل للجريدمعني يخصه في الغرزعلي القبرلتخفيف العذاب ؟ الجواب:انه لا لمعني يخصه بل المقصود أن يکون مافيه رطوبة من اي شجرکان[صفحه مذکوره]

**سوال**.خاص دخرمالښته عذاب دقبرپورته کوي.که هره لښته ؟

**جواب**:خاص خرمايه بوټــي کي داخاص نه ده بلکه هره لنده لښته چه وي عذاب په پورته کيږي]اوبياليکي[ومنها انهﷺعلل غرزهماعلي القبربأمرمعين من العذاب ونحن لانعلم ذالك مطلقا ؟ الجواب : انه لا يلزم من کوننالا نعلم ايعذب ام لا ان نترك ذالك الاتري أناندعو اللميت بالرحمة ولانعلم انه يرحم أم لا[ص مذکوره]وايي که څوك سوال وکړي چه رسولﷺخوپه عذاب علم درلودي ځکه يې د البنتي جګي کړه لي اوموږخوپه عذاب نه يوخبرنوڅنګه يې جګي کړو ؛ جواب يې داذي چه دعذاب خبرېدل يې نه دي شرط لکه موږمسلمانان مړوته درحمت دعاوي کوؤکه څه هم علم نه لروچه رحمت به پرکيږي که نه[عيني]

اودغه رقم دغه اقوال امام ابن حجرعسقلانيؒ هم ذکرکړي دي[فتح الباري جلد۱ص۷۵۰.کتاب الجنائز]اودغه رقم زموږدمذهب محقق عالم علامه شاميؒ ليکي[تتمه يکره ايضاقطعا لنبات الرطب والحشيش من المقبره دون اليابس وعلله في الامدادبانه مادام رطبايسبح الله تعالي فيونس الميت وتنزل بذکره الرحمة (اه) أقول

ودلیله ماوردفي الحدیث من وضعه علیه الصلاة والسلام الجریدة الخضراء بعدشقهانصفین علي القبرین اللذین یعذبان وتعلیله بالتخفیف عنهمابرکة تسبیحهماویوخذمن ذالك ومن الحدیث ندب وضع ذالك للاتباع ویقیس علیه ما اعتیدفي زماننامن وضع اغصان الأس ونحوه وصرح بذالك جماعة من الشافعیه وهذاأولي مماقاله بعض المالکیة من ان تخفیف عن القبرین انماحصل ببرکة یده الشریفه ﷺ.أودعائه ﷺلهمافلایقاس علیه غیره وقد ذکر البخاري في صحیحه أن بریدة بن الحصیبؓ أوصي بان یجعل في قبره جریدتان.والله تعالي اعلم(رد المحتار جلد ١ ص٦٦٨قبیل باب الشهید ]علامه شامي وایي چه دقبروځخه شنه وابنه شکول مکروه دي .ځکه چه ترڅود او ابنه شنه وي ذکرکوي اوپرقبروالادده په برکت رحمتونه نازلیږي اودلیل یي هغه حدیث دي چه رسول ﷺدقبرسرته لبنتي جگي کړه لي اودغه رقم مستحب دي چه دقبرسرته لبنتي ودریږي دعلیه السلام داتباع په خاطر زمونږ په زمانه کي چه کومي لبنتي دبانس وغیره دقبروسرته جگیږي داهم پردغه وښو اوحدیث باندي قیاس دي اوکومه خبره چه بعض مذهبیان د امام مالكؒ کړې ده چه داخصوصیة درسولﷺوؤ بل شي نه پرقیاسیږي داخبره صحیح.نه ده ځکه چه حضرت بریدةؓ وصیت وکي چه زماپرقبرهم شنختي جگي کړي(شامي]

یعني که چیري دادرسولﷺخصوصیة واي .نوداصحابي مبارك به دشنختویه درلوووصیت نه کولاي]اودغه رقم امام طحطاويؒ لیکي[وقد افتي بعض الأیمةمن متأخري اصحابنابأن مااعتید من وضع الریحان والجرید سنة لهذ الحدیث(طحطاوي جلد١ ص ٣٤٣فصل في زیارت القبور]وایي زمونږبعـــض متأخرینو امامانود افتوي ورکړي ده.چه په کوموعلاقوکي چه دارواج دي چه پرقبروباندي گلان اولبنتي ایږدي داسنت کاردي ؛طحطاوي]اوعلامه ظفراحمدعثمانيؒ باب لیکي[باب استحباب غرزالجریدة الرطبة علي القبر[اعلاء السنن.جلد.٦.ص٢٦٦٩]

ـــ]مطلب دادي چه هرلوندشي مړي ته فایده ورسوي که گلان وي اوکه اوبه وي اوکه نوربوټي وي نوپرقبرایښودل یې مستحب دي اودقبروځخه شکول یې مکروه دي]اودغه کتابونه هم داغه مسئله لیکلي ده مطالعه یي کړي

(الفقه الاسلامي و ادلته جلد (٢) صفحه(١٥٥٩) فيض الباري علي صحيح البخاري جلد (٢) صفحه (٤٨٩) ايضا. شرح صحيح البخاري. لابن بطال؛ جلد. ٣ ص ٣٤٦ باب الجريده] البنايه شرح الهد ايه. جلد. ٣ ص ٣٠٥، قبيل باب الشهيد] ايضا؛ البحر الرائق شرح كنز الدقائق. جلد. ٢ ص ١٩٦ قبيل باب الشهيد]
ايضا؛ تفسير روح البيان؛ جلد. ٥. ص ١٩٤ سورت الاسراء]
ايضا: اضواء البيان في ايضاح القران. جلد. ٨. ص ٧ سورت الغافر]

## مسئله ﴿پرقبرگونبدي جو ړول﴾

داولياء كــرامــو او علماء عظامــو پرقبروباندي ګنبدي جوړول جائزاورواء دي اوغيرد اولياؤ څخه پرنوروعامو قبروباندي جوړول مکروه دي.

زمونږد مذهب مشهورعالم اومجدد ملاعلي القاري الحنفيؒ ليكلي دي [وقد اباح السلف البناء علي قبر المشايخ و العلـماء المشهورين ليزورهـم الناس ويستريحوا بالجلوس فيه (مرقات المفاتيح جلد ۴ ص ١٥٦ باب دفن الميت] وايي زمونږدسلفويه نيز د دمشهورو اولياؤ اوعلماؤ پرقبروګنبدي جوړول جائز اوښه كاردي ددې لپاره چې كوم خلك چې زيارت كوي اوپادلته كښيني په استراحت اوهوساء به وي(مرقات)

اودغه رقم امام بدرالدين عينيؒ ليكي[وهي الاشارة الي ان ضرب الفسطاط ان كان لغرض صحيح كالتسترمن الشمس مثلاللاحياء لالاظلال الميت فقط جاز اه(عمدة القاري جلد٨ ص٢٦٥ باب الجريدعلي القبر] امام عينيؒ وايي چه پرقبرباندي خيمه درول كه دسم صحيح مقصد دپاره وه لكه دزائرينودلمرڅخه دساتني له پاره نه د مړه له پاره د اباجائزده(عيني] اوامام طحطاوي ليكي[ولايرفع عليه بناء وقيل لاباس به وهوالمختار(طحطاوي علي المراقي ص٣٣٥ فصل في حملهاودفنها)وايي مختارقول دادي چه ګونبدي جوړول جائزدي(ط]اودغه رقم علامه نابلسيؒ چه دعلامه شامي استاذدي هغه ليكي[وذكرفي جامع الفتاوي ان البناء علي القبرلايكره اذاكان الميت من المشائخ والعلماء والسادات(كشف النورعن اصحاب القبور، ص٦]وايي كه چيري دقبرخاوند يوولي الله ؤ اويا عالم دين ؤ اويا سيد ؤ بيا ګونبده پرجوړول

جائزدي(نابلسيؒ] اودغه رقم علامه اسماعيل حقيؒ ليکي [فبناء القباب علي قبور العلماء والاولياء والصلحاء ووضع الستوروالعمائم والثياب علي قبورهم امرجائزاذاكان القصد بذالك التعظيم في اعين العامة حتي لايحتقرواصاحب هذ االقبر(اه؛تفسيرروح البيان .جلد.٣ص١٠٥سوره التوبه ايه ١٨]علامه حقيؒ دامام نابلسيؒ څخه نقل کوي چه د اولياؤاوعلماؤپرقبروباندي ګونبدي جوړول اوپاپوښونه پراچول ددي لپاره چه خلګ دعزت په نظرورته وګوري د اجائزاوروا عمل دي اودغه رقم د اولياؤپرقبروباندي څراغان لګول جائزعمل دي(روح البيان]اودغه خبره چه د اولياؤ پرقبروباندي ګونبدي جوړول اوپوښونه اچول اوڅراغان لګول روادي علامه نابلسيؒ دوه٢ ځايه کړي ده په خپلوکتابوکي يوپه[الحديقة النديه.جلد٢ص٦٣٠]اوبل ځاي په کشف النور ص١۴]

اودغه رقم علامه شاميؒ ليکي[ولکن نحن نقول الأن اذ اقصدبه التعظيم في اعين العامه حتي لايحتقرصاحب القبرولجلب الخشوع والادب للغافلين الزائرين فهوجائزلان الاعمال بالنيات اه[رد المحتارجلد٥ص٢٥٦کتاب الحضروالاباحة]علامه شامي وايي چه بعض علماء پرقبروباندي پوښونه اچول مکروه بولي لکن مونږ وايوچه که په د نيت باندي پرقبرپوښونه واچوي چه د اقبروالاعزت مند انسان دي چه زائرين يي بي ادبي ونکړي جائزدي ځکه چه اعمال ترنيت پوري تعلق لري(شامي]اودغه علامه شامي بل ځاي ليکي[وقيل لايکره البناء اذ اكان الميت من المشائخ والعلماء والسادات[رد المحتارجلد١ص٦٦٢]شاميؒ وايي چه دمشائخو اوعلماؤ اوسيد انومبارکانو پرقبروګونبدي جوړول جائزدي(شامي] اودغه خبره چه پرقبرود اولياؤپوښونه اچول جائزدي علامه عبد القادر الرافعيؒ هم ليکلي ده[تقريرات الرافعي علي الرد المحتار.ص١٢٣]اودغه رقم علامه شاميؒ په فتاوي تنقيح حامديه کي هم ليکي چه د اولياؤ پرقبروباندي پوښونه اچول د ادب په خاطرجائزدي [فتاوي تنقيح الحامديه جلد ٢ص٣٥٧]

اوامام بدرالدين عينيؒ ليکي[وضرب عمرؓ علي قبرزينب بنت جحشؓ وضرب محمدبن الحنفيةؓ علي قبرابن عباسؓ[عيني شرح بخاري جلد٨ص١٩٥ ]علامه عيني وايي چه

حضرت عمرؓ دبي بي زينب بنت جحشؓ پرقبرباندي کوتـه [خونه]جوړه کړه له اودغه رقم دحضرت عليؓ زوي حضرت محمدبن الحنفيةؓ دحضرت عباسؓ پرقبرباندي کوتـه جوړه کړه له[عيني]اودغه دحضرت عثمانؓ.پرقبرباندي هم گونبده وه امام ابن کثيرليکي[وقدبني عليه في زمن بني اميه قبة عظيمة وهي باقية الي اليوم[البدايه والنهايه جلد.۷.ص۳۴۴]ابن کثيرؒوايي دبني اميه په حکومت کي دحضرت عثمانؓ پرقبرباندي غټـه گونبده جوړه کړه له چه ترنن زماني پوري هم موجوده ده]

**يادونه]**دعلامه عينيؒ اودامام ابن کثيرؒ دعباراتوڅخه دامعلومه سوله چه دحضرت عباسؓ اوحضرت عثمانؓ.اونوروهشرانوصحابه کرامو پرقبروباندي گونبدي جوړي وي بلکه ابن کثيرؒ وايي چه زماپه وخت کي هم دعثمانؓ پرقبرسته لکن متأسفانه چه اوس نه دعثمانؓ پرقبرسته اونه ده عباسؓ پرقبر دائکه چه کله پرسعودي باندي په ۱۲۳۲ کي دوهابيان دمقتداء محمدبن عبدالوهاب نجدي ظالم حکومت راغلي اوبيشماره مسلمانان يي په شهادت ورسوله په دغه وخت کي يي دغه گونبدي دصحابه کرامودقبروڅخه ونړه ولي اوهغه مبارک ځايونه چه سرد اري دوجهانﷺبه نالستي پرکولي اوبابه به يي غزاوي پرکولي هغه مقامونه يي بندکړل اوبايي مرداري اوبه پکښي جاري کړي اوديهوديانو هغه دکلوکلوارمانونه يي ورپوره کړه له اودغه رقم زموږپه زمانه کي په ۱۴۳۵ کي پرعربوملکونوباندي عيني هغه مرحله بيارا اوگرځيدله اودمحمدبن عبدالوهاب نجدي بچيانو داسلام په جامه کي په شام کي دحضرت يونس عليه السلام اوبي بي زينبةؓ بنت عليؓ اونوروصحابه کرامو اومشهورو اوليااوزيارتونه په ډيره بي رحمي سره ونړوله اودمومنانوزړونه يي سخت وردوله بلکه ماته خپله په مدينه منوره کي په جنت البقيع کي يوبي مذهبه عرب ملا چي ځان يي تر هرچانبه مسلمان هم بولي وروضي مبارکي ته يي اشاره وکړل اوقسم يي واخيستي چه ددغي روضي نړول اول واجب دي په اسلام کښي(العياذ بالله [اللهم اجعلنامن محبي انبيائك واوليائك ولاتجعلنااعداءً لهم ولشعائرهم اللهم احفظهم من ايدي الظالمين واخذل اعدائهم بحرمة سيد المرسلينﷺ.]

خــلاصه دمسئلې داده چه داولياء كرامو اوعلماؤعظامو اوسپد انو مباركانو ادب او احترام كول په ژوند اوپسله مرګه لازمي امردې اوبې ادبې يې ګناه اوسبب دناکامې ده نـــوپـــه داخـــاطـــرزمـــونــږفقهاء مباركان وايې چه داولياؤ اوعلماؤ دقبرو اودعامو مسلمانانودقبرودي څه نه څه فرق وسې ددې دپاره چه زائرين خلګ پوه سې چه داقبرو الاديوغټه شان والاانسان دې چه بې ادبي ورڅخه ونه سي بلكه په ښه عزت اوادب اواحترام اواستراحت باندي زيارت وكړي اوبل داولياو وقبروته خودېرانسانان ورځي دزيارت دپاره نودزائرينود استراحت په خاطربايد چه پرزيارت باندي ديوګونبدي انتظام وي چه زائرين دګرمې اويخ څخه پكښني محفوظ وي [والله اعلم بالصواب]

## مسئله ﴿خوردې خوړل﴾

دانبياؤ يااولياؤ ياعلماؤياشهد اؤ دقـــبروڅخه يادنوروښو اومباركـــوځايو څخه لكه حرمين شريفين دبركت اوشفاپه نيت خاوره يامالګه يابل شې راوړل په كوركي ايښودل اويا په اوبوكي اچول اوبياهغه اوبه څيښل اوياپرمريض پاشل جائز(اوروا)كاردې اودصحابه كرامو اوزمونږدسلفوعلماؤ طريقه وه خونيت به داكوي چي جوړه وي مي خداې تعالي(جل جلاله)اودابي خالص يو سبب اوذريعه ده(علامه سمهوديؒ عنوان ليكيؒ[الفصل السادس في الاستشفاء بترابها وماجاء ان في ترابهاشفاء]بياترد افصل لاندي روايت ذكركوي[وروي ابن زباله ويحي بن حسن بن الجعفر العلوي وابن نجاركلاهمامن طريقه (ان النبيﷺاتي بالحارث فاذاهم روبي فقال مالكم يابني الحارث روبي ؟ قالو اصابتنايارسول الله هذه الحمي قال فاين انتم عن صعيب ؟قالوا يارسول الله مانصنع به ؟ قال تأخذون من ترابه فتجعلونه في ماء ثم يتفل عليه احدكم(الحديث )[وفاء الوفاء باخباردار المصطفي جلد١ص٦٠] ]علامه سمهوديّ روايت نقل كوي وايي چه رسول ﷺدبني الحارث قبيلي ته راغلې هغه تـولوددماغ ناجوړي پيد اكړې وه رسول ﷺورته وويله چه داولي ؟هغوې ورته وويله چه داتبي اودسردرد په تكليف كړي يو نو رسول ﷺورته وويل چي صعيب دشپلې خاوره

راوړي اوپه اوبوکي واچوي او پرمريض يې وپاشي تاسي به جوړ سې( چي داصعيب يوه شېله وه په مدينه منوره کي )کله چي صحابه ؤداعمل وکړې نوجوړسول[وفاء الوفاء]اوبياعلامه سمهودي ليکي[وهذه الحفرة موجودة اليوم مشهورة سلفاعن خلف يأخذ الناس منهاوينقلونه للتداوي الي ان قال ثم يجمع بين الشرب والغسل منه[صفحه مذكوره]وايي داشېله دصعيب اوس هم موجوده ده دسلفواوخلفوا پراتفاق دي اوخلک ورځي خاوري يې دتداوي لپاره راوړي بياوايي چه په دغه اوبو دي غسل هم وکړي اوودي يې ځينبني هم[وفاء الوفاء]افسوس چه اوس دوهابية په خاطر هغه شيله هم ورکه سوله )

اودغه رقم امام بخاريؒ روايت ذكركوي[حدثنامالك بن اسماعيل قال حدثنااسرائل عن عثمان بن عبد الله بن موهب قال ارسلني اهلي الي ام سلمة بقدح من ماء وقبض اسرأيل ثلاث اصابع من قصه فيه شعرمن شعر النبيﷺوكان اذااصاب الانسان عين اوشئ بعث اليها مخضبه فاطلعت في الجلجل فرايت شعرات حمر[بخاري جلد.٢.ص٨٧٥كتاب اللباس]عثمٰن بن عبد اللهؒ فرمايي چه دمومنانومورېي بي ام سلمۃؓ سره درسولﷺدڅيري وربښته پروت وؤچه کله به په صحابه وؤکي يوڅوك مريض سونود ام سلمۃؓ كورته به يې لوښې وروړې هغې به اوبه پکښي واچولې بيابه مريض ته ورکړې[بخاري]امام بدر الدين عينيؒ ليکي[وكان الناس عند مرضهم يتبركون بهاويستشفون من بركتهاوياخذون من شعره ويجعلون في قدح من الماء فيشربون الماء الذي فيه الشعرفيحصل لهم الشفاء[عمدة القاري جلد.٢٢ص٧٦كتاب اللباس]

علامه عيني وايي چه کله به صحابه مريضان سوله نوددغه وربښته په برکت به يې شفاء حاصلوله اودغه وربښته به يې په اوبوکي واچوې بيابه يې هغه اوبه دشفاء دپاره ځينبلې اودوي ته به شفاء هم حاصليدله[عيني]اودغه قول امام ابن حجرعسقلاني هم کړې دی[فتح الباري جلد.٧.ص٨٥كتاب اللباس]اودغه رقم روايت دمشكوٰة كي راځي[وعن ام سليم ان النبيﷺكان ياتيهافيقيل عند هافتبسط نطعافيقيل عليه وكان كثيرالعرق فكانت تجمع عرقه في الطيب فقال النبيﷺيا ام سليم ما هذا؟قالت عرقك نجعله في طيبناوهومن اطيب الطيب(وفي رواية)قالت نرجوبركته لصبياننا قال اصبت(متفق عليه[مشكوٰت]دحضرت انسؓ مورېي بي ام سليمؓ وايي چه رسول

الله ﷺ زمونږ کور ته د ګرمي د خوب د پاره راغلي چه کله بیده سو ډیري خولي یې ترتندې مبارك رابهېدلي مابه یې هغه مبارکې خولي د بدن په پولوښې کې سره جمعه کولي رسول ﷺ راوېښ سو وېل دا څه کوې یاام سلیم؟ماورته وېله چه ستادبدن خولي په عطروګډه ومه ځکه چه ستاخولي ترعطروښه بوې کوې اوپه یوبل روایت کې راځي ام سلیم ورته وایي چه یارسول الله ستاخولي دبرکت د پاره جمعه کومه اوبیایې ماشومانوته ورکومه رسول ﷺ ورته وایې چه ښه کارکوې یا ام سلیم[مشکوات]

اوپه داغه صفحه کې بل روایت ذکرکوي[عن اسماء بنت ابي بکر انهااخرجت جبة طيالسية كسروانية لهالبنة ديباج وفرجيهامكفوفين بالديباج وقالت هذه جبة رسول الله ﷺ كانت عندعائشه فلماقبضت قبضتها وكان النبي ﷺ يلبسها فنحن نغسلهاللمرضي نستشفي بها[مشكوات جلد۲ص۳۹۶كتاب اللباس]حضرت اسماءؓ بنت ابي بکرؓ،دخپل کورسخه صحابه وۀ،ته چپنه راوایستله،چه په وربښموګنډل سوې وه.اولستونې یې هم په وربښموجوړوه،وېل دادنبي کریم ﷺ چپنه ده دبي بي عائشي صدیقيؓ سره موجوده وه۔ چه کله دامبارکه وفات سوله.بیامار اواخېستله،رسول ﷺ به اغوستله،اومونږیې په اوبومېنځو.بیاهغه اوبه دشفاء دپاره استعماله وۀ[مشکوٰت]

اوشارح دمشکوٰة ملاعلي القاريؒ لیکي[اي بمائهااوبالجبة نفسهابوضعهاعلي الرأس والعين والتبرك بلمس اليدين وتقبيل الشفتين[مرقات جلد۸ص۲۰۳]علامه قاريؒ وایي چه صحابه کراموبه یادچپني اوبه چښلي دشفاء دپاره اویابه یې پرسر اوپرسترګو ایښودله اویابه یې لاسونه پرموښله اومچوله به یې[مرقاة]د اصحابه دي چه معباردین دي لکن عادت یې داوۀچه کله به مریضان سوله یابه یې درسول ﷺ دوربښته مبارك اوبه راوړلي اودخوردي په نیت به یې چښلي اویابه یې دچپني مبارکې اوبه په مریض چښلي اویابه یې چپنه پرمریضانوتیره وله لکن په ټولو صحابه وۀکې چادانه وېله چه دانه دي جائز بلکه نبي کریم ﷺ یې خپله امرکوي چه دصعیب خاورې راوړې په اوبوکې واچوې بیاهغه اوبه دخوردې چښبې جوړبه سي اودغه رقم دقبروخاورې دبرکت دپاره وړل جائزدي علامه علي المتقي الهندي روایت نقل کوي[عن حذيفة بن يمانؓ قال اقتبض انسان من تراب قبرسعدبن

معاذؓففتحهافاذ اهي مسك قال رسول اللهﷺسبحان الله سبحان الله سبحان الله حتي عرف ذ الك في وجهه[كنز العمال،ج ۱۳ ،ص۱۷۸كتاب الفضائل،حرف سين]حذيفه بن يمانؓفرمايي چه كله حضرت سعد بن معاذؓ شهيدسو صحابه كرامو به يي دقبرخاوري په لاسوكي اخيستلي اود هغوخاوروبه خوشبويي تلله اورسولﷺ دېرپه خوشحاله سو چه دسبحان الله نعري يي وكړي[كنز العمال]

اودغه رقم ملاعلي القاريؒ ليكي[لماصلي عليه ووجع في حفرته فاح من تراب قبره رائحة طيبة كالمسك،وجعل الناس يختلفون الي قبره مدة يأخذون من تراب قبره،[مرقاه.جلد.۱ .ص۶۱]وايي كله چه امام بخاريؒ وفات سو.قبريي خوشبوي كوله.دعلا قي خلګ به ورتلله اودقبرخاوري به يي راوړلي[مرقات]اوحكيم الامت مولانااشرف علي تهانويؒ په خپل كتاب ارواح ثلاثه كښي ليكي چه كله دنانوتهي ښار ته دتبي مرض راغلي اوښخي دېرسو نودښار خلګود مولنامحمد يعقوب ديوبنديؒ دقبر څخه خاوري د شفادپاره وړلي اوشفاء به يي هم په كيدله هغه تبه به يي ښه سوله (ارواح ثلاثه ص۲۵۳)اودغه رقم امام ابن عابدينؒ ليكي[تنبيه لابأس باخراج التراب والاحجار التي في الحرم وكذ اقيل في تراب بيت المعظم اذ اكان قدر ايسير اللتبرك به اه[رد المحتارجلد۲ .ص۲۷۸مطلب في كراهة الاستنجاء بماء زمزم].علامه شامي وايي .چه دحرم محترم اودكعبي شريفي خاوري دتبرك په نيت كورته راوړل جائزدي[شامي]اودغه فتوي علامه ابن العلاءؒ هم وركړي ده[فتاوي تاتارخانيه.جلد.۳ص۵۹۹كتاب الحج] اوامام عينيؒ،ليكي[وقدروينا عن الامام احمد.انه غسل قميصاللشافعي وشرب الماء الذي غسله به[عمدة القاري جلد۹ص۳۴۶باب ماذكرفي الحجرالاسود]امام احمدبن حنبلؒ دخپل استاذ امام شافعيؒ قميص په اوبوكي پريمنځي بيابه يي هغه دقميص أوبه دبركت په نيت چښلي[عيني]اوعلامه قاريؒ بياليكي[روي انه ارسل الشافعي الي بغداد يطلب قميصه الذي ضرب فيه فارسله اليه فغسله الشافعي وشرب مائه[مرقات جلد۱ص۷۰]وايي امام شافعيؒ دامام احمد ابن حنبلؒ كالي(جامي)په اوبوكي واچوله اوبيابه يي دغه اوبه دتبرك (خوردي)په نيت چښلي(مرقات المفاتيح)د ادواړه د مذهب مشران دي اوامام احمدبن حنبلؒ دامام شافعيؒ شاګرد هم دئ خوبيا هم

استاذ د شاګرد د جامو اوبه څښي اوشاګرد د استاذ اوشرك اونارو ا يې نه بولې اود حضرت سعدؓ دقبر خاورې صحابه وو په لاسوکې وړلې اود امام بخاريؒ دقبر خاورې محدثين وړلې اود حرم خاورې دتبرك په نيت وړل جائزدي اوصحابه د صعيب شبلې خاورې راوړلې اوشفاء به يې په حاصلول اوديوبند په د اخل دمدرسي کښې علماء خاورې دقبروړې دائکه چه پرپاکو ځايو اود اولياؤ پرقبرو د الله پاك رحمتونه اورې(ان رحمة الله قريب من المحسنين) نود غه خاوره يامامالګه يابل شي هم په دغه رحمتووهل سوي وي چې مسلمانان يې اخلي اود هرچادقبرخوردي خوخلګ هم نه وړې دوهابي دقبره ولې خلګ خوردي نه اخلي چه د امام بخاري دقبره يې اخلي؛

(والله اعلم بالصواب)

## (مسئله ﴿سنت لمونځ په سفرکې﴾)

**سوال** ]په حالت دسفر کې د سنت لمانځه کول جائزدي که يا اوکه جائز دي بيايې څه حکم دي ایاکول يې افضل دي که نه کول زماسره په سفرکې د اسې ملګرې دي چه هغه داوايې چه په سفرکې سنت کول ثواب نه لري بلکه ګناه ده که څه هم هيڅ عذرنه وي که ده معتمدوکتابوپه حوالوسره جواب راکړې اود حق لاره راته بيان کړې مهرباني به مووې ؛المستفتي؛ اغاسيف الرحمن القادري

**جواب**]رب سلم سلم سلم د اخبره کول چه په سفرکې سنت کول ګناه ده د اجهالت دي او داد هغه چاخبره ده چه د مذهب په کتابوکې معلومات نه لري اوجاهل وي لکن د جاهل دپاره نه ده پکار چه په د امسئلوکې بحث وکړي لکه زمونږتبليغي حضرات چه دعوه يې د اده چه مونږخلګ پردين برابره واوسنت طريقې په پيژنو اوپه اصول نامه کې يې هم دادي چه تاسې به تر ۶نمبروبهرخبره نه کوې لکن دوې تر هرچايې دسنتوتارکين دي اوتر هرچايې په مسائلولاس وهي اوهميشه خلګوته وايي چه په سفرکې سنت نه کول سنت دي ښه پرقراره به ناست وي هيڅ عذر به نه وي لکن بيابه هم سنت نه کوي اونور خلګ به لاهم ورځخه منع کوي لکن ددوي د اخبره ډيره غلطه ده اودمذهب ځخه خلاف ده اود اد ابن تيميه حراني عقيده ده د د اسې عقيدې ځخه ځان ساتل پکاردي بلکه دسنت په هرحال کې کول اولحاظ ساتل پکاردي ځکه چه په ټولوعباداتوکې

لمونځ یو اهم عبادت دي
حدیث د ترمذي شریف کې راځي حضرت ابوهریرهؓ نقل کوي چه نبي کریم ﷺ فرمایي[ان اول مایحاسب به العبد یوم القیامة من عمله صلاته فان صلحت فقد افلح وانجح وان فسدت فقد خاب وخسرفان انتقص من فریضته شیئا قال الرب تبارك وتعالي انظروا اهل لعبدي من تطوع فیکمل بها ماانتقص من الفریضة ثم یکون سائرعمله علي ذالك]نبي کریم ﷺ وایي چه په ورځ دقیامت به د مسلمان سره اول حساب دلمانځه کیږي کچیرې لمونځ یې صحیح سونود امسلمان کامیاب سو او که لمونځ ئې خراب سونو بیاد امسلمان ناکامه اوتاواني سو اوکچیرې بیاد یو مسلمان په فرضي لمونځ کې نقصان پید اسو. بیا الله پاك ملائکوته امروکې چه نفل (سنت) یې وګورې که په نفلوکې یې سم اوصحیح نفل پید اسوله بیاپه د غه نفلو(سنتو) باندې هغه دفرضونقصان ورپوره کې د غه رقم ټول اعمال د اسې کیږي[رواه ترمذي جلد۱ ص۹۴)
نو اول حساب دفرض لمانځه دي اوبیاپه د احدیث کې دسنت لمانځه څومره اهمیت اوفائده ښکاره سوه له سنت لمونځ دنبي کریم ﷺ خوښ لمونځ دي اوسنت هغه لمونځ دي چه د الله پاك له خوا څخه نه وي فرض سوي بلکه دنبي کریم ﷺ له طرفه څخه یې فضایل بیان سوي وي اودده مبارك طریقه وي بیاسنت پر۲قسمه دي یوسنت موکده اوسنت رواتب اوبل بیاسنت مستمره بولي اوبل بیاسنت زوایدبولي اونفل ددوارو شریك نوم دي یعني سنت زوائد اوسنت مستمره دواړوته په نفلي لمونځ ویل کیږي لکن په سنت موکده وکې تر سنت زوائد ثواب ډیروي د غه ۱۲ رکعاته چه مونږ کوو دغه سنت موکده دي
روایت دعائشي صدیقيؓ کې راځي [قال رسول الله ﷺ من ثابرعلي ثنتي عشرة رکعة من السنة بني الله له بیتا في الجنة اربع رکعات قبل الظهر ورکعتین بعد ها ورکعتین بعد المغرب ورکعتین بعد العشاء ورکعتین قبل الفجر]رسول پاك ﷺ وایي چه هرڅوك چه په ورځ اوشپه کې پر۱۲ رکعاتو سنتوباندې همیشه توب وکړي خدای تعالي به دغه مسلمان ته په جنت کې کورورجوړکړي ۴ رکعاته دماپښین ترلمانځه مخکښې او۲رکعاته وروسته او۲رکعاته دماښام تر فرضووروسته او۲رکعاته

د ماخوستن ترلمانځه وروسته او۲رکعاته دسهار ترلمانځه مخکښې[رواه ترمذي جلد۱صفحه ۹۴) اودغه رقم بل روایت دترمذي کې راځي حضرت براء بن عازبؓ فرمايي[صحبت رسول اللهﷺثمانية عشرسفرافمارايته ترك ركعتين اذازاغت الشمس قبل الظهر]وايي چه زه دنبي كريمﷺسره په[ ۱۸ ]سفروکې ملګرې سوې يمه لكن مانه دې ليدلي چه رسولﷺدې د ماپښين ۲رکعاته سنت پرې ايښي وې(ترمذي جلد۱ص۱۲۳)اودغه رقم امام ترمذيؒ په داغه صفحه کې وايي چه حضرت عبد الله ابن عمرؓ فرمايي چه نبي كريمﷺبه په سفرکې سنت كوله اود اغه ابن عمرؓ څخه په بل روايت کې راځي چه نبي كريمﷺبه په سفرکې سنت نه كوله تطبيق يې د اسې دې چه په كوولوكې يې ثواب دې .اودنه كوولو اجازه يې هم سته اوبياوايي(وهوقول اكثراهل العلم يختارون التطوع في السفر)وايي اكثرعلماء پر دغه دې چه په سفر کې به سنت كول كيږي(ترمذي ج ۱ صفحه ۱۲۳]اودغه رقم امام نوويؒ په شرح کې دمسلم شريف فرمايي(وقد اتفق العلماء على استحباب النوافل المطلقة في السفر)وايي اتفاق دعلماؤ پرداراغلي دې چه مطلق نفل كول په سفركې مستحب كاردئ

اوكوم چه يوقول د ابن عمرؓ دې چه وايي نبيﷺبه نه كوله واې احتمال يې سته چه نبي كريمﷺبه كوله لكن ابن عمرؓ به نوې ليدلي ځكه چه نبي كريمﷺ خوبه سنت په كور کې كوله اوبابه يې يووخت دجواز دپاره ترك وهلي وې بيا امام نوويؒ وايي كه څوك د اسوال وكې چه كه سنت كول جايزوايي نوخوفرض به پوره كيدلاې بيافرض ولې كم سوله؟وايي جواب يې دادې چه فرض خولا زمي شې دې كچيرې مشروع وايي نوبياخويې كول لازم وه اوپريښودل يې ګناه وه اوكوم چه سنت دې نو هغه خود مسلمان په اختيارکې دې كه يې وكړله ثواب به وركړل سي اوكه يې دعذر په وجه نه وكړله ګناه يې نسته نوځكه سنت كيږي (حاشيه مسلم شريف جلد.۱.ص۲۴۲)

## اودغه رقم په روايت د ابن ماجه کې راځي

حضرت عبدالله ابن عباسؓ فرمايي[فرض رسول اللهﷺصلاة الحضر وصلاة السفرفكنانصلي في الحضرقبلهاوبعدهاوكنانصلي في السفرقبلهاوبعدها]وايي چه نبي كريمﷺ د اقامت اوسفرلمونځ فرض كړې لكن مونږ په كوراوپه سفركښې مخكې ترفرضواوروسته ترفرضوسنت لمونځ كوې(ابن ماجه.ص۷۶)

اودغه رقم اکثروصحابه کراموبه په سفر کې سنت کوله لکه حضرت عمرؓاوعليؓ،او ابن مسعودؓاو ابن عباسؓ اوجابرؓ او انس بن مالكؓاو ابوذرؓرضي الله تعالي عنهم اجمعين اودغه رقم په تابعينوکې قاسم بن محمد او اسود بن يزيد اوحارث بن سويد اوعطاء بن ابي رباح اوطاوس اوشعبي اومكحول اوحسن بصري اونخعي اوعروه بن زبير اوعمر بن ميمون اوجابر ابن زيد او ابووائل(رحمة الله تعالي عليهم اجمعين)

داټولوبه په سفر کې سنت کوله اودا غه د۴څلورو امامانو قول هم دي

(مصنف ابن ابي شيبه. جلد۱ .ص۴۱۷]؛ومصنف عبد الرزاق. جلد .۲ .ص۵۱۵]

والاوسط لابن المنذر. جلد۸ص۳۳۹]والمعجم الكبيرجلد۱ ص۲۴۵)

د اکتابونه ليکي چه د ټولو امامانوبه په سفر کې سنت کوله.

اوزمونږ فقهاء (كثرهم الله) اجماعاد اوائي چه په سفر کې سنت كول افضل عمل دئ.اوکه بيا چيرې د اسې حالت وچه د د ښمنانو بيره اووهم و اوياد تلوار حالت و ملګرې ورڅخه تلله اوياېل شرعي عذر و بيا يې نه كول جائزاوروادي اوكه د اعذرونه وه بيا يې په هرحال كې كول افضل دي زمونږد مذ هب مشهوراومعتمد كتاب هد ايه شريفه كې وايي(والاولي ان لايتركهافي الاحوال كلهالكونهامكملات للفرائض اه(هد ايه جلد۱ص باب ادراك الفريضة)وقال في البنايه(في الاحوال كلها اي .سواء كان مؤديابالجماعة أومتفردا اومقيمااومسافرا(بنايه جلد۲ص۶۹۳)امام مرغيناني وايي چه اولي اوبهتره خبره داده چه په هرحال کې سنت وكړل سې اوپاته نه سې ځكه چه سنت خومكملات دفرضودي[هد ايه]او امام بدرالدين عيني وايي چه د هرحال څخه مقصدداد ي كه په جماعت لمونځ كوې اوكه يواځې كه په سفركې وې اوكه مقيم وې[بنايه] يعني كه بالفرض په فرضي لمانځه كې نقصان وهغه نقصان په سنتوپوره كيږي.لكه حديث شريف کې چه ذكرسوه

همدارنګه امام ابن نجيمؒ ليكي(وفي التجنيس و المختار انه ان كان حال امن وقراريأتي بهالانهاشرعت مكملات و المسافر اليه محتاج و ان كان حال خوف لاياتي بها لانه ترك بعذر اه(بحرالرائق جلد۲ص۱۳۰)ابن نجيمؒوايي چه مختارقول دادي چه كچيرې دامسافرپه امن كې وً اوبرقراره وً بيابه سنت كوي ځكه چه سنت خودفرضونقصان دفع كوي اودي ته خومسافرهم احتياج لري اوكه بياحالت دخوف اوبيرې وًبيادي نه كوي

ځکه چه د اعذر دي(بحر)
همد ارنګه امام حصفکي لیکي(ویاتي المسافر بالسنن ان کان في حال امن وقرار والابان
کان في خوف وفرار لایاتي بها هو المختار)
وقـــال الشامي في الرد المحتار تحته انه عبرعن الفرار بالعجلة لانها في السفرتکون
غالبامن الخوف(شامي جلد.١ص٥٨٥)د اعلماء وايي .چه د امن اوقرار په حالت کي به
سنت نه ترك کول کیږي .د خوف اوفرار په حال کي به ترك کول کیږي وایي دفرار ځخه
مراد حالت دتلواري دي چه غالباپه سفرکي موجودوي[شامي]شیخ نظام په فتاوي
عالمګیري کي لیکي(والمختار انه لایاتي بهافي حال الخوف ویاتي بهافي حال
القرار والامن هکذا في الوجیزللکردري(عالمګیري جلد .١ .ص١٣٩)وایي مختارقول
دادي چه دقرار اوامن په حال کي دي سنت کوي(عالمګیري) اودغه رقم علامه زحیلي
د۴مذ هبوشریك کتاب الفقه الاسلامي وادلته کي هم داغه قول نقل کوي اوهغه
اجماع د امام نووي هم نقل کړي ده چه اتفاق دعلماؤ پرد اراغلي دي چه په سفرکي
سنت کول کیږي په (جلد .٢ .ص١٣٧١و١٣٧٢)اودغه فتوي دعلماء دیوبند هم ده مولا
نارشید احمد صاحب وایي(جلدی کی صورت میں سنت فجرکی سواء دوسروں
سنتوں کاچوڑناجائزهے بحالت اطمینان سنن موکده پڑهناضروری هے,حضوراکرمﷺسے سفرمیں
سنت ثابت هے(احسن الفتاوي جلد۴ص٧١)مفتي صاحب وایي په حالت دتلوارکي
دسهاردسنتوځخه بغیرنورسنت پاتیږي اودقرار اواطمینان په صورت کي بیاسنت کول
ضروري دي ځکه چه رسولﷺپه سفر کي سنت کوله[احسن الفتاوي]اودغه خبره
مولا ناظفراحمدعثماني هم لیکلي ده اوحضرت مفتي صاحب هم نقل ورځخه
کوي(اعلاء السنن .جلد۵ص٢٢۴٣)اودغه رقم فتاوي دارالعلوم دیوبندکي
لیکي(حاصل یه هے که مسافراگرکسی جگه ٹهراهواهے.اورعجلت نهیں هے توسنتیں
پڑهیاوراگرسفرکی جلدی هے یاخوف هے توسنتیں چوڑدے پهرکهاکه عندالبعض سنت فجرپهربهی
نه چوڑدے(فتاوي دارالعلوم دیوبند جلد۴ص٣٩٥)وایي که حالت دخوف اوتلواري نه ؤ
بیابه سنت کوي اوکه حالت دتلواري ؤ بیادي ترك وهي اوبعض علماء وايي چه
دسهارسنت به په هیڅ حال کي هم نه پریږدي[دارالعلوم دیوبند]
همدارنګه مولاناعبدالحق حقاني لیکي(لیکن افضل وبهتریه هے که اګرموقع هواورقافله

چهوٹنے یامقصود می خلل انی کااندیشہ نہ ہوتوسنتیں پڑھنی چاهیں(فتاوی حقانیه جلد۳ص۳۶۵)واېي افضل اوبهتره خبرد اده کچهرې موقع وه اودقافله دتللواوياپه مقصود کې خلل وهم نه ؤ نوبیاسنت کول افضل دي(فتاواې حقانیه]
[خلاصه ]خلاصه د مسئلې د اسوه چه زمونږد مذ هب دعلماؤ فتوې د اده کچهرې په سفر کې دموټـرد تللووهم نه ؤ اوياد ډاکوګانو[غلو]بيره نه وه نودسنت کول خالي جائزنه بلکه ضروري دي اوافضل اوبهترعمل دي اوکه بياد اعذرونه وه مثلا ګاډه نه دريدله اوياد ملګروزيات تلوار ؤ اوياد غلووهم ؤبياېي پريښودل جائزدي اودبعض علماء رايه داده چه په داغه حالت کې به هم دسهار اوماښام سنت نه پاتېږي ځکه چه هغه بياپه دانوروسنتوکي ډيرکلك دي اوکه بياد اسې ؤچه خپل موټـروي اودامن حالت وي تلوارېي هم نه وي بلکه په هوټـلانوکي ناست وي خورکونه کوي اوګپ وشپ لګوي بياهم قصد اسنت پرېږدي اوياېل څوك لاهم منع کوي اوخلګوته واي چه سنت نه کول سنت دي اوروان لاهم ددين په نيت وي چه مونږددين دعوت کوو اوسنت طريقې په خلګوکي راولود اخلګ دي نودرسول ﷺ دشفاعت دمحرومه کيدلو اوبې برخې پاته کيدلو څخه وبيريږي(و الله اعلم بالصواب)

## (مسئله)﴿یامحمد ﷺ ویل﴾

**سوال**☆وغايب ته په ياسره اواز کول څه حکم لري مثلا يامحمد ﷺ ويل اويارسول الله ﷺ ويل اوياغوث الاعظمؒ ويل اويا امام الاعظمؒ ويل يانوردِ اسې اوازونه کول ایاد اجائز اوکه ناجائزدي اياد صحابه کرامو په زمانه کې اوياد تابعينو په زمانه کې اوياترد وي وروسته دمذ هب په امامانوکي يوچاد اواز کړي دي اوياېې جائزبللي دي که بااوزمونږ په علاقه کې د اسې علماء سته چه هغه واېي د اسې الفاظ ويل اوياېي لېکل شرك اوکفر دي بلکه ډير عوام ورونه لاهم دغه فتوې وې ورکوي چه يامحمد ويل اولېکل شرك دي که دښومعتمدوکتابوپه حواله جواب راکي مهرباني به مووې؟

المستفتي محترم مجاهد سرد ار اغاصاحب؛

**جواب**﴾ اولا خوزه دنصيحت پربناء هر مسلمان ته د اوايمه چه دشرك اوكفر دتـفي لګولو څخه ډېر ځان وساتي ځکه چه د اډيره بدبويه کلمه ده روايت دبخارې شريف کې

نبي کريم ﷺ مبارك فرمايي[اذ اقال الرجل لاخيه ،ياكافرفقد باء به احد هما]وايي که هر چاځپل مسلمان وروړته په کافرسره ووېله داکلمه به لا زماپرېوه ددوي باندي راګرځي(بخاري کتاب الادب)يعني نبي ﷺ وايي چه تاسي دکفراوشرك په نامه بل مسلمان ته مه واياست اوکه مو چېري ورته ووېله نوبيابه ېولا زماکافراويامشرك جوړېږي که چېري هغه سړي چه تاپه مشرك ورته ووېله که هغه کافر ۆ خوته خلاص سوي اوکه هغه مسلمان ۆنوته په خپله کافر کېږي ددي د اسي مثال دئ لکه ډبره چه په هواء وغورځه وي که چېري دغه ډبري په هواء کي ځاي پېدا کړي خوصحيح ده اوکه ېي ځاي نه کړي پېدا ابېرته به ستاپر سرراشوه کېږي(فيض الباري جلد؛۶ص۱۵۲)اوبل لږمخکي موذکر کړله چه نبي کريم ﷺ دخوارجوعلامه داياده کړه چه دشرك شرك ټاپي به لګوي نوبايد مسلمان دد اسي خبري څخه ځان وساتي او احتياط وکي

اوس بېرته خپل مقصدته راځمه په ياسره مړه اوغائب ته اوازکول په قران اواحاديثواودمذهب په کتابوکي ثابت دي دډېروصحابه کراموڅخه دېامحمد ﷺ ندا(اواز)کول پسله وفات څخه دعليه السلام ثابت دي هم دغه رقم دمذهب دامامانوڅخه داثابت دي چه دوي به په (يا)سره نبي ﷺ ته اوازکوي اودغه رقم دعلماء ديوبند څخه هم داسي ندا وي ثابتي دي بلکه خپله نبي کريم ﷺ هم مړه ته په ياسره اوازکړي دي

حديث دبخاري شريف کي راځي حضرت انس ؓ مبارك فرمايي چه کله دنبي کريم ﷺ زوي حضرت ابراهيم ؓ وفات وکي (مړسو)نونبي ﷺ په لاسوکي نيولي ۆاوترسترګومبارکويي اوښکي توېدلي اوداسي خطاب يي ورته کوي(وانابفراقك ياابراهيم لمحزونون[بخاري.ج.۱.ص۱۷۴)ترجمه؛مونږستاپه مرګ اي ابراهيم غمجن يو ؛الحديث(متفق عليه)ګوره دادي نبي کريم ﷺ خپله خپل مړه زوي ته په ياابراهيم سره اواز کوي اوس به هغه جاهل ملاچي دشرك ټاپه يي په جېب کي وي هغه به په داکي څه حکم کوي۔

دبي مذهبوجرات)يوه ورځ مودپېښېن په بازارکي ديوبي مذهبه پنچپېري سره په يوه کتب خانه کي پرسماع الموتي باندي خبره راغله نورهم ښه جېد علماء اوشېخان په دغه مجلس کي حاضر وه نومامرقاة المفاتيح راواخيستي اودغه حديث مبارك مخ ته

راغلي بيامې دده څخه پوښتنه وکړله چه مرده ته په ياسره اوازکول څنګه دي نوددوي سره خودشرك تهاپه.تهاره ورسره وې نوپه ډېر جرات سره ووېله چې شرك دي (العياذ بالله)نومادغه حدېث شرېف ورښکاره کې چه نبي ﷺ خپله خپل زوي ته پسله مرګه په ياسره اواز وکړې نودوې خوپه داخبروعادت وه ځکه داخبرې ډېر تاثېر نه پروکړې که په حقېقت کې وکتل سې نود اډېر غتـه د افسوس خبره ده خوبېعقل سړي خپله خپل ځان کافر کوي اولاتفکر ثم تکلم)

اودغه رقم حافظ الحدېث امام ابوبکر ابن السنيؒ د ا(١٠٧٠)کاله مخکې کتاب لېکلې دي هغه په خپل کتاب عمل الېوم والېلة کې په رواېت دعبد الله ابن مسعودؓ نقل کوي [اخبرنا ابوېعلي ثنا الحسن بن عمربن شقېق ثنامعروف بن حسان ابومعاذ السمرقندي عن سعېد ،عن قتاده عن ابي برده عن ابېه عن عبد الله بن مسعود انه قال قال رسول الله ﷺ اذا انفلتت الدابة احد کم بارض فلات فلېناد ياعباد الله احبسوه فان لله عزوجل في الارض حاضر اسېحبسه]وايي چه نبي کرېم ﷺ وېله چه کله ستاسو څخه په دښت اوبيابان کې دابه (دسپرتيا حېوان)ولاړسي اووتښتېږي نوتاسې دانعره وکړې چه(ياعباد الله احبسوه)ترجمه اې دخداې بندګانوراو يګرځوې دخداې تعالي داسې مخلوق سته چه راوه به يې ګرځوي(عمل الېوم والېلة ص ١٧٠) اودغه رقم امام نوويؒ هم دغه رواېت رانقل کوي اوبياوايي چه ماته بعض اکابرومشاېخوداخبره کړېده چه زمونږ څخه په دښت کې قچره وتښتېدله نومونږ دغه اواز وکې سمدستي هغه غاطره راوګرځېدله اوامام نوويؒ وايي چه زه خپله يوورځ ده يوجماعت سره ملګرې وم چه دهغوڅخه يوحېوان وتښتېدي اودوي يې دنېولوڅخه عاجزه سوله بيامادغه اوازدياعباد الله اعېنوني وکړي هغه حېوان سمدستي راوګرزېدي ددغه نعرې څخه بغېر بل هېڅ سبب يې هم نه و(الاذکار للنووي ص٢٠١)

همدارنګه د امام بخاريؒ استاذ امام ابن ابي شيبة العبسيؒ چه (١٢٠٠)کاله يې دوفات کېږي هغه هم په خپل کتاب کې ٢ ځايه دغه رواېت نقل کوي(حدثنايزېدبن هارون قال اخبرنامحمدبن اسحاق عن ابان بن صالح ان رسول الله ﷺ قال ؛اذا نفرت دابة احدکم اوبعېره بفلاة من الارض لايري بها احد فلېقل اعېنوني عباد الله فانه سېعان)؛مصنف ابن ابي شېبه جلد ٧ص١٣٢ وايضا١١٦)

اودغه رقم دغه روایت علامه جزريؒ په خپل کتاب حصن حصین کې هم رانقل کړې دې (حصن حصین ص۱۷۴) اوعلامه علي القاري الحنفيؒ وایي چه په دغه حدیث کې مراد دعباد الله څخه رجال الغیب چې ابد الان اولیاء دي (حرز الثمین شرح حصن الحصین،۲۵۴) ګوره څومره اکابرو اومحد ثینو احدیث نقل کړې دي اوخپله يې هم دغه ند اوتوسل کړې دي اوس ددغه سې اشخاصو په حق کې به څه ووېل سي؛

اودغه رقم امیر المومنین في السیرة علامه واقديؒ په خپل کتاب فتوح الشام کې لیکلي دي چې د اکتاب ۱۲۰۰ کاله مخکې لیکل سوي دي چه د حضرت عمرؓ د خلافت په دورکې دیرموك په غزاء کې د حضرت خالد ابن ولیدؓ په امارت کې: ۳۰۰۰۰ صحابه کرام جنګیدله اودتهولوداشعار اوعلامه وه چه (یامحمد ؛ یامنصور امتك امتك) ترجمه اې محمد ﷺ د امته فریاد دي واوره چاچه د انعره کوله دوې به پوه سوله چه د امسلمان دي (فتوح الشام جلد۱ .ص۲۴۳) اودغه رقم علامه ابن کثیر دمشقيؒ روایت نقل کوي چه په جنګ یمامه کې چه ۲۴۰۰۰ صحابه کرام پکښې موجوده په دغـــه ورځ شعارد مسلمانانودیامـــحمد اه نـــعره وه وایي (ثم نادي خالد ابن ولید بشعار المسلمین وکان شعارهم یومئیذ یامحمد اه!] وایې په دغه ورځ د مسلمانانو علامه د اوه چه دیامحمد اه نعره به یې کوله (البد ایه و النهایه جلد ۷ص۳۴)

اودغه رقم امام قرطبيؒ روایت نقل کوي چه کله نبي کریم ﷺ وفات سونو بې بې صفیهؓ چه د نبي ﷺ عمه وه د اشعر یې وایي (الایارسول الله کنت رجاء نا وکنت بنابر اولم تك جافیا) قرطبي .جلد۴ص۲۱۹] د ادې پسله مرګه یې په یارسول الله سره او از کوي

اودغه رقم قاضي اسماعیل حقيؒ نقل کوي چه کله نبي کریم ﷺ وفات سو بې بې فاطمه الزهراؓ د ااشعار ویله (یا ابتاه اجاب ربادعاه یا ابتاه جنت الفردوس مأواه) تفسیر روح البیان جلد۲ص۱۲۹) د ادنبي کریم ﷺ لور مبارکه ده پسله مرګه نبي ﷺ ته په یاسره اواز کوي

اودغه رقم د حضرت حسینؓ د شهادت په ورځ بې بې زینبیؓ بنت عليؓ د ااشعار ویله (یامحمد اه یامحمد اه صل علیك الله وملك في السماء یامحمد اه هذ احسین في العراء مزمل بالدماء مقطع الاعضاء یامحمد اه) البد ایه و النهایه لابن کثیر جلد۸ص۲۷۲) د اده حضرت حسینؓ خور مبارکه ده د حسینؓ د شهادت په ورځ د نبي کریم ﷺ تر وفات ویر

بعد کې د یامحمد اه نعرې وهې اوفریاد او استغاثه کوې
اودغه روایت علامه کوثرې هم نقل کړېدې په خپل کتاب کې (العقیدة وعلم الکلام ص۳۷۰) اودغه رقم روایت د مشکواة کې راځي چه یوه ورځ حضرت عمرؓ پرمنبر ولاړ ؤ خطبه یې وېله (اوډېر مشران صحابه هم حاضر وه) دخطبې په میان کې یې نعره کړه (یاساریة الجبل) حضرت ساریهؓ دنهاوند (ایران) په علاقه کې په جهاد اخته ؤ (مشکوٰت المصابیح کتاب الفضایل باب الکرامات حدیث نمبر۵۹۵۴) دادې عمرؓ دمدینې منورې څخه د ایران علا قې ته غائبانه اوازونه کوې اومشران صحابه لکه حضرت عثمان اوحضرت عليؓ هم موجود دې؛
اودغه رقم امام ابوبکر ابن سنيؒ په خپل کتاب کې روایت نقل کوې چه حضرت ابوسعیدؓ وایې [حدثني محمد ابن ابراهیم الا نماطي وعمربن الجنیدبن عیسي ثنامحمودبن خد اش ثناابوبکربن عیاش ثنا ابو اسحاق السبیعي عن ابي سعید قال کنت امشي مع بن عمرؓ فخدرت رجله فجلس فقال له رجل اذکراحب الناس الیك فقال یامحمد اه فقام فمشي] وایې چه د حضرت عبد الله بن عمرؓ پښه خوږسوله یوچاورته ووېله چه هغه څوك چه تاته تر هرچامحبوب دې هغه یاد کړې حضرت ابن عمرؓ د لسي ووېله چه (یامحمد اه) چې د ایې ووېله دستې جوړسو اوولاړسو (عمل الیوم واللیله ص۶۷) دغه اثر په ډېرو سندوسره نقل کوې اودغه رقم د اغه روایت امام بخارې هم په خپل سند سره ذکر کړې دې په خپل کتاب کې (اد اب المفرد للبخارې ص۲٦۲) ګوره داڅومره جلیل الشانه صحابې دې اوڅومره پرسنتو دعلیه السلام ټینګ صحابې ؤ اوڅومره زیات د شرك اوبدعت څخه لېرې صحابې ؤ خوبیاهم د یامحمد اه اواز کوې اویوصحابې هم نه ورته وېې چې د امه وایه
(تعجب) شیخ خالد چې پر ادب المفرد یې تعلیق لیکلې دې پردغه روایت ډېر کوشش کړې دې خوعلمي جرحه یې نه ده پرکړې بیایې لاندې لیکلې دې چه د ادجاهلانوعمل دې (العیاذ بالله) اوس نوتاسوفکروکړې چې دد اظالم به د ابن عمرؓ په حق کې څه عقیده وې دتعجب خبره خود اده چه امام بخارې ۱۱۸۰ کاله مخکې دغه روایت نقل کوې اوجرح هم نه پرکوې اوشرك یې هم نه بولې او ابن السني یې (۱۰۷۰) کاله مخکې نقل کوې بدیې نه بولې زمونږدزمانې یووهابې راولاړیږې اوید پروایې ؛ بې ادب محروم

ماند ازفضل رب ؛
همد ارنگه امام سبکي شافعيؒ ليکي[ففي شعب الايمان للبيهقيؒ روي عن الامام الحاکم بسنده الي محمد ابن الاسحاق السقفي قـال سمعت ابا اسحاق القرشي يقول کان عند نارجل بالمدينة اذا رأي منکرلايمکنه ان يغيره اتي القبر فقال أياقبرالنبي وصاحبيه الاياغوثنالوتعلمونا]ابو اسحاق القرشيؒ وايي زمونږسره په مدينه منوره کي يوسړي و چه نارواکار به يي وليدي اومنع کولي به يي نه سواي نوبه روضي شريفي ته راغلي اودا خطاب به يي وکړي ويل اي قبره دنبي اود يارانو دده اي زمونږ غوثه کاشکي مونږ پو هيدلای[شفاء السقام ص٣٦٣]نبي کريمﷺته په غوث سره هم خطاب ثابت دي
اودغه رقم زمونږدمذ هب مشهوره اومعتمده فتاوي شامي کي ليکي (ويستحب ان يقال عندسماع الاولي من الشهادة صلي الله عليك يارسول الله)ترجمه چه کله موذن کلمه دشهادت ووايي نومستحب کار دادي چي سړي د اسي ووايْ چه صلي الله عليك يارسول الله(رد المحتارعلي الدر المختارجلد ؛١ص٢٩٣)هم دغه رقم امام طحطاويؒ هم ليکي چه د اشهد ان محمدرسول الله په وخت کي دي صلي الله عليك يارسول الله وايْ اود امستحب عمل دي (طحطاوي علي المراقي ص١١١)اودغه رقم علامه کمال الدين ابن الهمام الحنفيؒ په خپل کتاب کي وايي چه کله وروضي مطهري ته دعليه الصلاة والسلام ودريږي نوداسي به ووايي السلام عليك يارسول الله السلام عليك ياخير خلق الله السلام عليك ياحبيب الله اه(فتح القدير جلد ٣ص٩٥)
اوداغه رقم الفقيه النبيل شيخ حسن بن علي شرنبلاليؒ هم ليکي چه کله روضي شريفي ته ورسي د اسي وايه(السلام عليك ياسيدي يارسول الله يانبي الله ياحبيب الله ياشفيع الامة الخ (نور الايضاح ص١٩٠)
اودغه رقم علامه سمهوديؒ ليکلي دي چي سلام پر ٢رقمه ويل کيږي په لفظ دغائب سره هم ويل کيږي اوپه لفظ دمخاطب سره هم ويل کيږي لکه(صلي الله عليه وسلم والصلات والسلام عليك يارسول الله سواء کان من الغائب عنه او الحاضرعنده)وايي دروضي مطهري سره نژدي اولېري په هرځاي کي الصلات السلام عليك يارسول الله ويل جائزدي(وفاء الوفاجلد ٤ص١٧٧)
اودغه رقم امام شاه ولي الله دهلويؒ په خپله د اشعر وايي(وصل عليك الله ياخير خلقه

وياخپرمامول ويااخپرواهب) اطيب النغم في مدح سيد العرب والعجم ص۱۲۵) گوره
څه ناشنا خطاب یې نبي کریم ﷺته کړې دی او په یاسره یې ندا هم کړې ده
دادی دازمونږدمذهب مشران اواکابردی اودیارسول الله ویل مستحب بولي اوخپله
یې هم په کتابوکې نقل کوي څه خیال اوفکر مودي ایادغه فقهاؤ بدعات کوله
کلاوحاشا ؛ الف الف مره
په اخر کې دعلماء دیوبند یوڅواقوال اوند اوې نقل کومه سید الطائفه حضرت حاجي
امدادالله مهاجرمکیؒ په خپل کتاب کې لیکي چه څوك دنبي کریمﷺ تصور
وکړې اوبیاپرراسته تې باندې(۱۰۰۰)واره یااحمد ﷺ،وواېي اوبیاپرچپه تې باندې
(۱۰۰۰)واره یامحمد ﷺ وواېي او۱۰۰۰یارسول اللهﷺ، وواېي نو انشاء الله په ویښه
اویاپه خوب کې به دنبي کریمﷺ زیارت ورنصیب سي(کلیات امدادیه ص۴۵)
داد اکثروعلماء دیوبند شیخ اوپیر دی اوس هغه وهابي چې ځان ددیوبند په جامه کې
پټوي اوددیوبند پاك نوم وربده وي هغه به دلته څه واې اوکه چیرې (نعوذبالله)پیر یې
مشرك وي ددوې په قول نوبیابه یې مرید ان چې اکابرددیوبند دي هغه به څنګه وي
(لکل داء دواء ولیس للحماقة دواء)
اودغه رقم امام العصر کتب خانه ناطق شاه انورشاه کشمیري ثم الدیوبندیؒ تردغه
حدیث لاندې(انابفراقك یاابراهیم لمحزونون)واېي چه په یاسره نداکول پسله مرګه
داجائز دی اوبیاواېي چه حسان ابن ثابتؓ په خپله قصیده کې داسې ویلې دي (وجاهك
یارسول الله جاه)فیض الباري علی صحیح البخاري جلد.۳ص۳۸)دادي شاه صاحب
دیارسول الله اوازجائز بولي
اودغه رقم حکیم الامت مولا نااشرف علي تهانویؒ په خپل کتاب نشرالطیب کې
دحضرت مولانامفتي الهي بخش کاند هلویؒ یوشعر نقل کوي اوبیاېي خپله هم ترجمه
کوي هغه داسې دي(یاشفیع العباد خذبیدي انت في الاضطرارمعتمدي) ترجمه اې
شفیع دبندګانودستګیرې مې وکه(ترلاس مې ونیسه)ځکه چه دتکلیف په وخت کې ته
زماتکیه یې(نشرالطیب في ذکر النبي الحبیبﷺص۱۵۸)دادي علامه تهانویؒ په(
یاشفیع العباد)سره اواز کوي اوپه کتاب کې یې راوړی
اودغه رقم باني دارالعلوم دیوبندقاسم العلوم والخیرات مولانامحمدقاسم نانوتویؒ په

خپله قصيده کې د اشعر ليکې(مددکر اى احمدى که تيرى سوانهيں ہے کسى کاکوئى حامى کار )قصائد قاسمي ص۸)د ادې علامه قاسم نانوتوي په ياسره ندا هم کوې او استغاثه هم کوې اودغه رقم حجت الله علي الارض المحدث الناقد علامه ظفر احمد عثماني ديوبنديؒ وايې چه دروضې مطهرې سره د اکلمات وايې[ السلام عليك يارسول الله يانبي الله ياحبيب الله[اعلاء السنن،جلد.۷.ص۳۶۱۹]اوپه اخرد کتاب الحج کې بياد اشعار ليکې[ياخاتم النباء جئتك قاصدا ارجو رضاك واحتمي بحماك يا اکرم الناس عند الله منزلة وافضل الخلق من جمع ومفترق ياخير من عاش في الدنياء ومات بها نفسي الفداء لقبر منك ملتصق[ص۳۶۳۰]د اسې نورې هم ډير اشعار ويلې دي او استغاثه اوندا ئې وجناب عالي ته د رسول ﷺ کړې دي

اودغه رقم بقية السلف أيت الله حضرت شيخ علامه عبد الستار السيم زائي الديوبندي(نور الله مرقده الشريف)په خپل کتاب کې يو مستقل باب ليکې چه د شوق اوتبرك په نيت باندې يارسول الله ﷺ ويل جائز اوثابت دي اوبياد ډيرو کتابو حوالې ئې پيش کړې دي (الملتقط من الکتب المعتبرة ص۷۷)

که څه هم حوالې دکتابو زياتې دي لکن د هغه چادپاره چه حق ئې زړه ته شوه کېږې داغه قدر کفايت کوې ځکه که څوك احاديث غواړې که څوك اثار د صحابه غواړې که څوك د فقهاو او يا مفسرينو اقوال غواړې او که څوك د علماء ديوبند افعال غواړې ټول مونقل کړله د شبه ځاې پاته نه سو بيا هم دزيات تفصيل او اقوال و د فقهاو له پاره (غوث العباد)چه د علامه مصطفي مصري کتاب دې هغه مطالعه کړې اوس هغه څوك چه يامحمد ﷺ ويلو او ليکلو والاته د شرك او بدعت نسبت کوې هغه به په داغه صحابه ؓ وأئمه ؒ کې څه ووايې بلکه د اسې انسانان هم سته چه د اکوشش کوې چه يو ځاې يامحمد ﷺ ليکلې وې چه خراب(متهاؤ)ئې کې الله پاك دې هدايت ورته وکړې علامه محمد يوسف بنورې ديوبنديؒ ليکلې دي چه يوسړې د نبي کريم ﷺ د نامه څخه صلاة خراب کړې اود هغه پرځاې ئې مخفف الفاظ د(صلعم)وليکله دوخت علماؤ ئې لاسونه ورکاټ کړله (معارف السنن)ځکه چه د ادنبي کريم ﷺ د نوم مبارك توهين دي کاش چه نن هغه علماء واې دد اسې بې دينانو چه ده نبي کريم ﷺ نوم خرابه ئې لاسونه

اوبښي به يې دواړه وركاتې كړې واې
خلاصه دكلام داده چه ياړسول الله ويل يامحمدويل دشوق دپاره اويادتبرك دپاره
اويادشفاء په نيت اوياپه دانيت چه دادا اهل السنت والجماعة شعاراوعلامه ده جائز
اوروا عمل دي په احاديثودرسول ﷺ اوپه اقوالودصحابه كرامو اودمذهب
دامامانوثابت دي اودعلماء ديوبند هم معمول ؤ لكه څنګه چه موحوالې پيش كړلې
اوڅوك چه بياد اوائې چه لفظ د يـــا دحاضر اوناظر دپاره ده نود امحض افتراء ده
اودځانه خبره ده اوداد هغه چاخبره ده چې په علوم البه ؤ كې معلومات نه لري اوكه
بياڅوك وايې چه بريلويان يې دحاضر اوناظر په نيت وايې نومونږورته وايو چه
دبريلويانوپه نيت باندي پرجائز اوروا باندې دحراموحكم كول اوپردادومره ائمه ؤباندې
دشرك تـاپې لګول دحكمت څخه لېرې خبره ده اوبل زمونږپه پښتني علا قوكې
الحمدلله هغه بريلويان نسته چه داعقيده لري اوكوم چه دوهابيانوپه ګمان بريلويان
دي نوهغه خوهرهغه چاته چې دمذهب خبره كوي اوپه مذهب يې خوابديږي هغه ته
بريلوي اوياسخت دريزه واي اوپه پنچپيريانو اووهابيانوكې مونږ ابادېو نوځكه په
داعلاقوكې دشعار په نيت چه دبې مذهبو وهابيه و فسقه و فجره وسره موفرق راسي
يامحمد ﷺ ويل ډير ښه كاردي

﴿سوال﴾ دياشيخ عبد القادرجيلاني شيالله تعالي ويل اوذكركول څنګه كاردي روادي
اوكه ناروا ؟ بينوا توجروا

﴿جواب﴾ په دا كلام كې ۲ خبرې دي يوه داخبره ده چه په (يا)سره ومخلوق ته اوازدي
نودامسئله خوښه تفصيلي ذكرسوله چه باك نه لري اوبل داخبره ده شيالله تعالي ويل
څنګه دي نودهغې جواب دادي چه داكلام ۲ معني وي لري دياشيخ عبد القادرجيلاني
شيالله تعالي يوه دامعني ده چه اې شيخ عبد القادره خداې تعالي ته لږ شي وركړه - په
دامعني سره اوازكول يقيناهم كفردي ځكه چه الله پاك دي وشيخ عبد القادرجيلاني ته
محتاج وبولې اوبله يې دامعني ده چه اې شيخ عبد القادرجيلاني ماته لږشي راكړه
دخداې تعالي په خـــاطـــر دامعني يې بياصحيح ده څه بـــدې پكې نسته
اودعاموسلمانانوهم دغه معني مقصدوي
زمونږدمذهب مشهوره فتاوي شامي كې داتفصيل ذكركـــوي اويـاواي (امان

قصد المعني الصحيح فالظاهر انه لاباس به )يعني كه د مسلمان دا صحيح معني مقصد وه بيايي ويل پرواه نه لري(رد المحتارعلي الدر المختارجلد ۳ص۳۳۶) اوداغه رقم زمونږ د مذهب معتمدعالم شيخ الاسلام والمسلمين خاتمة الفقهاء والمحدثين مولانا خيرالدين الرمليؒ په خپل كتاب كي ليكي (واماقولهم ياشيخ عبدالقادرجيلاني فهونداء واذا اضيف اليه شي لله فهوفي طلب شي اكراماالله تعالي فماالموجب لحرمته ولايجوز الاغترار بمافي قيد الشرائدونظم الفرائدومن قال شيالله بعض يكفر.الخ اذلاوجه لذالك وكيف ذالك مع قولهم لايخرج المومن من الايمان الاجحود ماادخله فيه وقولهم الكفرشي عظيم فلايكفر المسلم اذااختلف فيه ولوبروا يه ضعيفه ومعاذ الله ان يوجد الكفربذالك وقدقال شارحـــه وينبغي ان يــرجح فيهاعدم التكفيرووجه التكفيربانه طلب شي لله وهـــو(جل وعلي)غني عن كل شي والكل محتاج اليه ,وهذ الايختلج في خاطر احدفان ذكره تعالي للتعظيم )وايي دياشيخ عبدالقادرجيلاني ويل نداء ده څه باك نه لري اود شيالله تعالي معني خوطلب دشي دي د خداي دعزت په خاطر نوحرمت يي په كوم ځاي كي دي اوبيابعدكي وايي چه تاسي مه دهوكه كيږي په قول د هغه چاچه واي ياشيخ عبدالقادرجيلاني شيالله ويل كفر دي ځكه چه داهيڅ دليل نه لري او مسلمان ته په كافرويل ډيره غتـه خبره ده اوزه پناه غواړم دخداي څخه دداسي خبروڅخه چه په داقول هم سړي كافركوي اوكومه چه هغه اوله معني ده چه دخداي جل جلاله دمحتاجي معني ده نو هغه ديوه مسلمان هم په زړه كي نسته ځكه چه مسلمان ذكرد تعظيم په نيت كوي(فتاوي خيريه جلد۲ص.۲۸۲) اوداغه رقم سيد الطائفه حضرت حاجي امداد الله مـــهاجــــرمكيؒ چه دديوبند دعلماؤشيخ اواستاذدي هغه مبارك فرمايي چه دياشيخ عبدالقادرجيلاني شيالله وظيفـــه كول ترنيت پوري تعلق لري كه يومسلمان يي دتوسل په نيت وايي اوياي يي په دانيت وايي چه دادبركت كلمه ده نوريي هيڅ نيت نه وي په داكيني هيڅ بدي نسته جائزكاردي ځكه چه (انما الاعمال بالنيات )اعمال ترنيت پوري تعلق لري

اوكه ديومسلمان نيت نه وي صحيح نوبايد علماء نيت ورصحيح كي دوظيفه څخه يي نه كړي منع ؛اه(كليات امداديه ص.۸۴) اودغــه رقم شاه انورشاه كشميريؒ وايي چه ياشيخ عبدالقادرجيلاني شيالله ويل ددم كولودپاره جائز دي اوفائده لري(فيض الباري

جلد ۳ص۳۸)نوخلاصه دکلام داه چه دیاشیخ عبد القادرجیلاني شیالله ویل دتوسل اوتبرك په نیت جائز اوروادي اوکوم چه بعضي علماء یې حرام بولي نو هغه یې هغه بله معني اخلي چه هغه د الله پاك د احتیاج معني ده چه مخکي موذکرکړلـــه نوپه هغه معني باندي اوس هم ناجایزدي لکن زمونږدعوامو هغه معني نه وي مقصد بلکه زمونږعوام یې په معني نه پوهیږي خالص دتبرك په نیت یې وایي نوپه داکي څه بدنسته اوکه دچاپه نیت کي خرابي وي نوبایدعالم یې تصحیح دنیت وکړي کافر یې نه کړي اوکم څوك چه یې مطلق کفر بولي نو هغه به داد مذهب مقتد اپانوته نسبت کوي (اعوذ بالله من هذه الجرأة العظیمة

## (پوښتنه)﴿خوارج څوك دي اوڅه علامه لري﴾

**جواب**﴾مخکي موروایت ذکر کړي چي رسول الله ﷺ مبارك ویله چه زماامت به ۷۳پاټــي جوړیږي اود اتــولي به دوزخ ته ځي لکن یوه پاټــي به جنت ته ځي چه هغه پاټــي د اهل السنت والجماعت ده اوپه هغه ۷۲کي چي ګمرهاني دي یوه ډله په نامه دخوارجو ده دغه خوارج په اسلام کي داخله یوه عظیمه فرقه ده اودمسلمان دپاره تر ټــولوزیاته ضررمنده ډله ده چه ظاهر به په جامه کي د اسلام وي لکن خلګ به ګمراه کوي اوددین دلاري څخه به یې اړه وي اود اهغه فرقه ده چه دنبي کریم ﷺ صحابه یې شهید ان کړله اوپه احادیثوکي ډیر زبات بیان دخوارجو راغي

روایت دمسلم شریف دي حـــضرت ابـــوسعید خدريؓ وایي[عن ابي سعید ان النبي ﷺ ذکرقومایکونون في امته یخرجون في فرقة من الناس سیماهم التحالق قال هم شر الخلق]وایي چه رسول ﷺ یوقوم یادکړي چه دده په امت کي به پید اکیږي اودابه هغه وخت پید اکیږي چي امت به تــول فرقي فرقي وي اود ابه په تــول مخلوق کي بدترین انسانان وي (رواه مسلم جلد۱ ص۳۴۲کتاب الزکاة باب ذکرالخوارج )

اودغه رقم حضرت عليؓ مبارك وایي[اني سمعت رسول الله ﷺ یقول یخرج قوم من امتي یقرؤن القران لیس قرأتکم الي قرأتهم بشيء ولاصلا تکم الي صلا تهم بشيء ولاصیامکم الي صیامهم بشيء یقرؤن القران یحسبون انهم لهم وهوعلیهم؛اه]وایي چه مادرسول ﷺ څخه اوریدلي دي چه ویله یې چه زماپه امت کي به یوقوم ښکاره سي

اود اسې قران به وايې چه ددوې دقران دوېلو په مقابل کې ستاسې دقران وېل به هيڅ نه ښکاره کېږې اونه به ددوې دلمانځه په مقابل کې ستاسې دلمانځه څه حېثېت نه وې او نه به ددوې دروژو سره ستاسې دروژو څه حېثېت وې اورسول ﷺ ووېله چې دوې به دخد اې قران وايې اود اګمان به کوې چې د امونږ ته فائده کوې لېکن په حقېقت کې به هغه دوې ته ضرر(عذ اب )وې ؛الحد ېث(رواه مسلم باب تحرېض علي قتل الخوارج جلد۱ .ص۳۴۳)اود غه رقم حضرت انس بن مالكؓ وايې[عن رسول اللهﷺقال سېكون في امتي اختلاف وفرقة قوم ېحسنون القېل وېسېؤن الفعل ېقـــرون القران لاېجاوزتـــراقېهم هـــم شر الخلق ېدعون الي كتاب الله ولېسوا منه في شيء] وايې چه رسولﷺوېله چې زمايه امت کې به اختلاف اوفرقې ډېرې سې بوه ډله به پېد اسې چه خلګوته به ښه خبرې کوې لکن خپله به عمل نه په کوې اوښه قران به وايې لکن ترستونې به بې نه شوه کېږې اود الله كتاب ته به خلګ رادعوت کوې لکن دقران سره به ددوې هېڅ تعلق هم نوې اود ابه په ټـول مخلوق کې بد خلګ وې (رواه ابوداود كتاب السنة باب في قتل الخوارج جلد۲ص٦۵٦)

اود غه رقم حضرت ابوهرېرةؓ رواېت نقل کوې [قال رسول اللهﷺېخرج في اخرالزمان رجال ېكتلون الدنېابالدېن ېلبسون للناس جلود الضان من اللېن السنتهم احلي من السكروقلوبهم قلوب الذېئاب]وايې چه رسول ﷺبه وېله چه په اخرزمان کې به داسې خلګ پېد اسې چې دنېابه په دېن پېد اکوې اوظاهربـــه بې داسې نرم وې لکه مېږه(پسه)اوژبه به بې داسې خوږه وې لکه شکره(بوره)لکن زړونه به بې داسې وې لکه دلېوانوزړونه(الحدېث رواه ترمذي كتاب الزهد جلد۲ص٦٦)

اوحضرت انس بن مالكؓ وايې[كان رجل علي عهدرسول اللهﷺېغزومع رسول اللهﷺفاذ ارجع وحط عن راحلته عمد الي مسجد الرسول فجعل ېصلي فېه فېطېل الصلاة حتي جعل بعض اصحاب الرسولﷺېرون ان له فضل علېهم الي ان قال قال رسول اللهﷺان هذااول قرن خرج في امتي لوقتلته مااختلف في امتي اثنان؛اه]وايې چه درسولﷺپه زمانه کې بوسړې ؤچه جهادېې هم کوې اوډېر ښه عبادت به بې کوې اومونږ ته به دده عبادت ډېر خوند راکوې حتي چه بعضې صحابهؤ به پرخپل ځان هم ښه بولې بوه ورځ بې مونږنبي کرېم ﷺته ډېر صفت وکړې مونږبه

دغه مجلس اخته ؤ چې هغه سړې رابنكاره سومونږ نبي ﷺ ته ووېله چې هغه دغه سړې دې نبې كرېم ﷺ چه ورته وكتله بېاېې مونږ ته ووېله چې تاسې چې دكوم سړې صفت كوې د هغه په مخ كې دشېطان رنګ بنكاره كېږې هغه سړې مونږ ته مخامخ راغلې اوودرېدې سلام ېې نه وواېه رسول ﷺ ورته ووېله چې زه قسم دركوم تاته چه ولې دې سلام نه وواېه اېاستا په زړه كې داوه چه په دامجلس كې تر تابنه سړې نسته هغه ورته وېله چه هوزمادې قسم په الله وې چه ماپه دغه وجه سلام نه وواېې چه داټول خلګ مې تر ځان كم بلل حضرت انس بن مالكؓ واېې چه بېاهغه سړې ولاړې مسجد ته مونږورته كتله اوهلته ېې په پښه خط كش كړې بېاپر لمانځه ودرېدې بېانبي كرېم ﷺ خپلوصحابه ؤ ته ووېله چې څوك به په تاسوكې دغه سړې مړكړې حضرت ابوبكرصدېقؓ ورته ووېله چې زه ېې وژنم چه كله ابوبكرؓ ورغلې هغه پر لمانځه ولاړؤ نوابوبكرؓ ووېله چه سبحان الله زه څنګه هغه څوك مړكړم چه هغه پر لمانځه وې سره ددې چه رسول ﷺ خو مونږ دلمونځ ګزارودمړګ څخه منعه كړې هو بېرته واپس راغلې نبي ﷺ ورته ووېله چه څه دې وكړله ﷺ ابابكره ابوبكرؓ ورته ووېله چه هغه لونځ كوې اوماد ابده محسوسه وله چې پرلمانځه ېې مړكړم بېارسول ﷺ ووېله چه څوك به دغه سړې مړكړې حضرت عمرؓ ووېله چه زه ېې مړكومه چې كله حضرت عمرؓ ورغلې هغه پرسجده پروت ؤنوحضرت عمرؓ ووېله چه ابوبكر خوترماافضل دې چه هغه هم نه كړې مړ نوزه ېې څنګه مړكړم واپس راغلې رسول ﷺ ورته ووېله چه څه دې وكړه ﷺ اعمره حضرت عمرؓ ورته ووېله چه خداې تعالې ته ېې سرپرسجده اېښې ؤ نومې څكه نه كړې مړ بېانبي كرېم ﷺ ووېله چې څوك به دغه سړې مړكړې حضرت علي كرم الله وجهه ووېله چه زه ېې وژنم نبي ﷺ ورته ووېله چه ته ېې وژلاى سې كه دې پېدا كړې حضرت عليؓ چه كله ورغلې هغه دمسجد څخه وتلې ؤ عليؓ چه كله راغلې رسول ﷺ ورته ووېله چه څه دې وكړله عليؓ ورته ووېله چه دمسجد څخه تللې ؤنبي كرېم ﷺ ورته ووېله چه كه چېرې دغه سړې وژل سوې واې زماپه امت كې به ۲ دوكسانو هم اختلاف نه واې كړې دغه به ېې اول هم واې اخر هم واې اود ابه اول بنكرد شېطان وې چه زماپه امت كې به راپورته سې (بس په داكې حكمت دخداې چې پاته سو الله پاك هغه خپله وعده پوره كوې )الحدېث رواه الهېثمي في مجمع الزواېد

جلد ۶ ص۲۲۹ وقال اسناده صحیح) سبحان الله چه د صحابه ؤ په زمانه کې داسې خلګ وه چه د اسلام په جامه کې د دین غله وه اوپه مسلمانانو کې یې تفرقه راوستله اوصحابه ؤ یې ښه اوبدنه سواې معلومه ولاې نوپه اوس عصر کې به څنګه د دین اومذهب دښمنان وي د اسلام اومذهب په جامه کې اوڅنګه به یې خلګ معلوم کې چه دابد سړي دي که ښه اوڅه رنګه به ځان ور څخه وساتي (ولاحول ولاقوة الابالله)

هم دغه رقم حذیفه بن یمانؓ وایي[قال رسول اللهﷺان مماتخوف علیکم رجل قرا القران حتي اذ ارئت بهجته علیه وکان ردء الاسلام اعزه الي ماشاء الله -انسلخ منه ونبذه وراء ظهره وسعي علي جاره بالسیف ورماه بالشرك قال قلت یانبي الله ایهما اولي بالشرك المرمي اوالرامي ؟ قال بل الرامي هذ االسناد جید] وایي چه نبي کریمﷺ راته ووېله چه زه چه ډېر ډېرېږم پرتاسوباندې هغه د هغه عالم څخه ډېرېږم چه قران به وایي اودقران ښایست به هم پرمعلومېږي اوترېووخته پورې به د مسلمانانو مدد اوکومك هم کوي چه تر څود الله تعالي خوښه وي ډېابه قران تر شاه وغورځه وي (عمل به نه په کوي )اورسولﷺ ووېله چه علامه به یې داوي چې پر خپل مسلمان ورور به توره راواخلي اودشرك شرك تهاپې به لګوي (یعني هر شي به شرك بولي ) حضرت حذیفةؓ وایې چه ماپوښتنه وکړله چه کوم یویه مشرك وي یارسول الله نبي کریمﷺپه جواب کې راته ووېله چه دغه د شرك تهاپې لګولو والابه خپله مشرك وي او امام ابن کثیروایي د حدیث اسناد هم جید دي[رواه ابن کثیر في تفسیرقران العظیم جلد ۳ص۲۳۶سورت الاعراف ایه۱۷۵)

اوبل روایت دبخاري شریف کې راځي[وکان ابن عمرؓ یراهم شرارخلق الله وقال انهم انطلقوا الي ایات نزلت في الکفار فجعلوها علي المومنین] چه کله د حضرت نافعؓ څخه پوښتنه وسوله چه حضرت عبد الله بن عمرؓ حروریه(خوارج)څنګه خلګ بلله نافعؓ په جواب کې ورته ووېله چه حضرت عبد الله بن عمرؓ وېل چه په ټول مخلوق کې بدخلګ دغه خوارج دي ځکه چه دوې هغه ایاتونه چه د کفاروپه حق کې نازل سوېدې هغه رااخلي پرمسلمانانوېې چسپانه وي(رواه البخاري في الصحیح کتاب استتابت المرتدین جلد ۲ص۱۰۲۴ ]ایضا[فتح الباري جلد ۸ص۸۴)

(اګاهي)اوس نوتاسې فیصله وکړې چې دشرك شرك تهافې څوك ډېرې لګوي

اباد امریکې بش او اوباما یې لګوي اوکـــــه یې د هندوستان هندوان لګوي اوکه یې زمونږ د زمانې بې مذهبه ملایان لګوي چې هر شې ته شرك وایې که دې خیرات وکړې هم شرك دې که دې تعویذ هم شرك دې اوکه د اولیاؤ زیارت ته ولاړې اویادې د اولیاؤ تعظیم وکړې هم شرك دې بس مفتي اعظم جهان رسول الله ﷺ فتوې درکړله چه څوك ناحقه دشرك تهمتي ډیرې لګوي د هغه څخه ځان ګوره د ادې ددین په نامه ګمراه کوې او هغه ایاتونه چه د کفارو دبت فرستې په حق کې راغلې وې هغه څوك پر مسلمانانو راړه وې او د مسلمانانو نذرونه اوزیارتونه اوتوسلونه تر لاندې کوې ګوره شریعت د چانوم نه اخلې چې دفلانکې ملا او یا حافظ فلانکې څخه ځان وساته او دغه فلانکې بدسرې دې بلکه شریعت تاته دښه اوبد علامې دربښه یې چه که په چاکې هم دغه علامې وې د هغه څخه ځان ګوره نورنو ته خپل عقل وجنګوه اووګوره چې په چاکې دغه شې سته ؛

اودغه ډله اول د نبي کریم ﷺ په زمانه کې پیدا سوله حضرت ابوسعید خدرېؓ وایې چه یوه ورځ نبي کریم ﷺ غنیمت تقسیمه وې یوسړې چې ذوالخویصره نومیدې د بني تمیم دقومه څخه ؤ (په بل روایت کې راځې ددغه سړې ننوتلې سترګې وې اوراختلې تندې یې ؤ اوخوکړه شکیدلې ژیره یې وه اوراختلې بارخوګان یې وه اوسرېې هم خره یلې ؤ اوروایت د احمد کې راځې چه په تندې کې یې توره تپه هم وه) هغه راپورته سو اونبي ﷺ ته یې وویله چه عدل وکه یارسول الله نبي کریم ﷺ ورته وویله چې هلاك سې چه زه لاهم عدل ونکړم نو څوك به عدل وکړې ؟ حضرت عمرؓ ورته وویله چه یارسول الله اجازه وکه چه سر یې ورکاټـه کړم نبي ﷺ ورته وویله چه یاکار مه په لره (روایت د احمد کې راځې چه رسول ﷺ وویله چه کچیرې زه دوې مړکړم خلك به وایې چه نبي کریم ﷺ خپل ملګرې وژنې) اونبي ﷺ وویله چه دې به ملګرې هم پیدا کړې چه هغه به د اسې عبادات کوې چې ستاسې عبادات به ددوې وعبادت ته ډیرخوار معلومیږې اوپه هغه وخت کې چې زما امت به ټوټې ټوټې وې دوې به راښکاره سې (الحدیث؛متفق علیه) اوحضرت ابوبرزهؓ وایې چه نبي کریم ﷺ وویله چه دغه خلك به تر هغه وخته پورې پیدا کیږې چه د دجال (خرجد ال) راوزې اوچه کله دجال پیدا سې نو دغه خلك به یې ملګرې وي ؛ الحدیث (رواه الحاکم في المستدرك

جلد.۲ص ۱۶۰)
بیادغه پاتې د خوارجو د حضرت علي کرم الله وجهه د خلافت په وخت کې په کوفه کې د حروریه په ښارکې پید اسوله او ۱۲۰۰۰کسان وه او۲مشران یې وه چه یوعبد الله بن وهب راسبي ؤ او هغه بل حرقوص بن زهیر البجلي ؤ اود حضرت علي د خلافت ځخه یې انکاروکړي اواختلاف یې جوړکړي بیاحضرت علي حضرت عبد الله بن عباس وروالستوي چې د اخلګ خوشحاله کړه اوورته وواېه چې اختلاف مه جوړه وي راسې حضرت عباس چه کله ورغلي هغوورته وویله چې مونږستاسره مناظره کوو اوپرقران فیصله درسره کوو ابن عباس ورته وویله چه صحیح ده بیاهغوي ۳سواله پروکړله حضرت ابن عباس یې جوابونه ورکړله بیاپه هغوکې ۸۰۰۰کسانو توبه وکښله اوراغله تسلیم سوله او ۴۰۰۰پاته سوله اوحضرت ابن عباس وایي چې دتهولوپه تند پانوکې دسجدي علامې وي(یعني تورټکي وه) بیاتهول د ابن وهب راسبي په کورکې سره راجمعه سوله اوراسبي چې ددوي مشرؤدېر جالب اوفصیح تقریر یې ورته وکړي اود جنت اواخرت خبري یې ورته وکړلي اود امربالمعروف اونهي عن المنکرترغیب یې ورکړي اوبیایې ورته وویله چې ددغه ظالمانودکلي ځخه مووباسې دغره پرخوا(حضرت علي اوملګري یې ښوله) اودد غه بدعت ځخه به لیري سواوبیایې شریح بن ابي اوفي ته وویله چې مونږته د اسې ځاي راوښه یې چه مونږهلته ولاړ سواوهلته د خداي دین نافذ کړوبیاحضرت علي خط وروالستوي اوپه خط کې یې ورته ولیکله چه راسي اختلاف مه جوړه وي مونږاوتاسي به تهول خپل دشمن ته سره یوسوچه کافردي ؟ دوي په جواب کې حضرت علي ته ولیکله چه کچیري ته دخپل کفر اقرار کوي(العیاذ بالله)اوتوبه هم کاژي خوصحیح ده اوکه ته د انه کوي نوزمونږ اوستاسي نه سره کیږي حضرت علي چه کله د اخط ولیدي نویې طمعه وختله چه د انه مسلمانان کیږي بس د جنګ لښکر یې برابر کړي اوورغلي کله چې علي ورنژدي سو حال یې وروکړي چه تسلیم سي دوي ورته وویله چه پابه مونږوژني اوکه مونږچیري کامیابه سولونومونږبه تاوژنو بیاحرقوص بن زهیر پرعلي باندي حمله وکړه اوورته ویله یې چه پاعلي بن ابي طالب زه ستاپه وژلوکې نور هیڅ مقصدنه لرمه غیر د خداي تعالي د رضاء ځخه (یعني دخداي دپاره دي وژنم)حضرت علي ورته وویله چه ستاسو مثال هغه دي

چې په قرآن کې ذکر سوې دې الله پاك فرماي(قل هل ننبئكم بالاخسرين اعمالا الذين ضل سعيهم في الحياة الدنيا وهم يحسبون انهم يحسنون صنعا ؛ الايه سورة الكهف) او زمادې قسم په الله وې چې ته دد غه ډلې څخه يې بېاعلي͏ؓ دتورې وارې پروكړې او مړ يې كړې جنګ شروع سو تهول يې مړه كړه ۹ كسه پاته سوله او هغه نور وملكوته وتښتېدله بيا يې هلته خپل دعوت روان كړې ترهغه وخته پورې چې ډېر سوله بېاعلي͏ؓ په شهادت ورسوې (دغه واقعه مې دد غه كتابو څخه رامختصره كړېده؛ الفرق بېن الفرق ص۴۸ ؛ البدايه والنهايه لابن كثېر جلد ۷ ص۲۸۵ ؛ وابن الاثېر في الكامل جلد ۳ ص۲۱۶)

په احاديثوكې ډېرزيات روايات دخوارجو په حق كې راغلې دي اومحدثېن مستقل بابونه پرلېكې چې دتهولوذكر كول په دغه مختصر كتاب كې مناسب اوممكن نه دې اوپه احاديثوكې راغې چه په خوارجوكې به دا علامې وې

(۱)ښه نرم اوښايسته قران به واي[مسلم](۲)ترتاسوبه ښه كرار اوارام لمونځونه به كوې اوښه ډېرې روژې به نېسي)[مسلم](۳)په هغه وخت كې به پېد اكېږې چې په مسلمانا نوكې تفرقه ډېره سي[مسلم](۴)تازه ځوانان به وې اوبېعقلان به وې[بخاري](۵)اودرسول ﷺ احاديث به ډېر واي[بخاري] (۶)ښه خبرې به كوې اوعمل به نه په كوې[ابوداود](۷)دخداې قران ته به خلګ رادعوته وې[ابوداود](۸)او هغه ايتونه چې دكافرانوپه حق كې نازل سوې وې هغه به پر مسلمانانوراګرځوې[بخاري](۹)اودشرك شرك تهافې به ډېرې لګوې[تفسېرابن كثېر](۱۰)اوظاهرابه ډېر نرم وې اوډېرې خوږې خبرې به كوې لكن په باطن كې به لېوه دلسي وې[ترمذي](۱۱)اوډېروختې به دماپښېن لمونځ كوې يعني په اول وخت كې به يې كوې [تفسېرقرطبي](۱۲)اودابه واي چې مړوته دخېرات ثوابونه نه رسېږي[قرطبي](۱۳)اودخپل پارتۍ څخه غېر نوربه تهول مسلمانان منافقان اوپامشركان بولي[قرطبي](۱۴)اوپه تندپانوكې به يې تورې تهافې وې[تاريخ الخلفاء](۱۵)جهادبه كوې او واېې به كه چاجهادنه كوې هغه كافردې[قرطبي]۱۶ اومطلقا دمړو اوژوندودتوسل څخه به انكاركوې [صاوي]

نوټ]دخوارجوله پاره دا تهولې علامې شرط نه دي بلكه چه بعض غټې علامې يې موجودې وې بس هغه خوارج دې لكه زمونږ دزمانې په خوارجوكې اكثرعلامې سته

لکه دشرک تہافي لګول اومسلمانوته مشرکان وېل اودمذهب عقيدې رده ول اوخبراتونه منع کول اوپه تندہانوکې تورې تہافي جوړول اودماپښښن لمونځ په اول وخت کې کول اوقران پاك ته خلګ دعوت کول اوحادېثوته ځان منسوبه ول ہانورد اسي عقېدې ساتل ]اودداسې خلګوپېژندل اوددوې بد را اېستل ډېر ګران کار دې چې کتابونه يې نه رانبکاره کې داغسې نه معلومېږي دپاکستان جېد عالم سرفراز خان صفدر په خپل خطبات کې وايي چې دبې مذهبه ملامثال داسې دې لکه جعلي نوټ چه هر څوك يې نه سې معلومه وايي چې داجعلې دې که اصلي دې په ۲۰دکاند ارانوکې به يې يوپېژني چې داجعلي دې هردکاند اريې نه سې پېژندہ لاې بې مذهبه ملاهم دغه سې دې هرڅوك يې بدنه سې ښکاره کوه لاې هغه څوك به يې معلومه وي چې هغه په ټولوباطلوفرقوخبروي اودهغوې په عقائدوعلم لرې بيابه يې پېژني چې دادمذهب په جامه کې بې مذهبه ملا دې دهر کِجاخېل کار نه دې؛

(حکايت)اوس خواکثردغه نوې علماء داسې دې چې شرح العقائد به واي اودرسه وي به يې لکن په دغه۷۲ډلوکې به يوه هم نه پېژني اونه به يې عقائد ورمعلوم وي اوطالبان به هم تر هرچاپر دغه ملاډېر وي؛ حتي چه ماد اسې ملاولېدې چې دشرح العقائد درس يې کوې لکن داهل السنة اومعتزله ؤ فرق يې نه سواې کولاې اوروافض يې هم اهل السنة والجماعة بلله نوداسې ملاہان به دبنه اوبد فرق څنګه وکړي (والي الله المشتکي ابوبصيرفاتح القادري)

﴿سوال﴾ په اوس عصر کې خوارج څوك دې اوپه څه نامه دې؟ ﴿جواب﴾ خوارجوپه هر زمانه کې جلانوم ځان ته منتخب کړې دې چه په يوه نامه به بدنامه سوله بيابه يې بل نوم پېداکې اول کې داسلام دخوارجوپه نامه وه بيابې پر ځان دحرورېه ؤنوم کښېښودې بياچه په هغه کې هم بدنام سوله بيابې پرځان دمحکمة الاولې نوم کښېښودې دغه رقم راروان وه ۲۰۰کاله مخکې يې دځان دپاره دوهابيانونوم منتخب کړې بيادپنچپيرہانونوم خوش کړې اوس بياځان ته اشاعتيان اوياسلفيان واي داټول دخوارجونومان دې اوددې زمانې علماء اتفاقا داواي چې وهابيان اوپنچپيريان داخوارج دې

زمونږدمذهب مشهوره اومعتمده فتاوې شامي کې علامه ابن عابدينؒ وايي [کماوقع

في زماننا اتباع عبد الوهاب الذين خرجوا من نجد وتغلبوا على الحرمين]وايې چه اتباع دمحمدبن عبدالوهاب نجدي (چې وهابيان يې بولې )چه دنجد څخه راغله اوپرحرمينوشريفينويې حمله وکړه اومسلمانان يې شهيدان کړله داخوارج دي (رد المحتار على الدر المختار باب البغاة جلد۳ص۳۳۹) هم دغه رقم مفسر شهير علامه صاوي المالكيؒ چه دادبغداد مشهور عالم دي هغه په خپل تفسير کې ليکلي دي[كما هو مشاهد الان في نظائرهم وهم فرقة بارض الحجاز يقال لهم الوهابية يحسبون انهم على شيء الاانهم هم الكاذبون]وايې چه زمونږپه حجاز کې چې کومه فرقه ده چې په وهابيانو مشهوره ده دغه خوارج دي چه دقران داياتو اود احاديثو غلط تاويلونه کوي اوددوي داگمان دي چه دوي پرحق دي لکن په حقيقت کې دوي دشيطان ملګري دي اودشيطان ملګري تاوانيان دي(تفسير صاوي سورة الفاطرجلد۳ص۳۰۷)

(خبرتیا ء)ټول مسلمانان بايد خبروي اوخاص بياعلماء چه دمذهب اودين دښمنانو هررقم جربې دمذهب دختمولوله پاره استعمال کړې او استعماله وي يې چه دهغوڅخه يوه حربه يې داده چه دتفسيرصاوي څخه يې داغه عبارت غورځه ولې دي اوس په نوې چاپ کې داغه عبارت نسته بلکه په بعض مصري چاپوکې يې داسې کړې دي چه مخ اوشاته عبارت يې سته اوداغه ليکه يې ساده پرې ايښې وي لکه داچاپونه زمونږسره سته لکن په زړوچاپودبيروت اومصر اوپاکستان په ټولوکې داعبارت سته اودغه رقم دکراچې دقاسم پبلې کيشنزپه نوې چاپ کې هم سته

اودغه رقم يې دردالمحتارپه نوې چاپ کې چه په ۱۲ جلدوکې دي لاس يې پکښې وهلې دي اودكتاب الاباق په اول کې چه کوم عبارت دتوسل دئ هغه يې غورځولې دئ (يااحمدبن علوان ان لم ترد على ضالتي لنزعتك من ديوان الاولياء)داغه عبارت په ټولوزړوچاپوکې سته لکن په نوې ۱۲ جلده چاپ کې نسته ؛

اودغه رقم دفيض الباري څخه يې داقول دامام مالكؒ غورځه ولې دي چه(وكان مالك يفتي بكفر الخوارج؛جلد۶ص۴۰۴کتاب استتابت المرتدين)اوپه ۶جلده فيض الباري کې دارقم نسته

داټول کاردي څخه شروع دي چه علماؤ خولې پټې کړې دي اوهيڅ نه وايي حتی چه څوك حق وايي هغه بياپه رقم رقم نومانوبدنامه وي کله وايي چه دابريلوي دي

اوکله واي د اسخت درېزه دي اوکله څه اوکله څه اوعوام خوملامت نه دي ځکه چه نه پوهېږي نودېن به څوك ښکاره کړي نوباېد هرعالم د اکوشش وکړي چه دد غه کاردفاع وکي اوخلك په خبرکي ځکه چه د ادعلماو فرېضه ده اوکه چېرې علماء پټه خوله سي نوبېابه ترد الاهم حالات بدسي

اودغه رقم ددېوبند مشهورعالم اومقتداء شاه انور شاه کشمېريؒ وايي [فانهم كحال المدعېن العمل بالحدېث في دېارنا فان كل اېت نزلت في حق الكفارفانهم يجعلونهافي حق المقلدېن ؛ اه]وايي چه زمونږ په ښارو کي چه کوم خلك ځان ته اهل حدېث وايي اوځان احادېثوته منسوبه وي اود کفار اېاتونه پرمقلدېنو مسلمانانو باندي چسپانه وي دغـــه خـــوارج دي (فېض الباري علي صحېح البخاري جلد۵ص۴۰۴باب قتل الخوارج)اوهمد ارنگه شېخ محمد محدث التهانويؒ وايي[ اعلم ان الذېن يدېنون دېن ابـــن عبد الوهاب النجدي وېسلكون مسالكه في الاصول والفروع وېدعون في بلادناباسم الوهابېن وغېرالمقلدېن وېزعمون ان تقلېد احد الائيمة الاربعة( رضوان الله علېهم اجمعېن)شرك وان من خالفهم هم المشركون وېستبېحون قتلنااهل السنة وسبي نسائناوغېرذالك من العقائد الشنېعه التي وصل الېنامنهم بواسطة الثقاة وسمعناهابعضامنهم اېضا هم فرقة من الخوارج قدصرح به العلامة الشامي[حاشېه النسائي جلد۱ص۳۶۰كتاب الزكاة ]دمولا نامحمد اسحاق د هلويؒ شاگرد خاص شېخ محمددېوبنديؒ وايي چه هغه خلك چه دمحمد بن عبد الوهاب نجدي دېن چلوي اوپه عقائدو اواعمالو کي دده پرلار روان دي اوزمونږپه علا قوکي په وهابېانو اوغېرمقلدېنو باندي مشهوردي اوتقلېد داامامانوشرك بولي اوکه څوك د دوي پرعقېده نه وه هغه مشرکان بولي اوبدي عقېدي لري دغه خلك خوارج دي [نسائي] اودټول علماء دېوبند اتفاقي کتاب المهند علي المفندکي علامه خلېل احمد سهارنفوري لېکلي دي چه[الحكم عندنافيهم ماقال صاحب الدرالمختار]وايي دوهابېانوپه حق کي زمونږ هغه فتوي ده کومه چي دعلامه شامي ده چي داوهابېان خوارج دي اوپردغه کتاب باندي دمصر اوشام اوحرمېنوشرېفېنو اودپاکستان اوهندوستان دټولو علماوتصدېقونه اوتقرېضونه سته .ددغه ټولو علماو دغه فېصله ده چه

وهابيان خوارج دي (المهند علي المفند ص۴۷)

همدارنگـه مولا ناعبد الحي لکهنويؒ ليکي[ولعمري افساد هؤلاء الملاحدة وافساد اخوانهم الاصاغرة المشهورين بـ غير المقلدين الذين سموا انفسهم بـ اهل الحديث وشتان مابينهم وبين اهل الحديث قدشاع في جميع بلاد الهند وبعض بلادغير الهند فخربت بـــه البلادووقـــع النزاع والعناد[مجوعة الرسائل جلد ۵ الاثار المرفوعة ص۱۰ ]وايي زمونږپه وطن کي يــوه فـــرقه ده په نامه دنيچريه چه ديهود اونصارې دين د اسلام په جامه کې راوړې بياوايي زمادې قسم وې چه دغه نيچريه اوبل ددوې کچنې وړونه چه په غيرمقلدينومشهوردي اوځانوته اهل الحديث وايي که څه هم په حقيقت کې دوې اود انوم ډيرسره جلادي لکن زمونږپه هندوستان کې اوبعض نورو ملکوکې يې ډيرغټـ فساد جوړکړې دي اودخلکوترمېان يې ډيربغض اوعناد پيداکړې دي.چه هغه سببُ دجنګوجوړسو[لکهنويؒ]اوعلامه امين صفدراوکاړويؒ ديوسوال په جواب کې وايي[موجوده دورمیں جولوگ ائمہ اربعہ میں سے کسی ایک امام کی تقلیدنھی کرتے وہ فاسق ھیںاھل السنة والجماعة سے خارج ھیں اورحرمیں شرفین کے فتوی کے مطابق ان پرتعزیرواجب ھے ۔[تجلیات جلد۳ص۳۸۴ ]وايي په اوس دورکې چه څوك ديوه مذهب په د۴ څلورومذهبوکې تقليدنه کوې هغه فاسق دې او داهل السنة څخه خارج دې اودحرمينوفتواې داده چه تعزيرورکول واجب دي[صفدرؒ]

اودغه رقم محشي دنورالانوار دخوارجو په مثال کې وهابيان پيښه وې او ليکي (کالوهابيه المنکرللشفاعة)ص۲۴۷بحث الاجتهاد)

اودغه رقم شارح دمشکواة علامه نصير الدين غورغشتويؒ وايي چه پنچپيران خوارج دي اولمونځ کول پسې مکروه دې (حضرت غور غشتويؒ کاعقيده ص۳۸)پردغه کتاب هم دعلماء ديوبند تقريظونه سته اودغه رنګه دسرحد ممتاز اوجيد عالم ابومحمد مفتي عبد الحميد حقانيؒ وايي چه پنچپيريان مماتيان خوارج دي اهل السنة والجماعة نه دي اوبياد پاکستان دغټـو اومشهورومدرسوفتوې وې هم رانقل کوې چې پنچپيريان خوارج دي (اظهار الحق للمتمسکين بالحق

ص۲۱۸)نو معلومه سوله چې اجماعي خبره داده چې وهابيان پنچپيريان او اهل حديث د اهل السنة والجماعة نه دي بلکه خوارج دي او د خوارجو څخه ځان ساتل واجب او لازم دي؛

نبي کريم ﷺ مبارك فرمايي (الخوارج كلاب النار)رواه ابن ماجه ص۱۶)ترجمه خوارج د دوزخ سپي دي يعني دوزخ خپل حيوانات لري رسول ﷺ وايي چه زما په امت کې به خوارج په دوزخ کې سپي وي

او امام ابن ابي شيبة په خپل کتاب کې د سعيد بن جهمان څخه روايت نقل کوي چه سعيد بن جهمان وايي چه ماته خوارجو ډير دعوت راکړي چه زه ورو او ړمه زه يې ډير متاثره کړمه قريب وم چه ورسره ملگري سم په دغه وخت کې د ابو بلال خور خوب ولېدې چه ابوبلال تور سپي ؤ او شني سترگې يې وې سهار يې خور ورته ووېله چې زه دې تر قربان سمه څه وجه ده چې ماينام مې دغه رقم په خوب ولېدلې (او دغه ابوبلال د خوراجو مشرؤ)ابن جهمان وايي چه دغه خوب ولېدل سو نوما ځان ځيني جلا کړې(مصنف ابن ابي شيبه جلد۸ص۷۳۲باب ذکر الخوارج)

او دغه رقم بل روايت راوړي چه ابي طفيل؆ وايي چه د نبي کريم ﷺ په زمانه کې ديوسړي زوي پيدا سو بيا يې نبي ﷺ ته يي راوړي نبي کريم ﷺ يې پر تندي لاس مبارك ورکښېښودي او دعاء د برکت يې ورته وکړله ابي طفيل؆ وايي چې د نبي کريم ﷺ د لاس په برکت باندي د هغه کچني هلك پر تندي د قوس(لېنده)غونډي ورېښتان راشنه سوله بيا چې کله ځوان سو د خوارجوسره يې محبت پيدا سو هغه د تندي ورېښتان يې شوه سوله (ورژېدله)بيايې پلارددي وهمه چې د خوارجو ملگري نسي بندي يې کړي حضرت ابوطفيل؆ وايي چې بيامونږ ورغلو او ډير نصيحت مو ورته وکړې او د امو ورته ووېله چه ته دي ته نه گوري چې هغه د نبي ﷺ د برکت ورېښتان دي د تندي څخه ورژېدله د ډير نصيحت وروسته بيا هغه ځوان توبه وکښله چې بيا به د خوارجوسره نه کښېنم(مصنف ابن ابي شيبه صفحه ۷۳۴)

د دغه دلائلو څخه معلومه سوله چې خوارج د دين په جامه کې داخل ځومره غټه فتنه ده او صحابه ځومره ډير ورڅخه بېزېدله او پېژان يې ځومره گران کار دي او ځوك خوارج دي او د خوارجوسره تعلق ساتل د خداي د غضب سبب دي بس د اهل حق د پاره

دغه قدر کفایت کوي ؛

## ﴿دحضرت عليؓ د شهادت مختصره واقعه﴾

حضرت عليؓ شهرخدا دغه خوارجو ظالمانو په شهادت ورسوي اونور هم ډېر صحابه کرام دنبي ﷺ په شهادت ورسوله علامه ابن کثیر دمشقي اوعلامه جلال الدین سیوطي په ګډه د او اقعه داسي نقل کوي چه ۳کسان دخوارجو چه یوعبد الرحمن بن ملجم المرادي ؤ اویل برك بن عبد الله الکندي ؤ اویل عمربن بکر التیمي ؤ چي دا ۳سره په تـولوکي ښه خلګ هم وه اوډېر لمونځ ګزار هم وه اوخلګ یې هم ددین وطرفته رادعوت کوله دوي خپل په مېانځ کي د افیصله وکړله چه نور زمونږ دپاره ژوند نه دي په کارچه ترسود اګمرهان امامان مړه نکړو اوخلګ ورڅخه خلاص نکړو(عليؓ اومعاویهؓ یې مقصد وه) اود خپلو مشرانو انتقام وانخلو بس ابن ملجم ظالم ورته ووېله چه حضرت عليؓ پرمادي زه یې وژنم اوبرك بن عبد الله ورته ووېله چه معاویهؓ زه وژنم اوعمر بن بکرورته ووېله چه زه به عمروبن العاصؓ وژنمه تـولوتوري راواخېستلې اودروژې دمباشتي ۱۷تاریخ یې سره وتـاکي چه هر یوبه پرخپل سړي په دغه ورځ حمله کوي هغه ابن ملجم ظالم چه د حضرت عليؓ ذمه یې اخېستي وه ډېر ښایسته سړي ژر مخ یې ؤ اوتوروربښتان یې وه اوپه تندي کي یې دسجدي علامه هم وه هغه دکوفي پرطرف راروان سو په لاره کي پر یوه ښځه چي قطامه نومېدله پر هغي عاشق سو دهغي پلار بیاحضرت عليؓ وروژلی ؤ ابن ملجم قطامي ته ووېله چه نکاح راسره وکړه هغي ورته ووېله چه نکاح په د اشرط درسره کومه چه ته به حضرت عليؓ وژني او۳۰۰۰درهمه به مهر راکوي ابن ملجم ورته ووېله چه قسم په الله چه زه دکوره څخه دعليؓ دقتلولو په نیت راوتلي یمه او۳۰۰۰درهمه یې ورکړله نکاح یې ورسره وکړله بیا ابن ملجم دکوفي پرخوار اروان سو هغه ښځي یومریي چه وردان یې نوم ؤ دکومك دپاره په لاس ورکړي اویوبل سړي ابن ملجم په خپله کرایه کړي چه شبیب ابن نجده الاشجعي یې نوم ؤ ابن ملجم هغه شبیب ته ووېله چه تاسي ددنیا او اخرت عزت نه غواړي هغه ورته ووېله چه چش دي ددنیا او اخرت عزت ابن ملجم ورته ووېله چه دعليؓ وژل په داکي ددنیا او اخرت عزت دي شبیب ورته ووېله چي هلاك سي حضرت

عليؓ خود مسلمانانو څخه اول مسلمان دي اوبل دنبي کريمﷺ قريب دي څنګه به
وژني ابن ملجم ورته ووېله چه زمونږ خوارج به راموږه کړي دي په دا خاطر به وژنم
بالاخر دوي ۳سره راغلل دخپلي وعدي موافق دروژي دمياشتي پر۱۷ باندي دکوفي په
ښارکي دحضرت عليؓ په مسجد کي دشپي پټ سوله اوعليؓ ته به کمين ونيوی نور
وخت به دعليؓ عادت داسي ؤ چي دي مبارك به دشپي دتهجد دلمانځه دپاره راويښ
سو بيابه ناست ؤ چه کله به موذن ږغ دلمانځه وکي بيابه دجنت ۲ګلان حضرت حسينؓ او
حضرت حسنؓ مبارکان به ورته راغله بيابه مسجد ته په ګډه راوتله په دغه شپه حضرت
عليؓ نه سو راويښ کله چه حضرت حسنؓ ورغلي اوراويښ به کړي بيابي ورته ووېله
چه باباجانه ولي تر اوسه پوري نه وي راويښ سوي نو حضرت عليؓ ورته ووېله چه نبي
کريمﷺ مي په خوب کي ولېدي اوورته ومي وېله چه يارسول الله ستاد امت سره
سخت په امتحان اوجګړه کي اخته يمه څه وکړمه(يعني که يي وژنم خلګ راته وايي
چه داخومسلمانان دي څنګه يي وژني اوکه يي نه وژنم پريږدي مي نه) نبي
کريمﷺ راته ووېله چه بددعاء(ښراء)ورته وکړه بيا حضرت عليؓ ښراء ورته وکړله وېل
ياالله ماته نورخيرپه بدل کي راکړي ددوي دشره څخه مي خلاص کړي اودوي ته بل
شر ورپيښ کړي په دغه وخت کي ابن ذباح چه دادعليؓ موذن ؤ ږغ يي وکړي
چه(الصلاة الصلاة)حضرت عليؓ اوحسنين مبارکان دکوره څخه دمسجد پر طرف
راروان سو له هغه ابن ملجم ظالم سره دخپلو ملګرو دعليؓ دکور ودروازي ته مخامخ
ناست وه يوه توره ورسره وه چه هغه ده په ۱۰۰۰ درهمه اخستي وه اوبيا په ۱۰۰۰درهمه
په زهروغوره کړي وه عليؓ چه کله راووتي نوږغ يي وکړي دلمانځه چه(الصلاة
عباد الله )په دغه وخت کي هغه ظالم شبيب دتوري وار پر وکړي خو هغه وار يي خطاء
سو بيا ابن ملجم ظالم دتوري وار پروکړي حضرت عليؓ يي پر سرمبارك باندي ووهلي
اوترسريي وېني راروانې سولې ژېره مبارکه يي په وينوولړل سوله په دغه وخت کي
دغه ظالم ددغو ايا توتلاوة هم کوي(ومن الناس من يشري نفسه ابتغاء مرضات الله
)بيا حضرت عليؓ پر خلکوږغ وکړي چه وي نيسي چه ولاړ نسي بس خلګ پر راټول
سوله ابن ملجم يي ونيوي اوهغه وردان يي مړکړي اوشبيب ولاړي وتښتېدي بيا عليؓ
حضرت جعدة بن هبيرهؓ يي امر کړي چه لمونځ ورکړه حضرت عليؓ يي کورته راوړي په

دغه وخت کې لاڅوندي ؤ بیایې هغه ابن ملجم ظالم وتړې اودعلیؓ مخ ته یې کښېنوې حضرت علیؓ ورته ووېله چه ولې دې ووهلم اې د خداې دښمنه ابن ملجم ظالم ورته ووېله چه ما ۴۰ ورځې خداې ته خواست اوزارې وکړې ماوېل یاالله زماپه دغه توره باندې دټولې دنیاظالم اوبد انسان مړ کړه نوماچه ته په ووهلې نومعلومه ده چه ته ترټولې دنیابد انسان یې حضرت علیؓ ورته ووېله چه ته به خپله په داغه توره وژل کېږې اوته تر ټول مخلوق بدترین انسان یې دائکه چه ماته رسولﷺ په خپل ژوند کې وېلې وه چه په ټول دنیاکې شر د انسانانو ۲ کسان دې یو هغه سړې چه دصالح علیه السلام اوښه یې مړه کړه (چه نوم یې قذار بن سالف ؤ) اوبل هغه سړې چه تابه پرسر ووهې اوشهید به دې کړې ؛ الحدیث ؛ نودرسولﷺ په قول ته تر ټولې دنیابد انسان یې بیاعلیؓ ووېله چه کچېرې زه جوړ سومه خوزه په خپل کار ښه پوهېږمه اوکه زه شهید سومه بیادغه ظالم مړکړې اوپه اوربې وسوځې بیاحضرت علیؓ خپل اولاد اونوروعامو مسلمانانوته ښه دخېر وصېتونه وکړله بیایې دکلېمې طیبې (لااله الاالله محمدرسول الله)ذکر شروع کړې اوپر داغه کلمه شریفه یې روح وختې اوشهیدسو(اناالله وانا الیه راجعون)بیاحسنینو مبارکېنو غسل ورکړې اوعبد الله بن جعفر دجنازې لمونځ ورکړې بیایې خاوروته وسپارې ؛

چه کله دده تجهیز اوتدفین څخه خلاص سوله بیایې هغه ابن ملجم ظالم راوستې اوپه مېدان کې یې ودروې اوحضرت عبد الله ابن جعفرېې لاسونه اوپښې ورکاټ کړلې ده ظالم په دغه وخت کې هم دسورة اقراء شریف تلاوة کوې(اقراء باسم ربك الذي خلق خلق الانسان من علق)دا اېاتونه یې وېله بیاچه کله یې ژبه ورپرې کوله په دغه وخت کې یې وژړله خلکوورته ووېله چه ولې ژاړې ده ورته وېله چه که مو ژبه راکاټ کړله بیابه ذکر په څښ کومه اوزه دانه غواړمه چه یوساعت دې هم زه بې ذکره دخداې ژوند وکړمه بیایې مړکړې لله الحمد (البدایه والنهایه ج۷ ص۵۵۰)وتاریخ الخلفاء ص۱۳۵)

داسلام داسې رهبران اودرسولﷺ کران صحابه یې کرام دد غو ظالمانو دلاسه شهید ان سوې دې اوظاهرا یې د اسلام څونده غټه دعوه کوله نو همېښه په هره زمانه کې دغه رقم ددین اواسلام په جامه کې دمذهب دښمنان ګرځې اوخپل کارکوې اوخلګ ګمراه کوې(اللهم خذهم اخذعزیزمقتدر)

## مسئله حج اکبر

زمونږ د مسلمانانو پرژبه د اخبره مشهوره ده چه کله د جمعې مبارکې اوعرفات ورځ سره یوه سي وايې د احج اکبردې اویوحج یې په ۷۰ چندزیات ثواب لرې اوملاعلي القاري الحنفيؒ وايي [والسنة الخلق اقلام الحق]د مسلمانانوژبې د حق قلمونه دي اوبلې خواته بیابعض علماء وايې چه د اخبره غلطه ده اودغې ورځې ته په حج اکبرسره نه ویل کیږي اونه د احج ترنورو حجوزیات ثواب لرې بلکه د اسې ملایان هم سته چه هغه وايې چه زه زمونږدعوامو په د اخبره چه د احج اکبردې شرمیږمه نوزه غواړمه چه دځپل علم مطابق دغه مسئله واضحه کړمه. چه د امعلومه سې چه د اخبره په حقیقت کې هم بې ځایه ده اود شرم خبره ده اوکه زمونږدمذ هب دفقهاء قول دې.
په د امسئله کې ۲دوه طرفه دې یود اخبره چه کله ورځ د جمعې اوعرفات سره یوه سې په دغه حج کې تر نورو حجوزیات ثواب دې اودغه ورځې ته په حج اکبرسره ویل کیږې په د اخبره کې تقریباپه فقهاوکې د چا اختلاف نسته بلکه ټـول د او ایې چه د دغه ورځې په عبادت کې ترنوروورځوثواب ډیردې اود اکبریت وجه یې هم د اغه ده اوبله د اخبره چه د احج ترنورو حجو یوپه اویا ۷۰زیات ثواب لرې چه د اغه دیوحدیث مبارک مضمون هم دې په دغه حدیث کې دبعض علماؤیو څه خبره سته چه زه به یې وضاحت وکړمه.
حدیث مبارك د اسې دې چه امام زیلعيؒ د حضرت طلحه بن عبید اللهؓ څخه نقل کوې چه جناب رسول پاك ﷺمبارك فرمايې(افضل الایام یوم عرفة اذ اوافق یوم الجمعة وهوافضل من سبعین حجة في غیر جمعة (رواه رزین ابن معاویه في تجرید الصحاح )رسول ﷺوايې چه په ټـولوورځوکې افضله اوبهتره ورځ هغه ورځ دعرفات ده چه دجمعې ورځ ورسره یوځاې سې اود احج تر ۷۰ اویاحجو افضل دې هغه چه جمعه نه وي ورسره د احدیث مجدد الملة علامه علي القاريؒ نقل کړې دې [ارشاد الساري ص۳۱۹]اودغه رقم الفقیه النبیل شیخ علامه .شرنبلالي نقل کړې دې [نور الایضاح.ص۱۸۲ ]اودغه رقم د اغه روایت محدث العصر العلامه شیخ سید محمد یوسف بنوريؒ هم ذکرکړې دې اوتصحیح د حدیث یې هم کړې دې(معارف السنن جلد۶ص۴۱۸باب ماجاء في یوم الحج الاکبر) اودغه رقم د اغه روایت علامه

العصر مفتي اعظم مولانامحمد تقي عثماني(حفظه الله) هم ذکرکړې دي (درس ترمذي جلد۳ص۲۱۲)اودغه رقم مراقي الفلاح علي هامش طحطاوي ص۴۰۳]اودغه رقم مولاناعبد الحي لکهنويؒ هم ذکرکړې دي په خپل کتاب کې [مجموعة الرسایل الاجوبة الفاضلة جلد.۴ص۸]اودغه رقم خاتمة المحققين علامه شاميؒ هم ذکرکړې دي په [رد المحتار جلد۱ص۱۹۳]او همد ارنګه المحقق النبيل شيخ ذاده الحنفيؒ نقل کړې دي[مجمع الانهرجلد۱ص۴۰۸]اوهمد ارنګه علامه ابن نجيم الحنفيؒ نقل کړې دي[البحر الرائق. جلد۲ص ۳۴۰]همد ارنګه علامه زيلعيؒ نقل کړې دي[تبيين الحقائق جلد۲ص۲۶]

اوهمد ارنګه ملاخسرو الحنفيؒ نقل کړې دي[درر الحکام جلد۱ص۲۲۶]اودغه رقم علامة العصرابو الفضل ايوبيؒ هم ذکرکړې دي په تفسير ايوبي کې جلد۸ص۳۰۶]د اتـولو کتابود احديث مبارك ذکرکړې دي چه حج اکبر سته اوفضيلت يې ډېردي

لکن علامه شاميؒ دغه حديث په خپل کتاب کې په کتاب الحج کې۲دوه ځاې راوړې .يوځاې يې په اول سرکې راوړې هغه دغه وچه مونږ ذکرکړې او هيڅ جرح هم نه پرکوې بلکه دليل په وايي اوبل ځاې يې په اخردکتاب الحج کې دداغه جلدپه صفحه [۲۷۵]کې راوړې او هلته بياد علامه مناوي څخه نقل کوي چه بعض حفاظ د او ايي چه (هذاحديث باطل لااصل له)د احديث باطل دي اصل نه لرې بياو اي[نعم ذکر الغزالي في الاحياء قال بعض السلف اذ او افق يوم عرفة يوم جمعة غفر لکل اهل عرفة وهو افضل يوم في الدنياء؛اه ]واي امام غزاليؒ فرمايي چه سلف وايي چه کله د جمعي اوعرفات ورځ سره يوه سي د اورځ ترټـولو افضله ورځ ده اوپه دا ورځ کې دعرفات ټـولو خلګوته بخښنه کيږي(رد المحتار) اوس ددغه عبار اتو څخه معلوميږي چه دعلامه شامي خپله رايه داده چه حج اکبرثابت دي ځکه چهدې خپله په داغه حديث مبارك باندې دليل وايي اوکومه چه دعلامه مناوي جرحه نقل کوي هغه دده خپله رايه نه ده لکن انصاف يې دي ځکه چه دواړه طرفه رااخلي اوبياچه بيرته دامام غزاليؒ قول رانقل کوي د ابيادليل ددې خبرې دي چه که بالفرض حديث هم نه وي صحيح بيا هم علامه شامي دحج اکبرقائل دي.

اوکوم څوك چه بیادا وائي چه دا حدیث باطل دي اویاموضوعي دي نودهغه قول علامه علي القاري ډیر په سختو الفاظوردوي اووايي[واماقول بعض الجهال بان هذ الحديث موضوع فهوباطل مصنوع مردود عليه ومنقلب اليه لان الامام رزين ابن معاويه العبدري مــــن كبراء المحدثين ومــــن عظماء المخرجين ونقله سند معتمدعند المحققين(ارشاد الساري ص۳۱۹]وايي څوك چه وايي داحديث موضوعي دي داقول دجاهلانودي اودځان څخه جوړسوي قول دي اوپردوي باندي ردسوي دي ځکه چـــه امـــام رزين چه داحديث يي نقل کړي دي دانغتــومحدثينو اومخرجينو څخه دي اودمحققينوپه نيز يي قول مقبول دي (ارشاد الساري)اودغه علامه قاريؒ چه دا ۴۲۰ کاله مخکي وفات سوي دي اوزمونږپه مذهب کي مشهورامام دي اوډيرزيات کتابونه يي ليکلي دي اوپه جرح اوتعديل کي يي هم کتابونه ليکلي دي حتي مولاناعبدالحي لکهنويؒ دده په حق کي واي [بلغة الى رتبة المجددية علي راس الالف]ورتبي دمجددیه ته ورسيدي دغه علامه قاري دحج اکبرپه ثبوت کي يوه مستقله رساله ليکلي ده په نامه د[الحظ الاوفرفي الحج الاكبر]چه اوس دارشاد الساري په زمن کي چاپ سوي ده بياپه دغه رساله کي ليکي چه که پرداحديث ډيره جرح وسي نوضعيف به سي اوضعيف حديث په فضائلو کي مقبول دي اوبيادغه حديث ډيرنورشواهد هم ذکرکوي درسالي تر اخره پوري ارشاد الساري ۳۲۵] اودغه خبره مولاناعبدالحي لکهنويؒ هم کوي چه که داحديث ضعيف سي خوبياهم مقبول دي(مجموعه الرسايل صفحه مذکوره]او امامان د اصول الحديث تـول داوايي چه يوحديث چه شواهدلري هغه که څه هم ضعيف وي لکن و درجه دحسن ته رسيږي (کمافي مقدمة البخاري ص۱۳)

اوبله داخبره چه په داورځ کي ترنوروورځو نفس فضيلت سته اوکه يا اودا ورځي ته په حج اکبرسره ويل کيږي که يا ؟ ددي قول اکثر علماء قائل دي چه داورځ ترنوروورځوفضيلت لري اوپه حج اکبرسره مسمي کيږي مايي انکارنه دي ليدلي

قدوة العارفين قطب الارشاد سيدشيخ عبد القادر الجيلاني ؒ په خپل تفسيرکي وايي(يوم الحج الاكبر لان وقوف يوم عرفة كان يوم الجمعة لذٰلك سمي به(تفسيرجيلاني جلد۲ ص۱۸۶)وايي درسول ﷺ وحج ته په قران کي په حج اکبرسره وويل سوله داځکه

چه دجمعي اوعرفات ورځ سره يو ځاې سوله (تفسير جيلاني)
اوداغه رقم امام جليل حجة الاسلام امام غزالي ؒ هم وايي چه دا ورځ پرنورو ورځوفضيلت لري اودتهول دنياتر ورځو افضله ورځ ده[احياء العلوم جلد۱ص۲۲۷]
اوداغه وجه يې شيخ القران و التفسير استاذناو استاذ العلماء سيد نخبت الله الحنفي ؒ هم كړې ده (نخبت البيان في تفسير القران جلد۱ص۲۹۶) اودغه رقم داغه خبره مولا نااعظم شيخ المشائخ مولاناعبيد الله القادري جان فداء نقيبي هم ذكركړې ده (نقيب التفاسير جلد ۵ص۱۴۲)اوداغه وجه يې علامة العصر ابو الفضل ايوبي هم ذكركړې ده(تفسيرايوبي صفحه مذكوره.)اوامام طحطاوي ؒ يې هم تفسير كوي اورد نه يركوي[طحطاوي.ص۴۰۳]
[خلاصه] دكلام داده چه داحديث زمونږ دمذهب ډيراكابرين علماء نقل كوي اوتصحيح يې كوي لكه امام زيلعي ؒ چه علامه قاري وايي [هومن جملة الايمة الحنفية ومن اجلة المحدثين في الملة الحنفيه]. اويا لكه علامه قاري اوامام شرنبلالي اونورفقهاء چه يې تصحيح كوي نود احديث صحيح دي اودغه فضيلت سته لكن دامعادله حقيقيه نه ده بلكه معادله ثوابيه يعني داحج د ۷۰ اوياحجوپرځاې نه دريږي بلكه ثواب يې د ۷۰ حجودي او اقلا كه يوڅوك داحديث نه قبلوي نويد خوهم بايد نه پروواپي ځكه چه دادومره كتابونه يې ذكركوي اواستدلال په كوي اوڅوك چه بياداوايي چه زه په داخبره شرميږمه اوځان هم دمذهب عالم بولي بياهم دفقهاؤ په اقوالوشرميږي نويقينا زه په دغسي عالم شرميږمه اودمذهب په دعوه يې شرميږمه چه دي دخپلوفقهاؤ دقول تصحيح نه سي كولاي؛
[فاش گويم انچه دردل مضمراست؛اين كتابي نيست چيزي ديگر است] والله اعلم؛

## ﴿مسئله دتعويذ﴾

دشفاء دامراضو دپاره دقران په مباركو اياتو سره اويادااحاديثو په كلماتو سره اويانوري كلماتي چي ښه معناوي لري اوفهمول كيږي دمونه اوتعويذونه اوياڅاښتونه كول جائزاومستحب كاردي اودنبي كريم ﷺ اودصحابه كرامو اوامامانوعمل دي دا ځكه چه درب لايزال(جل جلاله) په كلام كي خوشفاده الله تعالي فرمايي [وننزل من القران

ما هو شفاء ورحمة للمؤمنين] الاسرا ايه۸۲] ترجمه الله پاك فرمايي چه مونږ نازله و(پرتا) له قرآن څخه هغه شي (اياتونه) چې شفاء دي(له ظاهرې اوباطني امراضو) اورحمة دي دپاره دمومنانو[تفسير كابلي]په دغه قرآن كي دظاهري امراضواوباطني امراضودواړو شفاء سته تردغه ايت لاندي امام رازيؒ ليكي[واعلم ان القرآن شفاء من الامراض الروحانيه وشفاء ايضامن الامراض الجسمانية[تفسير كبير جلد ۷ص۳۸۹]
امام ابن الجوزي ليكي[اي شفاء من السقم لمافيه من البركة[ذاد المسير جلد ۳ص۴۹]
اوامام قرطبيؒ ليكي[الثاني شفاء من الامراض الظاهرة بالرقي والتعويذ ونحوه[قرطبي جلد ۱۰ص۲۷۵]اوامام اسماعيل حقيؒ ليكي[واعلم ان القران شفاء للمرض الجسماني ايضا[روح البيان جلد۵ص۲۳۱]وايضا في الجمل جلد۲ص۲۷۰]وايضافي روح المعاني جلد۱۵ص۱۸۵دا ټول مفسرين وايي چه قران دباطني مرضو(لكه شرك جهالت بي ديني وغيره)ددغو امراضو هم دواء ده اود ظاهري امراضو(لكه بيره دردونه تبه وغيره)ددا سي مرضوهم دواء اوشفاء دي يعني الله پاك وايي چې په قران پاك دمومنانوباطني امراض چي دعقيدې مريضي دي هم ختمه وي ځكه قران كي هد ايت دي دحق دلارې اوظاهري امراض چې دجسد(بدن )مريضي دي هغه هم جوړه وي اوصاحب دروح المعاني امام الوسيؒ اوصاحب دتفسير قرطبي امام قرطبيؒ تردغه ايات لاندي پوره تحقيق ليكي امام قرطبي ليكي[قال مالك لابأس بتعليق الكتب التي فيها اسماء الله تعالي علي اعناق المرضي ؛اه[قرطبي]امام مالكؒ وايي چه دمريض په غاړه هغه تعويذ وركول چه دخداي جل جلاله نومان پكښې وي جائزدي باك نه لري[وسئل ابن المسيبؒ عن التعويذ أيعلق ؟ قال اذاكان في قصبة اورقعة يحرز فلابأس به[قرطبي]دسعيد ابن المسيبؓ څخه پوښتنه وسوله چه تعويذ په غاړه كول څنګه دي ؟ ده په جواب كي ورته ووېل چه په پوښوكي وي اوساتنه يې كيږي جائزدي پرواه نه لري[وعن الضحاك انه لم يكن يري بأسا ان يعلق الرجل الشيء من كتاب الله اذ اوضعه عند الجماع وعند الغائط[قرطبي]امام ضحاكؒ وايي چه دقران اياتونه په غاړه كول باك نه لري چه دجماعو او اودسه مات په وخت كي پټ ېږي[ورخص ابو جعفر محمدبن علي في التعويذ يعلق علي الصبيان[قرطبي]ابوجعفر محمد بن عليؓ به كچنيانوته

دتعویذورپغاړه کولو اجازه ورکوله[وکان ابن سیرین لایري بأسا بالشيء من القران یعلقه الانسان[قرطبي]امام ابن سیرینؒ به د اجائزبلل چه انسان دقران ایاتونه په غاړه کړي[قرطبي جلد ۱۰ص۲۸۰]د اغه اقوال علامه الوسيؒ هم نقل کړي دي[روح المعاني]بیاعلامه الوسيؒ لیکي چه دغه ۶ایاتونه دشفاء دي ۱(ویشف صدورقوم مومنین)۲(شفاء لمافي الصدور)۳(فیه شفاء للناس)۴(وننزل من القران ماهوشفاء ورحمة للمؤمنین)۵(واذ امرضت فهویشفین)۶(قل هو للذین امنوا هدي وشفاء)قال السبکي قدجربت کثیرا[روح المعاني]امام سبکيؒ وایي د اایاتونه مي ډیرتجربه کړي دي دشفاء دپاره[وعن القشیري انه مرض له ولدأیس من حیاته فرأي الله تعالي في منامه فشکي له سبحانه ذالك فقال له اجمع أیات الشفاء واقرء هاعلیه اواکتبهافي اناء واسقه فیه مامحیت به ففعل فشفاه الله تعالي[روح المعاني]وایي د امام قشیريؒ زوي مریض سو دژوند امیدیې نه ؤ امام قشیريؒ الله پاك بلاکیفه په خوب کي ولیدي بیایې شکایت دزوي د مریضي ورته وکړي الله پاك جل وعلي بلاکیف ورته وویل چه ایاتونه دشفاء ولیکه بیایې د ځانیت غوندي په أوبوکي واچوه اوهغه اوبه مریض ته ورکړه امام قشیريؒ چه د اعمل وکړي زوي یې هم جوړسو[روح المعاني][والاطباء معترفون بأن من الامور والرقي مایشفي بخاصیة روحانیة الي ان قال ومن ینکرلایعبأ به]وایي چه طبیبان په دي اقرارکوي چه د اسي د مونه سته چه په هغوي کي روحاني شفاء وي اومنکرته یې اعتبارنسته[روح المعاني جلد ۱۵ص۱۸۵]اودغه روایات علامه اسماعیل حقيؒ هم نقل کړي دي[روح البیان]اوبیالیکي[قال التاج الدین السبکيؒ في طبقاته ورأیت کثیرا من المشائخ یکتبون هذه الایات للمریض ویسقاها في الاناء طلباللعافیة[روح البیان جلد۵ص۲۳۱]وایي ډیرمشائخ مبارکان دغه ایاتونه دشفاء لیکي بیایې مریض ته ورکوي دشفاء په نیت

اونبي پاك ﷺ چي به کله مریض سو نودقران په ایاتو به یې پر خپل ځان خپله دمو نه کول دشفاء دپاره دمومنانو مور بي بي عایشه صدیقهؓ فرمایي چي نبي کریم ﷺ چه به کله ناجوړي سوخپل پرځان به یې په خپله دم کوي په معوذتینوسره یعني(قل اعوذبرب الفلق اوقل اعوذبرب الناس)اود امبارکه وایي کله چي بیارسول ﷺ ډیر مریض سو په اخیر کي دعمر بیابه ماد مونه باندي کوله الحدیث(متفق علیه) او ابوسعید خدريؓ وایي

چه جبرئیل امین علیه السلام نبي ﷺ ته راغلي نبي پاك ﷺ ناجوړي و بیا یې دم پروکړي اودغه کلمات یې وویلې(باسم الله ارقیك من كل شئ یوذیك من شر كل نفس اوعین حاسد الله یشفیك باسم الله ارقیك(رواه مسلم مشکوٰت جلد۱ص۱۴۷،في عیادت المریض]
اودغه رقم تعویذرسول پاك ﷺ خپله هم یوصحابي ته ورکړیدي امام دمیريؒ چي داعالم۶۰۰.کاله مخکي تیرسویدي هغه نقل کوي د امام بیهقيؒ څخه هغه حدیث نقل کوي چي (روایت بالمعني یې د ادي) ابودجانهؓ وایي چي زه به کله کورته بیده سوم نو دژرندي رقم ژغ به مي اوریدي اود مچمچي اوازبه مي اوریدي اود پیلبو رقم روښنایي به مي لیدل اوچي سر به مي راپورته کړي دکور په مابین کي به مي تورشي لیدي چي لوړیدي به اوو ژدیدي به نومارسول ﷺ ته شکایت وکړي ددي حال نورسول ﷺ قلم اوکاپي طلب کړل اوحضرت عليؓ ته یې امر وکړي چي تعویذولیکه رسول ﷺ ورښودي اوعليؓ به لیکي أبودجانه وایي چي کله تعویذولیکل سومادځان سره راواخیستي ماښام مي ترسر لاندي کړي چي بیده سوم چیغي اونعري سوي اوماته یې ویل أي ابودجانه مونږدي وسوځلو ستاسود نبي ﷺ په لحاظ دغه تعویذلري کړه بیاموتوبه ده نه راځوبلکه چي هرځایي د اتعویز وي هلته به هم نه ورځو ابودجانهؓ وایي ماورته وویل چي ترڅو رسول ﷺ اجازه ونکړي نه به یې کړم لیري دي وایي ددوي ژړا اوستمي مي اوریدي سهار مي نبي پاك ﷺ ته قیصه وکړه اوخبرمي کړي وایي رسول ﷺ راته وویل چي قسم مي دي په الله وي چي دوي به تر قیامته په دغه عذاب اخته وي ؛الحدیث(حیاة الحیوان الکبري جلد۲ص۹۱) اودغه رقم امام ترمذيؒ روایت نقل کوي[عن عمربن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ قال اذ افزع احدکم في النوم فلیقل اعوذبکلمات الله التامة من غضبه وعقابه وشرعباده ومن همزات الشیاطین وان یحضرون فانهالن تضره فکان عبد الله بن عمریلقنهامن بلغ من ولده ومن لم یبلغ منهم کتبهافي صك ثم علقهافي عنقه[ترمذي جلد۲ص۱۹۲ ابواب الدعوات ]حضرت عمرابن شعیب روایت ذکر کوي چه رسول ﷺ ویل چه هرکله هم په تاسو کي څوك په خوب کي بیربږي نودغه کلمات دي ووایي بیاد اپیریان (جنات)هیڅ کله ضررنسي رسولي هغه د ادي(اعوذبکلمات الله التامات من غضبه وعقابه وشر

عباده ومن همزات الشياطين وان يحضرون)اوحضرت عبد الله بن عمروؓ به خپلوليانو(غټانو)زامنانوته د ادعاء وريادوله او کچنيانوبچيانوته به يې ورتعويذ کړل اويه غاړه بې ورکړله(رواه ترمذي)علامه سهارنپوريؒ وايي[وهذا هو السند فيما يعلق في اعناق الصبيان من التعويذات]وايي دادليل دي دتعويذپه غاړه کيدلوکچنيانوته[حاشيه ترمذي]نوله دي ځايه څخه معلومه سوله چه رسول ﷺ هم تعويذ صحابه کرامو ته ورکړيدي او هم يې وربنولي دي

اوصحابه کرامو هم تعويذونه کړي دي[ويحکي ان قيصر ملك الروم کتب الي عمر ابن خطابؓ ان بي صد اعافانفذ الي شيئامن الدواء فأنفذ اليه قلنسوة فکان اذ اوضعهاعلي راسه سکن مابه من الصداع واذ ارفع عن راسه عاد الصداع اليه فتعجب من ذالك فامر بفتحهافتشت فاذ افيه رقعة مکتوب فيها بسم الله الرحمٰن الرحيم ؛اه[المواهب اللدنيه للبيجوريؒ ص۳ ]وايي دروم باچاحضرت عمرؓته حال راوکړې چه دسر ددردعلاج راواسته وه حضرت عمرؓ دسرخولي(ټوپي) ورواسته وله چه کله به يې پرسرکړه دسردرد به يې ښه سو اوچه دسر څخه به يې ليرې کړه له بېرته به يې پرسردرد سوچه خولي يې خلاصه کړله په هغه کې يوکاغذو چه بسم الله پکښي ليکلي وه[المواهب]د ادي امير المؤمنين حضرت عمرؓ هم دسر درددرتعويزکړي دي)

اوجناب نبي کريم ﷺ فرمايي چه څوك په قران شفاء نه حاصلوي هغوي دي الله پاك نه جوړه وي[روح المعاني]قرطبي]روح البيان]تفسيرنسفي]تفسيرکبير]تفسرابي سعود]داټول دغه حديث په مذکوروصفحوکي نقل کوي]اوزمونږ دمذهب مشهوره فتاوي شاميه کي وايي چي تعويذکول چه کله قران اويانوراسماء دخداي پکښي ليکلي وي رواعمل دي بدي پکښي نسته اوپرجواز يې ټول مسلمانان متفق دي اوپه دې کې دصحابه و اقوال هم سته(جلد .۵.ص۳۱۹)نواوس هغه انسانان چي ځاي پرځاي وعواموخلګوته لګياوي چي دم اوتعويذنسته اوکتابونه دي راوړي دهغوڅخه داپوښتنه وکړي چي دغه درسول ﷺ خپل عمل اودصحابهؓ وعمل اودتابعينو اوفقهاو اقوال اواعمال دين اومذهب دي اوکه نه اوکه دين دي نوبيانارو‌ا اوحرام څنګه سول دتعجب خبره خود اده چه ځانوته ديوبنديان هم وايي بياهم په خطبوکي پرتعويذو بداوردوايي اوسره له دي چه علماء ديوبند په تعويذوکي مستقل کتابونه

لري لکن هغه بیانه منې هسې دديوبند په جامه کې وهابیانوته خدمت کوې(ان هم الا في ضلال مبین)

سوال﴾ احاديثوکي خوراغلي دي چې نبيﷺ خلگ ددم کولوڅخه منعه کړل نوبیاڅنګه نبيﷺ خپله دم کوې

جواب﴾ هوهغه دم نبيﷺ منع کړې چې په هغه کې شرکي الفاظ موجود وه اوهغه دمونه چې پرصحیح کلماتوبناء وه هغه یې نه منع کول لکه حضرت جابرؓ نقل کوې چې کله رسولﷺ منعه وکړه ددموکولوڅخه نودعمروبن حزم دقوم خلگ راغله(داد عربودیوقوم نوم دې)اونبيﷺ ته یې ووېل چې یارسول اللهﷺ مونږ خودلړمانودم ایزده دې اوکوویې اوتاخلگ ددم کولوڅخه منع کړې دې بیادوې هغه دم نبيﷺ ته وکړې نوکله چې نبي کریمﷺ ددوې دم واورېدې بیایې ورته ووېل چې دغه رقم دمونه زه نه منعه کوم که چېرې ديومسلمان وروروستاسې ودم ته ضرورت و اوستاسې فائده ورسېدله نودم پروکې رواه مسلم(مشکوات جلد۲ص۴۱۰کتاب الطب)نومعلومه سول چې هغه دمونه اوتعویذونه منعه دي چې په هغه کې دشریعت خلاف الفاظ موجود وې اوکوم تعویذونه چې په هغې کې داسې الفاظ وې زمونږ کتابوذکرکړې وې اوښه یې بللي وې نوپه کې هیڅ بدې نسته

**سوال** په ابجد اوهندسوسره تعویذ لیکل څه حکم لري؟

**جواب** احسن الفتاوي کې لیکې چه په ابجدسره تعویذ لیکل جائزدي ځکه چه داهم **لغة** مفهومه دي[احسن الفتاوي جلد۸ص۲۵۶]اوام غزاليؒ هم په خپل تعویذات کې په ابجدسره لیکلي دي اواشرف علي تهانویؒ هم په اعمال قراني کې لیکې دي اوشاه انورشاه کشمريؒ هم په مجربات کشمري کې لیکلي دي نودادوې عمل دلیل دجوازدې [والله اعلم] (هذا یکفي للعلیل ان نظرعلیه الجلیل ولله الحمد معنادلائل شتي غیرذالك لکن ندخرها لوقت الحاجه)

## ﴿مسئله شکرانه اخیستل﴾

جمهورفقهاء کثّرهم الله وايي چې شکرانه اخیستل اوپه خوله غوښتل دواړه روادي ځکه چه دايوکسب اوکمال دې اوپرخپل کسب اجرت اخیستل روادي)علامه شاميؒ

ليکي (وانماجازالاستئجارعلي الرقية ولوكانت بالقران لانهالم تفعل قربة لله تعالي بل للتداوي فهي كصنعة الطب وغيرها؛مجموعة الرسائل ابن عابدين جلد۱ص۱۵۷) اوصحابه کراموپردم کولوباندي شکرانه اخيستي ده لکه حديث شريف دبخاري دي حضرت ابوسعيد خدريؓ وايي چي اصحاب مبارکان پوخواته په سفر تللي وه دعربو پرپوقوم برابرسول د هغوځخه يي د ميلمستياطلب وکړي لکن هغونه کړل ميلمانه اتفاقاد هغه قوم سرد اريه دغه شپه لړم وخوړي چي هر څه دوايي په وکړه هغه نه جوړيدي نوبيايي د ادقوم خلکوسره ووېل چي د غه ميلمنوته به ورسو شاهد ددوي سره يوشي وي نوصحابه کراموؓ ته راغله اوورته وېي وېل چي زمونږسرد ارلړم خوړلي دي اونه جوړيږي اياستاسوسره يوشي نسته چي رايي کړي يوصحابي مبارك ورته ووېل چي قسم ده چي زه وده کريم دلړم دم مې ازده دي لکن تاسوزمونږعزت نه وکړي نوزه هم دم نه پر کوم ترهغوچي چي مزدوري(شکرانه)رانه کړي بيايي صلح سره وکړه چي يوڅوپسونه به درکړو(چه بعض رواياتوکي ۳۰پسونه راغلي دي)اوبياهغه صحابي ورسره و لاړي اودم يي پروکي سورة الفاتحه (الحمدلله)يي پرووېل هغه سرد اردقوم ځاي پرځاي جوړسو هغوئ هم شکرانه ورکړل هغه پسونه راروان کړل راغلي ملګرو ورته ووېل چي مونږته يي هم راتقسيم کړه ده ورته ووېل چي ترڅورسولﷺته نه يوورغلي نه يي تقسيمه ومه نوکله چي رسول ﷺته راغله او داقصه يي ورته وکړله نورسولﷺورته ووېل چي ماته لاهم حصه پکښي راکړي اوبيايي ورته ووېل چي ترټولوحقد اره د اجرت(مزدوري) خوقران دي چي پرواخيستل سي (صحيح البخاري جلد۱ص۳۰۴کتاب الاجاره ايضا جلد۲ص۷۴۹کتاب فضائل القران)ددغه حديث په تشريح کي امام نوويؒ وايي [هومن باب المروات والتبرعات ومواسات الاصحاب والرفاق والافجميع الشاة ملك الراقي قاله تطيبالقلوبهم ومبالغة في تعريفهم انه حلال لا شبهة فيه]وايي چه دغه شکرانه ټوله د هغه صحابي حق ؤ چه چادم کړي ؤ لکن دانوروصحابه ؤ ته چي ده ورکړله داده احسان دي اورسولﷺچي ورته ووېل چي ماته هم حصه راکه دايي دده دزړه دخوشحاله کيدودپاره ورته ووېل ځکه چي دده شك ؤ چي دابه راته رواوي اوکه يا(حاشيه البخاري)اوبياليکي[وفي الحديث دليل علي

جوازالرقية بالقران وبذكرالله واخذ الاجرة عليها والبه ذهب سعيد مالك والشافعي واصحاب ابي حنيفه ]وايي داحديث دليل دي ددي خبري چه په قران اونورو اذكاروسره دم كول جائزدي اومزدوري باندي اخيستل هم جائزدي[اودغه رقم امام طحاويؒ وايي[ويجوزالاجرعلي الرقي وان كان يدخل في بعضه القران ؛اه[عمدة القاري جلد۱۲ص۱۳۷]وايي چه پردموباندي اجرت(شكرانه)اخيستل روادي كه څه هم دم په قران سره وي(شرح بخاري)

اودغه رقم امام بدرالدين عينيؒ وايي[وفيه جوازاخذ الاجر]وايي په داحديث سره شكراني اخيستل ثابتيږي[عيني ص۱۴۳]اودغه رقم علامه ابن حجرالعسقلانيؒ وايي[وخالفوالحنفية في التعليم واجازوه في الرقي ]احناف پرتعليم اجرت اخيستل جائزنه بولي لكن پردمو باندي جائزبولي[فتح الباري جلد۳ص۶۶۹]اودغه رقم د۴مذهبوشريك كتاب الموسوعة كي ليكي[ذهب جمهورالفقهاء الي جوازاخذ الاجرة علي التعويذوالرقي والبه ذهب عطاء وابوقلابة وابوثوروا سحاق واستدلوبحديث ابي سعيد الخدريؓ[الموسوعة الفقهية جلد۱۳ص۳۴]وايي جمهورفقهاء وايي چه پرتعويذو اودموباندي شكراني اخيستل جائزدي اودليل يي هغه مخكي حديث دي[الموسوعه]اودغه رقم زمونږدمذهب كتاب الدرالمختاركي وايي[استاجره ليكتب له تعويذا لاجل السحرجاز[الدرالمختارعلي هامش الرد جلد۵ص۶۳كتاب الاجاره]وايي دتعويذدپاره يوچاته مزدوري وركول جائزدي[الدرالمختار]نومعلومه سول چي پردم اوتعويذشكرانه اخيستل روادي څه بدي پكښي نسته البته كوم كول چي دوه ۲مسلمانان سره جلاكي اودخلكوكورونه ورخراب كي اوياددي دپاره تعويذكوي چي هلكان اوانجوني پيداكي اوياپه ګرنتي تعويذونه كول اويادنورو ناروااكارودپاره تعويذكول سخت حرام اوناروادي داولياؤ اوښوخلګورنګ داسي كوډګرانووربد كړي اودعلماؤرنګ بياد ابي مذهبه اخوند انووربد كړي؛والله اعلم

## ﴿مسله جذب ووجد﴾

دوجدتعريف وجد اوجذب د ايوښه حالت دي چي بي اختياره د الله جل جلاله له جانبه مومنانوته پيښيږي اوهغه له وجهي په بدن كي بي اختياره حركت پيداسي اوتوله

اند امونه بې اختياره سي لکه څنګه چه د اتعريف زمونږ استاذ[المتکلم النظاروکيل الاحناف عين العلم کاسر اعناق اللامذ هبين و الو هابين ومشبهيهم استاذ العلماء شيخي ومرشدي حضرت العلامة نورمحمد القادري الميوندي ]کړي دي جامع الرسائل جزء ۱۲ص۱۷۸] اوعلامه محمدعلي تهانويؒ ليکي[وقال اهل الحقيقة الوجدعجز الروح من احتمـــــال غلبة الشوق عندوجود حلاوة الذکر]کشاف في اصطلاحات الفنون جلد۴ص۲۹۳باب الواو]مفهوم علامه تهانوي وايي چه کله دذکرپه وخت کي خوند پيد اسي اوشوق غالب سي اوروح عاجز سي دېته جذب اووجد وايي

اوعلامه طوسيؒ ليکي[فقال عمربن العثمان المکي لايقع علي کيفية الوجدعبارة لا نهاسرالله تعالي عند المومنين الموقنين(کتاب اللمع صفحه ۳۱۰]عمربن العثمان المکيؒ وايي چه دوجدصحيح تعريف نه سي کيدلا ي هغه ځکه چه داوجديوسراورازدي دالله تعالي پرمخلصانومومنانوچه هرڅوك نه په پوهيږي(اللمع)اودغه جذب حق اوثابت دي مشهورمحقق علامه شاميؒ ليکي [مافي التواجد ان حققت من حرج ولافي التمايل ان اخلصت من باس فقمت تسعي علي رجل وحق لمن دعاه مولاه ان يسعي علي الراس]شامي جلد۳ص۳۳۷قبيل باب البغات]مفهوم علامه شامي وايي هغه وجد چه په رشتياواي د هوکه نه وي اوپه اخلاص سره ذ اکر بې حاله سي د اصحيح دي په پښوخوته هميش ګرځي هغه څوك چه بادار يې طلب کي بايد پرسرروان سي (شامي] اودغه رقم علامه خيرالدين رمليؒ ليکي(وحقيقة ماعليه الصوفيه لاينکرهاالاکل نفس جاهلة غبية الي ان قال وفي التاتارخانيه مايدل علي جوازه للمغلوب الذي حرکاته کحرکات المرتعش وبهذ افتي البلقيني وبرهان الدين الابناسي وبمثله اجاب بعض ائمة الحنفية والمالکية وکل ذالك اذاخلصت النية وکانوا صادقين في الوجد مغلوبين في القيام والحرکة عندشدت الهيام؛اه؛الفتاوي الخيريه علي هامش الحامديه جلد۲.ص۲۸۳]امام رمليؒ ديوسوال په جواب کي وايي .چي دصوفيه کرامود اعمالوڅخه انکارد جاهلانوکاردي اوبهاواي چه امام بلقيني اوامام ابناسي اوبعض احناف اوموالك د افتوي ورکوي چه جذب حق اوثابت دي چه کله نيت سم اوصحيح وي ]اودغه رقم دغه قول امام جلال الدين

سیوطيؒ هم نقل کړې دي اوبیاپه اخر کي لیکي[ان صاحب الحال مغلوب والمنکرمحروم وبالجملة فالسلامة في تسليم حال القوم (الحاوي للفتاوي ص۶۴۱ الفتاوي المتعلقة بالتصوف]امام سیوطي وايي چه جذب اووجدوالابي هوښه دي اومنکرېي دداحال څخه نامحرومه اوناخبره دي بیاوايي بس سلامتیاد مسلمان په داکي ده چه دصوفیانود احال دوجد تسلیم کي اوبدنه پروايي(الحاوي]اودغه رقم قاضي ثناء الله پاني پتيؒ لیکي [قلت وجه طريان هذه الحالة كثرة نزول البركاة والتجليات مع ضيق حوصلة الصوفي وضعف استعداده وانمالم توجد هذه الحالت في الصحابة رضي الله عنهم مع وفور بركاتهم لاجل سعة حواصلهم وقوة استعدادتهم ببركة صحبة النبيﷺ واماغيرالصحابة من الصوفية فعدم طريان تلك الحالة عليهم امالقلة نزول البركات وامالسعة الحوصلة ؛اه؛ تفسیرمظهري جلد۸ص۲۰۸سورة الزمرایت ۲۳]قاضي صاحب مبارك وايي چه کله دصوفي حوصله استعدادکم وي اوبرکات اوتجلیات ډېرسي په دغه وخت کي وجدپیښېږي که څوك بیاد اسوال وکي چه برکات اوانوارات خوپرصحابه ودرسولﷺ ډېروه هغوي ته ولي داجذب نه پیښېدي نوجواب يي دادي چه دصحابه کرامواستعداداوحوصلي دنبي کریمﷺ په برکت ډېرې فراخي وې نوځکه دانواراتوطاقت يي درلودې اوکوم چه غیردصحابه وڅخه نورصوفیه دي اونه جذب کیږي نوهغه بیایادکم والي دانواراتودوجهي نه جذب کیږي اویادزیات استعدادله وجهي(مظهري] بیاقاضي صاحب هغه اعتراضونه چه پروجداوجذب باندي کیږي هغه ښه په تفصیل سره جوابه وي چه مطالعه یي ضروري ده

تنبیه[دقاضي صاحب مبارك له دې قوله څخه داخبره معلومه سوله چه وجداوجذب من وجه دليل دکمال دي اومن وجه دليل دنقصان دي ځکه چه وجدهغه وخت پیښېږي چه کله انوارات اوبرکات اوتجلیات.پرمسلمان راشروع سي اونزول دبرکاتودلیل دکمال اومقبولیت دي لکن چه په دغه صوفي مسلمان کي یي ددغه برکاتودبرداشت کولواستعدادنسته اوبې اختیاره سونودابیادلیل دنقصان دي نوداسي هم نه ده لکه بعض جاهلان صوفیان چه قصداځانونه داسي کي لکه جذب

اود او ايې چه جذب من كل الوجوه كمال دې اود اسې هم نه ده لكه بعض متبعېن دوهابيانو چه وايې مطلق جذب نسته اوياجذب بالكليه بې كمالي ده بلكه حق جذب حق دې اومن وجه كمال دې]

اودغه رقم امام غزالي لېكي (ومن اسبابها السماع ومجالسة الصالحېن والخائفېن والمحسنېن والمشتاقېن والخاشعېن فمن جالس شخصا سرت اليه صفاته من حېث لايدري(احياء العلوم جلد٢ص٢۶۴كتاب اداب الوجد)امام غزالي وايې چه دوجدسبب كله نعت خواني وي اوكله بياداولياء الله مجلس وي اوكله بياد عاشقانو اوخاشعانوتعلق وي ځكه چه د اقانون دې چه د چاسره دې تعلق وي د هغه صفات به تاته نقل كېږي [احياء العلوم]بيا امام غزالي په مسئله دجذب كې ښه تفصيل كوي اود اثابته وي چه صحابه كرامو او ائمه مجتهدينو اوفقهاوته به هم كله كله وجد اوجذب ورپيښېدې

اوعلامه شيخ ملاجيون جونپوري مولف نور الانوار لېكي[ثم ان اهل السماع يتفاوتون في حال سماعهم فمنهم من يغلب عليه في حال سماعه الخوف اوالحزن اوالشوق فيؤديه الي البكاء والانين والشهقه وتخريق الثياب والغيبة والاضطراب ومنهم من يغلب عليه الرجاء والفرح والاستبشارفيوديه الي الطرب والرقص والتصفيق ؛اه؛(التفسيرات الاحمدي صفحه ۶۰۳.سورة الزمرايت ۲۳ ]علامه جيون وايې بياد اوجد پردوه قسمه وي(١)كله د اسې وي چې پر انسان په حالت دوجد كې بيره اوغم غالب سي نوبياد اانسان ژاړي ياپه بلګ وي ياجامې څيرې يانعرې وهي (٢)اوكله بياخوشحالي پرغالبه سي بياد اانسان خاندي يالاسونه ټكوي يارقص كوي (تفسيرات احمدي]

**[خلاصه]**له دې عبار اتو څخه د اثابته سوله چه حق اورشتياوجد اوجذب حق اوثابت دي.اومطلق انكارورڅخه كول دجاهلانو اومتعصبينو كاردي اوكوم چه تواجددي په هغه كې دعلماواختلاف دي چه قاضي ثناء الله پاني پتي اوعلامه شامي اوامام غزالي اوعلامه سيوطي يې جايزبولي

همد ارنګه دغه كتابونه اوګوري[كتاب اللمع في تاريخ التصوف الاسلامي

للطوسي. المتوفي سنه ۳۷۸.ص ۳۱۰.کتاب الوجد (فتاوي فريد به جلد (۱) صفحه (۱۳۲) مرقات شرح مشکوات جلد (۵) صفحه (۱۰۶) [التعرف لمذهب اهل التصوف لابي سلمان الداراني؛ صفحه ۱۱۰] او طحطاوي شرح مراقي الفلاح ۱۷۴ فصل في صفت الاذکار) او احياء العلوم صفحه (۲۴۰ جلد ۲ کتاب اداب السماع) د ... ارنګه فيض الباري شرح صحيح البخاري جلد (۳) صفحه (۲۸۱) فتاوي تنقيح الحامديه جلد ۲ ص ۲۷۸) فتاوي حقانيه جلد ۲ ص ۲۵۰ کتاب السلوك] مجمع الانهر جلد ۴ ص ۲۲۰ کتاب الکراهية فصل في المتفرقات] نزهت الناظرين ص ۴۴] اونور هم ډير فقهاؤ د امسئله ذکر کوي

## ﴿مسائل الدعا﴾ يعني د دعا طريقه او ځاي﴾

د دعاء معني (حاجة خواستن از خدائ تعالي [منتخب] د خدائ تعالي څخه حاجت غوښتل] او خداي تعالي فرمائي (وقال ربكم ادعوني استجب لكم ان الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين؛ سورة مؤمن ؛اه ۶۰) ترجمه أو وايي رب ستاسي چي ماو بولي (يعني زما څخه غوښتنه وکړئ) زه به ستاسي د غوښتني قبلونه وکړم (تاسي دعاوي کوي زه به يې قبلوم) په تحقيق هغه کسان چي تکبر کوي زماله عبادت څخه (يعني دعانه کوي) نوژردي چي زه به يې داخل کړم جهنم ته ذليل سوي [تفسير ابوبي] او رسول ﷺ فرمايي و خداي [عزوجل] ته د ردعا عزتمند شي نسته (ترمذي، جلد ۲ ص ۱۷۵) او رسول ﷺ وايي دعا د تهولو عباداتو مغز ده (ترمذي صفحه مذکوره) أو نبي پاك ﷺ وايي چي څوك دعانه کوي خداي ورته په غضب کيږي [صفحه مذکوره] او رسول ﷺ فرمايي چه دعاء د مومن اسلحه ده او دعاء د دين ستن ده او دعاء د مځکي او اسمانونو رڼا ده [الترغيب والترهيب جلد ۲ ص ۳۱۵] او رسول ﷺ فرمايي چه تاسي دعاء مه پريږدي ځکه د دعاء کولو سره هيڅ څوك نه دي هلاك سوي [الترغيب] او رسول ﷺ فرمايي چه د خداي تعالي څخه د فضل سوال کوي ځکه چه خداي تعالي د اخوښه ده چه څوك سوال ور څخه وکړي او افضل عبادت انتظار د قبليدو دي [الترغيب] او رسول ﷺ فرمايي چه زه تاسو ته هغه شي

دروښېمه چه تاسې د دښمن څخه خلاص کې اورزق مود رډېرسې هغه د ادې چه د شپې اوورځې دعاوې کوې ځکه چه دعادمومن سلاح ده[الترغيب] اورسول ﷺفرماېي چه کله ېومسلمان دعاوکړې لازمابه ېوددې ۳دروشېانوڅخه ېېښېړې ېابه ېې دعاقبلېږې اوحاجة به ېې پوره کېږې اوېابه ېې د اخرت ذخېره ګرځې اوېابه په دنېاکې ېوبل تکلېف ورڅخه پورته کېږې[مشکوٰت ]اورسولﷺفرماېي که د چاد اخوښه وې چه په حالت دتکلېف کې دې زمادعاقبوله سې،نود استراحت اوجوړوالې په حالت کې دې ډېرې دعاوې کوې[مشکوٰت جلد۲ص۲۱۲]

﴿**مسئله**﴾په دعاء کې تکرارأدب اوسنت طرېقه ده ېعنې ډېرې دعاوې کول سنت دې رواېت د ابوداود کې راځې[حدثنااحمدبن علي بن سوېد السدوسي ناابوداودعن اسرائل عن ابي اسحاق عن عمربن مېمون عن عبد الله ان رسول اللهﷺكان ېعجبه ان ېدعوثلاثا وېستغفرثلاثا[ابود اود جلد ۱ ص۲۱۳باب في الاستغفار]وفي معجم الاوسط للطبراني [كان احب الدعاء الى رسول اللهﷺان ېدعوثلاثا[معجم الاوسط۱ص۱۸۸من اسمه احمد] مسند احمد جلد۴ص۱۶او۲۵مسند ابن مسعود]عمل الېوم والېله ص۱۳۰باب الاستغفارثلاثا]مسند ابي داودطېالسي جلد۱ص۲۵۷]سنن كبري للنسائي جلد۹ص۱۷۲]الدعاء للطبراني ص۳۶۱] حضرت عبدالله بن مسعودؓ واېي درسولﷺبه داډېره خوښېدله چې درې ۳دعاوې وکړې اوترتـولودعاوېې درې دعاوې خوښې وې[ابوداود]اوامام بخاري"باب لېکې[باب تکرېرالدعاء ثلاثا[بخاري جلد،۲،ص۹۴۵کتاب الدعوات]اوامام نووي په خپل کتاب کې باب لېکې (باب استحباب تكرېرالدعاالاذكارللنووي۳۵۶) بېادغه رواېت ذکرکوې]اوامام مسلم رواېت ذکرکوې چه ېوطرف دحدېث د ادې[عن عائشةؓقال حتي جاء البقېع فقام فأطال القېام ثم رفع ېدېه ثلاثا :الحدېث[مسلم جلد۲ص۳۱۳کتاب الجنائز]دمومنانومور عائشه صدېقةؓ فرماېي چه رسولﷺدجنت البقېع وهدېرې ته ووتې اوډېرودرېدې ،بېاېې ۳درې واره لاسونه پورته کړه اودعاء ېې وکړه له [مسلم]تردا غه حدېث لاندې امام نووي لېکې[فېه استحباب اطالة الدعاء وتكرېره ورفع الېدېن فېه[شرح نووي]امام نووي واېي،چه ددې حدېث څخه تکراردعاء سره

دلاسوپورته کېدلــوثابتېږي [نووي]اوعلامه بنوريؒ لیکي[وصح حديث في تکرير الدعاء ثلاثاكل مرة برفع اليدين من حديث عائشه عندمسلم[معارف السنن،جلد۳ص۱۲۳]بنوري صاحب وايي چه صحيح حديث په ۳دري واره دعاء کې سره ترهروارجلاجلا لاس پورته کېدلوثابت دي چه حديث دعائشهؓ دي په مسلم کې[معارف]

ددي عباراتو څخه د اثابته سوله چه ۳دري دعاګاني کول سنت طريقه ده بلکه حديث مبارك کې راځي [ان الله يحب الملحين في الدعوات[المقاصد الحسنه ص۱۴۹][شرح شرعة الاسلام ص۱۶۵]رسول ﷺوايي چه خداي تعالي په دعاء کې تکرار خوښه وي[شرح شرعة]نوهرځومره چه ډيري دعاوي کیږي الله پاك په خوشحالیږي نوبايد چي مسلمان هميشه دعاوي کوي اوډيري دعاوي کوي ځکه چي دخداي په دربار کې کمي نسته

**مسئله**)أدب اوسنت په دعاء کې دادي چي دواړه لاسونه پورته کې احاديث په دامسئله کې ډيرزيات دي امام بخاريؒ په خپل کتاب کې باب ليکي(باب رفع اليدين في الدعاء)بخاري جلد۲ص۹۳۸؛کتاب الدعوات]اودغه رقم امام أبوداودؒ باب ليکي[باب رفع اليدين في الدعاء]جلد۲ص۳۸۳)اودغه رقم امام ترمذيؒ باب ليکي[باب ماجاء في رفع الايدي عند الدعاء]ترمذي جلد۲ص۱۷۶ ابواب الدعوات]اودغه رقم امام نوويؒ باب ليکي[باب رفــع اليدين في الدعـــاء ثــم مسح الــوجه بهما]الاذكارللنووي،۳۵۵]،د ابابونه په دي کې ليکل سوي دي چه په دعاکي لاسونه پورته کول سنت دي

اوامام ابوداودروايت نقل کوي[حدثناقتيبة بن سعيد نا ابن لهيعه عن حفص بن هاشم بن عتبه بن ابي وقاص.عن السائب بن يزيد عن ابيه ان النبيﷺكان اذ ادعا رفع يديه ومسح وجهه بيديه[ابوداود جلد۱ص۲۰۹]جناب نبي كريمﷺچه به کله هم دعاء کوله.لاسونه به يې پورته کوله اوبيابه يې پرمخ تېرکړله[ابوداود]اودغه رقم بل روايت ذکرکوي[حدثناموسي بن اسماعيل ناوهيب يعني ابن خالد حدثني العباس ابن عبد الله بن معبد ابن العباس بن عبد المطلب عن عكرمة بن عباس قال المسألة ان ترفع

یدیك حذو منکبیك اونحو هما ؛الحدیث[صفحه مذکوره]حضرت عکرمةؒ فرمایي چه حضرت عبد الله بن عباسؓبه ویله چه أدب په دعاء کې د ادي چه لاسونه پورته کي تراوژوپوري اویاقریب تراوژوپوري[ابود اود]او امام جلال الدین سیوطيؒ لیکي[ومنه ماتواترمعناه کأحادیث رفع الیدین في الدعاء فقدروي عنهﷺنحو مائة حدیث فیه رفع یدیه في الدعاء وقد جمعتهافي جزء[تدریب الراوي ص۴۶۱]امام سیوطيؒوایي چه په دعاء کې لاس پورته کیدل په تواترمعنوي سره ثابت دي او(۱۰۰)احادیث په دي کي راغلي دي چه رسولﷺبه په دعاء کې لاسونه پورته کوله[تدریب]

اوعلامه ظفراحمد عثمانيؒیوعنوان لیکي[تواتررفع الیدین في الدعاء]بیادغه قول دعلامه سیوطيؒ نقل کوي چه سل(۱۰۰)احادیث په دعاء کې په لاس پورته کیدلو کي راغلي دي(اعلاء السنن جلد۲،صفحه۱۰۰۸)اوعلامه شاميؒ لیکي[کمایرفعهماالمطلق الدعاء في سائرالامکنه والا زمنه علي طبق ماوردت به السنة [شامي جلد۱ ص۳۷۵مطلب مهم في التشهد]په هروخت کې اوپه هره زمانه به دمطلق دعاء دپاره لاسونه پورته کیږي لکه څنګه چه سنت طریقه هم ده[شامي]اودغه رقم امام زحیليؒ لیکي[من اهم أداب الدعاء رفع الیدین حتي یري بیاضه ثم مسح الوجه بهمااتباعاللسنة[الفقه الاسلامي وادلته ج۲ص۹۹۵]اودغه رقم دڅلورومذ هبوشریك کتاب الموسوعة کې اداب ددعاء لیکي[ان یدعوامستقبل القبله ویرفع یدیه بحیث یري بیاض ابطیه[الموسوعة الفقهیة جلد۲۰ص۲۶۲]اودغه رقم مولا نااشرف علي تهانويؒ لیکي[اور هاتهہ اٹهانامطلق اداب دعاسے هے؛اه[امد اد الفتاوي جلد۱ص۵۷۸] نوله دي حواله جاتوڅخه دامعلومه سوله چې په دعاء کې لاسونه پورته کول ادب دي اوپه ابله لاسو دعاء کول بې ادبه دعاء ده او(بې ادب محروم باشد ازفضل رب)

(**تنبیه**)دمکې پرقریشوچې عذابونه راغلل نوخداي تعالې جل وعلې) وایې چې سبب یې داو چې دوي تکبر اولوې کوه له عاجزي یې نه کول(ولقد اخذ ناهم بالعذاب فماستکانوا لربهم وما یتضرعون(مؤمنون)حضرت علي(کرم الله وجهه)وایې تکبریې داوچې دعاء به یې کول خولاسونه به یې نه پورته کول (کنز العمال جلد۲ص۳۸)

(**فائده**)امام شاه ولي الله د هلويؒ وایې [ومن ادب الدعاء تقدیم الثناء علي الله،والتوسل بنبي اللهﷺلیستجاب[حجة الله البالغه جلد۲ص۶]وایې أدب په دعاء کې د ادي چه

په نبي اکرم ﷺ سره توسل وکړې د دې له پاره چه دعاپې قبوله سي[شاه د هلويؒ]او دغه رقم علامه جزريؒ هم حصن حصين کې ليکې چه په دعاء کې توسل کول ادب دعاء دئ (حصن حصين ص ۱۵۰)او دغه رقم علامه شامي هم واپي چه په دعاء کې توسل ادب عمل دي[وقد عد من اداب الدعاء التوسل[شامي جلد .۵.ص۲۸۱]

﴿مسئله﴾ اوبل سنت په دعاکې دادئ چې په اجتماعي ډول وې يعنې چه کله يو څو مسلمانان سره يوځاۍ سې نويودې دعاء کوې هغه نوردې بيا آمين آمين پرواپې داپه قران اوحديث اواجماع دامت ثابته ده حديث پاك کې راځې رسول ﷺ فرماپي[لايجتمع ملأفيدعوبعضهم ويؤمن بعضهم الااجابهم الله[کنز العمال جلد۲ص۴۷]رسول الله ﷺ فرماپي چه نه به سې راجمعه يو ټولې په تاسوکې چې څوك دعاء کوې هغه نوربيا امين واپې اوکه يې داسې وکړل(يعنې يوه دعاکول هغه نوروامين پرواپي) خداې تعالې به يې ددوې څخه قبلوې[کنز العمال]او د احديث علامه بنوريؒ هم نقل کړې دي (معارف السنن جلد۳ص۲۲۱)اوبيا بنوريؒ ليکې[وهودليل للدعاء بهيئة اجتماعية ومظنة قبولهاأكثرمن دعاء الوحدان؛اه[معارف السنن]شيخ بنوري واپي داحديث دليل دي ددعاء په اجتماعي ډول سره اوپه اجتماع سره دعاء کول ښه قبليږي ترېواځې[معارف]

اوزمونږفقهاء ليکې [والاجابةفى الجمع ارجى ]هدايه جلد۱ص۲۲۵)وايي دعاء په جمعه وارې سره ښه قبليږي ترېواځې [هدايه]تردغه عبارت لا ندې علامه عيني ليکې[لانه قديكون فيه من لاترددعوته[البنايه جلد۴ص۹۶]وايي دعاء ځکه په جمعه وارې سره افضله ده چه کله په داټولې کې داسې انسانان وې چه دعاء يې نه رديږي[بنايه]نودعاء به په جمعه وارې سره وې اوداسې نه دې ويلې چې پرهديره باپردودې يې يواځې کوي بلکه هروخت چې وې که هديره وې که فاتحه وې که ډودې وې دعا به په ګډه کوې دهريوه تفصيل به راسي

## مسئله﴿ ترلمانځه بعددعاء کول﴾

دلمانځه وروسته ددعاء دقبليدلويوخصوصي وخت اومقام دئ امام مجاهدؒ فرماپي[افضل الساعات مواقيت الصلاة فادع فيها[کنز العمال ج۲ص۲۶۷کتاب الا

ذکار]امام مجاهدؒ وايي ددعاء دپاره ترټولو افضل وخت هغه دلمانځه وخت دي تاسي دلمنځوپه وخت کي دعاوي کوي[مجاهدؒ]او الله پاك (جل وعلي)فرمايي(فاذ افرغت فانصب؛ الايه؛سورة الم نشرح) ابن عباسؓ يې د اسي ترجمه کوي
[اي اذ افـرغـت مـن صلا تك فانصب الي ربك في الدعاء][تفسير طبري ج۱۰ص۸۶۹۱]تفسير النسفي ج۲ص۸۱۶]تفسيرقرطبي ج۲۰ص۱۰۰]تفسيرزاد المسير ج۴ص۴۶۲]الله پاك(جل جلاله)فرمايي چه کله دلمانځه څخه فارغه سي نو په دعاء کي ځان ستړي کړه[ابن عباسؓ] رسول ﷺ فرمايي[من کانت له الي الله حاجة فليدع بهادبر صلوٰة مفروضة]کنز العما ل ج ۲ص ۴۸]نبي کريم ﷺ فرمايي چه کوم څوك چه الله تعالي ته حاجت لري هغه دي دلمانځه بعد دعاوي کوي[کنز العمال]اونبي کريم ﷺ به همېشه ترلمانځه وروسته دعاء کوله[وعن ابي ايوب قال ماصليت خلف نبيکم ﷺ الاسمعته يقـول حـين ينصرف اللـهم اغـفـرخطايـاي اه[مجمع الزوائد جلد ۱۰ص۱۱۴ باب الدعاء بعد الصلاة]صحابي مبارك وايي چه هروخت چه ماد رسول ﷺ سره لمونځ کړي دي ده بـه دعاء کوله[مجمع][عن انس ابن مالكؓ عن النبي ﷺ انه قال اذ اقام الامام في مـحرابه وتواترت الصفوف نزلت الرحمة فاول ذالك تصيب الامام ثم من عن يمينه ثم من عن يساره ثم تتفرق الرحمة علي الجماعة ثم ينادي ملك ربح فلان وخسرفلان فالرابح من يرفع يديه بالدعاء الي الله تعالي اذ افرغ من صلاته المکتوبة و الخاسر هو الذي خرج من المسجد بلادعاء فاذ اخرج بلادعاء قالت الملائکة يافلان استغنيت عـن الله تعـا لي مالك عند الله حـا جـة [الغنيه جلد۲ص۱۵۱]حضرت انسؓ روايت ذکرکوي چه رسول پاك ﷺ ويل چه کله امام په محراب کي ودريږي اوصفونه برابرسي رحمتونه رانازليږي اول رحمت پر امام باندي اوريږي بيا دراسته طرف پرخلګوبيادچپه طرف پرخلګو بياپرټول جماعت باندي اوري بياملئکه اوازوکړي چه فلانکي سړئ کامياب سواوفلا نکي بياناکام سو هغه څوك کامياب دي چه ترلمانځه وروسته لاسونه پورته کي دعاء وکړي او هغه څوك ناکام دي چه بيله دعاء ترمسجد ووزي اوپردغه سړي چه بي دعاء ولاړسي ملا ئکه ږغ پروکړي چه اياته خداي تعالي ته حاجت نه لري او ته غني يې[الغنيه][وروي انه کان للحسن البصري جاريحطب علي ظهره فکان اذ اسلم الامام خرج مـن المسجد سريعا فقال له

الحسن يوما ياهذ الم لم تجلس ساعة ان لم تكن لك حاجة في الاخرة افلاحاجة لك في الدنيا قف بعد الصلاة وادع الله واسأله حمولة تحمل علي ظهرها[شرح شرعة الاسلام ص۱۲۸ اداب الصلات ] نوترلمانځه وروسته دعاء كول اوپه جمعه واري كول سنت طريقه ده ځكه چه مخكي موذكركړله چه دعاء هروخت په اجتماعي ډول سره كول افضل دي اورسول ﷺ خپله هم دلمانځه وروسته اجتماعي دعاكړيده [عن ابن عمرؓ قال صلي رسول اللهﷺالفجرثم اقبل علي القوم فقال اللهم بارك لنافي مدينتناوبارك لنافي مدناوصاعنا[معارف السنن]عبد الله ابن عمرؓوايي چي رسولﷺدسهاردلمانځه بعدقوم ته مخ راواړه وي اوييايي دادعاوكړه(اللهم بارك لنافي مدينتنا .الحديث [معارف السنن جلد۳ص۱۲۲][ايضاوفاء ا لوفاء۳۸.۳۷] اوعلامه بنوريؒ ليكي[فهذه وماشاكلهامن الــــروايات في الباب تكادتكفي حجة لماعتاده الناس فـــي البلادمن الدعوات الاجتماعية دبرالصلاة[معارف السنن صفحه مذكوره]علامه بنوريؒ وايي چه داسي رواياتي كافي دي په دليل كي دهغو دعاګانوله پاره چه زمونږپه علاقوكي ورسته ترلمانځه په اجتماعي ډول كيږي[بنوريؒ]اوزمونږ فقهاء مباركان يي طريقه داسي ښايي چي امام دي دلمانځه وروسته وقوم ته مخ راواړ ه وي اودعا دي وكړي. اومقتديان دي امين امين وايي[ويستحب للامام بعدسلامه ان يتحول الي يساره لتطوع بعدالفرض وان يستقبل بعده الناس--الي ان قال-- ثم يدعون لا نفسهم وللمسلمين رافعي ايديهم ثم يمسحون بهاوجوههم في اخره] (نورالايضاح ص۸۰)[ايضا طحطاوي ۱۷۳]اود ځلورومذ هبو شريك كتاب (الموسوعة الفقهيه)كي ليكي [وفي جواب الفقيه العلامه ابي مهدي الغبريني مانصه ونقرزأولاانه لم يردفي الملة نهي عن الدعاء دبرالصلاة علي ماجرت به العادة اليوم من الاجتماع بل جاء الترغيب فيه علي الجمله ثم قال فتحصل بعدذ الك كله من المجموع أن عمل الائمه منذ الا زمنةالمتقادمة مستمرفي مساجد الجماعات وهي مساجدالجوامع وفي مساجد القبائل وهي مساجد الارباض والروابط علي الجهربالدعاء بعد الفراغ من الصلوات علي الهيئة المتعارفة الان من تشريك الحاضرين وتأمين السامعين ويسط الايدي ومدهاعند السوال والتضرع والابتهال من غيرمنازع[الموسوعة الفقهيه جلد۱ص۱۱۶ ]علامه ابومهديؒوايي دلمانځه بعدچه كومه دعاء كيږي په هيئة

اجتماعي سره په شريعت کې ددې منع نه ده راغلې لکن ترغيبات پکښې راغلې دي بېړوايي دغه ټول دلائل چه مونږ ذکرکړله دا ځبنې ثابته سوله چه دغه کومه طريقه ددعاء چي دلمانځه وروسته کېږې زمونږ په کلي اوښاروکې چي امام پــــه محراب کي مقتدياتوته مخامخ ناست وې اوپه لوړ اواز دعاء کوې اومقتديان امين امين پروايي هم دغه طريقه بلا اختلافه ثابته ده(الموسوعه]

اودغه رقم حکيم الامة.حضرت مولاناأشرف علي تهانويؒ يوه مستقله رساله ددعاء په خپل کتاب (امد اد الفتاوي)پورې ملحقه کړې ده .په هغه رساله کې دڅلورومذ هبودلا ئل نقل کوې چه دلمانځه بعدپه اجتماعي طريقه دعا کول ثابت دې چه مطالعه يې ضرورې ده اوبيالېکي[الجزء الثامن فتحصل من هذ اكله ان الدعاء دبر الصلوات مسنون ومشروع في المذ اهب الاربعة لم ينكره الاناعق مجنون قد ضل في سبيل هواه ووسوس له الشيطٰن فاغواه[جلد١ص٦٥١رسالة استجاب الدعوات]وايي له دي دلا ئلوڅخه د اثابته سوله چه دلمانځه بعددعاء کول سنت ده اوپه څلورومذ هبوثابته ده چه انکارکول يې دليونيانو اودشيطان دملګروکاردې[امد اد الفتوي] اوعلامه تهانويؒ په اول دکتاب کي ليکي[ميں نے اس رسالهٔ کاخلاصه لکھ دياتاکه ان بيباک لوگوں کی زبان بندهوں جودعابعد نماز پربدعت هونے کاحکم کرتے هيں[استجاب الدعوات ص٦۴٦]علامه تهانويؒ وايي چه ددې رساله خلاصه مې په داخاطرولیکله چه دهغوبيباکوخلګوژبې بندې سي چه دلمانځه ورسته دعاء کولوته بدعت وايي[امد اد الفتاوي]افسوس پر هغه نام نهاده ديوبنديانوچه دعوه دديوبنديت کوې لکن خدمت ووهابيت ته کوې اوخلګوته وايي چه دعاء کول بدعت دي اوفخرديوبند مجدد الملت دارقم نام نهاده مذ هبي ته ليوني اودشيطان ملګري وايي نو معلومه سول چي اجماع دڅلورومذ هبوپرداده چي دلمانځه وروسته په جمعه وارې سره دعاکول ثابت اوسنت دي

**تنبيه**ترهغه فرضو وروسته به اجتماعي دعاء کېږې چې وروسته يې سنت نه وې لکه دسهار اوماځيګرلمونځ اوکه چېرې وروسته ترفرضو سنت وه لکه دماپښين اوماښام اوماخوستن لمنځونه بيابه نودعاء ترسنتووروسته کېږې ځکه زمونږ فقهاء مباركان وايي

چې دفرضوأوسنتو ترمابين أوژده دعاء كول مكروه ده
داكتابود امسئله ليكلې ده[فتح القديرج١ص٣٨٣]او[ البحر الرائق ج١ص٣٠۴باب صفت الصلات أوج ٢ص٣٣باب مايفسد الصلاة]او[الفتاوي العالمكيريه ج١ص٧٧فصل في سنن الصلات]او[الفتاوي التاتارخانيه جلد٢ص١٩٢فصل في اداب الصلات]او[حاشية الطحطاوي علي المـــراقي صفحه١٧٠فصل في صفت الاذكار]او[رد المحتارجلد١ص٣٩١مطلب هل يفارقه ملكان وص٥٠٣]د اتــول كتابونه دمذهب حنفي ليكي چه دفرضواوسنتو په درميان كې تر (اللهم انت السلام)زيات فصل راوستل مكروه دي كه هغه فصل په دعاء سره وي اوكه په اذكاروسره وي كه ترفرضوورووسته سنت وه بياكه دعاء ده كه اذكاردي ترسنتوبعد به كيږي

(**سوال**)په سنت لمانځه كې خوسنت طريقه د اده چه په كوركې أد اكړل سي ځكه چه نبي كريمﷺبه سنت كورته كوله نوبيابه څنګه دعاء بعد السنة سنت سي؟

(**جواب**)رب سلم۔جناب نبي كريمﷺبه اكثروخت سنت په كوركې اد اكول لكن كله كله به يې په مسجد كې هم اد اكول لكه روايت د مشكواة دي[وعن ابن عباسؓ قال كان رسول اللهﷺيطيل القرات في الركعتين بعد المغرب حتي يتفرق اهل المسجد[مشكوٰت جلد١ص١١۴باب السنن وفضائلها]ابن عباسؓ وايي چه نبي كريمﷺبه دماښام په سنتوكې كله كله داسې ډيرقرائت وايې چه دمسجد خلګ به ټوله ولاړه لكن دي مبارکﷺ به پرلمانځه و[مشكوٰت ]علامه غورغوشتويؒ وايې چه له دي حديث څخه په مسجد كې دسنت كول ثابتيږي(حاشيه مشكوات)
اوپه اوس وخت كې فتوي پرد اقول ده چه سنت به په مسجد كې اد اكيږي ځكه چه خلګ سستي پكښې كوي بيابه ورووسته دعاء كيږي د افتوي شاه انورشاه كشميريؒثم الديوبندي وركړي ده[عرف الشذي علي الترمذي جلد.١ص١٠٠ابواب الصلاة]

**استفتاء:** دعاء په جهرسره كول يعني په لوړاوازسره دعاء كول څه حكم لري لكه څنګه چه زمونږپه كلي اوښاروكښې عادت دي چه علماء په جهرسره دعاء كوي اونورمسلمانان بياامين پروايي ؛المستفتي طالب العلم غازي محمود۔اسپرزند ان قندهار(اللهم انجيه وانجي جميع اسارانامن ايدي الظالمين والكافرين اليهود

والنصاري ومن معهم بحرمت اساري المسلمين و بحرمت من نجيت لهم(امين)

**الجواب**:رب سلم؛په جهرسره دعاء كول جائزعمل دي . اوزمونږبعضي فقهاء مباركان

وايي چه دعاء په جهرسره كول مستحب عمل دي لكه څنګه چه شيخ علامةبويكاني

ليكي (المستحب ان يرفع صوته بالدعاء ويمسح بهماوجهه بعد الفراغ )فتاوي المتانه جلد۲ص۶۴۳) اودجناب رسول پاك ﷺبه هم اكثردعاء ګاني په جهرسره وي لكه

څنګه چه روايت د ابي برزة الاسلميؓ (كان رسول الله ﷺاذ اصلي الصبح قال ؛ولااعلمه الا قال في سفررفع صوته حتي يسمع اصحابه (اللهم اصلح لي ديني الذي جعلته عصمة امري)عمل اليوم والليله ص۵۳حديث نمبر۱۲۶) صحابي مبارك وايي چه رسولﷺ به د اسي په جهر سره دعاء كوله چه اصحابومباركانوبه اوريدله؛ خولكن زمونږ عام فقهاء مباركان وايي چه دعاء به دجهر اواخفاء ترميان وي يعني نه به ډيرجهركوي چه چيغي وهي د مسجد بهريي لاهم خلګ اوري اونه به ډيره كراره اوټه وي چه څوك يي نه اوري اود انه ورمعلوميږي چه ته بنيراوي كوي كه دعاء وي كوي .اونه يي د امين ويلوځاي ورمعلوميږي.ففي الدر المختار(والدعاء يكون بين الجهر والمخافة)جلد۱ص۳۸۴)اوامام طحطاوي ليكي(ومن الادب في الدعاء ان

يدعوبخشوع وتذلل وخفض صوت - اي بان يكون بين المخافة والجهر)طحطاوي علي المراقي ص۱۷۳) اوامام نوويؒ ليكي(ويستحب الجمع في الدعاء بين الجهروالاسراورفع الايدي فيه رفعا بليغا)الا ذكارص۱۶۱)د اعلماء وايي ادب اومستحب په دعاء كښي د ادي چه د جهر او اخفاء ترمابين وي وي (والله اعلم)

## مسئله ﴿داذان په دعاء كي لاس پورته كول﴾

ددیوبند ممتازشخصيت حكيم الامت مولانا اشرف علي تهانويؒ وايي چي داذان په دعاء كي لاسونه پورته كول سنت دي ځكه عامه قاعده داده چي په دعاء كي لاسونه پورته كيږي(لكه چي مخكي موذكركړله) اودا هم يوه دعاء ده (امداد الفتاوي جلد۱ص۱۵۹) هم دغه رقم مولاناعبد الحق حقانيؒ په فتاوي حقا نيه كي هم دغه قول

د اشرف علي تهانويؒ نقل کوې چه د اذان په دعاکې لاس پورته کول سنت دي (فتاوٰی حقانیه جلد۳ ص۶۹]اوشاه انورشاه کشمیريؒ وايي چې د اذان په دعاکې دې لاس نه پورته کوې (خوبقیة السلف مولاناحمد الله جان ډاګيؒ به وېله چې د اصول الحدیث سره دعلامه تهانويؒ قول ښه موافق دي دشاه صاحبؒ ترقول ؛والله اعلم بالصواب

## ﴿مسئله دډوډې وروسته دعاء کول﴾

دډوډې وروسته دعا کول سنت طریقه ده رسول ﷺ به تر ډوډې وروسته دعاء کوله اوصحابه کرامو ؓ به هم ترډوډې وروسته په اجتماعي طریقې سره دعاء کوله اود ادکورد خاوند پرمېلمه حق هم دي په روایت د ابود اود کې راغلي دي[عن جابربن عبد الله قال صنع ابوالهیثم بن التیمان للنبي ﷺ طعامافدعي النبي ﷺ و اصحابه فلمافرغوا قال اثیبوا اخاکم قالو ایارسول الله وما اثابته قال ان الرجل اذ ادخل بیته فاکل طعاماوشرب شرابه فدعواله فذالك اثابته[ابود اود .جلد۲ص۵۳۸کتاب الاطعمه]حضرت جابرؓ فرمايي چه نبي ﷺ او اصحابوته ابي الهیثمؓ مېلمستیاوکړله چه کله رسول ﷺ د ډوډې څخه فارغه سو صحابه کراموته يې ووېل چه دکورخاوند ته عوض ورکړې هغوي ورته ووېل چه عوض يې څش دي یارسول الله ﷺ،نبي کریم ﷺ ورته وېل چه کله يو څوك ديو چاکورته ورسي اود هغه ډوډې اوخورې بیادې دعاورته وکړي د ايي عوض دي[ابود اود ]اونبي کریم ﷺ ده حضرت عبد الله بن بسرؓ په کورکې ډوډې وخوړله بیادکور خاوندرسول پاك ﷺ ته ووېل چه دعاء راته وکړه نونبي کریم ﷺ هلته داسې دعاء وکړله(اللهم بارك لهم فیما رزقتهم واغفر لهم وارحمهم)[مسلم شریف جلد.۲.ص۱۸۰کتاب الاشربه]اوعبد الله بن عمروبن العاصؓ وايي چې رسول ﷺ به ترډوډې وروسته د ادعاء کوله(الحمدلله الذي من علینا وهد انا والذي اشبعنا واروانا وکل الاحسان اتانا[الا ذکارللنووي(۲۱۲)][هم دغه رقم امام بخاري امام ابوداود اوامام ترمذي اونورمحدثین يې په مختلفو الفاظودعا وې نقل کوې

اوامام بخاريؒ روایت نقل کوې [حدثنامحمدقال اخبرناعبد الله قال اخبرناحزم قال سمعت معاویة ابن قره یقول لماولد لي ایاس دعوت نفرامن اصحاب

النبيﷺفاطعمتهم فدعوا فقلت انكم قد دعوتم فبارك الله لكم فبمادعوتم واني ان ادعوبدعاء فأمنوا قال فدعوت له بدعاء كثيرفي دينه وعقله وكذ اقال فاني لاتعرف فيه دعاء يومئذ[ادب المفرد ص۳۳۵باب الدعافي الولادة]معاويه ابن قرةؓ وايي چې زمازوې اياس پيد اسونومادرسولﷺصحابه مېلمانه کړله وروسته تړدوډې دوې دعاء وکړل ماورته ووېل چې تاسو خودعاء وکړل خداې تعالې دې ستاسوپه دعاء کې برکت واچوې خواوس زه دعاء کوم تاسې به امين امين کوې دې وايي بياماډېرې دعاوې ددين اوعقل ورته وکړې الخ(اداب المفرد للبخاري۳۳۵)اودغه رقم په عالمګيريه کې ليکي[قال الفقيه ابوليثؒ يجب علي الضيف اربعة اشياء اولها ان يجلس حيث يجلس والثاني ان يرضي بماقدم اليه والثالث ان لايقوم الا باذن رب البيت والرابع ان يدعوله اذاخرج[الفتاوي العالمګيريه جلد۵ص۳۴۴باب الهدايا والضيافات]امام ابوليث سمرقنديؒ وايي پرمېلمه باندې ۴څلورشيان لازم دي ۱ اول پرهغه ځاې به کښيني چه دکورخاوند يې کښېنوې ۲دويم چه دخوړلوهرشي دکورخاوند حاضرکړې په هغه به راضي کيږې ۳دريم دکوردخاوند بې اجازې به نه ولاړيږې ۴څلورم دکورخاوندته به دعاء کوې مخکې تروتلود کورڅخه[هنديه]اودغه رقم سيدي ومسندي شيخ ابو العدل هم يومستقل عنوان پرد اغه مسئله ليکي(اثبات الدعاء بالاجتماع بعد الطعام)[جامع الرسائل ص۴۰۱]

اودغه رقم كاسراعناق الوهابية والپنچپيرية علامه عبد الستار السيمزائيؒ الديوبندي يوعنوان دډوډې پردعاء ليکي وايي[فثبت من هذا المذكوران الدعاء بعد اكل الطعام لصاحب الطعام ثابت بل واجب كمامر والرفع كمامضي من اداب مطلق الدعاء الي ان قال وهذ ايكفي للعاقل السامع الطالب للحق واما الزائغ عن الحق الساعي بالفساد بين العباد فلايفيده شي وان تليت عليه التوراة والانجيل والقران فنعوذبالله من الغواية والغباوة والشقاوة كماهوديدن اهل الفنج فير[الملتقط.ص۷۷]سيمزائي بابا وايي چه ددغه دلائلوڅخه ثابته سوله چه دکورخاوندته تړډوډې بعددعاکول واجب دي سره دلاسوپورته کولو اود هوشياراو اهل حق دپاره داغه قدرکفايت کوې کوم چه فسادوالا اودحق څخه كاږه خلك دي نوهغوته كه تورات اوانجيل اوقران تيوله پيش کړې لکن فائده نه ورته کوې لکه څنګه چه داغه دپنچپيريانوعادت هم دي[الملتقط]

خلاصه داده چه ترډوډۍ خوړلوبعد دعاء کول درسول ﷺ او صحابه کرامو سنت طریقه ده او اجتماعي دعاء کول سنت دي (والله اعلم)

## مسئله ﴿د مړي ترپټیدلوبعد دعاء﴾

په هدیره کي د مړي تر پټیدووروسته په جمعه واري سره دعاء کول سنت دي أودري دعاء وي کول سنت دي بلکه هرځو دعاوي جائزاومستحب کار دي اوجناب نبي کریم ﷺ به مسلمانان امرکوله چه مرده ته دعاء وکړي خپله به یې هم وروسته تردفن اجتماعي دعاء وي کولي سره ترلاس پورته کېدلو

حدیث د ابود اود شریف دي[عن ابي هريرة قال سمعت رسول الله ﷺ يقول اذ اصليتم علي الميت فاخلصوله الدعاء[ابود اود جلد۲ص۴۵۶باب الدعاء للميت]حضرت ابو هريرةؓ فرمايي چه رسول به ویله چه کله تاسي د جنازي دلمانځه څخه فارغه سي (اوصفونه دلمانځه مات سي) بیاودغه مړي ته په اخلاص سره دعاء وکړي[ابود اود]اوبل روایت ذکرکوي[عن عثمان بن عفانؓ قال كان النبي ﷺ اذ افرغ من دفن الميت وقف عليه قال استغفرولاخيكم واسألو اله بالتثبيت فانه الان يسئل[ابود اود صفحه مذكوره ]حضرت عثمانؓ وایي چي رسول ﷺ چي به کله ددفن د مرده (پټیدلود مړه) څخه فارغ سو بیابه یې دقبرسره ودریدي او صحابه کرامو ته به یې أمروکړي چي تاسي د امسلمان ورورته دعاوکړي چه په جواب کي کامیاب سي أوس ملائکه(عليهم السلام)پوښتني ورڅخه کوي(ابود اود)

محشي د ابود اودعلامه فخرالحسن الکنګوهيؒ وایي[فيه مشروعية الاستغفارللميت عند الفراغ من دفنه[حاشیه۱۲]وایي ددې حدیث څخه د مړي ترپټیدلوبعد دعاء ثابته سوله[کنګوهي]اورسول ﷺ به خپله هم دعاء کوله اولاسونه به یې هم پورته کوله اوجمعه واري سره به یې کوله

امام ابونعيم اصفهانيؒ روايت ذکرکوي[عن عبد الله والله لكاني أري رسول الله ﷺ في قبرعبد الله ذي البجادين وفيه فلمافرغ من دفنه استقبل القبله رافعايديه يقول اللهم اني امسيت عنه راضيافارض عنه اه[حلية الاولياء جلد۱ص۱۶۹ذکرصحابه من المهاجرين]ایضا[فتح الباري جلد۷ص۴۰۳باب الدعامستقبل القبله]حضرت ابن

مسعودؓ فرمايي چه مارسول ﷺ د عبد الله ذي البجادينؓ په قبرکې ولېدې چه کله د دفن څخه فارغه سو نوېې مخ پر قبله ودرېدې اولاسونه يې پورته کړله اودقبرخاوند ته يې دعاء وکړله [حليه]اودغه رقم حسين ابن وحوح الانصاريؓ روايت ذکرکوي چه رسول الله ﷺ اوصحابهؓ د طلحه بن براءؓ پــــرقبر سره راتـول سول بيايې په جمعه واري سره دادعاء وکړل (اللهم الق طلحه يضحك اليك وتضحك اليه)[عمدة القاري جلد۸ ص ۳۶] ايضا[ فتح الباري جلد۲ص۷۰۷]اوعلامه سرخسيؒ روايت ذکرکوي[وروي عن عبد الله بن سلامؓ انه فاتته الصلاة علي جنازة عمرؓ فلماحضر قال ان سبقتموني بالصلاة عليه فلاتسبقوني بالدعاء له[المبسوط جلد۲ص۱۰۷باب غسل الميت]ايضا[بد ائع الصنائع جلد اص۳۱۱فصل في صلات الجنازة]ايضا[تاريخ المدينة لابن شيبه ج۳ص۹۴۰مقتل عمرؓ]حضرت عبد الله بن سلامؓ د حضرت عمرؓ وجنازې ته حاضرسو لمونځ د جنازې ورڅخه تېرسوي وؤ نوېې صحابه کراموته ووېل چه لمونځ که موراڅخه تېرکړي دعاء مه راڅخه تېره وي[بد ائع]له دي څخه ښکاره سوه چې صحابه کراموبه هم ددفن وروسته د جمعو اري دعاوې کولې :

اورسول ﷺ به په هدېره کې درې ۳دعاء وې کولې امام مسلم روايت نقل کوي چه يوطرف د حديث د اسي[عن عائشةؓ قالت ثم انطلقت علي اثره حتي جاء البقيع فقام فاطال القيام ثم رفع يديه ثلاث مرات ثم انحرف فانحرفت الحديث[مسلم جلد اص۳۱۳فصل في التسليم علي اهل القبور] د مؤمنانو مـــورعائشه صديقةؓ وايي چې يوه شپه رسول ﷺ و هدېرې ته ووتې أوزه ورپسې سوم رسول ﷺ چې کله هدېرې ته ورسېدې نودرې۳ دعاء وې وکړلې اود هرې دعاء دپاره يې لاسونه پورته کول(مسلم شريف)أو امام نوويؒ تردغه لاندې ليکي[فيه استحباب اطالة الدعاء وتکريره ورفع اليدين فيه ]وايي چې ددې حديث څخه اوږدې دعاوې اومکررې۳درې دعاء وې سره ترلاس پورته کېدلوثابتې سوې[حاشيه نوويؒ] د ادې نبي کريم ﷺ خپله په هدېره کې درې۳دعاوې کړې دي اويه اجتماعي طريقه يې کړې دي اونورخلګ يې په امرکړې دي اولاسونه يې پورته کړې دي اوصحابه کرامؓ تردفن بعد اجتماعي دعاء ته ځانونه حاضرکړې دي نويه په هدېره کي اجتماعي دعاوې کول اومکررې دعاوې کول بدعت نه بلك أشدسنت دي دهغه چادپاره چه څوك نبي کريم ﷺ اوصحابه کرام د ځان مقتد ايان بولي

اودغه رقم علماء دېوبند هم په هدېره کې دعاء سره ترلاس پورته کېدلو مشروع بولي حکېم الامه اشرف علي تهانويؒ لېکي[سوال قبرستان میں هاتھ اٹھاکردعاء مانگنادرست هے یانه ؟ الجواب فی ردالمحتارآداب زیارت القبورثم یدعوقائماطویلا اس سے دعاء کاجائزهوناثابت هوااورهاتھ اٹھانامطلق آداب دعاء سے هے پس یه بھی درست هوا[امداد الفتاوي جلد۱ ص۵۷۸]وايي پوښتنه په هدېره کې ددعاءسره دلاس پورته کېدلوصحېح ده که یا ؟ جواب شامي لېکي چه په هدېره کې دې اوږده دعاء کېږي اولاس پورته کېدل ددعاء ادب دي نوصحېح ده[تهانويؒ]اودغه رقم مفتي رشېد احمدؒلېکي[دفن کی بعددعاء میں هاتھ اٹھانامستحب هے[احسن الفتاوي جلد۴ص۲۳۳]مفتي رشېد احمد صاحب څخه پوښتنه سوې ده چه ددفن بعدپه دعاء کې لاسونه پورته کو .څنګه دې مفتي صاحب په جواب کې ورته وایې چه زمااوله فتوې داسې وه چه نه دې ثابت لکن چه کله مې دذوالبجادينؓ ددفن روایت پېداکړې چه رسولﷺلاسونه پورته کړې دي اوس دخپل مخکې فتوې څخه رجوع کوم اوتردفن وروسته په دعاء کې لاسونه پورته کول مستحب بولم[احسن الفتاوي ص مذکوره]اودغه رقم الصاعقة الالٰهیه علی الوهابیة واللامذهبیة علامه عبد الستاردېوبنديؒ لېکي [ان الدعاء بعد الدفن بالهیئة الاجتماعیة جائزبل ارجح من الانفراد فالمنازع امامکابراوجاهل ولادواء لداء النوك[الملتقط ص۶۷]علامه سېمزائيؒ وايي چه وروسته تردفن دمرده دعاکول په اجتماعي طريقې سره جائز بلکه افضله ده ترېواځې دعاء او انکارکول يې يادمتعصب کاردې اويادجاهل کاردئ اودبېعقلې دپاره دواء نسته[ملتقط]ددې ټولوروایاتو څخه دامعلومه سول چې په هدېره کې دعاوې کول او په جمعه واري سره کول او ۳دري دعاوې بدعت نه دي بلکه سنت دي اودې ته بدعت وېل پر ناپوهې اوکم علمي دلالت کوي بلکه له مخکې قاعدې څخه اودبنوريؒ دقول څخه دامعلومېږي چې تر دې په زياتودعاوکې هم ممانعت نسته اودعاوې چې څونه ډېرې وې مړه ته فائده ده

لکن افسوس پرهغه نام نهاده دېوبندیانویاندې چه ځانوته دېوبندیان وایې لکن ددېوبندپه جامه کې خدمت وېنچپریانواووهابیانوته کوي اوفسادونه جوړوې کله وایې ۳دري دعاء وې نسته کله وایې لاس پورته کېدل نسته کله وایې اجتماعي نسته الله پاك يې دحق لېدلوسترګې ورکړندې کړې دې خداې دې په ورځ د اخرت هم داغسې

راندہ راپورته کي[ومن كان في هذه اعمي فهوفي الاخرة اعمي]اود اکتابو ته مراجعه وکي طحطاوي علــي المراقي (۳۰۶)فتاوي واحدي(۲۵۴)جامع الرسائل من كلام الاكابر؛[ص۲۵۳]

﴿مسئله﴾دفرض لمانځه وروسته چي امام کومه مختصره دعاء کوي چي هغه داده(اللهم انت السلام ومنك السلام تباركت وتعاليت ياذ الجلال والاكرام)په د ادعاء کي لاسونه پورته کول ښه کاردي اوزمونږد اکابرو طريقه ده دري۳ دليله يې دي يودليل يې دادي چي زمونږدمذهب مجدد ملاعلي القاري الحنفيؒ وايي چي د ادعاء ده[وورد في الدعاء اللهم انت السلام]مرقات المفاتيح جلد۲ص۵۷۷] اوطريقه د دعاء داده چي لاسونه پکښې پورته سي لکه څنګه چه مومخکي تفصيلي ذکرکړه؛

اومولاناحمد الله جان الد اجويؒ به په درس کښې ويله چي د امن وجه دعاء ده اومن وجه يېاثناء ده ځکه چي دمنك السلام معني داده چي ستاځخه دسلامتيا طلب کيږي ضمنا دادعاء ده يعني مونږته سلامتيار انصيب کړي نود اکلمه په اعتبار د متضمن ثناء ده اوپه اعتبارد متضمن دعاء ده اويل زمونږدبلاغت کتابونه ليکي چي بلاغت په دعاء کي دادي چي په صورت کي دثناء وي اود انبياؤ(عليهم السلام)دعاګاني اکثرپه صورت کي دثنادي لکه دعاء د ادمﷺ(ربناظلمناانفسنا فان لم تغفرلناوترحمنالنكونن من الخسرين(اعراف)اويادعاء ديونسﷺ(لااله الاانت سبحانك اني كنت من الظالمين)او(اللهم انت السلام )بيادرسولﷺدعاء وه لکن په صورت کي د ثناء ده اوپه روايت دترمذي کي راځي(عن ابن عباسؓ ان نبي اللهﷺ كان يدعوعند الكرب لااله الاالله الحليم الحكيم ؛الخ ترمذي جلد۲ص۱۸۱۔ابواب الدعوات)حضرت عبدالله ابن عباسؓ فرمايي چه جناب نبي کريمﷺ به دغم په وخت کي دادعاء کوله (لااله الاالله الحليم الحكيم )خولکن ظاهراداعاء نه ده ثناء ده)اوعلامه سيدعلي الشاذليؒ ددغه حديث په تشريح کښي وايي (قال الشيخ في اللمعات۔قلت: الدعاء قديكون صريحا كمايقول اللهم اعطني ۔وقديكون تعريضا كمااذ اثني علي الله تعالي فان الثناء علي الكريم سوال(حاشيه ترمذي صفحه مذکوره)وايي دعاء دوه ۲قسمه ده يوصريحي ده لکه (اللهم اعطني)ويل اويوبياضمني ده لکه ثناء د خد اي جل وعلي ويل ځکه چه ثناء د الله پاك هم دعاء ده)نوښکاره سوه چه اللهم انت السلام دعاء ده۔

وهکذافي الشامي (الثناء علي الکریم دعاء؛جلد۲ص ۱۹۰)اوبل زمونږ مذهب اکثر شیخان اواستاذان(کان الله لهم) لاسونه پکښې پورته کوې اواکثریې مذهبه ملایان یې نه پورته کوې اودبدوانسانانودتشبیه څخه ځان ساتل لازم دې کماوردفي الحدیث(اتقوامواضع التهم)تفسیرکبیرجلد۸ص ۵۹۰)والله اعلم

[سوال☆چه کله مرده پټه سې بیادقبردسراوپښوطرف ته قرات وېل لکه څنګه چه عرف هم دې څه حکم لرې؟

[الجواب☆چه کله مرده پټه سې بیادقبردسراوپښوطرف ته قرأت دقران پاك وېل مستحب عمل دې اورسول ﷺامرپه کړې دې اوصحابه کراموصیت په کړې دې روایت دمشکوات شریف کې راځې[وعن ابن عمرؓ قال سمعت النبي ﷺیقول اذامات احدکم فلاتحبسوه واسرعوابه الي قبره والیقرأ عندرأسه فاتحة البقرة وعندرجلیه بخاتمة البقرة[مشکوٰة جلد۱ص۱۶۴باب دفن المیت]حضرت عبدالله ابن عمرؓ فرمایې چه مادنبي کریم ﷺ څخه اورېدلې دې چه کله په تاسوکې انسان مړسې نوژربې پټه کړې اودقبرسر ته یې دسورة بقره اولنې ایاتونه(ترمفلحون پورې) تلاوت کړې اودپښوطرف ته یې اخرې ایاتونه(دأمن الرسول څخه) تلاوت کړې[مشکوٰت ]اودغه رقم علامه نیموېؒ روایت نقل کوې[عن عبدالرحمٰن بن العلاء ابن اللجلاج عن ابیه قال قال لي ابي اللجلاج ابوخالدؓ یابني اذا أنا مت فالحدلي فاذاوضعتني في لحدي فقل بسم الله وعلي ملة رسول الله ثم سن علي التراب سناثم أقراعندرأسي بفاتحة البقرة وخاتمتهافاني سمعت رسول الله ﷺیقول ذالك[اثارالسنن للنووي؛ص۲۷۲باب قرات القران للمیت]حضرت ابوخالدؓ خپل زوې ته وصیت کوې وایې چه کله زه مړسوم لحدکې مې کښېږده اوبسم الله ووایه بیاخاورې راباندې واړوه بیامې سرته دسورة بقره اولنې ایاتونه ووایه اوپښوته مې اخرې ایاتونه ووایه ځکه چه مادرسول ﷺ څخه داغسې اورېدلې دې چه ده مبارك ﷺبه دقبرسره وېله[اثارالسنن]

اودغه رقم زمونږفقهاء هم لیکې چه دقبرسر اوپښوته قرات کول مستحب دې داکتابونه وګورې[ردالمحتارجلد۱ص۶۶۱]ایضا[حاشیة الطحطاوي علي المراقي ص ۳۴۱]ایضا[الجوهرة والنیرة ص۱۷۷باب الشهید] التذکرة في احوال الموتي وامورالاخرة جلد۱ص۷۳قرات عندالقبر]شرح الصدورللسیوطي ص۱۲۹باب قرات

القران للميت اوعلي القبر]

## مسئله ﴿ د بوچا د احترام په خاطر ولاړېدل ﴾

اولياؤاوعلماؤ مشرانو ته د هغوي د دين اوعزت په خاطر ولاړيدل په مجلس کې د اهم سنت اوډصحابه کرامؓ عمل دې اود دنياء اوياطاقت په خاطر بوچاته ولاړيدل ناجائزاوحرام دي امام ابوداودؒ روايت نقل کوي[حدثنا هارون بن عبد الله نا ابوعامر نامحمد بن هلال انه سمع اباه يحدث قال قال ابو هريرةؓ وهو يحدثنا كان رسول اللهﷺ يجلس معنافي المسجد يحدثنا فاذ اقام قمناقياما حتي نراه قد دخل بعض بيوت ازواجه اه[ ابوداود جلد۲ص۶۵۸کتاب الادب]حضرت ابو هريرهؓ فرمايي چه جناب نبي کريمﷺ به زمونږسره په مسجد نبوي کې ناست ؤ او احاديث به يې بيانوله اوچه کله به دي مبارك ولاړسو مونږ به هم ولاړسولو ترهغه وخته به مونږولاړوؤ چه رسولﷺ به خپلي حجري ته ننوتي[ابوداود]اودغه رقم حضرت قطب الاقطاب غوث الاغواث محبوب صمداني الشيخ سيدعبد القادر الجيلانيؒ ليکي[ويستحب القيام للامام العادل والوالدين واهل الدين والورع واکرم الناس واصل ذالك ماروي ان رسول اللهﷺ ارسل الي سعدؓ في شان اهل قريضة فجاء علي حماراقمر فقال رسول اللهﷺ قوموا الي سيدكم وقدروت عايشهؓ أنهاقالت كان رسول اللهﷺ اذ ادخل علي فاطمة قامت اليه فأخذت بيده وقبلته واجلسته في مجلسها واذ ادخلت علي النبيﷺ قام اليهاواخذ بيدها وقبلها واجلسها في موضعه وقدروي عنهﷺ قال (اذ اجاء كم كريم قوم فأكرموه)ولان ذالك يغرس المحبة والودفي القلوب فاستحب لاهل الخيروالصلاح كالمهادة لهم ويكره لاهل المعاصي والفجور]غنية الطالبين جلد۱ص۱۳]حضرت شيخؒ مبارك وايي چه عادل باچااوموراوپلاراودين داراوتقوي داره خلک اوعزتمند دخلکو ته ولاړيدل مستحب کاردي ځکه چه کله حضرت سعدؓ دغزوه بني قريضه په ورځ راغلي نورسولﷺ وصحابه کرامو ته امروکړي چه تاسي وحضرت سعدؓ ته ولاړسي اودغه رقم بي بي عائشةؓ وايي چه کله به رسولﷺ د خپلي لوربي بي فاطمةؓ کورته ورغلي نوبي بي مبارکه به ولاړه سوله اوخپل پلارمبارك به يې ترلاس ونيوي ببابه يې مچ کړي اوخپل پرځاي به يې کښينوي اوچه کله بـــه ببابي بي مبارکه

درسول ﷺ کورته راغله بیارسول ﷺ خپله ورته ولاړسو اود امبارکه به یې پرخپل ځاي کښېنوله اورسول ﷺ وایي چه تاسي ته دقوم عزتمندراسي نوتاسي د هغه عزت کوي اوبوچاته ولاړېدل په زړه کـي محبت پېدا کوي نوپه دا وجه دخپراوتقوي خلګوته ولاړېدل ثواب دي اوفاجرانو اوفاسقانوته ولاړېدل ګناه ده[الغنیه للشیخ] اودغه حدیث امام بخاريؒ هم نقل کړي دي[بخاري جلد.۲.ص۹۲۶کتاب الاستئذان]اوعلامه حصفکيؒ لیکي[یجوزبل یندب القیام تعظیماللقادم ]اوعلامه شامي بیالیکي[اي ان اکن ممن یستحق التعظیم.قال ابن وهبان اقول وفي عصرناینبغي ان یستحب ذالك لمایورث ترکه من الحقد والبغضاء والعداوة لاسیمااذاکان في مـکان اعتیدفیه القیام[رد المحتارجلد۵ص۲۷۲کتاب الحضر]علامه حصفکيؒ وایي چه دبوچادعزت دپاره ولاړېدل مستحب دي تردغه عبارت لاندي علامه شاميؒ لیکي چه هغه څوك چه دعزت مستحق وي هغه ته ولاړېدل مستحب دي اوخاص بیاپه هغه علاقوکي چه هغه علاقوکي ولاړېـدل دخلګوعـرف اواصطلاح وي هلته ولاړېـدل دثواب کاردي[شامي]اودغه عبارت امام طحطاوي هم نقل کوي [طحطاوي علي المراقي ص۱۷۵]اودغـه رقـم قول امـام غزاليؒ هم کړي دئ[احیاء علـوم الـدین جلد۲ص۲۷۲کتاب اداب السماع]اودغه رقم علامه علي القاري الحنفي لیکي[في الحدیث اکرام اهل الفضل من علم اوصلاح اوشرف بالقیام لهم اذاقبلواهکذااحتج بالحدیث جماهیرالعلماء[مرقاة المفاتیح جلد۸ص۵۰۸باب القیام]وایي جمهورعلماء په حدیث دسعدؓ دلیل وایي چه دعزت والاخلك لکه علماء او اولیاء اوسید انو ته دعزت دپاره ولاړېدل چه کله مجلس ته راسي مستحب دي [مرقات]بیاتر ۵۱۱صفحه پوري ،علامه قاريؒ ښه تفصیل کوي]

اودغه رقم امام بدرالدین عینيؒ هم وصالحانوخلګوته ولاړېدل دثواب کاربولي[عمدة القاري جلد۲۲.ص۳۹۱کتاب الاستئذان]

اودغـه رقـم علامـه ظفراحمدعثمانيؒ هـم ښه تفصیل کوي[اعلاء السنن جلد۱۱ص۸۲۱۰قبیل باب المصافحه]ایضا(ادب المفرد للبخاري(۲۷۸)

## مسئله ﴿دبوچا لاسونه اوپښي مچول﴾

دعزت په خاطرد اولیاؤ اوعلماؤ اوسپید انو اومشرانولاسونه اوپښې مچول مستحب اودثواب کاردي اودصحابه کرامو اوتابعینو او امامانو سنت طریقه ده صحابه ؤبه درسول ﷺلاسونه اوپښي ورمچولې اودصحابه کرامو ؓ خپل په درمیان (مابین)کي هم دغه عمل ثابت دي امام بخاريؒ مستقل بابونه پردغه موضوع لیکلي[باب تقبیل الید]او[باب تقبیل الرجل الادب المفرد]بیاپه دغه باب کي احادیث نقل کوي[حدثناموسي قال حدثنا ابوعوانه عن یزید بن أبي زیاد عن عبد الرحمٰن بن أبي لیلي عن ابن عمر قال کنافي غزوة فحاص الناس حیصة قلناکیف نلقي النبي ﷺوقدفررنا؟

فنزلت(الامتحر فالقتال؛ الانفال .١٦)فقلنالا نقدم المدینة فلایر اناأحد فقلنالوقد منا فخرج النبي ﷺمن صلاة الفجرقلنا نحن الفرارون قال أنتم العکارون فقبلنایده قال أنافئتکم]الادب المفرد للبخاري ص٢٨٨]حضرت عبد الله بن عمر ؓ فرمایي چه مونږ په یوغزاء کي وتلې وؤ دښمن سخته حمله راباندي وکړله مونږ پي پرشاه باندي کړلو کله چه مونږمدینې منورې ته راغلو اودسهاردلمانځه پروخت دنبي کریم ﷺسره ملا قي سولو مونږورته ووېله چه مونږخوراتښتېدلي یو یارسول الله ده مبارك په جواب کي راته ووېله چه خبر دي تاسي به بیارجوع وکړي اوحمله به پروکړي پرواه نه لري زه موملګري یمه بیامونږدرسول الله ﷺلاسونه ورمچ کړله[ادب المفرد]

اودغه رقم تر باب تقبیل الرجل لاندي روایت نقل کوي[حدثناموسي بن اسماعیل قال حدثنامطربن عبد الرحمٰن الاعنق قال حدثتني امرأة من صباح عبد القیس یقال لهاأم أبان بنت الوازع عن جدهاأن جدها الوازع بن عامرقال قدمنافقیل ذاك رسول الله ﷺفأخذ نابیدیه ورجلیه نقبلها[ادب المفردص٢٨٩]وازع بن عامر ؓ فرمایي چه مونږمدینې منورې ته راغلو خلګوراته ووېله چه دانبي کریمﷺدي مونږیې لاسونه اوپښې په لاسوکي ونیولي بیامووږمچ کړه لي(ادب المفرد]اودغه رقم ابن المقري روایت ذکرکوي[حدثناعبد الله بن جعفر القصیر قال نااحمدبن الحسین سجاده قال ناصالح بن مبارك قال ناعبد الله بن سعیدقائد الاعمش عن الاعمش عن ابي سفیان عن جابر قال ان عمر ؓ قام الي النبي ﷺفقبل یده [الرخصة في تقبیل الیدلابن المقري ص١١]حضرت جابر ؓ فرمایي چه ماحضرت عمر ؓولیدي چه جناب نبي کریمﷺته

ورولاړسو اولاس يې ورمچ کړې[الرخصه]اودغه ابن المقري يوبل روايت ذکرکوي[حدثنا احمد بن الحسن بن عبد الجبار الصوفي ببغداد قال نا ابونصر التمار قال عطاف بن خالد المخزومي عن عبد الرحمٰن بن رزين عن سلمة بن الاکوع قال بايعت بيدي هذه رسول اللهﷺفقبلنا هافلم ينكرذالك[ابن المقري ص۱۲]حضرت سلمه ابن الاکوعؓ فرمايې چه مادرسولﷺسره په دغه لاسو بيعت وکړې اودرسولﷺلاس مې ورمچ کړې لکن نبيﷺانکارنه وکړې[الرخصه]اودغه رقم امام ابوداودؒ يوباب ليکي [باب قبلة اليد]بياتردغه باب لاندې دغه روايت دعبدالله ابن عمرؓذکرکوي چه امام بخاري ذکرکړې دې[ابوداود جلد۲ص۷۰۹کتاب الادب]اودغه رقم علامه خطيبؒ روايت ذکرکوي[وعن زارع وکان في وفدعبد القيس قال لماقدمنا المدينة فجعلنانتبادر من رواحلنافنقبل يدرسول اللهﷺورجله[مشکوات المصابيح جلد۲ص۴۲۴باب المصافحه]حضرت زارعؓ وايې چه مونږکله مدينې منورې ته راغلو مونږهريوه به تلوارې کوله دنبي کريمﷺلاسونه اوپښې موورمچولې[مشکوات] اودغه رقم امام ترمذيؒباب ليکي[باب ماجاء في قبلة اليد والرجل]بياتردغه لاندې روايت ذکرکوي چه يوه حصه يې داسې ده[قال فقبلوايديه ورجليه اه[ترمذي جلد.۲ص۱۰۲ ابواب الادب]حضرت صفوان ابن عسالؓ فرمايې چه رسولﷺته يهودراغله اودنبي کريمﷺنه يې دموسي عليه السلام دمعجزوپوښتنه وکړه جناب نبي کريمﷺجوابونه ورکړه بياهغه يهودو دنبي کريمﷺلاسونه اوپښې ورمچ کړې [ترمذي]

احاديث په دا باب کې بېشماره موجوددې چه درسولﷺپښې اولاسونه به صحابه کراموورمچولې محدثين مستقل بابونه پرليکي]

اودغه رقم صحابه کرامؓ به خپله يوبل لاسونه اوپښې دعزت اوبرکت اومشرتوب په خاطرورمچوله ترداغه باب لاندې امام بخاريؒ روايت نقل کوې چه په مصافحه کې موهم ذکرکړې[عن عبد الرحمٰن بن رزين قال مررنابالربذة فقيل هاهناسلمة بن الاکوع فأتيته فسلمناعليه فأخرج يديه فقال بايعت بهاتين نبي اللهﷺفاخرج كفأله ضخمة كأنهاكف بعيرفقمنااليهافقبلناها[صفحه مذکوره]حضرت عبد الرحمٰن بن رزينؓ وايې چه زه سلمه بن الاکوعؓ ته ورغلمه ده راته ويله چه ما په دغه لاسوسره دنبي کريمﷺسره

بیعت کړې دې حضرت عبد الرحمٰنؓ وایې چه مونږورولاړسوو دسلمهؓ لاسونه مووړمچ کړله(ادب المفرد]اوبل روایت ذکرکوي[حد ثناعبد الله بن محمدقال حد ثناابن عیینه عن ابن جدعان قال ثابت لا نسؓ أمسست النبيﷺبيدك ؟ قال نعم فقبلها[صفحه مذكوره]امام ثابتؒ وحضرت انسؓ ته ووېله چه تاپه لاسوسره درسولﷺلاس مبارك مسه کړې دې انسؓ ورته ووېله چه هو امام ثابتؒ یې لاس ورمچ کړې]اوبل روایت ذکرکوي[حد ثناعبد الرحمٰن بن المبارك قال حد ثناسفيان بن حبيب قال حد ثناشعبة قال حد ثناعمروعـــن ذكوان عن صهيب قال رأيت عليا يقبل يد العباس ورجليه[صفحه مذكوره]امام بخاريؒ روایت نقل کوي چه صهیبؒ وایې چه ماحضرت علي شیرخداؓ ولیدې چه د حضرت عباسؓ لاس اوپښې یې ورمچ کړلې[ الادب المفرد)

اودغه رقم امـــام بیهقيؒروایت نقل کوي[أخبرناابومحمدعبد الله بن يحي ابن عبد الجبار السكري ببغـــد اد انبأنا اسماعـــيل بـــن مـــحـــمد الصفارثنا احمدبن منصورثناعبد الرزاق انبأ الثوري عن زيادبن فياض عن تميم بن سلمة قال لماقدم عمرؓ الشام استقبله ابوعبيدة ابن الجراحؓ فقبل يده ثم خلو ايبكيان قال فقال تميم تقبيل اليد سنة[سنن الكبري جلد٧ص١٠١باب ماجاء في قبلة اليد]امام بیهقيؒ دتمیم بن سلمه څخه روایت نقل کوي چه تمیمؒ وایې چه کله صحابي جلیل حضرت عمرؓ شام ته راغلې حضرت ابوعبیده بن جراحؓ مخ ته استقبالیه ته ورغلې اودعمرؓ لاس مبارك یې ورمچ کړې اوامام تمیمؒ به وېله چه لاس مچول سنت دي[بیهقي]اودغه رقم علامه ابن حجرعسقلانيؒ روایت ذکرکوي[وقبل ابوعبيدةؓ يدعمرؓ حين قدمه وقبل زيدبن ثابت يدابن عباس حين أخذ ابن عباس بركابه[فتح الباري جلد٧.ص٣٣٤كتاب الاستيذان باب الاخذباليدين]وایې حضرت ابوعبیدهؓ د حضرت عمرؓ لاس ورمچ کړې اودغه رقم حضرت زید بن ثابتؓ د حضرت عبد الله بن عباسؓ لاس ورمچ کړې اوعبد الله ابن عباسؓ به دده دآس قیضې نیولې (فتح الباري]او امام بدرالدین عینيؒ وایې[وقد كان ثابت البنانيؒلايدع يد انسؓحتي يقبلها[عـــمدة القاري جـــلـــد٩ص٣٤٦باب ماذكرفي الحجرالاسود]حضرت ثابت بنانيؒ به د حضرت أنسؓ لاس نه پرېښودې بلکه همېشه به یې ورمچوې(عیني]اودغـــه رقم ابن المقري روایت نقل کوي[حد ثناابويعلي قال نامحمدبن مرزوق قال نامحمدبن عبد الله الانصاري قال ناابي عن جميلة ام ولد انس بن

مالك قالت كان ثابت اذ اتي انسا قال ياجارية هاتي طيبا امسه بيدي فان ثابتا اذ اجاء لم يرض حتي يقبل يدي[الرخصة في تقبيل اليد لابن المقري ص۹]د حضرت انسؓ بي بي مبارکه وايي چه کله به حضرت ثابتؒ راغلي نوانسؓ به ماته ويله چه عطرراکړه چه پرلاس يې ولګومه ځکه چه ثابتؒ ترهغه وخته نه خوشحاله کيږي چه زمالاس رامچ نه کړي[الرخصه]دادي داهر صحابي دځومره لوي شان والادي يعني حضرت عليؓ درسول ﷺ زوم اود حسنينو مبارکينو پلار اود اسلام ۴ خليفه دحضرت عباسؓ دنبي کريم ﷺ اکادي لاس اوپښې يې ورمچه وي اودغه رقم حضرت زيد بن ثابتؓ چه کاتب دوحي دقران دي دحضرت عبد الله بن عباسؓ چه مفسردقران دي زيدؓ يې لاس ورمچوي اوعباسؓ يې دأس رکاب ورته نيسي اودغه رقم حضرت ابوعبيده بن جراحؓ چه أميردصحابه ومجاهدينودي دحضرت عمرؓ چه داسلام ۲ خليفه دي استقباليه ته وروزي اولاس يې ورمچوي او حضرت ثابتؒ دحضرت انسؓ لاس هميشه ورمچوي لکن دابوصحابي هم دالاس اوپښو مچولوته نه شرك وايي اونه خلګ ورځخه منعه کوي]

اودغه رقم تابعينوهم يودبل لاسونه مچول امام ابن ابي شيبةؒ روايت ذکرکوي[أبوبکر قال حدثناسفيان بن عيينه عن مالك عن طلحة قال قبل خيثمة يدي قال مالك وقبل طلحة يدي[مصنف ابن ابي شيبه جلد۶ص۱۹۸ باب في الرجل يقبل يد الرجل]امام طلحة وايي چه امام خيثمه[چه دطلحه استاذ هم دي] زمالاس رامچ کړي اوامام مالكؒ وايي چه امام طلحه [چه دامام مالكؒ شاګرددي]زمالاس رامچ کړي(مصنف]اودغه رقم امام بدرالدين عينيؒ ليکي[قال سفيان تقبيل يد العالم والسلطان العادل سنة فقام عبد الله ابن مبارك وقبل رأسه وقال من يحسن هذا غيرك[البنايه علي الهدايه جلد۱۱ص۲۲۳کتاب الکراهيه]علامه عينيؒ نقل کوي چه حضرت امام سفيانؒ[چه دکوفي مجتهددي]شاګردانوته ويله چه دعالم اوعادل باچالاسونه مچول سنت دي حضرت عبد الله ابن مباركؒ [چه دامام ابوحنيفةؒ شاګرددي]ورولاړسو اوامام سفيانؒ يې پرسرمچ کړي ويل ترتابه بل څوك ددي لائق وي[عيني]اوبياليکي[وقد صنف الحافظ أبوبکر الاصبهاني المعروف بابن المنقري خبرا في الرخصة في تقبيل اليد ذکرفيه احاديث عن النبي ﷺ وأثارعن الصحابة والتابعين رضي الله تعالي عنهم اجمعين فعلم من مجموع ماذکرنا اباحة قبلة اليد والرجل والرأس والکشح

[صفحه مذکوره]واېي حافظ ابوبکراصفهانيؒ يوکتاب لیکلې دې په اثبات دلاس مچېدلوکې .ېباېي احاديث درسول ﷺ او اثار دصحابه کرامو اوتابعينوپه اثبات دلاس مچولوکې ذکرکړې دې ددغه ټولوروایاتوڅخه داثابته سوله چه دلاس اوپښو اوسراوبغل مچول جائزدي[عيني] اوعلامه حصفکيؒ ليکي[ولابأ س بتقبيل يد العالم والمتورع علي سبيل التبرك وقيل سنة وتقبيل رأسه اجود[درمختارعلي الرد جلد ۵ص۲۷۱]علامه حصفکيؒ واېي چه دعالم اوبزرګ لاس دتبرك په نيت مچول جائزدي اوبعض علماء واېي سنت دي اودعالم سرمچول ډېرثواب لري[درمختار]تردغه عبارت لا ندي علامه شاميؒ ليکي[قال شرنبلالي وعلمت أن مفاد الاحاديث سنيته أوندبه کما اشار اليه عيني]علامه شرنبلاليؒ واېي چه د احاديثوڅخه دامعلومېږي چه دلاس مچول سنت اويامستحب عمل دي[شامي]اودغه رقم امام طحطاوي ليکي[تقبيل يد العالم جائز ووردفي احاديث ذکرهاالبدرالدين العيني مايفيدأن النبي ﷺکان يقبل يده ورجله و ﷺيقبل الحسن وفاطمة وقبل ﷺعثمان بن مظعون بعدموته وکذالك قبل الصديقؓ رسول الله ﷺبعدموته وقبل رسول الله ﷺابن عمه جعفراًبين عينيه ثم قال اه[طحطاوي علي المراقي ص۱۷۵فصل في صفت الاذکار]امام طحطاويؒ واېي چه دلاس مچول سنت دي دعالمانولاس مچول جائزدي امام بدرالدين عينيؒ دلسي احاديث ذکرکړې دي چه درسول ﷺلاس اوپښې صحابه ومچولې اورسول ﷺخپله هم حضرت حسنؓاوبي بي فاطمةؓ چه درسول ﷺلورده مچوله اوصحابي جليل حضرت عثمان ابن مظعونؓ يې پسله مرګه مچ کړې اوخپل دأکازوي حضرت جعفرؓ يې پرتندي باندي مچ کړې اوحضرت ابوبکر صديقؓ ببا نبي کريم ﷺپسله وفات څخه مچ کړې له دي ټولوعباراتوڅخه معلومېږي چه لاس مچول جائزدي[طحطاوي]

اودغه رقم امام بدرالدين عينيؒ ليکي[وأماتقبيل الاماکن الشريفه علي قصد التبرك وکذالك تقبيل ايدي الصالحين وأرجلهم فهوحسن محمودباعتبارالقصدوالنية [عيني شرح البخاري جلد ۹.ص۳۴۵]علامه عينيؒ واېي چه دتبرك په نيت باندي مبارك ځايونه مچول اودصالحانولاسونه اوپښې ورمچول جائز اوښه کاردي ترقصداونيت پورې تعلق لري[عيني]په دغه صفحه کي ډېرښه تفصيل کوې چه

مطالعه ېې ضروري ده؛
خلاصه دکلام داده چه داولياؤ اوعلماؤ اوسپد انو او استاذ انو اومشرانو لاس اوپښې اوپاسرورمچول سنت اودثواب کاردي بلکه علامه شامیؒ اوامام طحطاویؒ اوامام بدرالدين عینیؒ چه زمونږ دمذهب مشورفقهاء دي تهول د او اېي چه د هرمسلمان لاس اوپښې د اسلام اوعزت په خاطرجائزدي که څه هم نه عالم وي اونه مشراوسپدوي اونه استاذوي لکن ددنیاء په خاطربپاد چالاس اوپاپښې ورمچول مکروه دي]
اوس هغه انسانان چه لاس اوپاپښو مچولوته دشرك نسبتونه کوي هغه به ددغه لوېوصحابه ؤ اوتابعینو اوفقهاؤ په شان کې څه عقیده لري اپادنبي کریم ﷺ په مخ کې شرك کېدي[العياذبالله] اوده څه نه وپله اپاصحابه کراموخپله شرکپات کوله اپاامام بخاري اوپانورمحدثېن په کتابوکې دشرك بابونه لیکي[ان هذ االاافك مبېن وان هم الاخوان الشپاطېن نعوذبالله العلي العظېم منهم ومن عقائد هم]

## مسئله ﴿مصافحه یعني روغبړکول﴾

دمسلمان وروړسره روغبړکول سنت طرېقه ده په هروخت کې روایت دمشکوٰة دي[عن البراء ابن عازب قال قال النبي ﷺ مامن مسلمېن یلتقیان فېتصافحان الاغفرلهماقبل ان یتفرقا(مشکوٰة جلد۲ص۴۲۳باب المصافحة]رسول ﷺ فرمایي چه کله مسلمانان سره ملا قي سي اوبیا[مصافحه]روغبړسره وکي الله پاك به بخښه دګناهوورته وکړي مخکې ترجلاکېدلوددوي]
اودغه رقم بل روایت کي راځي[والمسلمان اذ اتصافحالم یبق بېنهماذنب الاسقط [صفحه مذکوره]نبي علیه السلام وايي چه کله مسلمانان روغبړوکي ګناه ېې نه سي پاته بلکه ورژېږي[مشکوات]نو هروخت چه مسلمانان سره یوځاي سي اوروغبړکوي خد اي عزوجل به ېې صغېره ګناهونه ختمه وي؛
**دمصافحې طرېقه**☆په دواړولاسوسره روغبړکول ادب اوسنت طرېقه ده اوبلاعذره په یوه لاس سره روغبړکول بې ادبي اوبدعت دي؛
امام بخاري په خپل کتاب کې باب لیکي[باب الاخذ بالېدېن وصافح حمادبن زېد ابن المبارك بېدېه(بخاري جلد۲ص۹۲۶کتاب الاستېذ ان]وايي باب دي په دي مسئله کي

چه په روغبړکې به په دواړولاسوسره نيول کېږې اوحضرت حمادبن زيدؒ اوحضرت عبد الله بن مبارکؒ به په دواړولاسوسره روغبړسره کوې[بخاري]

بياترد اباب لاندې اثرذکرکوي [حدثناابونعيم قال حدثناسيف بن سليمان قال سمعت مجاهد ايقول حدثناعبد الله بن سخبره ابومعمرقال سمعت بن مسعود يقول علمني النبي ﷺوكفي بين كفيه التشهدکمايعلمني السورة من القران ؛ اه]صحابي جليل حضرت عبد الله ابن مسعودؓ فـــرمايي چه جناب رسول پاكﷺزمالاس په دواړولاسومبارکانوکې نيولې ؤ بياېې تشهد اسې راوښودله لکه يوسورت دقران چه راښيي [بخاري]اودغه رقم امام بخاري بل روايت نقل کوي[حدثناابن مريم قال حدثناعطاف بن خالدقال حدثني عبدالرحمن بن رزين قال مررنابالربذة فقيل لناههناسلمة بـــن الاكوع فاتيته فسلمناعليه فاخرج يديه فقال بايعت بهاتين نبي اللهﷺفاخرج كفاله ضخمة كأنهاكف بعيرفقمنااليه فقبلناها[الادب المــفردللبخاري ص۲۶۴باب تقبيل اليد]حضرت عبد الرحمن بن رزينؒ فرمايي چه مونږ ربذه مقام ته ولاړو هلته درسولﷺصحابي حضرت سلمة بن الاكوعؓ ؤ مونږيې ملاقات ته ورغلو اوسلام موورته ووايه ده مبارك دواړه لاسونه راښكاره كړله ويل په دغه دوولاسومې درسولﷺسره بيعت كړې دې حضرت عبد الرحمنؓ وايي مونږورولاړسولو هغه لاس موورمچ كړه لي[ادب المفرد]له دي احاديثو مباركه وڅخه ښكاره سوله چه صحابهؓ به درسولﷺسره په دواړولاسوروغبړكوي

اودغه رقم علامه ظفراحمد العثماني ثم الديوبنديؒ د اروايات ذکرکوي چه روغبړبه په دواړولاسوسره وي اوبيايلکي[ثم المصافحة باليد الواحدة من شعاراهل الباطل في زماننافلاينبغي التشبه بهم بترك ماهوالمتوارث المتعارف بين المسلمين وقدثبت انه صافح حمادبن زيدابن المبارك بكلتايديه لم يثبت خلافه عن أحدفلاينبغي ان يترك سنت السلف بـاجتهاد هؤلاء المــحدثين الجهلة[اعلاء السنن جلد۱۶ص۸۲۱۳باب المصافحة]

علامــه عثمانيؒوايي زمـــونږيه زمانه كې پـــــه يوه لاس روغبړ كول دباطلو[بې دينانو]خلكوكاردي نومسلمان ته نه ښايي چه خپل دمشرانومسلمانانوطريقه پريږدي اودباطلوخلكوسره ځانونه مشابه كړي. اوداثابته هم ده چه حضرت حمادبن زيد به

دحضرت ابن المبارك سره په دواړولاسومصافحه کوله ،اوددې خلاف طريقه دهيڅ چاڅخه هم نه ده ثابته نونه ښايې چه دد اسې جاهلانوملاپانوپه قول دخپلوسلفولاره پرېږدو؛اعلاء السنن]
اودغـه رقـم زمونږ فقهاء مبارکان ليکي(والسنة ان تکون بکلتايد يه)مجمع الا نهر جلد۴ص۲۰۴) ايضا(الدر المختار علي هامش رد المحتار جلد ۵ ص ۲۷۰)وايي سنت په روغبړکې دادې چه په دواړولاسوسره وي ؛
اودغه رقم علامه امين صفدر اوکاړوي ليکي[اهل اسلام ميں دونوں هاتھ سے مصافحه متوارث تهاانگريزکی دور سے پهلے کسی اسلامی کتاب ميں دونوں هاتھ سے مصافحه کرنے کوبدعت اورخلاف سنت نهيں کهاگيا اس دورميں يه عجيب واقعه هواکه مسلمان جب اپس ميں ملتے تودوهاتھ سے مصافحه کرتے تے ليکن انگريزجب ايک دوسرے سے ملتے توايک هاتھ سے مصافحه کرتے تهے ،ان کے اس سنت کوپهلے نيچريوں نے اپناياأورکالجووغيره ميں ايک هاتھ کامصافحه کارواج شروع هوگيا)اه(تجليات صفدرٔجلد۱ص۱۹۶]علامه اوکاړوي وايي لـه وختـه دمسلمانانومېراث اوطريقه داسې وه چه په دواړولاسوبه روغبړکېدې دانگرېزترراتګ مخکښې هيڅ يواسلامي کتاب هم دا نه دي ليکلي چه په دوولاسوروغبړ کول بدعت دې اوس عصرکې داعجبه واقعه ده چه کله مسلمانان روغبړکوي په دواړولاسوېې کوي اوانگرېزان چه کله روغبړکوي په يوه لاس يې کوي دانگرېزانود طريقه اولا نيچريانورشروع کړله اوس په کالجوکې هــم ديـــولاس روغبړشروع سواواهل حديثو[سلفيانو]هم دانگرېزانوتقليد شروع کړي[تجليات]نومذ هبي مسلمان بايد په دواړولاسوداديه ډك روغبړوکړي اوبې ادبه روغبړنه وکړي اودبې مذ هبود تشبيه څخه ځان وساتي

**[داختر روغبړ]** په أخترونوکې روغبړونه کول په مسجد کې وي اوکه په بل ځاي کې وي لکه څنګه چې دمسلمانانوعرف اواصطلاح ده چې داخترپه ورځوکې روغبړونه کوي اويووبل ته مبارکي ورکوي اودعاوي کوي دامستحب عمل دي اودخيرکاردي

هم دغه طريقه د رسول ﷺ د صحابه کرامو ؓ هم وه
علامه سيوطي ؒ روايت نقل کوي [عن جبير بن نفير بسند حسن قال كان اصحاب رسول الله ﷺ اذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم وعن علي بن ثابت قال سالت مالكا عن قول الناس في العيد تقبل الله منا ومنك ؟ فقال مازال الامر عندنا كذالك [الحاوي للفتاوي جلد١ ص١٠٠ وصول الاماني] حضرت جبير ؓ وايي چه صحابه کرام [رضوان الله تعالي عليهم اجمعين] چه به د اختر په ورځو کي سره [ملاقي] مخامخ سوله نو يو او بل ته به يې مبارکي ورکوله او دا به يې ويل الله پاك دي زمونږ او ستاسي عبادات قبول کړي ] او د امام مالك ؒ څخه علي بن ثابت ؒ پوښتنه وکړله چه دغه مبارکي چه په اخترو کي اخيستل کيږي او دعاوي کوي د اځنګه ده؟ امام مالك ؒ په جواب کي ورته وويله مونږ همېشه دغه عمل کوو [الحاوي]
او زمونږ د مذهب مشهور فقيه علامه طحطاوي ؒ ليکي [والتعامل به في البلاد الشامية والمصرية قول الرجل لصاحبه عيد مبارك عليك ونحوه وكذا تطلب المصافحة فهي سنة عقب الصلواة كلها وعند كل لقي (الطحطاوي علي المراقي ص(٢٨٩ باب العيدين] امام طحطاوي وايي چه د اختر مبارکي مستحب ده زمونږ په دشام او مصر په ښاروکي مسلمانان په اخترو کي يو او بل ته د اسي وايي [د اختر دي مبارك سه] يا نور د اسي الفاظ بياوايي او دغه رقم د اختر په مبارکي روغبړ ونه کول سنت عمل دي بلکه تر هر لمانځه بعد او په وخت د ملاقات کي روغبړ کول سنت دي (طحطاوي] او دغه رقم زمونږ د مذهب بل مشهور کتاب فتاوي کاملية کي ليکي [سئلت عن المصافحة في يوم العيد والجمعة ماحكمهما؟ فالجواب ان حكمهما الاستحباب اه [كاملية ص٢٦٢ كتاب الحضر] وايي زما څخه پوښتنه وسوله چه د اختر د ورځي روغبړ کول څه حکم لري ؟ ما په جواب کي ورته وويله چه مستحب عمل دي بيا دلايل نقل کوي [كامليه] او دغه رقم درر الحكام کي ليکي چه د اهم زمونږ د حنفي مذهب کتاب دي [والتهنـئة بتقبل الله منا ومنكم لا تنكر كما في البحر وكذا المصافحة بل هي سنة عقب الصلوات كلها وعند كل لقي ولنا فيها رسالة سميتها۔ سعادت اهل الاسلام بالمصافحة عقب الصلات والسلام [درر الحكام جلد١ ص١٤٢ صلات العيدين] ملاخسرو وايي .په اخترو کي مبارکي ورکول او داويل چه الله دي زمونږ عبادات قبول کړي.د اجايز دي. او نه دي منع

کېږي اودغه رقم د اختر په ورځ روغبړونه کول هم سنت عمل دي .بلکه تر هرلمانځه بعد اوپه وخت د ملاقات کې روغبړکول سنت دي.اوماپه دې مسئله کې پوکتاب هم لیکلی دی[درر الحکام]
اودغه رقم فلك الارشادحضرت میاں فقیرالله الحنفي لیکي [وکان ﷺ اذ القي اصحابه یقول تقبل الله مناومنکم رواه الطبراني في الکبیر و اما المصافحة المتعارفه فمباح لکن ینبغي ان تکون بعد السلام لتوافق اصل السنة[قطب الارشاد ص۲۸۱ ]جناب نبي کریم ﷺ چه به کله د اخترپه ورځوکې د خپلو اصحابوسره مخامخ سونومبارکي به یې ورکوله اوویل به یې خداې تعالې دې یې زمونږاوستاسوڅخه عباد ات قبول کړي اوروغبړونه کول دي په اخټروکې ښه کاردي .[قطب] اودغه رقم امام عثیمین په خپله فتاوې کې لیکي [س؟ماحکم المصافحة والمعانقة والتهنئه بعدصلات العید؟فاجاب بقوله هذه الاشیاء لاباس بهالان الناس لایتخذونهاعلي سبیل التعبدوالتقرب الي الله عزوجل وانمایتخذونهاعلي سبیل العادت والاکرام والاحترام ومادامت عادت لم یردالشرع بالنهي عنهافان الاصل فیهاالاباحة[مجموع الفتاوې ورسائل للعثیمین جلد۱۶ص۲۰۹]دعلامه عثیمین څخه پوښتنه وسوله چه د اخترپه ورځ ترلمانځه وروسته چه کوم دلاسو اودغیږو روغبړونه کیږي اومبارکې ورکول کیږي د اڅه حکم لري؟ دې په جواب کې ورته واېي چه د اعمل جائزدي باك نه لري ځکه چه خلګ د اکارعبادت نه بولي بلکه یوعرف اواصطلاح ده اومقصود پکښې احترام اوعزت د مسلمانانووې چه دیوشي منع شریعت نه وي کړې که څه هم په شریعت کې دلیل هم نه لري بیاېي هم حکم دجواز دي ځکه اصل په اشیاؤ کې اباحت دي[عثیمین] اودغه رقم فتاوې واحدي ص۱۹۲)اودغه رقم مجموع الفتاوې لابن البازجلد۱۱ص۱۳۸]
[خلاصه]خلص دمسئلې د ادې چه روغبړکول دثواب کاردي اوسنت طریقه یې د اده چه مصافحه په د واړولاسوسره وي اود اخترترلمانځه وروسته روغبړونه کول اومبارکې ورکول مستحب عمل دې اوپه یولاس روغبړکول اوپاد اختردروغبړوڅخه خلګ منعه کول دبې مذ هبوبدعتیانوشعاردي

**مسئله﴿ سماع الموتي دمړواوریدل﴾**

دمحققین علماؤپردي خبره اتفاق دي چي مړي دژوند و اواز اوخبري اوري خواه که هغه مړي نیك انسان وي اوکه بد که مسلمان وي اوکه کافر امام بخاريؒ په خپل کتاب کي باب ایښي[باب المیت یسمع خفق النعال]باب دي په دي مسئله کي چه مړه دژوندو دچپلو اواز اوري بیاترد اباب لا ندي حدیث نقل کوي[حدثناعیاش قال حدثناعبد الاعلي قال حدثناسعید قال وقال لي خلیفة حدثنایزید بن زریع قال حدثناسعید عن قتادة عن انس عن النبيﷺقال العبد اذ اوضع في قبره وتولي وذ هب اصحابه حتي انه لیسمع قرع نعالهم اه[صحیح البخاري جلد ۱ص۱۷۸کتاب الجنایز]حضرت انسؓ روایت نقل کوي چه جناب نبي کریم ﷺوفرمایل چه کله مرده انسان په قبرکي کیښینودل سي اوملګري ورڅخه روان سي دغه مړي ددغه ژوندو دپښو اواز اوري چه بیاملکي حساب ورسره شروع کي[الحدیث] هم دغه رقم امام قرطبيؒ باب لیکي[باب ماجاء ان المیت یسمع مایقال[التذکرة في احوال الموتي وامور الاخرة جلد۱ص۱۳۰] هم دغه رقم امام سبکيؒ فصل ایښي[الفصل الثالث في سائر الموتي في السماع والکلام والادراك والحیاة[شفاء السقام في زیارت خیرالا نام:۴۱۶]هم دغه رقم امام مسلمؒ روایت نقل کوي[حد ثنا هد اب بن خالد ناحماد بن سلمه عن ثابت البناني عن انس بن مالك ان رسول ﷺترك قتلي بدرثلثاثم اتاهم فقام علیهم فناداهم فقال یا اباجهل بن هشام یاامیه بن خلف یاعتبة ابن ربیعة یاشیبة ابن ربیعة الیس قدوجدتم ماوعدکم ربکم حقافاني قدوجدت ماوعدني ربي حقا فسمع عمرؓ قول النبيﷺفقال یارسول الله کیف یسمعوا واني یجیبو اوقد جیفو اقال والذي نفسي بیده ماانتم باسمع لما اقول منهم ولکنهم لایقدرون ان یجیبو اثم امروابهم فسحبو افالقو افي قلیب بدر[صحیح المسلم جلد۲ص۳۸۷کتاب الجنة]مفهوم حضرت انسؓ فرمأيي چه جناب رسول پاكﷺدبدر دغزا بعد دکافرانو دوژل سووسرد ارانو ومرد اروجسد وته ولاړاوبیاېي اوازورته وکړي ویل یااباجهل یاامیة یاعتبة یاشیبة ایاستاسورب چه کومه وعده درسره کړي وه هغه ېي درپوره کړه له که یا زمونږرب خوخپله وعده پوره کړله حضرت عمرؓ نبي کریمﷺته وویله چه څنګه به د ادکفارومړي ستاخبري واوري اوڅنګه به جواب درکي داخومړه سوي دي اوجسدونه ېي خراب سوي دي نبي کریمﷺپه جواب کي ورته وویله چه قسم په الله چه تاسي زماخبري د اسي ښه نه

اورې لکه څنګه چه يې د امړه اورې لکن جواب نه سې راکولای[الحديث]هم دغه رقم ابن القيمؒ روايت نقل کوې [قال ابن عبد البرثبت عن بن عباس عن النبيﷺ انه قال مامن مسلم يمرعلي قبراخيه كان يعرفه في الدنيافيسلم عليه الارد الله عليه روحه حتي يرد عليه السلام[كتاب الروح صفحه۷]وايضاتفسيرابن كثيرجلد ۵ص۹۵سورت روم ايت۵۳]وايضا التذكره للقرطبي ج۱ص ۱۳۰]وايضا مجموعة الرسايل للكهنوي جلد۶ص۴۳۵] حضرت ابن عباسؓ نقل کوې چه جناب نبي کريمﷺفرمائي چه کله يو مسلمان دبل مسلمان وقبرته ورسي اويه دنياکې سره پيژني اوبياسلام ورته ووايي الله پاك ودغه مړه ته روح راوګرځوي بيادغه مرده دسلام جواب ورکي[الحديث] په داباب کې احاديث بيشماره دي شاه انورشاه کشميري ديوبنديؒ وايي چې احاديث درسولﷺپه باب د ثبوت دسماع الموتي کې وحدته دتواتررسيدلي دي [فيض الباري علي صحيح البخاري جلد(۳)صفحه (۴۲كتاب الجنايز) اوشاه عبدالعزيزمحدث دهلويؒتفصيلي بيان کوې چه مړه دژوندوسلام اوکلام اورې اوجوابه وې يې بيايه اخرکې وايې [وبالجملة انكارشعورروادراك اموات اكركفرنباشددرالحادبودن اوشبهه نيست]چې انکارله سماع الموتي څخه که کفر نسې په الحاد کې شك اوشبه نسته(فتاوي عزيزي ج۱ص۸۸) وايضاجامع الرسائل صفحه(۲۳۵)

اودغـــه رقــم مــحدث الهندعلامه لکنويؒ دامسئله تفصيلي ذکرکوې اوفرمائي[وهذ اوان قالت به ثلة من الاولين وثلة من الاخرين لكنه مردودعند الناقدين ومطرودعند الماهرين وقدوردت اخبارواثاربسماع كل ميت ولوكان من المفاروالفجار.فان الدلائل تدل علي ثبوت السماع والادراك في كل ميت ولوكان من الفئة المضلة لا في بعضهم الي ان قال..فانظرالي هذه الاموات كيف انكروسماع الاموات وحسهم ونطقهم وشعورهم وادراكهم وشبهوهم بالجمادات الخالية عن مطلق الادراكات مع ثبوت ذالك بمايبلغ بمجموعه الي حد التواتر المعنوي[مجموعة الرسائل جلد۶ص۴۳۵تنبيه ارباب الخبرة]مفهوم علامه لکهنويؒد[انك لاتسمع الموتي]ايت په تحقيق کې فرمائي چه له دې آيت څخه نفي دسماع الموتي اخيستل بنه کارنهٔ دي که څه هم بعض کسانوبه داقول کړې وې لکن داقول يې په نيزدنکته

چېنو اوماهرېنوفقهاوغېرمقبول اومردوددي بلکه احادېث درسول ﷺ او اثارد صحابه کراموپرد اقول دي چه هرمړي اوري که څه هم بدعمله اونافرمانه مړي وي ځکه چه دلا ئل داثابته وي چه هرمړي که څه هم دګمراه فرقي څخه وي ددنېاء اوازونه اوري اوبېاوائي چه هغه کسان چه د اعقېده لري چه مړي نه اوري اونه پوهېږي اونه دشي ادراك کولاي سي اونه خبري کولاي سي بلکه د اسي دي لکه هغه جمادات چه هېڅ ادراك نه سي کولاي، په حقېقت کي د اعقېدي والا انسان په خپله مړدي چه په څه نه پوهېږي ځکه احادېث په ثبوت دسماع الموتي کي وحدته تواترمعنوي رسېدلي دي[مجموع الرسائل] اودغه رقم علامه کشمېريؒ لېکي[وفي رسالة غېرمطبوعة لعلي القاري ان احد امن ائمتنالـم يـذ هب الـي انكارها وانما استنبطوهامن مسئلة في باب الايمان ولادلېل فېهاعلي ماقالوا فان مبني الايمان علي العرف اه[فېض الباري ج۳ص۴۲]شاه صاحب وائي چه علامه قاريؒ فرمائي چه زمونږد حنفي مذهب په متقدمېنوكي هېڅ يوعالم هم دسماع الموتي څخه انكارنه دي کړي [فېض الباري]اودغه رقم په شرح دترمذي کي لېکي[واشتهرعلي الالسنة ان الموتي لېس لهم سماع عند ابي حنيفةؒ وصنف ملاعلي القاري رسالة وذكرفېها ان المشهورلېس له اصل من الائمه اصلابل اخذ هذ امن مسئلة في باب الايمان والمحقق ان اباحنيفة لاينكرسماع الاموات وان خالف ابن الهمام اه[العـرف الشذي جلد۱ص۲۰۲باب مايقول الرجل اذ ادخل المقابر]علامه کشمېريؒ وايي چه پرژبه دعلماء د امشهوره ده چه حضرت امام صاحب دسماع الموتي څخه منكرولكن ملاعلي القاري ددي خبري په ردكي يوكتاب لېكلي دي چه د ابي اصله خبره ده دېوه امام څخه نده ثابته بلكه ثابته اومحققه خبرد اده چه حضرت امام صاحب دسماع الموتي قايل ؤ اوابن الهمام دخپل مذهب مخالفت کړي دي[عرف شذي]

اوعلامه لكهنويؒ وايي[وكيف ينكرقـدماء اصحابناسماع الموتي مع ظهور النصوص الدالة عليه واجماع اكثر الصحابة عليه ولعلمي قدينكشف هذ االامرلمنكري السماع بعدموته وان طال انكارهـم في حياتهم وعندذ الك يحصل مع التنبيه علي خطاهم ولايفيدهم ذ الك[النافع الكبير علي الجامع الصغيرجلد۱ص۲۷۳]علامه لكنوي وائي چه كوم قول چه احنافوته منسوبېږي دعدم سماع الموتي د ابي اصله دي ځكه چه

ښکاره نصوص په اثبات دسماع الموتي کې موجود دي بيابه څنګه زمونږ فقهاء انکارورڅخه کوي اوچه کله دامنکرين خپله مړه سي بيابه حال ورته معلوم سي چه مړه اورې اوخپل خطاء به ورښکاره سي لکن پښيماني به فايده نه وررسوي[النافع الکبير]. اوعلامه ابن کثير دمشقيؒ ليکي[والسلف مجمعون علي هذا قد تواترت الا ثارعنهم بان الميت يعرف بزيارة الحي له ويستبشر[تفسيرابن کثيرجلد۵ص۹۵ ]علامه دمشقي وايي چه دټولوسلفو اجماع ده اوپه تواترسره اثارپې نقل کړې دي چه مړي دژوندي په زيارت پوهيږي اوپه خوشحاله کيږي[ابن کثير]

**سوال:** دمومنانومورحضرت عائشهؓ صديقهؓ مبارکه دسماع الموتي څخه انکارکوي اودحضرت عبد اللهؓ دقول تاويل کوي ؟

**جواب:** اولا خوامام قسطلانيؒ وائي چه بي بي مبارکي دخپل قوله څخه رجوع کړې ده اووائي[ومن الغريب ان في المغازي لابن اسحاق من رواية يونس بن بکير باسنادجيدعن عائشه حديثاوفيه ماانتم باسمع لمااقول منهم واخرج الامام احمد باسناد حسن فان کان محفوظ فکانهارجعت عن الانکارلماثبت عند هامن رواية هولاء الصحابة لکونهالم تشهد القصه[المواهب اللدنيه جلد.۱.ص۲۲۴] اودغه قول درجوع يې شيخ عبد الحق محدث دهلوي هم نقل کړې دي [اشعة اللمعات جلد۳ص۴۲۲]

اوبل جواب يې دادې چه په داقول کې بي بي مبارکه متفرده ده لکن جمهورعلماء پرقول دابن عمرؓ دي اودبي بي مبارکي قول ترک وهي؛

امام بدرالدين عينيؒ ليکي[قلت هذامن عايشةؓ يدل علي انها ردت روايت ابن عمرالمذکورة ولکن الجمهورخالفوهافي ذالك وقبلوا حديث بن عمرؓ لموافقة من رواه غيره عليه وقال السهيلي عايشةؓ لم تحضرقول النبيﷺ فغيرهاممن حضراحفظ للفظ النبيﷺ وقد قالوا يارسول اللهﷺ اتخاطب قوماقد جيفوا؟ فقال ماانتم باسمع لمااقول منهم اه عمدة القاري جلد ۸ ص۲۹۲ کتاب الجنائز]امام عيني وائي چه حضرت عائشه صديقهؓ دسماع الموتي څخه انکارکوي ـ لکن جمهورعلماء له دې سره په داقول کې مخالف دي بلکه دحضرت عبد الله ابن عمرؓ حديث يې قبول کړې دي ځکه چه نورصحابه کرام[رضوان الله عليهم]هم دابن عمرؓ قول نقل کوي اوامام سهيلي وائي

چه دنوروصحابهؓ قول ځکه ترعائشې صديقېؓ ترقول مقدم دي چه بي بي عائشةؓ په ميدان دبدركې نه وه حاضره اونورصحابهؓ حاضروه نو هغه دنبي كريمﷺ په قول ښه خبردي اوښه يې يادكړي ترعائشې مباركې[عيني]

اودغه قول علامه ابن حجرالعسقلاني هم نقل كوي [فتح الباري جلد.٢ص٧٩٩كتاب الجنائز]اودغه جواب امام قرطبي هم كړي دي [التذكره ج١ص ١٣٠]اودغه جواب ښه تفصيلاعلامه محمد امين الشنقيطي المالكي هم كړي دي[اضواء البيان في ايضاح القران جلد٦ص١٢٩] اودغه جواب شيخ احمدعلي سهارنپوري هم ذكركړي دي[حاشيه علي البخاري جلد١ص١٨٣]

خلاصه دكلام داده چه په بېشماره احاديثو اواثارودا ثابته ده چه مړي ددنيااوازونه اوري اوپه هغه چاخبريږي چه زيارت ته ورسي اوپيژني يې اودسلام جواب وركوي اودغه رقم زمونږدمذهب امامان هم پردا متفق دي چه مړه اوري اوخاص بيادتمول امت ځراغ حضرت امام ابوحنيفةؒ هم داغه عقيده اومذهب دي بلكه دتمولوسلفوخاصكربيادعلماء ديوبند اجماع ده پردامسئله چه سماع الموتي ثابته ده اودزيات تفصيل اودمنكرينو دجواب دپاره دالاندې كتابونه وګورې[شفاء السقام ص٤١٦فصل في سماع الموتي مستقل فصل پرليكي]ايضا[عمدة القاري علي صحيح البخاري جلد٨ص٢٩٢كتاب الجنائز]مرقات المفاتيح شرح مشكات المصابيح جلد٧ص٤٧٥كتاب الجهاد]فتح الباري علي صحيح البخاري جلد٢ص٧٩٩كتاب الجنايز]الجامع الصغيرمع النافع الكبيرجلد١ص٢٧٣]

اضواء البيان في ايضاح القران جلد٦ص١٢٩]حاشية الاحمدعلي سهارنفوري علي هامش البخاري جلد١ص١٨٣]تفسيرالمظهري جلد٧ص ٢٤٣سوره روم]وشرح النووي علي صحيح المسلم جلد٢ص٣٨٧باب عرض مقعد الميت من الجنة] تسكين الصدورفي تحقيق احوال الموتي في البرزخ والقبورص٣٩٠]حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح .ص ٣٤٠فصل في زيارت القبور]البصائرلمنكري التوسل باهل المقابرص١٦]تسكين الا تقياء في زيارت خيرالا نبياء للصفدر الاوكاړويؒص٢٩٠]الملتقط من الكتب المعتبرة۔ص٢٥٩]جامع الرسائل من كلام الاكابر ص٢٣٥]جامع الكمالات العلميه والمسائل الاختلافيه ص٢٢٧]اوعلامه

عبد الستار السپمزائیؒ په اخردبحث دسماع الموتې کې لیکې[یقول لاشی عبدالستارانــــه یعلم من العبارات المذکورة ان الوهابیة والفنج پیریه المنکرین لسماع الموتی ملحدون خـــارجـــون عن زمرةاهل السنت والجماعة]الملتقط]اقول قولی واعتقادی موافق معه۱۲

## مسئله:دجهادتعریف اواقسام

(**دجهادتعریف**)جهاد په لغة کې وسع اوطاقة صرفولو اوتکلیفوګاللوته وایې په هرعمل کې چه وې که دینې عمل وې اوکه دنیاوې عمل وې لکه څنګه چه دلغت لوې کتاب لسان العرب کې وایې[الجهادمصدرجاهدوهومن الجهد بفتح الجیم وضمهااې الطاقة والمشقت وقیل الجهدبفتح الجیم وهوالمشقه وبالضم الطاقة[لسان العرب جلد۴ص۱۱۹]همدارنګه دلغتوتـول کتابونه دجهاددغه تعریف کوې لکه غیاث منتخب المعجم الوسیط اوفقهاء یې هم دغه تعریف کوې،

اوجهادپه اصطلاح کې دشرعې استعمالیږې ددې لپاره چه خپل تـول وسع اوطاقت صرف کې په قتال فې سبیل الله کې(یعنې په جنګ کولو د الله په لاره کې)هغه طاقت بیاعام دې که په ځان سره وې که په بمال سره که په ژبه وې اوکه په بله طریقه‌سره وې لکه څنګه چه زمونږدمذهب معتمدکتاب البدائع کې علامه کاسانې الحنفیؒ وایې[وفې عرف الشرع یستعمل فې بذل الوسع والطاقت بالقتال فې سبیل الله عزوجل بالنفس والمال واللسان اوغیرذالک اولمبالغة فې ذالک ؛والله اعلم[البدائع والصنائع جلد۷ص۹۷کتاب السیر]اوفتح القدیر رد المحتار الموسوعة الفقهیه دارنګه نوردفقه کتابویې هم داغه تعریف کړې دې؛

ددې عباراتوڅخه ښکاره سوه چه جهادپه اصطلاح دشرع کې دخداې دلارې په جنګ کې خپل طاقت مصرفولوته وایې اوس چه کوم خلګ نوروعباداتوته جهادوایې لکه تبلیغ یاعلم اویانوروعباداتوته نوداډیره غلطه خبره ده ځکه چه دوې دجهاددلغوې معنې څخه استفاده کوې اودجهادڅخه لغوې معنې مرادنه ده. کچیرې مونږلغوې معنې مرادکړو نوجهادخوپه لغت کې ښه کوشش کولو ته وایې که په ښه کارکې وې اوکه په بدکارکې وې نوبیادنیاتـول انسانان مجاهدین سوه حتې چه کافران هم

پکښې داخل سوه ځکه چه هغوې هم په خپل دېن کې کوشش کړې دې نود جهاد څخه لغوې معنې مراد نه ده بلکه اصطلاحې معنې يې مرادده ځکه چه کچېرې لغوې معنې يې اخلو بيايه نوپه ټـولو عباد اتوکې لغوې معنې مرادکړو څه وجه ده چه خالص په جهادکې لغوې معنې اخلو اوپه نوروعباد اتوکې يې نه اخلو مثلاًلکه لمونځ ،روژه حج يانور عباد ات ځکه چه صلوة په لغةکې تحريك ته دضلوېنوويل کېږې بيادې خلق لمونځ نه کوې بلکه خالص دې صلوېن ښوروې اوبس اوصوم پهلغةکې امساك ساعة (يعنې يوګړې خوله بندول)ته ويل کېږې نوبيادې داخلق روژه هم نه نيسې يوګړې دې خوله بنده کړې اوبس اوحج په لغة کې قصد اوارادې ته ويل کېږې نوبيادې داخلق صرف اراده دحج کوې لکه تبليغيان اوبس نورعباد ات هم علې هذا القياس نومعلومه سوه چه په ټـولوعباد اتوکې شرعې معنې مراد ده لغوې معنې مرادنه ده البته کله کله په بعضوځايوکې مجازالفظ دجهاد په لغوې معنې استعمال سوې وې خوهغه يې حقيقې معنې نه ده

(**دجهاداقسام**)جهاد پردوه۲قسمه دې فرض عين فرض کفايه فرض عين دېته وايې چه ديوچايه جهادکولوسره دبل چاذمه نه خلاصېږې مثلاًلکه لمونځ اوروژه چه ديوه مسلمان په کولو دبل مسلمان غاړې نه خلاصېږې اوفرض کفايه بيادېته وايې چه په علا قه کې يوسړې جهادوکړې دنوروغاړې په خلاصېږې اوکه يې هيڅ څوك ونکړې نوټـول به ګنهګاروې لکه دجنازې لمونځ

(**دفرض عين کېدلووخت اواحکام**)جهادپه پنځه ۵وختو کې فرض عين ګرځې(۱)کله چه کفاردمسلمانوپريوملك يايوه علا قه باندې حمله وکړې نوددغه ملك پرټـومسلمانانوباندې جهادفرض عين دې اودنوروملکوپرمسلمانانوباندې فرض کفائې دې خوداهغه وخت کچېرې دداغه ملك مسلمانانويې دفاع کولاې سوه اوکچېرې دداغه ملك مسلمانانويې دفاع نه سواې کولاې اويايې په جهادکولوکې سستې کوله اويايې جهاد نه کوې نوبيادګاونډيانوملکوپرمسلمانانوهم جهاد فرض عين ګرځې کچېرې هغوهم نه سواې کولاې اويايې نه کوې،بياپردانورومسلمانانوهم فرض عين ګرځې حتې درجه پردرجه ترمشرقه اومغربه پرټـول اهل اسلام باندې

فرض عین گرځي[ونقل صاحب النهاية عن الذخيرة ان الجهاد اذا جاء النفير انمايصير فرض عين علي من يقرب من العدو فامامن ورائهم ببعد من العدو فهوفرض كفاية عليهم حتي يسعهم تركه اذالم يحتج اليهم فان احتيج اليهم بان عجز من كان يقرب من العدوعن المقاومة مع العدو اولم يعجزوعنهالكنهم تكاسلوا ولم يجاهدوا فانه يفترض علي من يليهم فرض عين كالصلاة والصوم لايسعهم تركه ثم وثم الي ان يفترض علي جميع اهل الاسلام شرقاوغرباعلي هذا التدريج ؛اه[رد المحتار جلد ۳ص ۲۴۰].

(۲)په هغه صورت کې چه کله دمسلمانانولښکر اوکافرانولښکر سره مخامخ سي اومقابله يې شروع سي نوپه دغه وخت کې پردغه مجاهدينوچه په ميدان کې حاضردي جهادفرض عين گرځي که څه هم له سره جهادفرض عين نه وي[اذا التقي الزحفان وتقابل الصفان حرم علي من حضرالا نصراف وتعين عليه المقام لقوله تعالي(ياايها الذين امنوا اذالقيتم فئة فاثبتوا الي قوله ان الله مع الصابرين)الموسوعة الفقهيه جلد ۱۶ص ۱۳۱]

(۳)په هغه صورت کې چه کله دمسلمانانو امير يوڅه خلک مقرر کړي دجهاد له پاره اوورته وايي چه تلسو به جهاد ته ځي نوپردغه خلکوچه امير دجهاد دوتلوامر پروکړي پردغه خلکوجهادفرض عين گرځي کچيرې يوشرعي عذر يې نه درلودي که څه هم له سره فرض عين نه وي[اذا استنفر الامام قوما لزمهم النفير معه الامن له عذر قاطع ؛اه[الموسوعة جلد ۱۶ص ۱۳۱]په دغه درې ۳صورتوکې دټولوفقهاؤ په اتفاق جهادفرض عين گرځي اوزمونږ احناف فقهاء لادا خبرې دوه ۲ صورته هم ذکرکوي.

(۴)په هغه صورت چه کله دمسلمانانويوښځه اوياکچنيان دکفارو په لاسوکې اوياجيلوکي بنديان کړل سي نوپه دغه وخت کې پرټول اهل اسلام جهادفرض عين گرځي ترهغه وخته چه مسلمانان دکفارو په بنديخانوورننوزي اوخپل ښځي اوکچنيان راخلاصوي[وفي البزازيه امرئة مسلمةسبية بالمشرق وجب علي اهل المغرب تخليصهامن الاسر مالم تدخل دارالحرب وفي الذخيرة يجب علي من لهم قوة اتباعهم لاخذ مابايديهم من النساء والذراري وان دخلوا دارالحرب مالم يدخلوحصونهم

ولهم ان لایتبعهم للمال [رد المحتار جلد ۳ ص۲۴۲] البحر الرائق جلد ۵ ص۷۲]......
(۵) په هغه صورت کې (خداې مکړه) چه مسلمانان په دومره کم مقدار کې وې چه کله دوې د دښمن مقابلې ته ووزې نور پاته نسې یعنې د نړې مسلمانان دومره کم وې چه صرف د دښمن مقابله په کېږې او نـــور نـــوې نو په دغه وخت کې هم پرتـولو مسلمانانو جهاد فرض عین ګرځي [الااذا کان بالمسلمین قلة والعیاذ بالله تعالی بحیث لایمکن ان یقوم به بعضهم فحنئذ یفترض علی کل واحد منهم عینا، تأمل [رد المحتار جلد ۳ ص۲۳۹]
د دغه پنځو وختو د فرض عین څخه غیر نورپه تـولو وختو کې جهاد فرض کفایې دې یعنې کچېرې مسلمان په خپل ملك کې په امن ؤ او کفارو پر مسلمانانو حمله نه وه کړې یاد مسلمانانو ښځې د کفارو په لاسو کې نه وې بندیانې نو په دغه وخت کې جهاد فرض کفایې دې او د مسلمانانو امیر به په کال کې یو وار یولښکر د مسلمانانو جوړوې او د کفارو ملکو ته به یې استوې چه پر هغوې حمله وکړې [فیجب علی الامام ان یبعث سریة الی دارالحرب کل سنة مرة اومرتین [مرجع السابق]
(**دفرض کفایې حکم**) د فرض کفایې په صورت کې حکم د ادې چه بغېر له یو څو کسانو څخه [لکه کوچنې او یا هغه بالغ چه مور یا پلار یې ژوندې وې او هغوې اجازه نه ورکوې او مریې او ښځه او ړوند او شل او ګوډ او هغه پور ورې چه د پور والا اجازه نه ورکوې او هغه فقیه عالم چه په داغه علاقه کې بل داسې عالم نه وې چه پر دغه کسانو جهاد فرض نه دې نورپرتـولو مسلمانانو باندې فرض دې لکن داسې فرض دې چه د بعضې مسلمانانو په کولو سره د تـولو مسلمانانو غاړې خلاصېږې او که بیا هېڅ چا جهاد ونکړې د تـولو غاړې بندې دې او ګنهګاره دې البته د فرض کفایې په صورت کې که څه هم د بعضې په کولو سره د نورو غاړې خلاصېږې لکن خود غتـ اجر او ثواب څخه محروم او بې برخې پاته سول؛
(**دفرض عین احکام**) د فرض عین په صورت کې پر تـولو مسلمانانو جهاد فرض دې که لوې وې یا کچنې که نروې که ښځه که سپینږیرې وې که ځوان که ملا وې که امې ماسوا له هغه چا څخه چه هغه د جهاد و مېدان ته د حاضرېدلو طاقت نه لرې مثلالکه شل یاسخت مریض یاد پر سپینږیرې چه د جنګ مېدان ته نسې حاضرېدلاې او کچېرې

دجنگ مېدان ته د حاضرېدلو توان او طاقت يې درلودې لكن جنګ يې نه سواې كولاې بياهم باندي فرض دي چه دجهاد مېدان ته به وزي چه دمسلمانانو صف ورباندې غټې سي [خلاصه رد المحتار جلد ۳ .ص ۲۴۱]

اې دنړې مسلمانانو! سوچ اوفكروكړې چه كله كفار دمسلمانانو پرېو ملك حمله وكړې يادمسلمانانوپوه ښځه بندي كړې نوپرټول اهل اسلام جهادفرض عېن ګرځي نوموجوده دور كې چه دهرمسلمان ښځې اوكچنيان دكفاروپه جېلوكې بندیان دي اوهراسلامي ملك دكفاروترتسلط لاندې دي حتې چه مسلمانان په خپلوملكوكې هم په امن او ازاد نه دي چه په داسي حالاتوكې هم جهادفرض عېن نه سي نوبه كله جهادفرض عېن ګرځي خواصل حقېقت دادي چه اوس ددې وخت نه دي چه څوك داوايي چه جهادفرض عېن دي يانه دي ځكه چه دټولي كفري نړې له خواپرټول اهل اسلام حملي شروع دي نوبائد چه هرمسلمان خپل غېرت راپورته كړې اوپه هره نوعه چه كولاې يې سي ددې كفارومقابلي ته تيار سي اورا ووزې اوحصه پكښي واخلي په هررقم چه وې څوك دي سنګروته ځي اوڅوك دې بياپالي مرستي كوي مجاهدته دې دجنګ اودلازې اسباب او اسلحي ورتياري كړې اوڅوك دې بيامجاهدېن جوړوي اوڅوك دې بياپه بله طرېقه سره خدمت كوې داټولې دجهاد لازې دي خو البته په جهادكي دې ضرور شركت وكړې چه په هره معني سره وې، دالا زمي نه ده چه خامخابه ټول ددښمن مقابلې ته وزي اوجنګ به كوي ځكه كچېرې ټول مسلمانان په يو وار ددښمن مقابلې ته ووزې نودابه خداې مكړه دمسلمانانود هلاكت سبب وګرځي بلكه دمسلمانانو امېر يې هم اكمالات نسي پوره كولاې [والله اعلم]

(**دجهادمقاصد**) جهاد دلاندې اتو ۸ مقصدودپاره فرض سوې دې،

(۱) اول مقصد دجهاد دادي چه دمځكې پرمخ فتنه ختمه سي (وقاتلوهم حتي لاتكون فتنه ويكون الدين كله لله ؛الايه سورت انفال ۳۹)

(۲) دوهم مقصد دجهاد غلبه داسلام ده پركفر باندې چه اسلام غالب سي اوكفرمغلوب سي (ويكون الدين لله ؛الايه سورت بقره ۱۹۳)

(۳) درېم مقصد دجــهــاد دادي چه كفارذلېله سي اوجزېه اوټېكس مسلمانانوته وركړې (قاتلو الذين لايؤمنون بالله ولاباليوم الاخر ولايحرمون ماحرم الله ورسوله

ولايدينون دين الحق من الذين اوتوا الكتاب حتي يعطي الجزية عن يدوهم صاغرون ؛سورة توبه ۲۹)
(۴)ځلورم مقصد دجهاد دمظلومان كومك اومدد كول دي(ومالكم لاتقاتلون في سبيل الله والمستضعفين من الرجال والنساء والولد ان الذين يقولون ربنا اخرجنامن هذه القرية الظالم اهلها واجعل لنامن لدنك وليا واجعل من لدنك نصيرا ؛سورة نساء ۷۵)
(۵)پنځم مقصد دجهاد دمسلمانانو اومجاهدينو دانتقام اخيستل دي لكه دحديبيه په ورځ چه كله دحضرت عثمانؓ دشهادت اوازه راغله نونبي كريمﷺدمسلمانانوسره دعثمانؓ دانتقام اخيستلوله پاره پرجهاد بيعت وكړي[بخاري جلد۲ص۵۹۹ باب غزوة الحديبيه]
(۶)شپږم مقصد دجهاد دادي كچيري كافرانوخپله وعده ماته كړه په دغه وخت كي دسزاء وركولوله پاره جهادكول كيږي(وان نكثوا ايمانهم من بعدعهدهم وطعنوا في دينكم فقاتلواائمة الكفر انهم لاايمان لهم لعلهم ينتهون ؛سورت توبه)
(۷)اوم مقصد دجهاد داسلامي ملك اوملسمانانودفاع كول دي(وقاتلوفي سبيل الله الذين يقاتلونكم ولاتعتدوا ان الله لايحب المعتدين؛سورة بقره ۱۹۰)
(۸)اتم مقصد دجهادكولو دهغه اسلامي ملكو فتحه كول او ازاده ول دي چه كفاروپه قبضه كي راوستلي وي(واقتلوهم حيث ثقفتموهم واخرجوهم من حيث اخرجوكم ؛الايه؛سورت بقره ۱۹۱ .ومالنالانقاتل في سبيل الله وقد اخرجنامن ديارنا وابنائنا ؛سورت بقره ۲۴۶)

## سروري چهارشنبه

سوال ؛دسفري دمياشتي په اخيري چهارشنبه باندي مسلمانان خيراتونه كوي اوبياتر قران پاك وزي او هغه اياتونه چه سلامونه پكښي دي هغه ليكي اوبيايي دشفاء په نيت باندي څيښي اوداعمل په دغه نيت كوي چه زمونږ ګران پيغمبرحضرت محمد

مصطفیﷺ په دغه ورځ شفاء دمرض څخه پيد اکړې ده ؛اياد غه عمل جائزدي که باﺋ؟اود حنفي مذ هب دحقاني علماؤ اوزمونږ د اکابروپه دغه کښې څه رأيه ده ؛بينو اتوجروا؛سائل جناب مولوي محمد الله صاحب ؛

الجواب؛رب سلم ؛هود اعمل صحيح دي اولائق دثواب دي اوزمونږ دسلفو علماؤ معمول دي اوټـول دخير پرکارومشتمل دي خيراتونه کول اوترقران پاك وتل اوځاښتونه ښيښل د اټـوله ښه کارونه دي او هروخت رو ادي يومعين وخت نه لري لکن دبنده له خوا يې تعين کول هم جائزدي چې مغائروحکمي شرعي لره نه وي لکه څنګه چه د امسئله زمونږ د اصولوکتابونه ليکي(حسامي ص۳۴) اوخاص د غه سلامونه په د اغه ورځ ښيښل اودشفاء په نيت د اغه عمل کول د اهم زمونږ د مذ هب معتمدوعلماؤ نقل کړي دي چه حوالي به يې ذکرسي ؛اود ا خبره هم محدثينوذکرکړي ده چه رسولﷺ چه کله دصفرې په مياشت کښې مريض سوبيايې وروسته يوو ار صحت پيد اکړې اوجوړسو ،اوشيخ علامه مبارکپوريؒ ليکي چه د چهارشنبې په ورځ يې صحت پيد اکړي(الرحيق المختوم ص۳۹۴)اوشيخ الحديث مولا ناسيف الدين اخوند اده هم د اغه قول ليکي چه و ايې کله رسولﷺ مرض زيات سو بيرته دصفرې دمياشت په اخيري چهارشنبه يې مرض کم سو اوټـول صحابه کرام خوشحاله سوله بياهرصحابي دخپل وس موافق خيرات هم وکړي د ايې عبارت دي(فاذ اجاء يوم الاربعاء فتح رسول اللهﷺ عينيه قال ياعائشةؓ ابشرك لانه في جسدي صحة هذا اليوم فسرواکلهم و اکلـــو ا الطعام قليلاوتصد قـــو ا للفقراء بقدر وسعتهم(الخ)سراج الاسلام ص۵۶]

اودغه رقم دپاکستان ممتاز عالم حضرت مولانا ابوبکر سند هيؒ د اخبره ليکي چې په دغه ورځ دسروري چهارشنبې جناب نبي کريمﷺ صحت پيد اکړئ - اودغه سلامونه ئې وخيښل اود اعالم تقريبا سل کاله مخکې تيرسوئ دئ پردغه مسأله باندي ئې ډيرتفصيل کړئ دئ -انيس الو اعظين -ص ۱٦۷

اودغه رقم علامه محمد حنيفهؒ چه په خپل وخت کښې درئيس العلماء لقب ورکول سوې دي نقل کوې چه په دغه ورځ کي د چهارشنبې دغه اياتونه دشفاء چې اوه سلامونه دي په خپل وخت کښې رسولﷺ وخيښل نوجوړ سو اودغه عالم و ايې مونږته هم

خداي(جل جلاله )شفاء راكوي ددغه اياتوپه بركت چه په داغه ورځ ولېکل سي (سروري چهارشنبه اخېري چهارشنبه صفركه هفت سلام جبرئېل اورده صحت يافته وان هفت سلام شفاء مايان هم مېباشدكه كتابت ان دران روزشود)ادلة المغلوب ص۲۰۷]اودپاكستان جيدعالم شيخ ابوعبدالرحمن" ديوسوال په جواب کي لېکي چه ترقران پاك دشفاء په نيت وتل بلاشبه جائزدي(درر الفرائدص۲۳۹)اودغه رقم شېخ الحديث مولاناعبد الرحيم صاحب په خپل كتاب ابلاغ المقصود کي دغه مسئله ښه ثابته کړي ده(ابلاغ المقصود ۱۶۵)

خلاصه دمسئلي داده چه عوام اوخواص مسلمانان په داسي مسائلوكښي بايد په خپلومشرانواكابرو پسي اقتداء وكړي اودهركجاخپل په قول ونكړي اوپرخپلومشرانونسي بدگمانه لكه چه روايت کي راځي (اذاتحيرتم في الامور فلستعينوا باصحاب القبور)فتاوي عزيزي ص۱۲۱ يعني چه كله تاسي په يوكارددين كښي شك من سي چه دا به جائز وي كه يا نوتاسي په داوخت کي په خپلومړوپسي اقتداءوكړي ]ددي روايت پوره تفصيل په سوالاتواوجواباتوكښي موجود دي]

اوپه يوبل حديث شريف كښي راځي دخداي رسولﷺ فرمائي(چه دقيامت يوه علامه داده چي وروسته خلګ به پر خپلومخكنيومشرانو باندي بدوايي)كنزالعمال جلد۱۰ص۹۴]نوبايد پرخپلواكابرونسو بدگمانه اوهغه ترمونږ په دين ښه پو هيدله

نوټ:دحنفي مذهب حقاني علماء همېشه په دغه رقم مسائلوكښي دبي مذهبوسره مباحثي ته تيار دي؛

## ﴿مسئله كرامت داولياؤ﴾

دالله تعالي دنيكواوصالحوبندګانوځخه په مختلفوزمانوکي په ژوندکي اوپسله مرګه بېشماره كرامات ظاهرسوي دي دصحابه كرامو اوتابعينواويانوروواولياؤ ځخه بي شماره واقعي دكراماتوپه صحيح سندسره ثابتي سوي دي چه دهغوپه لېدلوسره دانكاركولوګنجايش نه پيدا كيږي اوځوك چــــه داولياؤ مباركانوكرامات نه مني اوانكارئېني كوي هغه دا هل السنة والجما عة ځخه خارج خلګ دي اوپه معتزله دله كښي کي داخل دي

زمونږ د مذهب مشهور محقق او مدقق علامه ابن العابدين شامیؒ فرمائي چه (کرامات الاولياء حق فتظهر الكرامة علي طريق نقض العادة للولي من قطع المسافة البعيدة في المدة القليلة وظهور الطعام والشراب واللباس عند الحاجة والمشي علي الماء والهواء وكلام الجماد والعجماء واندفاع المتوجه من البلاء وكفاية المهم من الاعداء وغير ذالك من الاشياء :اه[رد المحتار علي الدر المختار جلد ۲ص ۶۸۴ )
ترجمه کرامت د اولياؤ حق دي او کرامت ښکاره کيږي دعقل او عادت خلاف والي ته چه هغه نو قطعه کول د ډيرې مسافه دي په لږ وخت کې او یا جامې او ډوډۍ او اوبه پيدا کول دي په وخت د حاجت کې او یا پر اوبو تلل دي او یا په هواء الوتل دي او یاد حيوانانو او یا نورو جماداتو سره خبرې کول دي او یاد بلا و او تکاليفو مخ گرځول دي او یا د دښمنانو د مشکل دفاع کول دي او یا نور دعقله خلاف کارونه کول (د اتول حق او ثابت دي)رد المحتار
او دغه رقم د اغـــه عبارت زمونږ دعقائدو مشهور کتاب شرح العقائد کې علامه عمر نسفيؒ هم راوړي او ډيرې مثالونه هم پیشوې او وائي لکه کرامت د اصف ابن برخياء چه دسليمان عليه السلام وزير و او په ډيره لنډه مده کې يې ډيره مسافه قطعه کړله او د بلقيس باچاتخت يې راوړې او یا لکه بي بي مريمې عليها السلام ته چه به دغيبو څخه جامې او د خوراك او څښنګ اسباب هروخت راتلله او یا لکه جعفر ابن ابي طالبؓ او یا لقمان سرخسيؒ چه به په هوا الوتلې وه او يا لکه سلمان فارسيؓ او یا ابو الدرداءؓ چه به د جماد اتو لکه کاسه او پياله وغيره تسبيحات اوريدله او یاد اصحاب کهفؓ سره به کلب(سپي)خبرې کولې او یاد نورو اولياؤ سره به حيوانانو خبرې کولې (چه د اتـول په صحيح نقل سره ثابتې دي )(شرح العقائد ص ۱۰۵)د زيات تفصيل د پاره نبراس وګوري يعني يو داسي کار چه عقل يې نه قبله وي او بل څه سبب يې هم نه وي نه پته اونه ښکاره چه د يو صالح امتي څخه ښکاره سي د اته کرامت وائي او که چيرې د اسي کارو چه هر چاکولې سواې او یا يې يوسبب معلوم و بيا هغه کرامت نه بولي
مجدد الملت ملاعلي القاريؒ ليکي[وكرامة الاولياء حق اي ثابت بالكتاب والسنة ولاعبرت بمخالفة المعتزلة واهل البدعة في انكار الكرامة] وايي کرامت د اولياء په قران او حديث سره ثابت دي او د کـــرامت څخه انکارکـــول د معتزله (شيعه

ګانو) اوبدعتیانو(پنځپیریان)کاردي چــه هــغوي تــه اعتبارنسته (شرح فقه الاکبرص۷۹)اودغه خبره علامه امام رازيؒ هم کوي چه دکراماتوڅخه انکاردمعتزله و کاردي

[واماالمعتزلة فقداحتجواعلي امتناع الكرامات(تفسیرکبیرجلد ۳ص۲۰۸)اوداغه خبره علامه الوسيؒ هم کوي(تفسیرروح المعاني جلد۳ص۱۸۷)ایضا[الفرق بین الفرق ص۲۰۸)ایضافي رد المحتار صفحه مذکوره)

اوعلامه دمیريؒ وائي چه داولیاو پرکرامت باندي ایمان راوړل واجب دي ځکه چه داکراماتونه دالله پاك دتوفیق نتیجه ده(حیاة الحیوان جلد۲ص۱۶۵)مفتي اعظم پاکستان مفتي محمدفریدؒ لیکي چه دکرامت څخه انکارکول دبدعتیانواومعتزله وکاردي اوڅوك چه انکار کوي په هغه پسي لمونځ کول مکروه تحریمي دي(فتاوي فریدیه
جلد۱ص۵۴۵)

چونکه اوس وخت کي ټوله بې مذهبه ډلي دکرامت د اولیاؤ څخه ښکاره انکارنه کوي که څه هم په باطن کي انکارورڅخه کوي .نوځکه زه نوربحث دکرامت کي نه کومه اوزمونږدعلاقود ابي مذهبه ملایان چه ښکاره کرامت مني نوبیاوایي چه کرامت خوثابت دي لکن اولیاء اوس نسته اودولي الله څخه یې عنقاء جوړکړي وي نودامحضي یوه بهانه ده په حقیقت کي دکرامت څخه منکردي دولي شرائط مونږمخکي دتصوفوپه بیان کي ذکر کړله هلته یې وګوري اوعلامه امام نسفيؒ وایي چه (الولي هوالعارف بالله وصفاته بقدرمایمکن له المواظب علي الطاعات؛اه(شرح العقائدللنسفي ص۱۰۵)اوداغه خبره مجددالملت علامه علي القاري الحنفي هم ذکرکوي(شرح فقه الاکبرص۷۹)ترجمه ولي هغه څوك چه ترخپله طاقت پوري د الله پاك په صفاتوکي علم لري اود الله پاك پرعبادت باندي همیشه توب کوي اودګناهواوخواهشاتو څخه ځان ساتي؛؛نوچونکه په بې مذهبوخلکوکي خود اشرائط نسته نوځکه دوي وایي چه دپیرانو شرائط نه دي برابر؛

سوال؟کرامت دولي په اختیارکي وي اوکه بې اختیاره وي؛

جواب :علامه بدرالدین عینيؒ وایي چه کرامت دولي په اختیار کي وي چه هروخت

داولي الله وغواړي كرامت ښكاره كولي سي (عمدة القاري علي صحيح البخاري جلد٧ ص٤١٣)اودغه رقم علامه ابن حجرعسقلانيؒ وايي[وقوع الكرامت لهم باختيارهم وطلبهم]وايي كرامت داولياء په اختياراوطلب واقع كيږي(فتح الباري جلد٤ص٦١٥كتاب احاديث الانبياء)........

اوبعض نورعلماء بيالكه صاحب دنبراس داوايي چه ياكرامة غير اختياري شي دي دولي په اختيار كي نه وي[ظهورالكرامة ليس من لوازم الولي ولا في استطاعته](نبراس ص٨٠).لكن ابومحمد مفتي عبد الحميد حقاني(دامت فيوضاته العاليه)وائي چه كله كله كرامت اختياري وي اوكله بياغير اختياري وي اوبياوائي چه كرامت پر٣قسمه دي:

(ا)يواسي كرامت دي چه هغه ولي الله يي اراده كړي وي اوعلم هم پرلري داسي كرامت دولي په اختيار باندي وي لكه څنگه چه د حضرت عمرؓ په فرمان اوخط باندي رود نيل جاري اوروان شو دمصررود نيل به هركال اوچي دئ بيابه يي يوه پيغله انجلي ور واچوله بيابه رود جاري سو كله چه حضرت عمرؓ خط ورروغورځوي بياهغه رود نه دي بندسوي(تاريخ الخلفاء ص١٠٠)..........

(٢)اوبل بياداسي كرامت دي چه دهغه ولي دخداي علم باندي وي چه داكرامت دي لكن دي يي اراده نه لري دښكاره كيدلو داسي كرامت بياغير اختياري وي لكه كرامت دبي بي مريمي (عليها السلام)چه په قران شريف كي يي واقعه راځي چه دعيسي عليه السلام موربي بي مريمه حجري ته چه به كله حضرت ذكريا عليه السلام ورغلي نودي مباركي ته به رقم رقم ميوي حاضري وي په گرمي كي به ديخ ميوي موجودي وي اويه يخ كي به دگرمي ميوي موجودي وي نوحضرت ذكرياعليه السلام پوښتنه ورڅخه وكړله چه داتاته دكومه ځايه څخه راځي بي بي مريمي مباركي ورته وويله چه دادخداي عزوجل له جانبه څخه راځي اوالله پاك بي حسابه رزق وركوي وهغه چاته چه خوښه يي وي (قال يامريم اني لك هذاقالت هومن عندالله ان الله يرزق من يشاء بغيرحساب[الاية ال عمران٣٧) .....

(٣)اوبل بياداسي كرامت دي چه دولي الله څخه ښكاره سي لكن دده اراده هم نه وي اوعلم هم نه په لري لكه كرامت دابوبكرصديقؓ چه روايت دبخاري شريف كي راځي

چه د حضرت ابوبکرصدیقؓ کورته یوه ورځ میلمانه درسول ﷺ راغله نوده مبارك چه کله ډوډۍ ورته راوړله چه هغو میلمنوبه څومره خورك کوۍ هغه ډوډۍ به دغومره نوره زیاتیدله چه کله میلمانه ماړه سوله په کاسه کې ډوډۍ نوره هم زیاته پاته سوله :الحدیث(بخاري شریف جلد۱ص۵۰۶)داسې کرامت هم غیر اختیاري وي [اظهار الحق للمتمسکین بالحق ص۱۳۳)
نود اډیرښه تطبیق دي ددې (۲)اقوالوتر مابین چه کرامت کله اختیاري وي اوکله غیر اختیاري وي
**سوال:** یوسړې وائي چه کله کله کعبه شریفه پر اولیاؤ دخداي طواف کوې اياد اغه خبره جائزده که یا :سائل محترم مجاهد احسان الله :
**جواب** علامه شامي دوه۲ځاې داغه خبره نقل کوې اووائي چه د امام نجم الدین عمر النسفيؒ چه د اد انسانانو اوپیریانو مفتي ؤ اودخپل عصرد اولیاؤ سرد ارؤ دهغه څخه یوچاد اپوښتنه وکړله چه کعبه پر اولیاؤ طواف کوې که یانوعلامه نسفيؒ په جواب کې ورته ووېله چه (نقض العادة علي سبيل الكرامة لاهل الولا ية جايزعنداهل السنة وايي :دعادته خلاف کار دکرامت پرطریقه واولیاؤ ته ثابت دي په مذ هب کې د اهل السنة[رد المحتار علي الد ر المختارجلد۳ص۳۳۷]ایضاجلد۲ص۶۸۴) ایضا[الحدیقة الندیة،جلد۱ص۲۹۳]

## (بعض کرامات حضرت غوث الثقلین پیران پیر سیدې عبدالقادرالجیليؒ)

په اخر دخپل کتاب کې دمحبوب سبحاني سلطان الاولیاء قطب الا قطاب بحر العلم اللدني غوث الثقلینؓ (روّح الله تعالي ارواحنا بنفحات روحه وفتح اقفال قلوبنابمفاتیح فتوحه!امین) تبرکا یوڅو کرامات لیکمه:
حضرت شیخ سید عبد القادرجیلانيؒ چه په پیرانوپیر باندې مشهوره دې اوداسې ولایت یې دي چه عرب اوعجم کفراواسلام یې ټول په ولایت باندې پېژني بلکه که په غرواودښتوکې دکوچیانو څخه پوښتنه وکې هم به یې پېژني دهغه مبارك خودومره زیات کرامات دې چه په بل چاکې نه دي ښکاره سوې
شاه انور شاه کشمیريؒ وائي چې غوث الاعظمؒ کرامات په شان دباران دڅاڅکو دي

داسي ډېر دي اوپه تواترسره ثابت دي(فيض الباري جلد۲ص۸۵باب ادخال البعير في المسجد )اوډېروعلماؤ مستقل کتابونه ده مبارک په حالا توکي لیکلي دي لکه دملاعلي القاري الحنفيؒ کتاب په نامه (تفريح الخاطرفي مناقب سيدشيخ عبد القادرؒ) اوبابهجة الاسراراوباقلائد الجواهر-غبطة الناظرفی ترجمة شیخ عبد القادرللشيخ ابن الحجر عقسلاني -النشرالعاطر لمناقب الشيخ عبد القادر للتونسي -الدرالفاخرفي مناقب شيخ عبد القادر لابن السائح - الروض الظاهر في مناقب شيخ عبد القادرللقسطلاني-جلاء الخاطر من كلام الشيخ عبد القادر لولده سيدي عبد الرزاق-نصرالجواهرفي مناقب الشيخ عبد القادر لصبغت الله مد ارسي - السيف الرباني في عنق المعترض علىٰ الغوث الجيلاني لابن العزوز -المكي الكواكب الدريه في بيان الطريقه القادريه للشيخ الازهري -الشراب النيلي في ولايت الجيلي لابراهيم الحلبي اونورکتابونه خوزه هم داغوارم چې دده په مناقبوکتاب اوځان دواره مشرفه کړمه

خپل نوم دده مبارک عبد القادرؒ ؤ اوپه قوم سيد ؤاوپه ۵۶۱کې وفات سوي دي اودهستوګنې ځای يې بغدادؤ اودغوث الثقلين لقب خپله نبي کريمﷺورکړيدي ،شاه غلام علي شاه دهلويؒ مبارک وايي چه ماخپل پيرشيخ عابد سناميؒ ته وويله چه ماته دطريقه قادريې دخلافت اجازه وکړه نوزماپېر ماته توجه خلوتي وکړله بيازه په پودبنت کې ګرځېدمه په هغه دښت کې مې نبي کريمﷺاوزماشيخ وليدله زماشيخ نبي کريمﷺته وويله چه ده ته اجازه وکړه نبي کريمﷺپه جواب کې ورته وويله چه دادغوث الثقلينؒ کار دی بيا په داغه عين حال کې غوث الثقلينؒ راښکاره سو بيايې ماته اجازه وکړله [ايضاح الطريقةص۳۸]

هم دغه رقم دقطب نوم هم نبي کريمﷺورکړي دي شيخ ابوالحسن احمدفريد المزيديؒ ليکلي دي :چه شيخ ابوبکر احمد ابن ابي السعاداتؒ مبارک نقل کوي چه شيخ خليفه(قدس سره)مبارک فرمائي چه مانبي کريمﷺوليدی اوبيامې پوښتنه ورڅخه وکړله چه شيخ عبد القادرجيلانيؒ وائي (قدمي علىٰ رقبة كل ولي لله ؛ ترجمه زماقدم دي دهر ولي پرسروي )نوماورته وويله چه دغه دعوه يې څنګه ده نبي کريمﷺپه جواب کې راته وويله چه(صدق الشيخ عبد القادركيف لاوهوالقطب

واناارعاه)ترجمه ويل شيخ عبد القادر صادقه دي څنګه به د ده قدم پر ټولو اولياو بالانه وي هغه خوقطب دي اوزه يې پرورښ(ساتنه)کومه(مقدمة تفسير الجيلاني ص۳۷)
امام قاضي محمد يوسف ابن اسماعيل نبهاني رحمه الله روايت نقل کوي وائي چه دبغد اديوتجار چه ابو المظفرحسن ابن احمد يې نوم ؤ وشيخ حماد الدباس رحمه الله ته راغلي چه د اشيخ حمادبياپه بغداشريف کي دوخت پيرؤ داتجار ابو المظفروايي چه زه وشيخ دباس رحمه الله ته ورغلمه اورته ومي ويله چه قافله(کاروان)مي شام ته روانه ده اود ۷۰۰ دينارو سامان په کښې دي دعاء وي راته کوه هغه شيخ دباس رحمه الله ورته وويله چه په د اکال کي مه ځه شام ته که چيري سږکال ولاړي پر لاره به دي غله مال درڅخه واخلي اوتابه مړکي هغه تجاروايي چه زه ډيرغمجن سومه او حيران سومه چه قافله تياره ده اودلته بياد اخبره پيښه سوله اوس به څه کومه وايي چه دشيخ حمادله درباره ځخه راؤوتلم دغوث الاعظم شيخ عبد القادرجيلاني رحمه الله سره مخامخ سوه مه اوغوث الاعظم دستګير رحمه الله په دغه وخت کي تازه ځوان ؤ بيامي داخپله قصه ورته وکړله.وايي چه غوث الاعظم دستګير رحمه الله راته وويله چه ولاړسه شام ته سفر وکړه جوړ به ولاړسي اوبيرته به سره دګټې واپس راسي که څه تکليف در ورسيدي زه دي زمه واره يمه هغه تاجروايي بس شام ته ولاړمه اوهلته مي مال خرڅ کړي او۳۰۰ ديناره مي پروګټله واپس دبغداد پر طرف راروان سومه پرلاري دشيدو والادکان ته ورغلمه په هغه دکان کي مي پيسي پر رف باندي کښيښودلي اوهيري مي سولي بيرته خپل ځاي ته راغلمه اوبيده سومه خوب وينمه په خوب کي زماقافلي ته غله ودريدله اوماجنګ ورسره وکړي يوغله مي مړه کړله بياوه غله پرماباندي واري وکړي زه يې مړکړمه په داغه حال کي دخوب څخه راويښ سومه ډيرغمجن ومه اودوينو بوي مي ترپوزي راتلي اوپرغاړه مي دوينواثر هم ؤبس هغه خپلي روپي مي را ياد سولي چه په هغه دکان کي پاته سوي چه دکان ته ورغلمه هغه روپي مي هلته موجودي وي راوا مي اخيستلي اورا روان سومه دکور پرخوا باندي چه کله بغداد ته راورسيدمه نومي دځان سره د افيصله وکړله چه که څه هم خبره خودشيخ عبد القادرجيلاني رحمه الله ده صحيح سوله خوبيا هم شيخ دباس رحمه الله بيامشر دي هغه ته به مخکي ورسمه وايي چه کله شيخ دباس رحمه الله ته ورغلمه هغه مبارک راته وويله چه مخکي شيخ عبد القادرجيلاني رحمه الله ته ورسه ځکه چه هغه دخداي( جل جلاله )محبوب

دي اوستاد پاره یې ۱۷ واره الله پاك ته خواست وكړې چه ابو المظفر راخلاص كړه ،ستاپه تقدیر كې الله پاك د اغه لیکلې وه چه تابه غله وژني خولكن دده دعاء په بركت الله پاك هغه دوهبنوحالت په خوب باندې دربدل كړې هغه تجار وایې جه كله شیخ عبد القادر جیلانيؒ ته راغلمه نوما د اقصه نه ده ورته كړې ده مبارك خپله راته ووېله چه شیخ د باسؒ خوتاته وېله چه ده ۱۷ واره خداې ته خواست وكړئ لیكن زمادې په خپل معبودقسم وې چه ما۱۷ واره نه بلكه ما ۷۰واره خداې تعالي ته خواست او زارې وكړې چه د اسرې به راخلاصه وې بیا الله پاك قبولې كړې اوستادوهبنو حال یې په خوب دربدل كړې :(جامع كرامات الاولیاء ص۲۱۲)

**نوټ:** قاضي ثناء الله پاني پتيؒ وایې چه قضاء د الله پاك پر۲قسمه ده یوه قضاء مبرمه ده اوبوه قضاء معلقه ده كوم چه قضاء مبرمه ده هغه دچاپه دعاء نه ردېږې لا زمابه چلیږي؛اوكومه چه قضاء معلقه ده هغه د اولیاؤ په دعاء باندې ردېږې او امام مجدد الف ثاني مبارك فرمائي چه د غوث الثقلینؒ په دعاء باندې ردېږې اود حضرت مجددؒ په دعاء باندې هم رد سوې ده (تفسیرمظهري جلد.۵ص۲۴۶) نودغه واقعه هم ددغه جنسه څخه ده بهر حال په دې كې دغوث الثقلین زیات شرافت اوعزت د الله پاك پردربار معلومېږي،

اودغه رقم علامه ذهبيؒ په خپل كتاب كي لیكې چه د اكتاب یې (۶۸۶)كاله مخكې لیكل سوې دې هغه دشیخ عبد القادر جیلانيؒ په حق كې وایې (وكانؒ یتكلم علي الخواطر)وایي پیرانوپیرصاحب د خلكودزړوخبرې ورته كولې ؛ اوبیاپوكرامت راوړې اووایې چه شیخ ابوبكر الحمادؒ وایې: چه دعقائدویوكتاب مې مطالعه كوې په خپله عقیده كې مې شك پیداسو دځان سره مې د افیصله وكړله چه ځم به شیخ عبد القادر جیلانيؒ ته اود ابه ورته وایم چه په عقیده كې مې شك سو په كومه خوا عمل وكړمه اود امې اورېدلې وه چه شیخ جیلانيؒ دخداې په اراده سره خلكوته دزړه خبرې هم كله كله كوي شیخ ابوبكروایې كله چه زه دربار ته دغوث الاعظمؒ ورغلم دې مبارك په تقریر اخته ؤ اوپه تقریر كې یې د اووېله چه مونږ به دخپلو مشرانو اوصحابه ؤ عقیده جوړه ؤ شیخ ابوبكر وایې چه مادځان سره د اووېله چه د اخبره یې اتفاقاوكړله

ماته به نه وايې ښاپېران پېرصاحب زماوخواته وکتله اوداخبره يې مکرره کړله چه مونږ به دخپلو مشرانوعقېده جوړه ؤ دبل په عقېدو پسې به نه ځو.دې وايې ښاماد ځان سره ووېله چه دابه مانه ښايې شاهد عامه خبره به کوې ځکه چه کله ناکله مقرر په خپل تقرېر کې يوخبره کوې اويوطرف ته ګورې دې وايې ښايې زماطرف ته وکتله اوداېې راته ووېله چه تاته وايمه اې ابوبکره مونږبه دخپلو مشرانوعقېده جوړه ؤ اوښايې راته ووېله چه ولاړسه پلار دې دسفرڅخه راغلې دې شېخ ابوبکروايې زه چه کله کورته راغلم پلارمې هم دسفر څخه راغلې ؤ(سېراعلام النبلاء جلد ۱۵ ص۱۸۱)

په داخبره کې خوېودپېران پېر صاحب کرامت ثابت سو اوبل د اثابته سوله چه که چېرې په عقېده کې موشك پېد اسونودخپلوصالحانومشرانوپرلاره ځې د هر چاپه قول باندې مه کوې اوښاخاص په داسې وخت کې لکه زمونږ زمانه چه په هره جامه کې فتنې راغلې اود هرې خواڅخه پرمذهب باندې حملې شروع دې اودازمونږ ساده لوحه مسلمانانوته په عقېدوکې شك اوشبهې ور اچوې نوپه داسې وخت کې باېد هرسړې په خپلوصالحانومشرانوپسې اقتداوکړې اود هرکجاخېل په قول باندې نه وکړې !دغه رقم دغه وصېت زمونږدمذهب مشر حضرت امام اعظمؒ هم کړېدې : حافظ صالحي دمشقيؒ وايې چه يوچاد حضرت امام صاحب څخه پوښتنه وکړله چه زمونږ په علاقه کې داسې خلك سته چه خداې تعالې ته جسم ثابته وې اود خداې په صفاتوکې خبرې کوې حضرت امام صاحبؒ په جواب کې ورته ووېله چه ته دخپلو مشرانوعقېده ټېنګه کړه اود چاپه قول باندې مه کوه (عقود الجمان ص۱۴۳)نو د دواړو مشرانود اوصېت سو چه د هر چاپه قول دخپلو مشرانو هغه ښايسته دېن اوعقېده مه پرېږدې !

اود حضرت غوث الثقلېنؒ علم هم داسې علم ؤچه يو وخت يوسړې قسم واخېستې او۳طلاقه يې واچوله چه زه به داسې عبادت دخداې(عزوجل) کومه چه تراوسه پورې چانه وې کړې ښايې دوخت دعلماو څخه پوښتنه وکړله چه اوس باېد زه څه رقم عبادت وکړمه چه دقسم څخه خلاص سمه ټوله علماء يې جواب ته عاجزه سوله ښاهغه سړې غوث الاعظم دستګېرته راغلې : هغه مبارك ورته ووېله چه مکې مکرمې ته ولاړسه اوهلته دې ستادپاره مطاف شرېف خالي سي ښايوه هفته يواځې طواف پروکړه ته به دقسم څخه خلاص سې ځکه چه داداسې عبادت دې چه بل چانه دې کړې دټول

بغداد علماء يې علم ته حيران سوله (مقدمة الغنيه: ص۴)

چونکه دا کتاب د مختلف مسائلو د حل لپاره لیکل سوئ دئ لهذا نورد کرامات اولياء بيان نه کوو اود کرامات اولياء لپاره د يو مستقل کتاب اراده لرو په نامه ( ارغام قرين الشيطان بذکر اولياء الرحمن ) چې د اکثر مشهور اولياء الله پر کراماتو به مشتمل وي او انشاء الله ژر به شائع سي

﴿تذنيب﴾

(۱) سوال: د دين له پاره مناظره کول جائز دي که ناجائز؟

الجواب: رب سلم: مناظره چه کله د اظهار حق په نيت وي جائز بلکه فرض کفايي ده فقهاء مبارکان وايي چه د وخت پر امام باندې دا واجب دي چه په هره علاقه کې به يو داسې عالم لري چه هغه مناظروي اود دښمن مقابله کولاې سي اوکه بيا د فخر او يا اختلاف پيدا کېدلو په نيت وي بيا ناجائزده والله اعلم [بستان العارفين ص۱۳] روح المعاني جلد۱ص۱۶۴]

(۲) سوال: د دوزخيان به کومه ژبه وايي؟

الجواب: رب سلم: امام زهريؒ وايي چه جنتيان به عربي وايي لکن دوزخيان به هندي ژبه وايي (کلام اهل الجنة العربية واهل النار الهندية) والله اعلم [بستان العارفين ص۲۵]

(۳) سوال: په واده کې پر زوم باندې او يا بل مسافر باندې خوني (پيسې يا خوږې پاشل) کول جائز دي که يا او بيا د غه خوني تېولول څه حکم لري؟

الجواب: رب سلم: چه په نيت د رشوت نه وي خوني کول هم جائز دي او تېولول يې هم جائز دي امام بخاريؒ چه کله د طلب د علم څخه بخارې ته واپس راغلې نو خلکو يې د دراهمو او دنانيرو ،خوني پر کوله (پر سر به يې ورپاشل) والله اعلم [بستان العارفين ص۱۰۵] مرقات المفاتيح جلد۱ص۶۰]

**فائده؛** اول جنګ د کفاروسره حضرت ادریس علیه السلام کړي دي اول خط په قلم هم ده لیکلي دي اول جامې هم ده ګنډلي دي[نزهة الناظرین ص۱۴۰]...او اول لمونځ وکعبې شریفې ته په دې امت کې حضرت ابوسعیدبن المعلیٰؓ کړي دي[روح المعاني جلد۲ص۵۵۹]

**فائده؛** اول اذان په اسمان کښې حضرت جبرئل (علیه السلام )وکړې ؛اواول اذان په اسلام کښې حضرت بلال ابن رباحؓ کړي دي؛ اواول اذان په مکه مکرمه کښې حبیب بن عبد الرحمٰن کړي دي؛ او اول اذان په جمعه کښې حضرت عثمان بن عفانؓ زیات کړې دي؛ فتاوي ابن نجیم علي هامش الغیاثیه ص۹)

**فائده؛** اول محبس( جیل)په اسلام کښې حضرت عمرفاروقؓ جوړ کړي دي ؛اوبعض علماء وايي چه حضرت علي مرتضي (کرم الله وجهه)جوړکړي دي ،اود اول محبس نوم يې (نافع )و بیاغلوورمات کړي .بیايې بل محبس جوړ کړي چه نوم يې( مخيس)وچه معني يې ده ځاي د ذلیله کیدلو۔(فتح القدیر جلد ۶ص۳۷۵ فصل في الحبس)

(۴)سوال: انګریزي ژبان ایزده کول جائزدي که یا؟

الجواب:رب سلم ؛د دین د خدمت یاپه بل ښه نیت يې ایزده کول جائزدي حضرت زیدبن ثابتؓ ته نبي کریمﷺاجازه وکړه چه ته دیهودو خط ایزده کړه ددې لپاره کچیري دیهودوخط مونږ ته راسي نوته به يې جواب لیکې؛والله اعلم[فتاوي عزیزي ص۱۸۶]مرقات المفاتیح جلد.۸.ص۴۷۸]

(۵)سوال: دصحابه ګراموڅخه غیردبل چانوم سره ترضي (رضي الله عنه)لیکل جائزدي که یا؟

الجواب:رب سلم؛هوجائزدي بلکه مستحب ده ځکه چه د ادعاء ده [نزهة الناظرین ص۳۴]الاذکارللنووي؛ص۱۰۹]او په قران کې الله پاك فرمايي(والسابقون الاولون من المهاجرین و الانصاروالذ ین اتبعوهم باحسان رضي الله عنهم ورضواعنه؛ الایه سورت

توبه ۱۰۰)

(۶)سوال:دسهار ترلمانځه بعد بلاعذره خوب کول څنګه دي؟
الجواب؛رب سلم : سخت ناجائز دي خاص بیادعالم له پاره ـ درې ۳ مځکې الله پاك ته ژاړي اوشکایت کوي(۱)یوه هغه مځکه چه دزناکاردغسل اوبه باندې تویېږي(۲)بل هغه مځکه چه ناحقه د مسلمان وینه پرتوې سي(۳)بل هغه مځکه چه دسهار ترلمانځه بعد خوب باندې کېږي؛والله اعلم[عالمګیریه جلد.۵.ص۳۷۶]قطب الارشادص۲۵۹]

(۷)سوال:طالب چه سبق قضاء کوي پرمدرسه والاحق د ډوډې لري که یا؟
الجواب :رب سلم:علامه دمیريؒ وایي کچیرې دغه طالب دقضاء په وخت کې هم په تعلیم اخته و بیاحق لري چه ډوډې ورکړي،اوکه په تعلیم نه وُمشغول بیاحق نه لري[الحاوي لفتاوي جلد۱ص ۱۷۶ کشف الضبابة]

(۸)سوال:ایاپر امیر د جهاد خپله هم د جنګ میدان ته حاضرېدل لازم دي؟
الجواب ؛رب سلم؛یا پرامیردانه دي لازم چه جنګ ته به وزي بلکه امیربه اسباب اوترتیب د جنګ وربرابره وي(لیس علیهم الاتجهیز الامور وصلاحها)[الحاوي للفتاوي جلد۱ص۳۰۱]

(۹)سوال:ایارب لایزال جل وعلې په خوب کې لیدل کیدای سي؟
الجواب ؛رب سلم؛هو په خوب کې لیدل یې صحیح دي لکن په زړه باندې نه په سترګواوډیروسلفوپه خوب کې لیدلي دي لکه حضرت امامناامام ابوحنیفهؒ سل ۱۰۰ واره په خوب ولیدي اوامام احمدؒ وایي ماپه خوب کې پوښتنه ورځخه وکړه چه افضل عبادت څش دي؛جواب راکړل سوچه تلاوت دقران اوامام ابن سیرینؒ وایي ،که چاالله پاك په خوب کې ولیدي دابه جنت ته داخل سي اودغموځخه به خلاص سي(واماالرویة في المنام فقد حکیت عن کثیرمن السلف)شرح العقائدص۶۰[نبراس ص۲۶۰]شرح فقه الاکبرص۱۲۴]
(۱۰)سوال:ایادسیدې زناني بچې هم دسید رقم شرافت لري؟

الجواب؛رب سلم؛ هوشرافت ورلره سته لكن نسب يې دسېد نه دي؛والله اعلم[فتاوي كامليه ص۳۲]طحطاوي ص۱۷]شامي جلد ۳ ص۱۸۸]

(۱۱)سوال:زمونږپه علاقه كې چه خلگ يونوې كارشروع كوي مثلا لكه مېنه باوړې دكان باغ وغېره نوخېرات وكړي اوحېوان حلال كړي داجائزدي كه يا؟
الجواب؛رب سلم؛ هوجائزدي اوښه كار دي (فالذبح عندوضع الجدار اوعروض مرض اوشفاء منه لاشك في حله)[رد المحتار جلد ۵ص۲۱۷]ايضا[فتاوي كامليه ص۲۳۹]

(۱۲)سوال:ايا پرعالم دالازم دي چه دي به دخلگوكوروته ورځي اوعلم به ورښيي؟
الجواب؛رب سلم؛يابلكه پرعوامودالازم دي چه عالم ته ورسي اودمسئلې پوښتنه وكړي عالم به نه ورځي(لايجب عليه السعي الي الجاهل لازالة جهله انمايجب علي الجاهل ان يسعي ويسأل العالم [الطحطاوي علي المراقي ص۴]

(۱۳)سوال:اياد انبياؤ اورسولانو اواسماني كتابو تعداد معلوم دي ؟
الجواب؛رب سلم؛كه څه هم په يوحديث شريف كې يې تعداد ياد سوي دي لكن هغه خبرواحددي چه ظن فائده كوي لهذا فقهاء مباركان وايي چه ښه داده چه تعداديې نه سي معلوم بلكه داسې به وايې چه پرټولو انبياؤ اورسولانواواسماني كتابو مې ايمان دي[طحطاوي ص۶]فتح القدير جلد۱ ص۲۸۰]
(۱۴)سوال؛ډوډي مچول څه حكم لري ؟
الجواب؛رب سلم؛د ډوډي مچول زمونږپه مذهب كې مباح دي[طحطاوي ص۱۷۵]الدر المختار جلد.۵.ص۲۷۲]
(۱۵)سوال:دقران پاك مچول څنگه دي جائزدي كه يا؟
الجواب؛رب سلم؛دقران پاك مچول مستحب كاردي ثواب لري اوحضرت عمرؓ به هرسهار مچوي اوحضرت عثمانؓ به مچ كړي او بيابه يې پرسترگومږي[طحطاوي ص۱۷۵]ايضا[شامي جلد ۵ص۲۷۲]
فائده]فقهاء مباركان وايي :دري۳ شيان به نه ځنډوي،(۱)جنازه چه هديري ته

راسي(٢)پورچه درباندي وي اوته پيسي پيداکړي(٣)ښځه چه غټه سي اومثل(كف) يې پيداسي[طحطاوي ص١٠٠]

(١٦)سوال:زمونږعوام خلګ اكثرد لمانځه وروسته سجده دشكركوي داځه حکم لري؟

الجواب ؛رب سلم؛مفتي به قول دادي چه مستحب عمل دي نبي کريمﷺخپله هم دبدر دغزاء په ورځ کړي ده،اوصحابه کراموبه هم کولي(وقالاهي قربة يثاب عليهاوعليه الفتوي وفي الدروبه يفتي وفي ابن امير حاج وهو الظاهر)[طحطاوي ص٢٧٢]

(١٧)سوال:اياکرامت داکيداي سي چه په يوحال کې دي يوولي الله په مختلفوځايو کې ښکاره سي؟

الجواب ؛رب سلم؛هود اجائزدي ـ اودغه ته صوفيه کرام جسم مثالي وايي[نشرالطيب ص٥٦]الحاوي للفتاوي ص٢٢٥؛المنجلي في تطور الولي]مـرقـات المفاتيح جلد.۴.ص١٠١]

فائده؛علامه علي القاري الحنفيؒ وايي؛چه دغه رقم طي السان هم کرامتاثابت دي يعني په لږ وخت کې ډېر کلام کول وايي چه سيد ابن الکاتب الصوفيؒ به څلور۴ ختمه دقران پاك په ورځ کې کول اوڅلور به يې دشپې کول اوشيخ موسي سدرانيؒ به په شپه اوورځ کې (٧٠٠٠٠)ختمه دقران پاك کول اودطواف په وخت کې به يې دحجر اسود څخه شروع کړي دکعبې معظمې د دروازې سره به يې خلاص کړي اوملګرو به يې هرحرف جلا جلا هم اوريدي داتـول دکرامت کارونه دي [مرقات المفاتيح جلد٥ص٨٢]

(١٨)سوال:داخبره چه مشهوره ده چه دمعراج په شپه حضرت موسي عليه السلام ،اوامام غزاليؒ دنبي کريمﷺپه مخ کې مناظره وکړه داحقيقت ده که يا؟

الجواب؛رب سلم؛ هودا کتابوليکلي ده نجم المفسرين علامه موسي خان روحانيؒ هم ذکرکړي ده[فتح العليم ص٥٥]امداد المشتاق ص٩٥]

(١٩)سوال: په طالبان کې دامشهوره ده وايي چه دکتاب ورقې مه شماره يياسبقان قضاء کيږي داڅنګه خبره ده؟

الجواب؛رب سلم؛مولاناعبد الحي لکنويؒ وايي چه د اخبره صحيح ده اوزماهم تجر به ده وايي علت يې د ادي چه د طالب توکل پرځان سي [الفوائد البهيه ص۲۳۴]

(۲۰)سوال:په تشهد ه کي معنی خبرې مراد ده که انشاء؟

الجواب؛رب سلم؛زمونږفقهاء مبارکان وايي چه معني انشاء مراد ده يعني کله چه په لمانځه کي التحيات لله وايي په د انيت به يې وايي چه د ازه دعاء کوم.په د انيت به يې نه وايي چه د ادمعراج دشپې واقعه ده(ويقصد بالفاظ التشهد الا نشاء لاالاخبار)[رد المحتار جلد۱ ص۳۷۷]ايضا[عالمگيريه جلد۱ ص۷۲]

(۲۱)سوال:که يوڅوك دلمانځه په يورکعت کي نيم ايت دقران پاك ووايي.چه دکچني درو۳ اياتومقد ارجوړيږي لمونځ يې صحيح دي که يا؟

الجواب؛رب سلم؛هوصحيح کيږي ځکه چه يو ايت پوره ويل لازمي نه دي بلکه د درې ۳کچني اياتو مقد اروېل يې لازمي دي[رد المحتارجلد۱ ص۳۹۷]

(۲۲)سوال:دشهيد وينه پاکه ده که يا،يوسړي يې د ځان سره گرځوي اولمونځ ورسره کوي وايي چه د اپاکه ده؟

الجواب؛رب سلم؛هودشهيدوينه پاکه ده لکن چه پرشهيدباندې وي چه کله دشهيد د بدن څخه جلاسي بيايې دعامووينوحکم دي اوناپاکه ده.لمونځ نه دي ورسره صحيح(ودم مسفوح من سائرالحيوانات الادم شهيدماد ام عليه)[رد المحتارجلد۱ ص۲۳۳]

(۲۳)سوال:دکعبې شريفې طرف ته پښې غځول څه حکم لري؟

الجواب؛رب سلم؛مکروه دي .اوڅوك چه پښې ورغځوي د هغه شاهدي نه قبليږي[رد المحتارجلد۱ ص۲۵۱]

(۲۴)سوال:په مسجد کي خوراك کول څنگه دي؟

الجواب؛رب سلم؛دمعتکف څخه غيربل چاته مکروه دي اوکه بل چاخورك پکښې کوي بيادې په نيت داعتکاف ورځي اويوڅه ذکربالمونځ دي پکښې وکړي بياجائزدي[رد المحتار جلد۱ ص۴۸۹]

(۲۵)سوال:په مسجدکي شعرونه ويل څنگه دي؟

الجواب:رب سلم؛که شعرپرنصيحت مشتمل و او ياد انبياو يااولياو صفتونه پکښې

وه ښانوربنه اشعاروه بیایې په مسجد کې وېل جائزدي اونبي کریم ﷺ به حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه ته په مسجدنبوي کې منبرتیارکړې د اشعارودپاره اوکه بیابد اشعاروه چه پرخرابو الفاظو مشتمل وه بیاناجائزدي [شامي جلد۱ ص۴۸۸]

(۲۶)سوال؛په ژوندکې د ځان دپاره قبرکښل اوبا کفن تیارول څنګه دي ؟

الجواب؛رب سلم؛جائزدي باك نه لري خلفه د اسلام حضرت عمربن عبد العزیز رحمه الله د ځان له پاره قبرکښلي ؤ[رد المحتار جلد۱ ص۶۶۷]

(۲۷)سوال؛دلوي اختر په ورځوکې چه تـــــرلمانځه بعدکوم تکبیرونه وېل کېږي ښاد اخالص دښار پرخلګو واجب دي که به یې دصحراء خلګ هم وایي؟

الجواب؛رب سلم؛مفتي به قول زمونږدمذهب دادي،چه د اتکبیرونه تر دروېشتو۲۳لمونځوورروسته وېل کېږي(یعني دعــــرفات دورځې دسهارڅخه بیاد اخترد څلرمي ورځې ترماځیګره پورې)

اوپر هغه چاچه لمونځ باندې فرض وي وېل یې واجب دي که هغه نر وي که ښځه که مسافروي که مقیم که په جماعت باندې لمونځ وي که یواځې اوکه په ښارکې یې که په صحراء کې.پر تـولوباندې په هرځای کې واجب دي دغه دصاحبینوقول دي اوپرداغه قول فتوي ده[رد المحتارجلد۱ ص۶۲۰]ایضا[عالمګیریه جلد۱ ص۱۵۲]ایضا[وفي الفتاوي الخانیه ص۱۸۵]ایضا[البحر الرائق جلد؛۲ص۱۶۵]

(۲۸)سوال؛ترډوډۍ مخکې اوبعد د مالګې څکل څنګه دي؟

الجواب؛رب سلم؛سنت دي زمونږفقهاء وایي چه ترخورك مخکې اوورروسته د مالګې څکل سنت دي.بلکه د ۷۰مرضوشفاء پکښې ده.(ومن السنة البداء ة بالملح و الختم به بل فیه شفاء من سبعین داء)[رد المحتارجلد۵ص۲۳۹]ایضا[تکملة البحر الرئق جلد۸ص۱۸۴]

(۲۹)سوال؛دپلېټـ،(غاب)ښابل هغه شې چه د خورك شیان پکښې وي په لاس ښاپه ډوډۍ باندې یې پاکېدل څنګه دي،؟

الجواب؛رب سلم؛ښه کار دي،او هغه لوښې دعاء ورته کوي حدیث مبارك کې راځې چه څوك خورك وکړي بیا هغه لوښې پاك کړي هغه دعاء ورته وکړي وایې الله دي تاد ه اور دعذ اب څخه د اسې خلاص کړي لکه تا چه زه د شیطان د څټـلو څخه خلاصه کړم؛و الله

اعلم[شامي جلد۵ص۲۳۹]

(۳۰)سوال؛دزلزلې په وخت کې تښتېدل اودکمرې پادکور څخه وتل څنګه دي؟

الجواب؛رب سلم؛مستحب کاردي نبي کریمﷺ هم دخطرد ځاي څخه لېرې کېدې[شامي جلد۵ص۵۳۴]

(۳۱)سوال؛ اپادواده والاسړي ته اجازه سته چه بغېرله ښځې پوکال په سفرولاړسي؟

الجواب؛رب سلم؛پا قطعادااجازه نسته بلکه ترڅلورو۴ مياشتوزيات وتل ورته حرام دي .که څه هم ددېن په لارکې وي حضرت عمرؓ مجاهدېن هم منع کړل چه ترڅلورو ۴ مياشتوزيات وخت به نه تېروي[شامي جلد۲ص۴۳۲]ماخپله د اسې خلګ لېدلې دي چه دپوکال له پاره په تبلېغ کې ولاړې ښځه به يې دکورڅخه ووتل وپل زه د امېره نه کومه نوداپه حرام کارباندې اخته دې خپلې ښځې پرېږدې دوې دبل دښځوغم اخېستې وي؛والله اعلم؛

(۳۲)سوال؛د اکوم خلګ چه دکفاروسره ملګرې اودمجاهدېن پرخلاف جنګېږي دغه خلګ په دغه عمل باندې کافران دې که پا؟

الجواب؛رب سلم؛پاخالص په دغه عمل باندې چه دکافر ملګرې يې کړې ده نه کافران کېږ.مولا ناظفراحمدعثمانيؒ پومستقل عنوان لېکې پرداغه خبره بپا واېي چه کافرورته وپل يې غتـه ګناه ده[اعلاء السنن جلد۱۱ص۵۲۵۷]ايضا[فتاوي غباثېه ص۱۰۵]ايضا[شامي جلد۳ص۲۶۱]البته مرګ يې ترکافر مخکې فرض دي ؛والله اعلم؛

(۳۳)سوال؛که دپومجاهدپه جهادکې غنېمت مقصد ۏ د اجهادېې مقبول دې که پا؟

الجواب؛رب سلم؛که يې اصلي مقصود مال ۏ بيابې دجهادثواب نسته اوکه يې اصلي مقصود جهادۏ لکن ضمناپې غنېمت هم ورسره قصدکړې ۏ بيابې جهاد صحېح دې ؛والله اعلم[شامي جلد۳ص۲۳۸]

(۳۴)سوال:دخاورو خوراك ولې حرام دې ؟

الجواب؛رب سلم؛خاورې په خپل ذات کې مرداري نه دي بلکه پاکې دي اوخورك چه يې ناجائزدي هغه ځکه چه مرض ورڅخه پيښېږي

کچېرې دمرض وهـــم نـــه ۏ بيابې خوړل جائزدي يعنې حرمت يې طبې دې نه

شرعي[ الفتاوي الهندیه جلد .۵.ص۳۴۱] البحر الرائق جلد۸ص۱۸۴ ]
(۳۵)سوال ؛بعض کسان سلام داسي وايي(السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته ومغفرته)ياڼورې داسې کلمې ورضم کړي د اځنګه دي؟
الجواب؛رب سلم؛په سلام کې به تر (برکاته)نورې زياتې کلمې نه وايي. همدارنګه دجواب په وخت کې به هم زيادت نه کوي حضرت عبد الله ابن عباسؓ وايي هرشيء ته اخرسته دسلام اخر برکاته دي(لکل شيء منتهي ومنتهي السلام البرکات)[عالمګيريه جلد ۵ص۳۲۵]
(۳۶)سوال؛د طالبې ګوله څنګه ده یعني مېلمانه پر دسترخوان ېو وبل ته ګولې ورکوي د اځنګه دي؟
الجواب؛رب سلم؛که دکور خاوند خوا نه بده ول جائزدي اوکه د کورخاوند ناراضه کېدي بیانه دي جائز زمونږیه عرف اواصطلاح کي دکور خاوند نه ناراضه کيږي[ هندیه جلد ۵ص۳۴۴]
(۳۷)سوال؛د مېږه بې اجازې ښځه دبل کچني ته شيدې ورکولاي سې که یا؟
الجواب؛رب سلم؛یانه به يې ورکوي مکروه دي؛[عالمګریه جلد .۵.ص۳۷۲]
(۳۸)سوال؛ امي سپېنـږي ته د اجائزدي چه ترځوان عالم مخکې روان وي؟
الجواب؛رب سلم؛یانه دي جائز بلکه عالم که څه هم ځوان وي ترامي به مخکې ځي بلکه علامه شامي وايي دغه سپېنـږي ګنهګاردي چه تر عالم مخکې روان وي[عالمګيريه جلد ۵ص۳۷۳]شامي جلد ۵ص۵۳۳]
(۳۹)سوال؛د ماخوستن دلمانځه بعد ناسته کول جائزدي که یا؟
الجواب؛رب سلم؛کچیرې دعلم خبرې کوي یاذکرکوي بیاناسته کول افضل اوثواب دي اوکه بیاغیبت کوي یامسخرې اوښکنځل کوي بیاناجائز اوګناه ده اوکه نه دعلم خبرې وي اونه غيبت اوښکنځل وي،بلکه عام د محبت مجلس کوي دانه ثواب لري نه ګناه.[عالمګیریه جلد ۵ص۳۷۷]
(۴۰)سوال؛استاذته په مولاناویل څنګه دي زمونږدعلاقې یوبې مذهبه ملاوايي دانه دي جائز؟
الجواب؛رب سلم؛بلکل جائزدي بلکه افضل دي حضرت علي شیرخداؓ خپل زوي

حضرت حسنؒ ته وېل (قم بين يدي مولاك عني استاذه)بلکه هر چاته چه دفضيلت اوياعليم خاوندوي په مولاناسره وېل جائزدي[عالمگيريه جلد۵ص۳۷۹]

(۴۱)سوال؛ امي سړي چه تبليغ کوي اوياددين په خبروکي کارلري داورته جائزدي که يا؟

الجواب؛رب سلم؛نه بلکه اشد حرام دي حجة الاسلام امام غزاليؒ وايي چه امي سړي چه په دين کي خبري کوي تردي غلا اوپازنا کول وره ښه دي نه په دين کي خبري ځکه چه ددين په خبروکي کافرکيږي اوپه گناه کبيره نه کافرکيږي اوعلامه الوسيؒ وايي چه امي سړي چه تبليغ کوي تردي هوښيار خر لاهم ښه دي بلکه زمونږ فقهاء دتبليغ له پاره داشرط بولي چه عالم به وي[احياء علوم الدين جلد۳ص۳۲]تفسيرروح المعاني جلد.۱۳ص۱۰۵]عالمگيريه جلد۵ص۳۵۳]

(۴۲)سوال؛کافرته دعاء کول جائزدي که يا؟

الجواب؛رب سلم؛کافرد هد ايت دعاء کول جائزدي لکن دبخښني خواست کول حرام دي بلکه بعض فقهاء وايي چه کافرته دبخښني په سوال سره سړي کافر کيږي داسي به نه وايي چه ياالله وي بخښي همدارنگه ټـولو مسلمانانوته دټولوگناهود بخښني سوال هم نه دي جائز يعني ذاسي به نه وايي چه ياالله ټـولومسلمانانوته ټول گناهونه وبخښي دابه نه وايي بلکه مطلق داسي به وايي چه ټـولومسلمانانوته بخښنه وکړي،داځکه چه بعض مسلمانانوته عذاب ورکول يقيني دي[البحرالرائق جلد.۱.ص۳۳۰]

[۴۳]سوال؛زمونږ په خلگوکي دامشهوره ده چه اتلس زره ۱۸۰۰۰قوم دي په دنياکي داخبره صحيح ده کنا؟

الجواب؛رب سلم؛هو داخبره صحيح ده امام ابن کثيردمشقيؒ د(رب العالمين)په تفسيرکي دامام ابوالعاليهؒ قول نقل کوي چه په دنياکي ۱۸۰۰۰عالمه دي اوانسان يوعالم دي پيري بل عالـم دي داسي نـورهـم سته والله اعلم[تفسيرابن کثيرجلد۱ص۱۲۴]تفسيرمظهري جلد۱ص۵]

فائده]دعزير علي السلام زوي پرده مشرو؛عزير عليه السلام چه دخداي تعالي پغمبرو زوي ترده ۵۰کاله مشرو هغه ځکه چه کله دي مرکيدي د ۵۰کالوو په دغه وخت کي يي زوي پيد اسو.بياسل کاله بعد دي بيرته راژوندي سو.نوزوي يي دسلوکالوو اودي

دهغو پنځوسوکالوؤ نوزوې پرمشرسو چه په قران کې واقعه راځې[قرطبي جلد۳ص۲۸۰]

[۴۴]سوال؛اياد اسقاط يادعاء په نه کولوسړې وهابې کېږې ياپه بې مذهه ورته ويل کېږې؟

الجواب؛رب سلم؛په نه منلوېې وهابې کېږې،اوپه نه کولوېې نه وهابې کيږې،لکن دوهابې علامه ده نورته ويل صحيح دې.يعنې چه څوك د ادمذهب شيان پريږې دې نود ادې علامه ده چه د اسړې دمذهب سړې نه دې اوعلامې ته په شريعت کې اعتبارسته امام قرطبي دسورت بقره تردغه ايت (تعرفهم بسيماهم۲۷۳)لا ندې ليکې[فيه دليل علي ان للسيماء اثرافي اعتبار من يظهرعلي ذ الك ]وايې په دغه ايت کې دليل دې ددې خبرې چه علامه ته اعتبارسته په هغه چاکښې چه په چاکښې موجوده وې وايې لکه مثلايوسړې په اسلامې ملك کې مړپيد اسواودېهودوزنارېې په غاړه دې اوناسنته هم دې نود اسړې به دمسلمانانوپه مقبره کې نه ښخيږې ځکه چه علامې يې دېهودودې[قرطبي جلد۳ص۳۲۳]نوبايد هرسړې دبې مذهبودعلاموڅخه ځان وساتې چه دخلګو دتهمت څخه خلاص سې

[۴۵]سوال:دروژې په مباشت کې چه په تراويحوکې ختم دقران پاك وسې نواصطلاح داده چه بياخلګ شيرنې اومېتماېان بېشې خېراته وې يې د اڅنګه دې؟

الجواب؛رب سلم؛د اصدقه ده مستحب عمل دې امام قرطبي نقل کوې چه حضرت عمرؓ چه کله دقران پاك يوسورت سورت بقره خلاصه کړه بيايې په خيرات کې اوښان حلال کړه بلکه سيد الطائفه حاجي امد اد الله مکيؒ وايې که چادغه شيرينې نه کړه تقسيم د امستحق دملامتيادې ځکه چه دمسلمانانودعرف څخه مخالفت کوې[کليات امدادیه ص۷۹]تفسيرقرطبي جلد۱ص۷۵]فتاوې واحدې ص۱۷۱]جامع الرسائل ص۲۹۱]

[۴۶]سوال؛چه په مسجدکې يوجماعت وسې بياپه د اغه مسجدکې بل جماعت کول څنګه دې؟

الجواب؛رب سلم؛دوه رنګه مسجدان دې يودښار يادلوې لارې مسجد دې چه مسافرورته درېږې په هـــغـــه کـې خواتفاقې صحيح کېږې اويوبياد کلې اومحلې

مسجددې دکلي په مسجدکې چه دکلي خپل خلګ دوېم جماعت کوي نوکه يې همېشه نه کوي کله کله جائزدي لکن شرط دادي چه امام به ځاي بدلوي په محراب کې به نه درېږي پر دغه قول فتوي هم ده[شامي جلد۱ص۴۰۹باب الامامة]

[۴۷]سوال:د متشابهات اياتــــو او احاد يثو تفسير جائزدي که يا مثلالکه د(استوي)يا(يد الله)يا(نزول)يا(ضحك)يا(ياتعجب)يا(وجهه)يا(يمينه)وغيره ددي ترجمه څه حکم لري؟

الجواب:رب سلم: امام ترمذيؒ وايي چه ډيرامامان پردغه دي چه دد اسي اقوالو به تفسير نه کيږي بس ايمان به پرراوړي اودد اسي اياتوترجمه د اهل زيغوکارده اوياد هغه چاکاردي چه اهل زيغوته خدمت کوي(واماالذين في قلوبهم زيغ فيتبعون ماتشابه عليهم ابتغاء الفتنة:الايه)اوقصه د صبيغ اوعمرؓ اکثرتفاسيرليکي دعراق يوسړي و چه صبيغ بن عسل يي نوم ؤ مدينې منوري ته راغلي دمتشابهاتو اياتودتفسير پوښتنه يي کول،حضرت عمرؓ چه خبرسو راويغوښتي بياورته ويل څوك يې هغه ويل عبد الله صبيغ عمرؓ ورته ويل زه يياعبد الله عمريمه .د خرما په لښتو يې پرسر سروهي ترهغوچه ترسريې وينې راغلي ويل ستاپه سرکي شيطان دي بيايي پر ښنودي اوحضرت ابوموسي اشعريؓ ته يي حال وکړي چه دعراق خلګ خبرکړه چه دد غه صبيغ سره دي نه کښيني ،بياچه به دغه صبيغ مجلس ته ورغلي چه هرڅومره خلګ به ناست وه ولاړ به سوله اوس هم د اسي اميرته ضرورت سته چه دوخت خوارج يي د احال ته رسولي وايي[ترمذي جلد۲ص۱۳۵]روح المعاني جلد۳ص۱۱۷]قرطبي جلد۴ص۱۷]الصارم المسلول ص۱۸۸]

فائده:شيخ محي الدين ابن العربيؒ وايي:چه ماپه حديث شريف کي ليدلي دي چه څوك اويازره(۷۰۰۰۰)واره کلمه طيبه(لااله الاالله) ووايي اوبيايي ثوابونه يوچاته ور وبخښي الله پاك جل جلاله:يه هغه ته هم بخښنه وکړي اودغه سړي ته به هم بخښي وکړي،نومادغه ذکر په دغه عدد باندي وکړي لکن خاص مي دېوچاپه نيت باندي نه دي کړي دځان سره مي وساتي .يوه ورځ زه په يوځاي کي د ملګروسره ميلمه وم چه په هغه مجلس کي يوځوان ناست و خلګوويل چه د اسړي ته کشف دحالاتوکيږي.څه وخت بعد هغه سړي بغاري شروع کړي اوژړل يي.ماورته ويل ولې ژاړي هغه کاشف ويل خپل

مورمې په قبرکې په عذ اب باندې ولېدل امام ابن العربيؒ وايې ماپته، په خپل زړه کې هغه ثوابونه دکلمې شرېفې ددغه سړي مورته وروبخښل. بس هغه ځوان بېرته وخندل وېل اوس مې مور بېرته په ښه حالت کې سوه امام ابن العربيؒ

وايې(فعرفت صحت الحدېث بصحت کشفه، وصحت کشفه بصحت الحدېث)وايې ماته دامعلومه سوه چه داسړې په حقېقت کې هم کاشف دې، اودده دکشف په خاطرخپل دحدېث صحت هم راته ېقېنې سو[مرقات المفاتېح جلد ۳ص ۲۰۰]

[۴۸]سوال:لنګوټه تړل څه حکم لري يعنې سنت ده که مستحب ده؟

الجواب:رب سلم:لنګوټه تړل سنت مؤکده يعني ټېنګ سنت ده[خصائل نبوي شرح شمائل ترمذي ص۱۲۴]الفتاوي التاتارخانېه جلد.۲.ص۲۰۲]مرقات جلد.۳ص۴۵۵]مجموعة الرسائل للقاري جلد۲ص۶۵]اوکوم چه فقهاء وايې چه لمونځ په درو۳جاموکې مستحب دې،قمېص لونګ لنګوټه نوشېخ ابو العدل مېونديؒ وايې چه هغه حکم دمجموعې دې هر يو جلا جلا نه يا دوې که داغه دټولوحکم سي نويياخودې بلا ضرورته يوائې په پرتوګ کې هم لمونځ کېږي او امام دې هم يوائې په پرتاګه کې جماعت ورکوې ولې خود انور مستحب دې؛ والله اعلم؛

[۴۹]سوال(اذاتحېرتم في الامورفاستعېنوا من اصحاب القبور)داحدېث دې که يا،اوڅه معنې يې ده؟

الجواب:رب سلم:علامه عجلونيؒ په کشف الخفاء کې اوعلامه اسماعېل حقيؒ په روح البېان کې وايې چه د احدېث شرېف دې اوعلامه قاري الحنفيؒ يې په شرح کې د مسند مطلق ذکرکوې،لکن شاه عبد العزېزد هلويؒ اوعلامه خفاجيؒ اوعلامه الوسيؒ وايې چه داحدېث نه دې لکن دبزرګانوقول دې علامه الوسيؒ وايې[ولېس بحدېث کماتوهم-ولا شك في انه ېحصل لزائرهم مددروحاني ببرکتهم وکثېراماتنحل عقد الامور بانامل التوسل الي الله تعالي بحرمتهم]وايې:د احدېث نه دې لکن په داکې شك نسته چه داولېاو دزېارت څخه روحاني کومك حاصلېږي اودېروخت ددوې په توسل سره الله پاك مشکلات هم حل کوي[روح المعاني]اوعلامه خفاجيؒ لېکي[الا انه لېس بحدېث انکربعض الملاحدة في عصرنا]وايې:د احدېث نه دې لکن اتفاق دمسلمانانوپردا دې

چه دسلفوزیارتونه کوي اوتوسل په کوي که څه هم زمونږدزماني ملحدین(بي مذهبه) يي انکارکوي[کشف الخفاء]

اوشاه عبد العزیزد هلويؒ وايي چه د اد بزرګانوقول دي اوډيري معني وي لري يوه معني يي د اده چه کله تاسوته د دین په مسئلو کي شك پيدا سو چه د ابه جائزوي که ناجائز نوتاسي په خپلومړو پسي اقتداء وکړي (یعني چه مړومو څه کوله تاسي هم هغه رقم وکړي)په اخرکي وايي[وهذا القول اشبه منقول عن عبد الله ابن مسعودؓ وسفیان الثوريؒ][فتاوي عزيزي ج۱ص۱۲۱]تفسیرحاشیة الشهاب علي البيضاوي جلد۸ص۳۱۲]تفسیرروح المعاني جلد۲۹ص۳۱۴نازعات]شرح مسند ابي حنيفة ص۲۲۷]تفسیرروح البیان جلد.۵ص۴۵۳سوره طه۳۶]کشف الخفاء جلد.۱.ص۸۵]والله اعلم

(۵۰)سوال:د دفع د نظرله پاره د کچني زنه ياپوزه تورول څنګه دي :

الجواب؛ رب سلم؛ صحیح دي حضرت عثمانؓ یوښائسته کوچني ولیدي بيائي ووېل(سودوا ذقنه لئلایصيبه العین )ويل زنه يي ورتوره کړي چي نظرنه شي [قطب الارشاد ص۴۵۲]

فائده)د اذ ان په وخت کي چه کله موذن د (اشهد ان محمد رسول الله)کلمه ووايي په دغه وخت کي دلاسو دبتـوګوتو نکان مچول اوبياپرسترګومبنل مستحب عمل دي اودسيد الصحابه حضرت ابوبکر الصدیقؓ طریقه ده اودسترګو د مرضي ښه دواهم ده لکن علامه شامي ليکي چه په اوله کلمه دشهادت کي دي داووايي چه (صلي الله علیك يارسول الله )اوپه دوېم وارکي دي د اکلمه ووايي(قرة عیني بك يارسول الله )ردالمحتار جلد۱ص۲۹۳)ایضا(قـطب الارشـادص۲۰۶)وتـفسیرروح البیان جلد۷ص۲۷۳تفصیلا؛

فائده؛دقران پاك دختم په وخت کښي په اخيري سورتوکښي د(سورة والضحي)څخه بیاتراخیره پوري د هرسورة په پاي کښي د اسي وېل(الله اکبر لااله الاالله والله اکبر)مستحب دي (تفسیرجلالین جلد۲ ص۵۰۱)قطب الارشاد ص۳۵۸)

(۵۱)سوال:د حضرت یوسف (علي نبینا وعلیه السلام )اودبي بي زلیخاؒ تر مابین نکاح

سوې ده که یا؟

الجواب:رب سلم: هو کتابونه د لیکي چه ددوي ترمابینځ نکاح وسوله اوبیایې دوه۲ بچیان هم ورڅخه سوي دي (تفسیرکبیر جلد ۵ ص۱۴۶)تفسیرقرطبي جلد۹ ص۲۱۵)تفسیر مظهري جلد۵ ص۲۰۴)

(۵۲)سوال :- په لمانځه کښې دضاد پرځای ظا ویل یعني دولاالضالین پرځای ولاالظالین ویل څه حکم لري.

الجواب :- جمهور احناف داوائي چې دیوه حرف پرځای بل حرف استعمالول لمونځ فاسدوي او اتفاقا ټول احناف وائي که چاقصداً دولاالضالین پرځای ولاالظالین ووایه لمونځ ئي فاسد دئ- اومولانا رشید احمد گنگوهي اومولانا عزیز الرحمن دیوبندي هم دغه فتوې ورکړې ده چې لمونځ ئي فاسد دئ-فتاوي دار العلوم دیوبند جلد ۴ ص ۱۴ -فتاوي رشیدیه ص ۳۰۶

فائده:کلمه د(رحمٰن) چه کله گډه ولیکل سي یعني ح- او-م -او-ن- یوځاي ولیکل سي درب لایزال نوم مبارك دي؛ اوچه کله بیا(رحمان)ولیکل سي یعني-م-او-ن-په الف سره جلاسي بیادمسیلمة الکذاب کافرنوم دي چه دابوبکرالصدیق په خلافت کې یې دنبوت دعوه وکړه(غیاث اللغات ص۲۹۷باب الراء)نوباید په دداکلمې په لیکلوکښې فکراو احتیاط وسي؛

(۵۴)سوال دیوولي الله پرنامه یوحیوان نذرکول څنگه دي؟ اوچې یومسلمان یوحیوان دیونیك بنده پر نامه حلال کړي دا حلال دئ که مرداردئ.

سائل:مجاهد ملامحمد مختار ؛

الجواب ؛رب سلم ؛مولانا اشرف علي تهانوي لیکي چه سید الطائفه مولانا امداد الله مکيّ به دمولاناروم پرنامه نذر کوې ،اوبیابه یې ویل چه نذر دوې۲ معنې وې لري یونذرپه معنې دعبادت دي چه هغه غیرد الله پاك څخه دبل چاسره نه ښایې اونه جائز دي .اوبل نذر په معني دایصال ثواب دي چه ددغه نیك انسان وروح ته یې ثواب وروسیږي د ایبابلاشبه جائز دي(امداد المشتاق ص۹۱) اوعلامه جیون وایې(ومن ههنا علم ان البقرة المنذورة للاولیاء کماهورسم في زماننا حلال طیب)وایې کوم حیوان چه د اولیاو دپاره نذرکیږي لکه زمونږ په زمانه کې وایې د ابلکل پاك دي(التفسیرات

الاحمد په ص۴۵) اوپه نیت باندې شي نه خرابېږي چه محضې د حلالېدو په وخت کې بسم الله پرووايي ځکه چه که په نيت خراب سي نوبیاخودقصابانوتهولې غوښې مرداري دي ځکه چه قصابان يې د خلقو په نيت حلاله وي د خد اي له پاره يې نه حلاله وي؛

اوامام ابوداودؒ روايت نقل کوي ؛ چه حضرت علي شيرخداؓ به همیشه دنبي کريم ﷺ په نيت باندې يوپسه حلاله وي يوصحابي ورته وايي چه داولې حلاله وې دې مبارك ورته وايې(ان رسول اللهﷺاوصاني ان اضحي عنه)وايي ماته رسولﷺوصيت کړې دې چه زه دده له پاره اضحيه وکړمه ؛الحديث(ابوداود جلد ۲ ص۳۸۵) اوشاه انورشاه کشمیريؒ ليکي

(واعلم ان الاهلال لغير الله تعالي وان كان فعلا حراما لكن الحيوان المهل حلال ان ذكاه بشرائطه) فيض الباري جلد.۵ص۲۵۷کتاب التفسير)والله اعلم)اوعلامه شامي په رد المحتارجلد.۵.ص۲۱۷)اومولا ناعبد الستار ديوبنديؒ په الملتقط من الكتب المعتبره ؛کښي ددې مسئلې ښه وضاحت کړې دې هلته يې تفصيل وګورئ]

# تقريظ

فخر اهل السنت والجماعة نابغة العصر وكيل الاضاف رآس الزهاد والاتقياء صاحب طرق السلوك والاحسان الموصي بالحق المجاز في الطريقة القادر ية العا لية استاذنا واستاذ العلماء مر شدي ومربي السالكين شيخ الحديث والتفسير ابي العدل نور محمد الحنفي والقادري والميوندي

(اطال الله عمره ومتعنا الله من علمه)

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمدلله وكفي وسلام علي عباده الذين اصطفي وبعد

يقول عبده الضعيف ابو العدل نور محمد البندتيموري اني طالعت بعض المواضع من كتاب التحقيق المختار فهو تحقيق في مقامه وتدقيق في مرامه وهو المحلي بحلية الفضائل المذ هبية وهو المتو شح بتو شيح الفواضل الذهبية المشربية كيف لا وهو من ثمرات فكر من له ديدن الرد في مقام الرد وله تجر بة في اجوبة من له الاسولة علي المسلمات ورد علي البديهات كما هو عادت ابناء زماننا من غير المقلدين وامثالهم وهذا الكتاب من فذالك عنفوان الشيخ حافظ العلوم مولانا محمد عبد الخالق القادري والحنفي وهو تخرج عندنا وهو ثقة امين انشاء الله تعالي تقبله الله تعالي منه وجعله في ميزان حسناته يوم ينفع الصادقين صدقهم امين وصلي الله تعالي علي سيدنا محمد واله وصحبه وسلم

الراقم ابو العدل محمد باضا فة النور عفا الله عنه خطاياه وعافاه امين

# ﴿تقريظ﴾

المدرس الجليل والمفتي النبيل مقدام العلماء والعالم الرباني شيخ

الحديث مفتي رشيداحمدحقاني (حفظه الله)

باسمه تعالي

الحمدلاهله والصلوة علي اهلها امابعد

محترمومسلمانانوو رو نبو د غه كتاب مبارك په نامه دالتحقيق المختار لرد المحتار چې تاليف دالحاج ابوبصيرمو لا نا عبد الخالق صاحب دئ ما خائ پرخائ مطالعه كړئ ما شاء الله پرعجيبه تحقيقاتومشتمل كتاب دئ چې دهرخاص اوعام ورو ر اوخور لپاره نفع منددئ بايد چې په حضر اوسفر كې دمطالعې لپاره دهر ورور سره ورسره وي خصوصا دغه لا مذهبه كسانود فتنوپه دو ر كې چې ددغه كسانو د د فاع لپاره دسيف قاطع مثا ل لري الله جل جلا له دې دمولف صاحب په عمركې بركت و اچو ي دمزيدخد مت توفيق دي الله عزوجل ورنصيب كې اودغه كتاب ته دې الله پاك په حرمت دمقبو ليتو بنه مقبو ليت په نزدخپل اودبندګا نو وركې

آمين آمين ثم آمين ثم امين لاارضي بواحدة حتي اضم اليهاالف آمينا

انا العبد العاصي رشيداحمد حقاني (تاريخ) ٢٤-٤ - ١٤٣٧ هجري قمري

# تقریظ

**سلطان المناظرین ترجمان اهل السنت والجماعة بحرالعلوم الا صلية والفرعیه تاج** الملة الافغانیة **فاتح الوهابیة واللامذ** هبیة **صاحب الفصاحة** والبلاغة **شیخ الحدیث والتفسیر حضرت مولانا ابی الفیض فیض محمدصاحب (قندهاري مدظله العالي)**

الحمد لاهله والصلوة علیٰ اهلها امابعد فقدطالعت نبذا من الکتاب المختار المسمیٰ بالتحقیق المختار لردالمحتارللفاضل المعی الذی هو موسیٰ لفرعون الفرقة السلفیة المناظر الشهیر الحاج ابی بصیرمولوی عبد الخالق (فاتح) القادری حفظه الباری فوجدته موافقالعقائد اهل السنة والجماعة وهل هوالاسیف الحنفیة علیٰ اعناق السلفیة ) واللّٰه تعالیٰ اسأل ان ینفع بهذا الکتاب الصغیر والکبیر والقاصی والدانی ) اللهم اجعل سعی مصنفه مشکورا وعمله مبرورا( آمین)

**وانا العبد المفتاق الي الله الصمد(ج) فیض محمد**

صانه اللّٰه تعالیٰ من شر حاسد اذاحسد

(ابوالفیض حفظه اللّٰه تعالیٰ )

**(والسلام)**

# تقريظ

## دالمصلح الكبير والصوفي البصير الحاج شيخ الحديث

## مولوي فيض الله القادري والنقشبندي (حفظه الله تعالي)

حمد و ثناء دي وي هغه الله تعالي لره چي انسان ته ئي دا شرف المخلوقات لقب ورکړئ دي اود رو د او سلام د ي و ي دا سلام پر ستر پيشو ا اود ده پر آل اواصحابو ) الله جل جلاله دغيل دين مرسته کوي بالسادة الافاضل والاساتذة الاماثل الذين هم الحمادون في السراء والضراء چي ددوئ دجملي څخه الفاضل الکامل والعالم العامل منبع المنقول والمعقول مجمع الفروع والاصول شيخ الفقاهت والحديث والتفسير اعني ابي بصير الحا ج مولوي عبد الخالق صاحب دامت برکاته ومد ظله العاليه هذاکتاب صحيح علي رغم المرتابين الضالين والمضلين

مولوي فيض الله القادري والنقشبندي

# تقريظ

## السيف الصارم الاسد من اسدالرحمن القاطع لفتن اليهودوالخوارج والبغاة بالسيوف والسنان الموصوف بصفات العمريه المجاز في الطريقةالعالية النقشبندية اميرناوامير المجاهدين العالم الرباني السيدمولانا عبدالغفار اغاعرف پيرآغاصاحب؛(حفظه الله تعالي)

نحمدك يامن جعلت التصوف تزكية و تصفية لانفوسناوارواحنا ونصلي علي من ارسل فيض ورحمة لقلوبنا واجسادنا وعلي من صبرالله تعالي بصحبته معادن العلم والعرفان وعلي آئمة المذاهب كلهاوعلي زينة الدنيا النعمان امابعد فقدطالعت بعض مواضع الكتاب المنيف المسمي بالتحقيق المختار لردالمحتار الذي صنف ورتب الفاضل الشاب المناظر للاحناف والصوفية المجاهد بالجهاد الاصغر والاكبر المولوي عبدالخالق (فاتح)القادري فوجدته مشحونا من المسائل الضرورية في العصر الحاضر ومن بعده الموضحة والمحققة بالدلائل القوية من الكتب المعتبرة من المذهب الحنفي كل مسئلة منهابل كل كلية منها صاعقة محرقة نازلة علي رأس من يسمي بالوهابي والسلفي والنيچيري ورعد علي اذانهم وبرق لعمي ابصارهم فنسئل الله تعالي ان ينفع به نفعا كاملا لمن يتمسك بحبل التقليد وبعروة التصوف وجزالله تعالي لمؤلفه في الدنيا توفيق التصانيف الاخر وفي الاخرة مرضات ربه الاكبر واغفر لناولوالدينا ياربنا بحرمة سيدالانبياء والمرسلين امين؛ دتيولوموْ منانو څخه خصوصا زمونږ دطريقت اوحنفي مذهب پيروانوڅخه زماداغوښتنه ده چه دغه كتاب پيداكړي اوئې په دقيق نظري وګوري څكه چه په دغه كتاب كښې داسې مسئلې ذكردي چه زمونږ اوزمونږ دنيكانومشرانودهرحركت اوسكون تا يدكوي اودمذهب حنفي اوطريقت دهرمنكراومخرب دهرراز څخومخه نيسي اودامارت اسلامي دمجاهدينو څخه مي هم داغوښتنه ده چه لكه ددين ددښمنانوله پاره چه تاسوهرراز

اسباب اماده کوې ددمذکوره مخربینواومنکرینو دپاره به داکتاب دضروریاتوڅخه درسره موجود وي ترڅوچه دعمل په وخت کې عمل په وکړې اودا شراوود شرددفع په وخت کښې شرپه دفعه کړي ؛والسلام ستاسو ورور العبدالفقیر اللاشئ السیدپیرآغا؛ ۱۴۳۷ ـجمادي الاولي ۲۹ـه ق

# تقریظ

ثاقب الذهن المتکلم النظار مبین الدقائق الذي کالبد الیمنی لناالمتوکل علي الله . مولوي دین محمد صاحب(ثبته الله بالقول الثابت)

الحمدلله الذي علمنابتعلیم البیان ووفقناعلي اظهارالحق باللسان وایدنابالسیوف والسنان والصلاة والسلام علي صفوة رسله وخاتم الانبیاء سیدناومولانا محمد ﷺ وعلي واصحابه الذین کانوارطب اللسان بذکرالمنان واتباعه اجمعین؛امین؛وبعد فقدطالعت وشاهدت الکتاب المستطاب المسمي بالتحقیق المختار لردالمحتار الذي الفه الاخ الشهیر العالم ابوبصیر عبدالخالق الحنفي مذهباوالقادري مشربا اصانه الله تعالي بحفظه من شرکل ذي الشر ـفوجدته مفیداغا یةالافادة فی موضعه ولله درالمؤلف مااحسن ماجمع من کتب متفرقة ومعتمدة ومواضع مختلفة وسعي في جمعها غا یةالجهد لقد من علیناوعلي سائرالمسلمین والحنفیه بتصنیفه هذاووجدته شیا عجیبا لم یسبق احد من العلماء الي مثله في هذالزمان مشتملاعلي الدررا ة لنفیسة والجواهر الثمینة ومحلا بالایات القرآنیه والاحادیث النبویه والمسائل الفقهیه ـوسیفاقاطعاعلي اعناق الفرق اللامذهبه الضالة ا لمضلة ونافعاللعلماء والطلباء والعوام وجدیرا بالمطا لعةوالملا حظة في کل الاوان ؛والله تعالي اسئل ان یتقبل هذه الجهود الدینیه وینفع بها الامة الاسلامیة ویجعل سعیه مشکورا وجعله مقبولا بین العلماء والطلباء ویجعله لوجهه الکریم انه سمیع قریب وهو الموفق والمعین امین ـامین ـلاارضي بواحدة حتي اضم الیها الف الف امینا ـوصلي الله تعالي علي خیر خلقه سیدناوسندنا وشفیعناووسیلتنا محمد واله واصحابه اجمعین ـالعبد الافقر دین محمد الفرید غفرله الله الوحید ؛

# ﴿تقریظ﴾

الماھر الذھین صاحب الفکرالسلیم حضرت مولانامفتی اسد اللہ ابی الروح صاحب (مدظلہ العالی)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمد للہ رب العالمین والصلوٰۃ والسلام علیٰ النبی الامین والہ وصحبہ ومن تبعھم باحسان الیٰ یوم الدین اما بعد فقد طالعت الکتاب المسمیٰ باالتحقیق المختار لردالمحتار فی کثیر من المواضع الشریفہ فوجدتہ مدللا علیٰ موضوعاتہ العالیہ التی ھی مدارالمباحث بین الموافق والمخالف فی ھذہ الازمان والآوان وللہ در المصنف العلامۃ النحریر المجاھد الکبیر الذی قطع بسیف الحجۃ البالغہ الماخوذ ۃ من المراجع المعتبرۃ فی المذاھب الاربعۃ المتبوعۃ للجمھو ر من المسلمین اعناق الفرق المتشدد ۃ الجھلۃ الضالۃ المضلۃ الذین بغوا علی السلف الصالح فطغوا وغووا آلا ھی الغوا یۃ لاریب فیھا اعاذنا اللہ تعالیٰ منھا اللھم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعہ وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابہ اللھم امین

انا العبد الحقیر اسد اللہ ابوالروح

# ﴿تقريظ﴾

## بركة المصطفي في دارالمجاهدين والعلماء (اعني القندهار) بدرالفضلاء الحنفيين المنور بنور الله قاري مولوي نوراغاصاحب؛القندهاري والنقشبندي (ثبته الله بالقول الثابت)

### بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذين نشرالعلم في الدنيا واختاربه الرسل والانبياء وورث لهم العلماء والاتقياء ووفق لهم لما يحتاج اليه الاذكياء والاغبياء .والصلوٰة والسلام عليٰ سيد ولد آدم وصحبه اليٰ يوم الجزاء امابعد فقدسرحت النظر في الكتاب التحقيق المختار لردالمحتار فهوكتاب مشتمل عليٰ لطائف ومعارف نافعة شامخة بازغةراسخة طالعة رافعة بالغة رائعة كافية شافية وافية ثاقبة راجحة راغبة رافية مادقة ناهية ناعة بارقة شارقة ناصبة طارقة حامية سائغة قاضية راشدة ناسكة عالية جامعة حاوية رابية راوية جارية سارية حارقة جاذبة حائلة حائلة قاصمة كاسرة راغبة راعبة آمرة ناعية ظاهرة عاصرة كاسرة حاسبة بادية وكاشف لحالة الحسحلة الافغانية كيد الفرقة الوهابية وسائرالفرق اصحاب الرداءة والغواية والجهالة والضلالة والسفاهة والشماتة والرزالة والخباثة والعداوة كسرالله شوكتهم جزيٰ الله مولفه الفهامة العلامة البحاثة لسيف الحنفية عليٰ عنق الفرق الضالة المضلة المجاهد الكبير والمناظر الشهير منحة الله الخالق حضرت الحاج مولانا عبد الخالق حفظه الله بحرمة اهل بيت رسول الله ﷺ واناالعبد الصغير الحقيرالفقير القصيرالباع القليل المتاع الذي لازاد له الا الخطيئات ولا عماد له الا السيئات القاري المولوي نورآغا النقشبندي من احفاد قدوة العارفين امام السالكين مولانا محمد علم ؒ اخذ المرحوم القندهاري غفرلهما آمين ثم آمين والحمدلله رب العالمين

# تقريظ

## مجمع البحرين الشريعة والطريقة صاحب النور والسرور المجازفي الطريقة العالية القادرية شيخ الحديث مولانا عبدالرحيم ابي السعيد( القادري)حفظه الله تعالي)

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

نحمدك يامن لا اله الا انت والله انت الله لا اله الاانت ياحي ياقيوم ياذالجلال والاكرام ونصلي علي من ارسلت الي كافة الناس بالحق بشيرا ونذيرا وعلي اله الذين جعلت حبهم علامة الاخلاص والايمان في كل حين ومكان واصحابه الذين هم نجوم الاهتداء في ظلمات الليل والطغيان امابعد فقد سرحت النظ في بعض مواضع هذه الرسالة لقدوجدتها نافعة للخواص والعامة ولست فارغا للاستيعاب والاحاطة لاجل تدريس بعض الكتب الامهات الستة ولتراكم الاحزان في الاهل والاوطان لا سيما لاجل حبس ولدي حافظ العلم والقرآن اللهم اخلصه من ايدي الضالة والفجرةوالكفرة بحرمة سيد البرية امين

كتبه ابو سعيد القادري حفظ الله من شر الغوي والغبي

# تقريظ

## بحر الفنون الاصليه والفرعيه السيف الصارم علي اعناق الوهابيه شيخ الحديث مولاناعبدالله صاحب(حفظه الله تعالي)

رساله مذكوره موافق مذهب است وضدوهابيه است وكفر وهابيه مثل شمس واضح ميباشد نظر بعقيده كه از كتب شان معلوم شد وحاجت بدليل ديكر نميباشد

شيخ الحديث والتفسير مولوي عبد الله

# ﴿تقریظ﴾

## المحقق الکامل مئاب الطلباء بدرالعلماء شیخ الحدیث مولوي نصرالله(حفظه الله تعالی)

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمین والصلوٰة والسلام علیٰ رسوله سید الاولین والاخرین وعلیٰ آله وصحبه اجمعین امابعد فیقول العبد الافقرنصرالله القندهاري اني سردت النظرسردا في الکتاب الذي الفه مولانا عبد الخالق (الفاتح) اطال الله عمره الذي له حدة النظروالدراسة الکاملة والفراسة الفائقة في العلوم کلها سیما في علوم المناظر ة فوجدته بحمدالله ومنه نافعا مفیدا ومبارکا واني اسأل الله تبارک وتعالیٰ ان ینفع به الطالبین والعالمین وجمیع المومنین ویعصمه عن شر المبطلین الحاسدین والحمد لله رب العالمین

وانا العبد الافقرنصر الله عفيٰ عنه

# ﴿تقریظ﴾

## قاسم علوم الشریعة والطریقة سلطان الاتقیاء صاحب القوةالقدسیه شیخ الحدیث مولانامحمدقاسمؒالقادري(حفظه الله تعالی)

الحمدللّٰه الذي هدانا لدینه وماکنا لنهتدي لولا ان هدانا اللّٰه قامت له القامات خرت له الجباه وتحرکت بذکره الشفاه احمده علیٰ جمیل احسانه وجزیل امتنانه کما ینبغي لجلال وجهه ولعظیم سلطانه والصلوة والسلام علیٰ سید الانبیاء والمرسلین واله الابرار الاطهار واصحابه الاخیار الیٰ یوم القرار امابعد ! فان علم الدین اعلي الله مناره واحيٰ اثاره فضله علي الفضائل من ضروریات الدین من حازه وفازبه اصبح علیٰ ثلج الیقین وبلج الجبین فقد طالعت بعض مواضع بعون الله

تعالیٰ التحقیق المختار لردالمحتار موافقا للمذهب وضیفیه وضعفیه حقیق ان یکتب بالذهب ومن رایٰ هذاالکتاب فیقول والله ماهذا الا اعجب العجاب فقد افاد فیها اللالیٔ والجواهرلمن طالعها لحفظ الدین والمذهب سیف ورمح علیٰ اعناق المضلین فاسئل الله تعالیٰ ان یجعله خالصا لوجهه الکریم وهو بالاجابة جدیر امین ثم امین

محمد قاسم عفیٰ عنه

## ﴿تقریظ﴾

## صدرالعلوم العقلیة والنقلیه الفاصل بین الافراط والتفریط الحاج مولانارمضان خجندي(سلمه الله تعالي)

الحمدلله الذي خلق الانسان وعلم البیان والنجم والشجریسجدان والصلواة والسلام علي سیدالکونین والثقلین وشافع المیزان وعلي اله واصحابه الذین فازوابفیضان التحقیقات والتدقیقات في البیان ؛امابعد فقدطالعت هذاالکتاب التحقیق المختار ووجدت لائقا بطبائع المقلدین ومنافرا بطبائع الذین لایعتدون للتمییزبین اللجین واللجین ویقودون الي اي طریقة یسلکوها السالکون وشکر ا الله تعالي له وجزاه جزاء حسنا امین

## ﴿تقریظ﴾

## شیخ الحدیث الناطق (ب )الحق مولوي فضل محمدصاحب (سلمه الله من الشین)

بعدحمدوصلوةسرحت النظرفي بعض مباحث الکتاب فوجدته محتویاعلي تحقیقات غریبة المشعربهااسم الکتاب ولم یتفق لي امعان النظر في جمیعهالعدم الفرصة بکثرةالمشاغل والمسؤلان من الرحمنٰ هوالاثنان تصحیح النیت المذبوربالاجابة القران حسب

العبدالاحقر فضل محمدکلي بلاباسین زئي

# ﴿تقريظ﴾

## كشاف الحقائق استاذ المجاهدين الحاج مولانامحمدرحيم صاحب (حفظه الله تعالي)

الحمدلله الذي استوي الي السماء فضعهن سبع السموات وجعل لنانجوم الهدايات ومبزعناالزناد قة والبغات وافاض علينا علم مافي قلوبهم من النيات وماصدر بلسانهم الكلمات التي لاتحملهاالجبال والبحار والكائنات وعلمناباغراضهم من الخليات وبانهم محورا للفسق والعصبيات ،والصلواةوالسلام علي قائدالمجاهدين والغزوات الذين اعانوا معه في جهاده العلويات ولهذاظهردين الحق علي جمودالصخر الصلدفي الظلمات وعلي اله واصحابه الذين اعانوامعه في كل الساعات وجعلوا انفسهم مصداق الكلمات من( ان الله اشتري من المؤ منين؛ الايه)وغيرهامن الايات ووضعوا رأوسهم في اكفهم لطلب من الله المرضاةولهذاحظوافي قول صانع العلويات والسفلويات (فاصحاب الميمنة مااصحاب الميمنة)وبعد فقدطالعت با لعجلة التحقيق المختار لردالمحتار الذي جمع مسائله العلامة صاحب الفصاحة المجاهد ابوبصير عبدالخالق (فاتح)من الكتب المعتبرة في الفقه الحنفيه كانهاعقد قد انفصم فتناثرت لآليه ومفيدة لطالبيه والدرالنفيس خالصة هي الحوالة علي المعتمدات ان كنت شاكا فارجع اليهاومثل هذه المسائل في عصرنا المرة مثل المحور في الكرة

**الحاج مولانامحمدرحيم**

# تقریظ

**خادم الطلباء والمجاهدین المصلح الکبیر حضرت مولانا**

**محمد تیمور شاہ صاحب مدظلہ العالي**

جنابات اعلیاں خیر حضرات مندہ نے یہ کتاب قلیل قلیل مطالعہ کیا ایصال ثواب دارین کیلئے صحیح ہے۔ اور مذہب حنفی کے ساتھ موافق ہے۔

جزاہ اللہ

آپکا خادم :۔ مولوی محمد تیمور شاہ مظہری (عفی عنہ)
مہتمم مدرسہ عربیہ مظاہریہ غریبیہ گلان مند منزرئی سابقہ علیزئی۔

---

ستاسی دنیکو دعا پہ هیلہ      حافظ اغا الحنفي القادري

تصوف۔ تقلید۔ توسل۔ بدعت۔ جہاد۔ میلاد۔ مختلف سوالات

المکتبۃ الحقانیۃ

ملک مارکیٹ زیارت روڈ کچلاک